مَن يُرِدِ اللهُ بِهٖ خَيرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ (الحديث)

# بَدرُ الفَتَاوىٰ

فِي

# الفِقهِ الحَنَفِي


د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء د رئیس

**مَولَانا مُفتِي نُور مُحَمَّد (ثَاقِب)**


په مشرۍ د افغانستان په مرکزي دارالافتاء کې د صادر

شویو مسائلو او فتاواو مجموعه

جلد اول


مکتبة النور - پشاور

مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (الحديث)

# بَدْرُ الفَتَاوىٰ

## فِي

# الفِقْهِ الحَنَفِي


د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء د رئيس
مولانا مُفتِي نُور مُحمّد (ثاقِب)


په مشرۍ د افغانستان په مرکزي دارالافتاء کې د صادر
شويو مسائلو او فتاواؤ مجموعه

جلد اول


مكتبة النُّور - پشاور

# بدر الفتاوى

في

# الفقه الحنفي

**د کتاب پېژندنه :**

**د کتاب نوم :** ......................... بدر الفتاویٰ في الفقه الحنفي (۵) جلدونه

**تالیف :** ......................... د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء رئیس او د مرکزي دارالافتاء نور علماء او مفتیان

**ترتیب او تبویب :** ......................... مفتي محمدابراهیم (خلیل) ولد حاجي عبدالحق مرحوم

**نظرثاني او تصحیح :** ......................... پخپله د مرکزي دارالافتاء رئیس مولانا مفتي نورمحمّد (ثاقب)

**کمپوز :** ......................... مولوي عبدالبصیرخوږیانی

**د خپریدو کال :** ......................... ۱۴۳۵ هـ ق/۱۳۹۳ هـ ش/ ۲۰۱۴ ع کال

**د چاپ ځای :** ......................... پشاور، پاکستان

**د چاپ شمېر :** ......................... دوه ویشت سوه (۲۲۰۰) نسخې

**خپروونکې اداره :** ......................... مَکْتَبَةُ النُّوْر- پشاور

## دلاس ته راوړلو ځایونه:

کتب خانه رشیدیه- صدف پلازه محله جنګي پشاور فون: ۲۵۲۵۵۳۸-۰۹۱

مکتبه فاروقیه- محله جنګي پشاور موبایل: ۹۰۰۷۵۵۰-۰۳۰۰

مکتبه رشیدیه- سرکي روډ کویټه بلوچستان

رابطه: ۲۲۶۸۲۵۷-۰۸۱ / ۲۲۲۲۲۲۳-۰۸۱ / ۳۸۲۱۵۲۰-۰۳۰۰

مکتبه محمّدیه – سلام مارکیټ دکان نمبر ۱۴ بنوري ټاؤن کراچي

موبایل: ۷۸۲۹۸۱۷-۰۳۳۳

**(د دې کتاب د چاپ هر ډول حقوق محفوظ دي)**

مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (الحديث)

# بَدْرُ الفَتَاوىٰ

# فِي

# الفِقْهِ الحَنَفِي


د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء د رئیس

**مولانا مفتي نور محمد (ثاقب)**


په مشرۍ د افغانستان په مرکزي دارالافتاء کې د صادر

شویو مسائلو او فتاواو مجموعه

جلد اول


مکتبة النور - پشاور

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

## د بدر الفتاویٰ مقدمه

د مرکزي دارالافتاء د رئیس لخوا

| شماره | عنــوان | صفحه |
|---|---|---|


(۱) د مرکزي دارالافتاء مسئولیت ........ ۱
(۲) دبنده لخوا په دارالافتاء کې د مفتیانو د مقررۍ کیفیت ........ ۲
(۳) مرکزي دارالافتاء ته عمومًا د څلور ډوله طبقو انسانانو لخوا استفتاء ګانې راتللې ........ ۳
(۴) په دارالافتاء کې د فتاواؤ د لیکلو دجریان څرنګوالی ........ ۳
(۵) داچې د فتاوی پښتو عبارات اکثر په کندهارۍ ژبه دي ........ ۳
(۶) د مرکزي دارالافتاء د متعددو او مختلفو مرحلو یادونه ........ ۴
(۷) د مرکزي دارالافتاء د رئیس په حیث دبنده لخوا د رادیو له لارې د ټول هیواد لپاره د روژې او اخترونو اعلان ........ ۵
(۸) د مرکزي دارالافتاء لخوا د هیواد د ټولو خطیبانو لپاره د یوې خطبې انتخاب او تصویب ........ ۵
(۹) د بنده د مرکزي دارالافتاء د عمومي ریاست ترڅنګ د سترې محکمې مرستیالي ........ ۵
(۱۰) د جنوب غرب حوزې د قاضیانو د عزل ، نصب، او بدلون مستقل واک ........ ۶
(۱۱) پر بنده د امیرالمؤمنین ځانګړی اعتماد ........ ۶
(۱۲) د افتاء د تخصص، او په ولایاتو کې د مرکزي دارالافتاء د څانګو په اړه ........ ۶
(۱۳) د هیواد د سترې محکمې د رئیس او قاضی القضاة په توګه دبنده ټاکل کېدل او کابل ته نقل کېدل ........ ۶
(۱۴) د بنده نه وروسته د دارالافتاء مشري ........ ۷

| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |

(۱۵) د دارالافتاء جوړستم او نظام دوی ته پاتې کېدل................................. ۷
(۱۶) ستري محکمې ته د بنده په نوم د غتو او مهمومسائلو محول کول او رالېږل... ۷
(۱۷) د ستري محکمې د رئیس او قاضی القضاة په حیث د بنده لخوا د رادیو له لارې د ټول هیواد لپاره د روژې او اخترونو اعلان ، او د کابل په عمومي عیدګاه کې د اخترونو لمونځونه دده په امامت کې......................... ۸
(۱۸) په ستره محکمه کې د دارالاقتاء ریاست ، او پکې د فتاواؤ د صادرولو جریان ........................................................................ ۸
(۱۹) د ستري محکمې د لاندې د ټولو ولایاتو او ولسوالیو محاکم ، او پکې قاضیان او مفتیان ...................................................... ۸
(۲۰) د ستري محکمې د لاندې د کندهارد تمییز ریاست ، او هلته ترځنګ یې زمونږ د کندهار مرکزي دارالافتاء ............................. ۸
(۲۱) د بنده او د افغانستان د دارالافتاء د نظام دوامدار ربط.......................... ۹
(۲۲) کله چې زه بنده ددعوت او ارشاد د کمیسیون رئیس وم ......................... ۹
(۲۳) زمونږ لخوا د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو د کمیسیون په چوکاټ کې د افتاء او قضاء د تخصص یوه منظمه اداره او مدرسه جوړول.................. ۹
(۲۴) په څو نورو ځایونوکې هم د افتاء او قضاء د تخصص د ادارو او مدرسو دجوړولو لپاره زمونږ هڅې....................................................... ۹
(۲۵) په افغانستان باندې د نړۍ وال کفر له یرغل وروسته ... ......................... ۹
(۲۶) زمونږ د فتاوی یوه حصه او هغې ته د ځینو لخوا (د تمییز مسائل) ویل....... ۹-۱۰
(۲۷) د دارالافتاء مسائل او فتاوی او د ستري محکمې او تمییز مسائل او فیصلې جدا جدا وې ...................................................................... ۱۱
(۲۸) پخپل سر د کتب خانو لخوا دفتاوی دهغې یوې حصې په مختلفو ډولونو او جلا جلا نومونو چاپ کول.............................................. ۱۱-۱۲

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|


(۲۹) زمونږ لخوا د ټولې فتاوی په خپل اصلي عنوان او صحیح ترتیب د چاپ کولو اراده........ ۱۲
(۳۰) د امارت د مشرتابه لخوا د خوښې څرګندونه او اجازه........ ۱۲
(۳۱) لومړی د فتاوی ترتیب........ ۱۲
(۳۲) هره مسئله د خپل خپل کتاب ، باب او عنوان لاندې راوړل شوه........ ۱۲
(۳۳) بیا دبنده لخوا په ټوله فتاوی نظرثاني او پوره تصحیح........ ۱۳
(۳۴) دې ته پاملرنه وشوه چې مسائل زمونږ د مذهبي او افغاني جامعې او هم زمونږ د نظام د پالیسیو سره په ټکر کې نه وي........ ۱۳
(۳۵) بیا د کمپوز نه بعد د کمپیوټر د لیکلوتصحیح هم په خپله دبنده لخوا........ ۱۳
(۳۶) د یو څو خبرو یادونه........ ۱۳
(۳۷) په دغه فتاوی کې هغه اهم او ضروري مسائل ذکر دي چې په هغه وخت کې هم ورته ضرورت پیښ ؤ، اوس هم پېښېږي ، او په آینده کې هم........ ۱۳-۱۴
(۳۸) د یو شمیر مسائلو نقل (کاپي) نه وه اخیستل شوې........ ۱۴
(۳۹) مکرر مسائل ترېنه حذف او ایستل شوي دي........ ۱۴
(۴۰) په اصل مسائلو به مهر او ټول امضاءات موجود ول........ ۱۵
(۴۱) د مرکزي دارالافتاء د اصل فتاوی (د قلمي نسخې) یو څو مخونه د نمونې په توګه........ ۱۵-۲۲
**مقدمه د مرتب لخوا :**........ ۲۳
(۴۲) د سر خبرې........ ۲۳-۲۴
(۴۳) فقه د امام ابوحنیفه په نزد........ ۲۵
(۴۴) ترتیب او تدوین........ ۲۵
(۴۵) دفقهې جدید تعریف........ ۲۶

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|


﴿۴۶﴾ دفقهې موضوع ........ ۲۶
﴿۴۷﴾ د فقهې غرض وغايه ........ ۲۷
﴿۴۸﴾ فضليت دعلم فقه ........ ۲۷
﴿۴۹﴾ د فتویٰ اهميت ........ ۲۸
﴿۵۰﴾ د فتویٰ تاريخ ........ ۲۸
﴿۵۱﴾ د پوښتنې او ځواب په هکله د جبريل امين راتګ ........ ۲۹
﴿۵۲﴾ د صحابه کرامو په زمانه کې فتویٰ ........ ۳۰
﴿۵۳﴾ د تابعينو په زمانه کې فتویٰ ........ ۳۱
﴿۵۴﴾ امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ ........ ۳۲
﴿۵۵﴾ د مسائلو په استنباط کې د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ طرز ........ ۳۴
﴿۵۶﴾ د امام صاحب شاګردان ........ ۳۴
﴿۵۷﴾ حنفي فقه د قانون په توګه ........ ۳۵
﴿۵۸﴾ د مفتي درجه ........ ۳۵
﴿۵۹﴾ د مفتي ذمه واري ........ ۳۶
﴿۶۰﴾ مفتي به څومره احتياط کوي ........ ۳۸
﴿۶۱﴾ په اوسنۍ زمانه کې د فتویٰ کار ........ ۴۱
﴿۶۲﴾ تخريج ، ترجيح ، او د فتوی نقلول ........ ۴۱
﴿۶۳﴾ د فتوی ورکولو شرعي حکم ........ ۴۱


## كتاب الاِيمان والعقائد


﴿۶۴﴾ د طالبانو مخالفينو ته د کفر نسبت کول؟ ........ ۴۷
﴿۶۵﴾ انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ يا اولياء کرامو ته نداء کول ........ ۴۹

| شماره | عنــوان | صفحه |
|---|---|---|

﴿۶۶﴾ نبي ته بد و رد ویونکـــی او د قـــرآن توهیــن کونکـی مرتـد او نکـاح یــې ماتـه ده........ ۵۳

## باب مایتعلق بالقرآن

﴿۶۷﴾ له رادیو نه د قرآن کریم سماع واجب ده کنه؟........ ۵۸
﴿۶۸﴾ په اوچت آواز تلاوت ته دغوږ نه نیولو مسئولیت پر چا دي؟........ ۵۹
﴿۶۹﴾ پر دیوالونو، کاغذونو او د موټرانو پر بیرغونو د قرآن آیتونه لیکل........ ۶۰
﴿۷۰﴾ د قرآن شریف په ختم کې پارې ویشل........ ۶۲

## باب التقلید

﴿۷۱﴾ له یو مذهب نه بل ته اوښتل........ ۶۳

## کتاب السلوک

﴿۷۲﴾ طریقت او د صحیح او واقعي پیرانو شرطونه او آداب........ ۶۷
﴿۷۳﴾ د صحیح شیخ شرطونه........ ۶۸-۷۰
﴿۷۴﴾ د تصوف او سلوک طریقې........ ۷۰
﴿۷۵﴾ لغړزنو ته بیعت او ذکر ورکول........ ۷۰
﴿۷۶﴾ وجد ، او جهري ذکر........ ۷۰-۷۲
﴿۷۷﴾ د جعلي پیرانو اصلاح........ ۷۲-۷۴

## کتاب الطهارة

## باب الغُسل

﴿۷۸﴾ د مصنوعي غاښونو سره د غُسل حکم........ ۷۷

| شماره | عنــوان | صفحه |
| --- | --- | --- |

**باب المیاه**

﴿۷۹﴾ جنب که د حمام په حوض کې لاس و وهي........................................ ۸۰

**باب المعذورین**

﴿۸۰﴾ معذور که پر استنجاء وهلو قدرت ونلري........................................۸۳

﴿۸۱﴾ د معذور لپاره د اودس او تیمم حکم........................................۸۵

﴿۸۲﴾ معذور که د ذکر په سوري کې پنبه (مالوچ) کښیږدي........................................۸۷

﴿۸۳﴾ د معذور په غوږ کې ایښې پنبه که یواړخ لوندوي........................................۸۸

**کتاب الصلاة**

**باب الاذان**

﴿۸۴﴾ په مسجد کې اذان او په لوډ سپیکر کې خطبه څه حکم لري؟............۹۳

**باب صفة الصلوة**

﴿۸۵﴾ قومه او جلسه واجب دي که سنت؟........................................۹۶

﴿۸۶﴾ د تکبیرات انتقالاتو ویلو طریقه........................................۹۸

﴿۸۷﴾ په لمانځه کې له سورة مخکې بسم الله او د تراویحو په هر رکعت کې بسم الله ویل........................................۱۰۰

﴿۸۸﴾ د قنوت نازله دعاء........................................۱۰۲

﴿۸۹﴾ قنوت نازله سنت ده که مستحب؟........................................۱۰۳

﴿۹۰﴾ د قنوت نازله لپاره جماعت شرط دی که څنګه؟........................................۱۰۴

﴿۹۱﴾ په قنوت نازله کې به لاسونه څنګه نیسي؟........................................۱۰۴

﴿۹۲﴾ قنوت نازله د لمانځه په کوم رکعت کې ویل کیږي؟........................................ ۱۰۵

﴿۹۳﴾ قنوت نازله په کومو لمونځونو کې ویل کیږي؟........................................۱۰۶

﴿۹۴﴾ قنوت نازله د لمانځه په نیت ویل کیږي که خپل نیت غواړي؟..........۱۰۷

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|


(۹۵) قنوت نازله جهرًا ویل کیږي که سرًّا؟ ............ ۱۰۷
(۹۶) چې امام قنوت نازله وائي نو مقتدیان به څه کوي؟ ............ ۱۰۸


## باب الامامة والجماعة


(۹۷) په زور امامت کول ............ ۱۰۹
(۹۸) په مخکنیو حکومتونو کې د وظیفه اجراء کونکي امامت ............ ۱۱۰
(۹۹) د کنز او قدوري د مُلا امامت چې خلک ورځخه خوشحاله وي؟ ............ ۱۱۲
(۱۰۰) حاکم که هغه امام اوباسي چې خلک ورځخه خوشحاله وي؟ ............ ۱۱۴
(۱۰۱) د امام تاکلو او ایستلو حق د چا دی؟ ............ ۱۱۵
(۱۰۲) د مسجد امام باید کوم وخت ځواب شي؟ ............ ۱۱۶
(۱۰۳) له مسجد څخه د مُلا امام عزل په کوم وخت کې کیږي؟ ............ ۱۱۸
(۱۰۴) د څلور واړه مذاهبو کسانو په یو بل پسې لمونځ څنګه دی؟ ............ ۱۲۱
(۱۰۵) لمونځ په لوډسپیکر کې څنګه دی؟ ............ ۱۲۳
(۱۰۶) لمونځ په لوډ سپیکر (ګویا) کې څه حکم لري؟ ............ ۱۲۵
(۱۰۷) که امام قومه او جلسه نه کوي نو مقتدي به څه کوي؟ ............ ۱۲۸
(۱۰۸) تکرار د جماعت په مسجد کې ............ ۱۳۰
(۱۰۹) دوهم جماعت او جَمْعه څه حکم لري؟ ............ ۱۳۲


## باب الحدث فی الصلوة


(۱۱۰) که په قنوت نازله کې د امام اودس مات شي؟ ............ ۱۳۵


## باب المفسدات والمکروهات


(۱۱۱) ړوند په لمانځه کې په اشاره پوهه کول ............ ۱۳۶
(۱۱۲) په دولتي ځمکو کې بې اجازته ودان کړیو مسجدونو کې لمونځ څنګه دي؟ ............ ۱۳۸

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|

## باب السنن والنوافل

(۱۱۳) د جماعت لپاره د سهار سنت قطع کول ........ ۱۳۹
(۱۱۴) په سفر کې د سنتونو کولو حکم ........ ۱۴۲

## باب صلوة المريض

(۱۱۵) معذور که پر اسفنج سجده وکړي؟ ........ ۱۴۴
(۱۱۶) څوک چې پر سجده کولو قدرت ونلري ........ ۱۴۵

## باب سجود السهو

(۱۱۷) په قنوت نازله کې دامام يامقتدي په خطاء سجده سهوه لازميږي او کنه ........ ۱۴۶

## باب فی سجدة التلاوة

(۱۱۸) له راديو څخه سماع د سجده تلاوت څه حکم لري؟ ........ ۱۴۷
(۱۱۹) له لوډ سپيکرڅخه اوريدلې سجدې حکم ........ ۱۴۹

## باب صلوة المسافر

(۱۲۰) د سفر اقله موده او د عباراتواو علماؤ د وينا ترمينځ تعارض ........ ۱۵۰
(۱۲۱) د اول خط جنګي طالبان به قصرکوي که پوره لمونځ؟ ........ ۱۵۲
(۱۲۲) مجاهدين طالبان به په خپلو اوطاقونو کې قصر کوي که اتمام؟ ........ ۱۵۷
(۱۲۳) د قروي امام امامت د اهل اخبيه لپاره جائز دې کنه؟ ........ ۱۵۹
(۱۲۴) د وطني امام د اقامت نيت د کوچيانو سره صحيح کيږي کنه؟ ........ ۱۲۱

## باب صلوة الجمعة

(۱۲۵) په کوم مسجدکې د جمعې لمونځ کيدائې شي؟ ........ ۱۲۳

| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| (۱۲۶) | په دوه نزدې جامع مسجدونو کې د جمعې لمونځ څه حکم لري؟..... | ۱۶۵ |
| (۱۲۷) | له پخوا څخه جاري د جمعې لمونځ نوې اجازه غواړي او کنه؟.......... | ۱۶۷ |
| (۱۲۸) | په هوائي ډګرکې د جمعې او اخترانو لمونځ جائز دې کنه؟............... | ۱۶۸ |
| (۱۲۹) | د دامان په ولسوالۍ کې د جمعې لمونځ څنګه دی؟.......................... | ۱۷۱ |
| (۱۳۰) | د ترینکوټ د ګزاب په ولسوالۍ کې د جمعې لمونځ.......................... | ۱۷۲ |
| (۱۳۱) | د هلمند په باغران کې د جمعې لمونځ...................................... | ۱۷۴ |
| (۱۳۲) | د جمعې په خطبه کې په لاس کې امساء (لکړه) نیول......................... | ۱۷۷ |

## باب الجنائز

## فصل فی الصلوة علی المیت

| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| (۱۳۳) | د جنازې او عامو لمونځونو وروسته دعاء.................................. | ۱۷۸ |
| (۱۳۴) | د جنازې له لمانځه وروسته په ناسته دعاءکول.............................. | ۱۸۱ |
| (۱۳۵) | د جنازې له لمانځه وروسته دعاء څنګه ده؟................................ | ۱۸۲ |

## فصل فی حمل الجنازة

| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| (۱۳۶) | د تلاوت او دعاء لپاره د مړي معطلول..................................... | ۱۸۷ |

## فصل فی الدفن

| شماره | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| (۱۳۷) | پرکاڼي (ډبره) د مړي لپاره کلمه لیکل..................................... | ۱۸۹ |
| (۱۳۸) | اسقاط ګرځول............................................................ | ۱۹۰ |
| (۱۳۹) | په مړي پسې خیرات کول کارد ثواب دی.................................... | ۱۹۸ |
| (۱۴۰) | په مړي پسې اوله ورځ خیرات اود مړي په کورکې ضیافت څنګه دی؟................ | ۲۰۰ |
| (۱۴۱) | د قبرونو زیارت ، او پر قبرونو ودانۍ...................................... | ۲۰۳ |

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|

## کتاب الزکوة

### باب وجوب الزکوة


﴿۱۴۲﴾ آیا پر دکان زکوة شته؟ ........ ۲۰۹
﴿۱۴۳﴾ په موټراو ټکټرکې زکوة شته اوکنه؟ ........ ۲۱۱
﴿۱۴۴﴾ د کور د نفقې پر ټکټر یا موټر باندې زکوة شته او کنه؟ ........ ۲۱۴
﴿۱۴۵﴾ د ګرو پر سرای ورکړیو روپیو باندې زکوة ........ ۲۱۵
﴿۱۴۶﴾ آیا پرکتابونو زکوة واجبیږي ؟ ........ ۲۱۷
﴿۱۴۷﴾ آیا پر نوټ زکوة واجبیږي؟ ........ ۲۱۸
﴿۱۴۸﴾ د نصاب څښتن که مهر﴿ولور﴾ورباندې وي نو زکوة پرې شته که نه؟ .... ۲۲۹
﴿۱۴۹﴾ آیا د عشر له اداینې وروسته بیا هم پر پیسو زکوة شته؟ ........ ۲۳۰
﴿۱۵۰﴾ په بیع وفا کې زکوة پر بائع دی که پر مُشتري؟ ........ ۲۳۲


### باب اداء الزکوٰة


﴿۱۵۱﴾ که بالغ او نابالغ سره شریکان وي نو زکوة به څنګه ادا کوي؟ ........ ۲۳۳
﴿۱۵۲﴾ څوک چې زکاة نه ورکوي یا یې غنیانو﴿مړو﴾ ته ورکوي دهغوی څه حکم دې؟ ........ ۲۳۴
﴿۱۵۳﴾ له یوځای څخه بل ځای ته دزکوة انتقالول ﴿وړل﴾ څه حکم لري؟ ........ ۲۳۶
﴿۱۵۴﴾ بل ولایت ته د عشراو زکوٰة انتقال جائز دي کنه؟ ........ ۲۳۹
﴿۱۵۵﴾ آیا د زکوة وکیل خپلو قریبانو ته دغه زکوة ورکولای شي کنه؟ ........ ۲۴۲
﴿۱۵۶﴾ نصاب یا تر نصاب زیات زکوة عالم یا غیر عالم ته ورکول ........ ۲۴۴
﴿۱۵۷﴾ آیا د عشر او زکوة ادا ینه به هاغه ځای کوي چېرې چې مُزکّي اوسېږي او که چېرې چې مال وي ........ ۲۴۶

**شماره** **عنـوان** **صفحه**

## باب فی المعادن والرّکاز

(۱۵۸) له ځمکې راوتې خزانې څه حکم دی؟ ........ ۲۴۸

## باب فیمن یمرّعلی العاشر

(۱۵۹) آیا عاشر به د ظاهري او باطني مالونو دواړو زکوة راټولوي؟ ........ ۲۵۰

## باب زکوٰة الزروع والثمار

(۱۶۰) د خسیلو او غنمو د عشر حکم ........ ۲۵۳
(۱۶۱) په شهد (عسلو) کې د عشر حکم ........ ۲۵۵
(۱۶۲) په پروړ کې عشر شته او کنه؟ ........ ۲۵۶
(۱۶۳) په هنګ (اِنجه) کې عشرشته اوکنه؟ ........ ۲۵۸
(۱۶۴) د پروړ د عشرپه هکله یوه بله پوښتنه ........ ۲۵۹
(۱۶۵) د غرونواو صحراګانو په میوه کې عشر شته او کنه؟ ........ ۲۶۰
(۱۶۶) په لرګیو کې عشر شته او کنه؟ ........ ۲۶۳
(۱۶۷) د عشر لپاره د ((اکثرالسنة)) څخه شمسي سنه مراد ده که قمري؟ ........ ۲۶۵
(۱۶۸) بیا بیا راشنه کیدونکو وښو کې عشر څو ځله دی؟ ........ ۲۶۸
(۱۶۹) آیا حکومت د اجارې په توګه د ځمکې برخې اخیستلو وروسته عشر هم اخیستلای شي؟ ........ ۲۶۸
(۱۷۰) د امارت له طرفه ورکړیو ځمکو باندې عشر ........ ۲۷۱
(۱۷۱) دبیت المال ځمکه چې په اجاره ورکوله شي عشرپکې شته کنه؟ ........ ۲۷۳
(۱۷۲) مواته ځمکه چې إحیاء شي عشر لري اوکنه؟ ........ ۲۷۷
(۱۷۳) په إجاره کې عشر پر مؤجر دی که پر مستاجر؟ ........ ۲۷۸
(۱۷۴) د کامل او ناقص اجرت اخیستلو په صورت فتوی د چا پر قول ده؟ ........ ۲۷۹
(۱۷۵) که مستأجر ډیره ګټه یا ډیر تاوان وکړي نو عشر به پر چا وي؟ ........ ۲۸۱

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|


(۱۷۶) په ګل کې خرڅ کړېو انګورو عشر پر چا دی؟........................ ۲۸۲
(۱۷۷) په مزارعة کې عشر پر چا دی؟........................ ۲۸۴
(۱۷۸) عشر د مصارفو تر ایستلو وروسته وي او که مخکې؟........................ ۲۸۵
(۱۷۹) عشر د مصارفو تر اخراجولو وروسته وي که مخکې؟........................ ۲۸۷
(۱۸۰) د موټر د کرایې تر ایستلو مخکې به عشر ورکوي که وروسته؟........ ۲۸۹
(۱۸۱) د عسلو (شهد) په عشر کې ب ه مؤنة ایستل کیږي او کنه؟........................ ۲۹۰
(۱۸۲) که د کاریز اوبه لږ او د ماشین ډیرې یا ددې بر عکس وي وعشر به څنګه ورکوي؟........................ ۲۹۱
(۱۸۳) دوه ځله په ویاله او زیاته په ماشیـــن اوبه شوي ځمکه کې عشردې که نصف عشر؟........................ ۲۹۲
(۱۸۴) د باوړۍ په اوبو کې عشردی که نصف عشر؟........................ ۲۹۴
(۱۸۵) له ویالې او رود څخه په ماشین اوبه کونکې ځمکه کې څه راځي؟...... ۲۹۵
(۱۸۶) دکاریزاوباوړۍ په اوبوعشرلازمیږي که نصف عشر؟........................ ۲۹۶
(۱۸۷) په للمي اوعلف چرځمکوکې عشردی که خراج؟........................ ۲۹۸
(۱۸۸) خراج له مصارفوڅخه مخکې وي که وروسته او د بزګرلپاره له خراج څخه پرته څه شئ شته اوکنه؟........................ ۳۰۲
(۱۸۹) له هندوانوڅخه خراج اخیستل........................ ۳۰۵
(۱۹۰) له هندوانو څخه په اجاره شویوځمکو کې عشردی که خراج؟........................ ۳۰۹
(۱۹۱) داهل ذمه په املاکوکې عشردی که خراج؟ دولتي یاغیردولتي املاک چې په اجاره ورکول شي عشریې پرمؤجردی که پرمستأجر؟ اودولتي املاک چې حکومت پخپله کرلې عشرلري اوکنه؟........................ ۳۱۱

**شماره** **عنـوان** **صفحه**

## باب مصارف الزكوٰة

(۱۹۲) دزکوة دمصرف کیدولپاره حاجات اصلیـه په اعتبـاردوجـودضـروري دي که مألاً؟..................................................۳۱۷
(۱۹۳) آیا کتابونه لرونکی عالم مصرف د زکوة کیدلای شي؟................ ۳۱۹
(۱۹۴) عالم په عامل کې داخل دی کنه؟............................................ ۳۲۱
(۱۹۵) د زکوة په روپیو مسجد ودانول.............................................۳۲۲
(۱۹۶) د سکنیٰ لپاره دځمکې رانیونکی مصرف د زکوة دی کنه؟..............۳۲۳
(۱۹۷) د غني پلار مسکین زوې ته زکوة ورکول.....................................۳۲۵
(۱۹۸) په عشراو زکوة امامت کول...................................................۳۲۶
(۱۹۹) آیا د ځلوینبتو کلونو نفقه لرونکي یا د سرو زرو پرځین سپریدونکی امام زکوة اخیستلای شي؟........................................................ ۳۳۱
(۲۰۰) د عشراوزکوةعاملین چې سیدان وي دزکوة اخیستل یې څه حکم لرې؟.......۳۳۲
(۲۰۱) د عشردمصرف په توګه خاص کړي شخص څخه عشرمنع کول..........۳۳۶
(۲۰۲) د عشردمصرف لپاره ورکړي خط باندې که مالک پښیمانه شي؟....۳۳۷
(۲۰۳) له مالک څخه تراخیستلوروسته که امام عشربل چاته ورکړي؟......۳۳۸
(۲۰۴) د موټرانو پر ترمیم او تیلواو نورو اړتیاؤ د عشر مصرفول څه حکم لري؟...۳۳۹
(۲۰۵) په فقیردعشرقبض کول اوبیاورځینې اخیستل جائز دي کنه؟ اوفقیرکه ټینګ شي عشرځان ته راوګرځوي نوڅه حکم لري؟............................۳۴۳

## باب صدقة الفطر

(۲۰۶) آیا د بچیانو سرسایه پر موراو پلار دواړو ده؟............................۳۴۵

## كتاب الصوم

## باب رؤية الهلال

(۲۰۷) په رؤیة الهلال کې رادیو ته اعتبار شته اوکنه؟............................ ۳۴۹

| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|

(۲۰۸) د سعودي د راديو په اعلان يا د جنترۍ په حساب روژه نيول څنګه دي؟ ۳۵۱
(۲۰۹) که د روژې خبر دورځې په مينځ کې راغی ۳۵۹

## باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده

(۲۱۰) د روژې پرمهال پيچکارۍ اوسيروم لګول څه حکم لري؟ ۳۶۱
(۲۱۱) د رګ او غوښې په پيچکارۍ روژه ماتيږي او کنه؟ ۳۶۳
(۲۱۲) په روژه کې د پيچکارۍ لګولو په هکله يوه تفصيلي فتوی ۳۶۵
(۲۱۳) سحاق د دووښځو روژه ماتوي په شرط د انزال ۳۶۷

## باب العوارض المبيحة للفطر

(۲۱۴) پيلوټانو ته د پرواز پر مهال روژه ماتول څه حکم لري؟ ۳۶۸

## باب قضاء الصوم وكفارته وفديته

(۲۱۵) په کفاره کې حيض مانع او قاطع ګرځي او کنه؟ ۳۷۲
(۲۱۶) شيخ فاني به شپيتومسکينانوته دکفارې ډوډۍ څنګه ورکوي؟ ۳۷۳

## كتاب الحج
## باب فرضية الحج

(۲۱۷) د سر درختو او تاکانو پر حاصلاتو حج فرض دې که پر قيمت يې؟ ۳۷۹
(۲۱۸) آيا د بيت الله شريف په ديدار حج فرضيږي؟ ۳۸۱

## باب القِران

(۲۱۹) حاجي قارِن چې د حج په سعې کې اشتباهي شي ۳۸۳

# د بدرالفتاویٰ مقدمه

**د مرکزي دارالافتاء د رئیس لخوا**

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الحمد لله الذي اَنْعَمَ علينا بتنوير الاَبصار، وجلاء الاَفهام و تحسين اَبكار الاَفكار، والصّلوٰة والسّلام علىٰ محمّدٍ الدّرالمختار، الّذي اِرساله اَعظم مِنحةٍ من مِنَحِ الغفار، واَجلّ هِبة من مواهب الرّحمٰن الّتي هي كالبحرالزّخار، وعلىٰ اٰلِهِ واَصحابه الدّرر والغرر الّذين جَلّو عن الاَشباه والاَنظار، حيث نالوا بِفتح القدير غاية الهداية في البداية والنهاية فكانوا من الاَخيار، و رقوا في معارج الدراية و تبيين كنزالآثار، وعلىٰ اَتباعهم من الاَ ئمة المجتهدين السّادة الاَبرار، خصوصاً المجتهد الاَقدم والاِمام الاَعظم ابوحنيفة النّعمان ذو الشرف والفخار.**

امابعد! بنده نورمحمّد (ثاقب) د ۱۴۱۷ هـ ق کال د صفرالمظفر د میاشتې په ۲۰، د **۱۳۷۵** هـ ش کال د سرطان د میاشتې په **۱۵**، او د **۱۹۹۶**ع کال د جولای د میاشتې په **۷** نېټه په کندهار کې د افغانستان د مرکزي دارالافتاء د سرپرست په توګه تعیین او مقرر شو.

چې بیا څه موده وروسته د ۱۴۱۷ هـ ق کال د رجب المرجب د میاشتې په ۱۰، د **۱۳۷۵**هـ ش کال د عقرب د میاشتې په دیرشمه، او د **۱۹۹۶**ع کال د نومبر د میاشتې په ۲۰ نېټه د افغانستان د مرکزي دارالافتاء د عمومي رئیس په توګه وټاکل شو.

په مرکزي دارالافتاء کې مونږ سره آعضاء او مفتیان په مختلفو وختونو کې دغه لاندې علماء کرام ول:

(۱) مولوي عبدالله مشهور په خطیب صاحب - ولایت ارزگان.

(۲) مولوي محمّد خواص - زمینداور ولایت هلمند.

(۳) مولوي حمدالله اخندزاده – دایچوپان ولایت زابل.

(۴) مولوي رحیم جان آغا - سیدآباد ولایت میدان وردگ.

(۵) مولوي عبدالقدیم آخندزاده - سیدآباد ولایت میدان وردگ.

(۶) مولوي محمّد مسلم (حقاني) - ولایت بغلان.

(۷) مولوي احمد (نوري) ولایت کندهار.

(۸) مولوي عبدالحکیم - سنگین ولایت هلمند.

(۹) مولوي ندامحمّد - پنجوائي ولایت کندهار.

(۱۰) مولوي محمّد اخلاص (برکتي) ولایت کندهار.

(۱۱) مولوي زمان شاه - ولایت زابل.

(۱۲) مولوي محمود میوندوال - ولایت کندهار.

(۱۳) مولوي حافظ عبدالستار - ولایت کندهار.

او داسې نور تکړه علماء کرام-

کله چې بنده د مرکزي دارالافتاء مسئول و ټاکل شو بیا به چې کومو مفتیانو او علماؤ مراجعه کوله او د مقررۍ درخواست به یې وړاندې کاوه نو بنده به ددوی د استعداد او قابلیت د معلومولو پخاطر ورته یوه استفتاء حواله کوله چې دا به ضمنًا یو نوع امتحان ؤ نو بیا به د استفتاء د حل او جواب د ځرنګوالي په اَساس د دوی په تقرّر او یا عدم تقرر کې تصمیم نیول کېده.

پدې لړ کې ډیر هغه علماء چې جدیدالفراغت ول او په کراچۍ وغیره کې یې د افتاء تخصص کړی وو ، د هغه ورسپارل شوې استفتاء د جواب او فتویٰ د

ليکلو نه پس يې تقرر حاصل نکړ.

زمونږ مرکزي دارالافتاء ته به عموماً د څلور ډوله طبقو انسانانو لخوا استفتاء ګانې او پوښتنې راتللې.

(١) د افغانستان د عام ملّت لخوا.

(٢) د مختلفو امارتي او حکومتي اداراتو لخوا.

(٣) د محاکمو او قُضاتو لخوا تر څو د قضائي حکم او فيصلې لپاره ځان ته مسئله روښانه کړي.

(۴) د امارت د مقام لخوا.

چې دا به لوستونکو ته د مسائلو او فتاواؤ د لړۍ او جريان نه هم معلوم شي.

بنده به پخپله هم فتواوې ليکلې او د دارالافتاء أعضاؤ او مفتيانو به هم ليکلې خو بنده به د بل هر يو ليکلې فتویٰ کتله او چې ده به تائيد کړه نو د ستخط به يې کړه او د مرکزي دارالافتاء مهر به يې ورباندې ولګاؤ او نورو به هم دستخط کړه نو بيا به فتویٰ قابل د اعتبار او د عمل وه، نو فتویٰ به مستفتي (استفتاء کوونکي شخص يا استفتاء کوونکې ادارې او مقام) ته ورکول شوه او يو نقل به يې په دارالافتاء کې د ثبت او ريکارډ په توګه پريښودل شو.

کله به داسې هم پېښېدله چې يو مفتي به فتویٰ ليکلې وه او ځېنو نورو به تائيد کړې هم وه خو چې د بنده ملاحظې او کتنې لپاره به وړاندې شوه بنده به دتائيد او تصديق قابله ونه ګڼله او دوی ته به يې په قناعت سره په فتویٰ کې خلل او يا د فتویٰ عدم صحت ور وښود نو بيا به دغه فتویٰ يا اصلاح او يا سر دوباره وليکل شوه.

د فتاویٰ د پښتو عبارات اکثر په کندهارۍ ژبه کې وي، ددې وجه داده چې يو خو زمونږ مرکزي دارالافتاء په کندهار کې موقعيت درلود او

دولتي او غير دولتي مستفتين به هم اکثر د هغې ژبې خلک ول او بل مونږ به چې اصل فتوئ مستفتي ته ورکوله نو دهغې نقل به مو اخيست او هغه عالم چې زمونږ منشي ؤ او د فتوئ نقل به يې ليکه هغه د بنده شاګرد مولوي اَحمد (نوري) د کندهار ؤ.

نو اوس خو به فتاوئ په همدغه حالت کې وي ، بيا وروسته کېدای شي چې فتاوئ په عامه پښتو کې شي، او همدغه راز په فارسي او نورو ژبو کې ترجمه شي.

بايد يوه يادونه وکړو او لوستونکو ته وضاحت ورکړو هغه دا چې په فتاوئ کې د مرکزي دارالافتاء سره کله تحريک ليکل کېږي، کله دولت ليکل کېږي، اوکله امارت ليکل کېږي او دغه راز د بنده د نوم سره کله د دارالافتاء سرپرست، او کله د دارالافتاء رئيس، او کله د دارالافتاء رئيس او د سترې محکمې قضائي مرستيال دواړه ليکل کېږي د هغې وجه دا ده چې مراحل متعدد او مختلف ول.

هغه داسې چې د کابل د فتح نه مخکې طالبانو ډير ولايتونه نيولي ول او د افغانستان په ډيره پراخه ساحه باندې ددوی کنترول ؤ او سيستم او نظام يې پکې فعال کړی وو نو په دغه مرحله او زمانه کې به (د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريک) ياديده بيا چې کله کابل فتح شو نو تحريک په دولت بدل شو نو بيا به (د افغانستان اسلامي دولت) ياديده بيا څه موده وروسته دولت رسماً په امارت بدل شو نو بيا به (د افغانستان اسلامي امارت) ياديده ، لهذا په دغو مرحلو کې چې په مرکزي دارالافتاء کې کومې فتوِې صادرې شوي دي نو دغه جدا جدا نومونه ورسره ياد شوي دي.

او بل لکه مخکې هم ذکر شو چې بنده په لومړۍ مرحله کې د مرکزي دارالافتاء سرپرست ؤ بيا رسمًا عمومي رئيس وټاکل شو، او بيا ددې

ترڅنګ د افغانستان د ستري محکمې قضائي مرستيال هم وټاکل شو چې لږ وروسته به په دغه دندې د مقررۍ تاريخ او نېټه ذکر شي ، نو ځکه ده سره کله د مرکزي دارالافتاء سرپرست، او کله د مرکزي دارالافتاء عمومي رئيس او کله د مرکزي دارالافتاء عمومي رئيس او د ستري محکمې قضائي مرستيال ليکل کېږي، او هم ورسره کله تحريک، کله دولت او کله اِمارت ذکر کېږي د هماغو مختلفو مرحلو له وجې.

بنده به د مرکزي دارالافتاء د رئيس په حيث د راديو وغيره له لارې د ټول افغانستان لپاره د روژې ا و اخترونو د کېدو يا نه کېدو اعلان هم کاوه چې دا کار دده په ذمه ؤ او په دې اِعلان به عمل درامد کېده، حتیٰ چې په بهر کې افغان مهاجرينو به هم همدې اِعلان ته انتظار کاوه او په دې اعلان به يې اتکاء کوله.

د مرکزي دارالافتاء لخوا مونږ د ټول افغانستان د خطيبانو لپاره يوه جامع، معتمده او په زړه پورې خطبه انتخاب او تصويب کړې وه، چې په دغه خطبه کې د شريعت د فقهې او فتاویٰ د کتابونو په رڼا کې هغه الفاظ هم راوړل شوي ول چې د بادشاه د وخت نوم او هغه ته دعاء پکې ذکر وي نو په دغه خطبه کې د اميرالمؤمنين نوم او ده ته دعاء ذکر وه، او دغه خطبه ټولو خطيبانو ته ورکول شوې وه او باقاعده به په جامع جوماتونو کې د خطيبانو لخوا همدغه خطبه ويلی کېده.

بنده نورمحمّد (ثاقب) ددې ترڅنګ چې په کندهار کې د مرکزي دارالافتاء عمومي رئيس ؤ په کابل کې د افغانستان د ستري محکمې قضائي مرستيال هم ؤ چې د ۱۴۱۷هـ ق کال د رجب المرجب د مياشتې په ۱۳، د ۱۳۷۵هـ ش کال دقوس د مياشتې په دريمه، او د ۱۹۹۶ع کال د نومبر د مياشتې په ۲۳نېټه د يو ځانګړي فرمان په ترخ کې دده دغه تقرّري شوې وه.

او بیا ددغو دندو سربېره، د ۱۴۱۸هـ ق کال د صفرالمظفر د میاشتې په ۲۹، د ۱۳۷۶هـ ش کال د سرطان د میاشتې په ۱۵، او د ۱۹۹۷ع کال د جولای د میاشتې په ۲ نېټه بنده ته د افغانستان د جنوب غرب حوزې د ټولو محاکمو د قاضیانو دعزل، نصب او تبدیل ( ګوښه کولو، ټاکلو او بدلون ) په برخه کې د سترې محکمې ټول صلاحیت او واک مستقل ور وسپارل شو.

او ددې تر څنګ د عالیقدراَمیرالمؤمنین د هغه اعتماد له مخې چې په بنده یې درلود ډیر داسې موضوعات به ول چې د افغانستان په درې ګونو محکمو (ابتدائیه، مرافعه او تمییز) کې به فیصله شوي ول امیرالمؤمنین به د خپل زیات باور حاصلولو پخاطر ده ته ورلېږل او دده نظر به یې پکې غوښته او ځینې موضوعات او مسائل به یې ابتداءً بغیر د محاکمو د اوږد جریان څخه په اختصاصي ډول په بنده باندې حل کول او لنډ خلاصول

د دارالافتاء د لازیات تقویت او ترقۍ پخاطر بنده اراده درلوده چې په دغه مرکزي دارالافتاء کې د اِفتاء د اُصولو او ادابو تعلیم ،او تخصص شروع کړي.

او دغه راز یې اراده درلوده چې د مرکزي دارالافتاء شاخونه ( څانګې) تقریبًا په هر ولایت کې افتتاح او فعالې کړي ، چې پدې لړ کې یوه اندازه کار شوی هم ؤ، خو ددغو مقصدونو دپوره حاصلولو څخه د مخه بنده د افغانستان د سترې محکمې د رئیس او قاضي القُضات په توګه تعیین او مقرر شو، او د کندهار نه کابل ته نقل شو، چې دبنده دغه تقرر او انتخاب د امیرالمؤمنین په ځانګړي فرمان سره د ۱۴۱۸هـ ق کال د ذوالقعدې د میاشتې په ۱۲، د ۱۳۷۶هـ ش کال د حوت د میاشتې په ۱۹، او د ۱۹۹۸ع کال د مارچ د میاشتې په ۱۰ نېټه رامنځته شو.

د بنـده نورمحمّـد (ثاقب) د سـترې محكمـې د رياسـت د مرحلـې او زمانې او په هغې كې د خدماتو د ترسره كولو، لوی تفصيل او لويـه لړۍ ده، چې دا يې د ذكر كولو ځای نده، ځكه دلتـه دفتـاوی د مناسبت لـه مخې د دارالافتاء د زمانې يو څه تذكره پكار وه، چې هغه وشوه.

بيا د بنده نه وروسته د مركزي دارالافتـاء مشري د سترې محكمې مخكنـي رئـيس او قاضـي القضـات مولـوي عبدالغفور(سـناني) مشـهور پـه (شُوی آخندزاده) ته وسپارل شوه، هغـه ډيـر تكړه او مشـر عـالم ؤ، خـو پدغـه زمانـه كـې د عمـر د زيـات والـي او ضـعيفۍ سـره مـخ ؤ، څـه مـوده يـې د دارالافتاء سرپرستي وكړه، او زمونږ د وخت څه زاړه، او څه نـور نـوي علمـاء او مفتيان په دارالافتاء كې ورسره ول ، زمونږ د صادركړيو فتاواؤ ذخيره پـه رجسترونو كې ورتـه پاتـه وه ، پـه مشـابِه استـفتاء ګانو كې بـه دوی ډيرځلې ددغو جوړو او تيارو مسـائلو څخـه استفاده كولـه او پـه جـواب كـې بـه يـې را نقـل كـولې ، او هماغـه زمـونږ لخـوا جـوړ كـړل شـوی مُهـر بـه استعمالېده ، خلاصه دا چې د دارالافتاء جوړ سستم او نظام ورته پاته شو.

بيـا دی ( سـناني صـاحب ) پـه ۱۳۷۹هـ ش كـال كـې وفـات شـو- رحمـه الله تعالی رحمةً واسعةً.

بنده نورمحمد ( ثاقب ) چې كلـه د سترې محكمـې د رئـيس پـه توګـه كابل ته نقل شو نو د ډيرو مسائلو د حل كولـو او پـه اړه يـې د فتـویٰ وركولـو كار هم هلته را نقل شو ځكه چې محترم اميرالمؤمنين به مهم مسائل د بنـده پـه نـوم سترې محكمـې تـه محـول كـول او رالېـږل ، او كلـه بـه يـې داسـې هـم ليكلي وو چې : ( دغه مسئله مو تاسو ته راجع او محول كړه تاسـو پـرې د هـر ولايـت څخـه دوه دوه يـا درې درې جيّـد علمـاء كـرام را وغـواړئ او د پـوره څېړنې پـه تـرڅ كـې يـې حـل كـړئ ) ، چې پـه دغـه ډول ډيـرې مهمـې او غـټې

مسئلې زمونږ لخوا حل او فصل شوې او فتوىٰ پرې ورکول شوه ، ځکه خو محترم امیرالمؤمنین څه زمانه مخکې د چهارشنبې ورځ د ( ۱۴۱۷هـ ق ) کال د رجب المرجب د میاشتې په ( ۱۰ ) نېټه په یوه موقع بنده ته ویلي وو:
( زه چې چېرته یم هلته به دارالافتاء یعنې ته هم یې ... )

دغه راز د ټول ملک په سطحه به چې د روژې او د اخترونو اعلانونه د رادیو وغیره له لارې د بنده لخوا کېدل د مرکزي دارالا فتاء د رئیس له عنوان څخه ، هغه هم د بنده سره نقل شول ، چې بیا به هغه اعلانونه په کابل کې د بنده لخوا کېدل د سترې محکمې د رئیس او قاضی القضات له عنوان څخه ، چې بیا به د کابل په عمومي عیدګاه کې د اختر د لمونځ امامت هم د بنده لخوا اداء کېده.

او بنده نورمحمد ثاقب چې د افغانستان د اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضی القضات ؤ دده ددغه عمومي ریاست او لویې اداري لاندې د نورو ډیرو ریاستونو او اداراتو تر څنګ په ستره محکمه کې د دارالا فتاء ریاست هم ؤ ، چې په هغې کې په لوی شمېر کې علماء او مفتیان مقرر ول ، چې بې شمېره فتوې پکې صادرې شوې ، البته هره فتوىٰ به د تائید او تصدیق لپاره بنده ته رالېږل کېده ، او چې بنده به وکتله او تصویب به یې کړه نو بیا به فتوىٰ قابل د اعتبار او د عمل وه.

او دغه راز د بنده ددغه لوی ریاست لاندې د ټولو ولایاتو او ولسوالیو محاکم هم ول او په محاکمو کې به د قاضیانو سره مفتیان هم مقرر او مؤظف ول چې هغوی به د محاکمو په لړ کې فتوې صادرولې.

او همدغه راز زمونږ د سترې محکمې ددغه عمومي ریاست لاندې د کندهار د تمییز ریاست هم ؤ او هغه بیا وروسته زمونږ د سترې محکمې د

ځلورو معاونیتونو څخه یو معاونیت هم وګرزول شو ، او زمونږ د کندهار مرکزي دارالا فتاء د هغې ترڅنګ قرار درلود .

بلکه دا ویلی شو چې د افغانستان د دارالافتاء نظام د بنده سره داسې په دوامداره توګه مربوط راغلی ده ، دا اوس چې د دعوت او ارشاد کمیسیون په چوکاټ کې دارالافتاء موجوده ده ددې اساس او بنیاد داسې ؤ : کله چې زه بنده نورمحمد ثاقب د دغه دعوت او ارشاد کمیسیون رئیس وم دارالافتاء مې په نظر او اراده کې وه نو مونږ د خپل دعوت او ارشاد کمیسیون په لائحه کې دارالافتاء راوړله او مستقل فصل مو ورته وضع کړ ، او لائحه د امارت د مشر تابه لخوا تصویب او منظوره شوه ، مونږ د دارالافتاء د فعالولو په هڅو کې وو ، چې په دې اثناء کې ما بنده ته د محترم امیرالمؤمنین لخوا د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو د کمیسیون مسئولیت او ریاست را وسپارل شو ، بیا زمونږ نه وروسته د دعوت او ارشاد نویو مسئولینو د یوه اندازه تاخیر نه پس دغه دارالافتاء جوړه کړه .

او مونږ د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو د کمیسیون په چوکاټ کې د افتاء او قضاء د تخصص یوه ښه منظمه اداره او مدرسه جوړه کړې ده ، چې په با قاعده او پرلپسې توګه د تخصص دوه کلن ښه معیاري نصاب پکې تدریس کېږي ، او کوشش کوو چې دغسې د افتاء او قضاء د تخصص اداري او مدرسې په څونورو ځایونو کې هم جوړې او فعالې کړو.ان شاء الله تعالی

په افغانستان باندې د امریکا په مشرۍ د نړیوال کفر د بې شرمانه او بې رحمانه یرغل وروسته زمونږ د مرکزي دارالافتاء د دغه فتاویٰ یوه حصّه کوم چا د کویټې ښار ته اړولې وه، او هلته به په کچره روډ او بیا مغربي بائي پاس نژد زوړ حاجي کیمپ د ( دارالتقاریر و مکتبة الحافظ ) په نامه دوکان کې فوټو کاپي کېدله او خرڅېدله، او له دې وجې چې ددې فتاویٰ مقبولیت

ډير زيات ؤ نو شايد په زرګونو کاپياني به ترې ايستل شوي او خرڅې شوي وي ، چې د هرې مسئلې او فتوئ په پای کې به د بنده نورمحمّد (ثاقب) نوم او دستخط او د مرکزي دارالافتاء مُهر او د ځېنو نورو مفتيانو او أعضاؤ دستخطونه موجود ول ، خو دې مسائلو ته به يې هلته په کويټه کې (د تمييز مسائل) ويلي او همدا عنوان به يې پرې ليکلی هم ؤ ، کېدای شي چې ددې يوه وجه به دا وه چې يو وخت په کندهار کې د افغانستان مرکزي دارالافتاء او دافغانستان د تمييز رياست دواړه په يوه ودانۍ او تعمير کې ول نو شايد ځينو مراجعينو دا ګمان کړی وي چې دغه ددارالافتاء څخه صادرېدونکي مسائل به د تمييز مسائل وي ، او يا کېدای شي وجه دا وه چې په دغه فتاوئ کې خو په هره هره مسئله باندې د بنده دستخط او مُهر موجود ؤ او کله به د بنده د نوم سره د مرکزي دارالافتاء د عمومي رئيس تر څنګ د سترې محکمې قضائي مرستيال هم ذکر کېده ، او بيا بنده په وروستي مرحله کې اوږده زمانه آن د اسلامي امارت د حاکميت تر پايه د سترې محکمې رئيس او قاضي القضاة ؤ او په خلکو کې يې په همدې نوم او عنوان شهرت زيات درلود ، او تمييز خو يوه محکمه وه په ستره محکمه کې (نهايي محکمه) نو دې خلکو دا ګمان کړی ؤ چې دغه مسئلې د سترې محکمې د تمييز مسئلې او فيصلې دي او دوی به د فتاوئ ددغه حصّې په سر وقايه او ټايټل باندې او هم په آخر کې همداسې اَلفاظ ليکلي ول چې ددوی دغه مطلب به ترې فهم کېده ، دوی به پرې ليکلي ول : (د طالبانو د اسلامي تحريک د سترې محکمې يعنې د تمييز مسئلې دا ټولې هغه معتمدې مسئلې دي چې د تمييز په محکمه کې فتوئ پر ورکول سوې ده ، د قاضي القُضاة مهر او دستخط پر هره مسئله باندې سوی دی ....)

او حال دا ده چې د مرکزي دارالافتاء مسائل او فتاویٰ جُدا او د سترې محکمې او د تمییز مسائل او فیصلې جُدا وې ، او دغه موجوده تنها زمونږ د مرکزي دارالافتاء فتاویٰ ده، او زمونږ د سترې محکمې او تمییز د فیصلو ثبت او ریکارډ خو د سترې محکمې او تمییز په دیوانونو کې پاتې ده او د هرې فیصلې نقل مدعي او مدعیٰ علیه ته ورکول شوی ده.

بهرحال، له دې وجې چې د فتاویٰ طلب ډیر زیات ؤ نو بیا د کویټې کُتُبخانو او مکتبُو دغه فتاویٰ ته مخه کړې وه او چاپ کړې یې وه، ځینو په خپل اصلي حالت کې سکَیْن او چاپ کړې وه او ځینو په یو او بل عالِم باندې دې ته ترتیب ورکړی ؤ او بیا یې کمپوز او چاپ کړې وه، په مختلفو نومونو او عنوانونو، چې تاسو لوستونکو به د بازار په کُتُبخانو کې او دعلماؤ او طالبانو سره لیدلي وي ، چې چا دا نوم او عنوان ورکړی ؤ: (دافغانستان د اسلامي امارت د سترې محکمې د تمییز مسئلې د افغانستان د سترې محکمې د قاضي القُضات مولوي نورمحمّد (ثاقب) تر مشرۍ لاندې فیصله سوي مسئلې)

او چا دا نوم او عنوان ورکړی ؤ: (د تمییز مسئلې الفتاویٰ لِلامارة قاضی القُضاة مفتي العصر حضرت مولانا نورمحمّد (ثاقب) دامتْ برکاتُهم)

او چا دا نوم او عنوان ورکړی ؤ: (بدرالفتاویٰ في الفقه الحنفي د تمییز مسائل د افغانستان داسلامي امارت د سترې محکمې قاضی القُضاة او د مرکزي دارالافتاء رئیس مولانا مفتي نورمحمّد (ثاقب) په مشرتابه کې د افغانستان د سترې محکمې لخوا د فیصله شویو مسئلو مکمله ذخیره)

او چا دا نوم او عنوان ورکړی ؤ: (دطالبانو داسلامي تحریک د کندهار دمرکزي دارالافتاء دفتواګانو یوه حصّه چې مشهوره پدې نوم باندې ده د

تمییز مسائل) او داسې نور نومونه او عنوانونه.
او دا هر څه دوی پخپل سر کړي ول.

کله چې بنده ته دغه ټول صورت حال او جریان معلوم شو، نو اراده یې وکړه چې باید نه تنها د فتاوی دغه یوه حصّه بلکه زمونږ ټوله فتاویٰ چې مونږ سره موجوده ده، په خپل اصلي عنوان او په صحیح ترتیب او غوره معیار چاپ کړل شي.

د اِمارت مشرتابه سره یې خبره شریکه کړه، د هغوی د خوښې څرګندولو او اِجازې نه بعد بنده پدې مورد کې اقدام وکړ.

لومړی یې دغه ټوله فتاویٰ - ددې ټولې حصّې- د ۱۴۳۳هـ ق کال د شعبان المعظم دمیاشتې په ۲۲، د ۱۳۹۱هـ ش کال دسرطان دمیاشتې په ۲۵، او د ۲۰۱۲ع کال د جولای د میاشتې په ۱۵ نېټه د یکشنبې ورځ د ترتیب لپاره مولانا مفتي محمدابراهیم (خلیل) ولد حاجي عبدالحق مرحوم ته وسپارلې.
نوموړي مفتي صاحب په ډېره توجه، اخلاص او جهد مسلسل سره ددغه ټولې فتاویٰ د ترتیب کار تر د ۱۴۳۴هـ ق کال د محرّم الحرام د میاشتې د ۲۹، د ۱۳۹۱هـ ش کال دقوس د میاشتې د ۲۳، او د ۲۰۱۲ع کال د دسمبر د میاشتې د ۱۳ نېټې پورې مکمّل کړ.
چې هره مسئله د خپل خپل کتاب، باب او عنوان لاندې راوړل شوه او که به په یوه استفتاء کې ګڼې او مختلفې پوښتنې شوې وې چې د فقهې د مختلفو عنوانونو سره به یې تعلق وو او په فتویٰ کې به هم ددغو ګڼو او مختلفو پوښتنو جوابونه په دغه ځای کې یوځایي ورکول شوي وو نو په ترتیب کې مو د استفتاء او فتویٰ دغه هر جزء د بل جزء څخه را جلا او دخپل خپل باب او عنوان لاندې داخل او درج کړل.

د ترتيب نه وروسته بنده نورمحمّد (ثاقب) پخپله پدې ټولې فتاوىٰ باندې بيا دقيق نظر وکړ او ددې پوره تصحيح يې وکړه، او د زيات دقت پخاطر يې د فتاوىٰ هغه کتابونه بيا پرې راکوز او وکتل چې حوالې پرې ورکول شوې وې، او ډير عبارات يې له سره سم کړل ، او هم يې کوشش وکړ چې د چاپ لپاره دغه مسائل او فتاوىٰ په داسې شکل او کيفيت برابر کړل شي چې زمونږ د مذهبي او افغاني جامعې سره او هم زمونږ د نظام ( تحريک او امارت ) د پاليسيو سره په ټکر کې نه بلکه په پوره تطابق کې وي .

چې په ډير زيار او محنت او په ډيرې عرق ريزی سره، او د ډير مصروفيت باوجود (چې بنده دغه مهال د افغانستان د اسلامي امارت د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو د کميسيون رياست او مسئوليت په غاړه درلود ، او ددې ترڅنګ يې نور علمي او تاليفي مصروفيات هم لرل)

دالله جَلَّجَلَالُهُ په فضل دغه کار په خير سره اِتمام ته ورسيد .

چې بيا د بنده په نظارت او نګراني کې دغه ټوله فتاوىٰ کمپوز شوه، او د کمپوز نه بعد يې د کمپيوټر د ليکلو تصحيح هم بنده پخپله وکړله، او د (بدرالفتاوى في الفقه الحنفي) نوم مو ورته غوره کړ.

چې دادی دغه فتاوىٰ په پنځو (۵) جلدونو کې ستاسو په وړاندې موجوده ده.

## په پای کې د يوڅو خبرو يادونه کوو :

(۱) په دغه فتاوی کې ډېر اهم او په زړه پورې معلومات او ډېر عمده ، پُرمغز او ضروري مسائل موجود دي چې ښه په دقت او په تفصيل سره ليکل شوي او د معتبرو کتابونو څخه ګڼې حوالې پرې را نقل شوې دي ، په دې کې قديمي او د جديد دور دواړه ډوله مسائل شامل دي.

او دا هغه مسائل دي چې د مسلمانې ټولنې ورته تقريباً هر وخت ضرورت پېښېږي خصوصاً زمونږ په هيواد کې هغه وخت ( يعنې د مسائلو د صدور په وخت ) هم دغو مسائلو ته ضرورت پيښ ؤ ، اوس هم پېښېږي ، او په اينده کې هم هر وخت ورته ضرورت پېښېږي او مشکل وربانديې حل کېږي ، هم د عوامو په سطحه او هم د جهاد ، مجاهدينو او اسلامي نظام او حکومت دارۍ په سطحه.

(۲) دغه ټولې يوازې هغه مسائل او فتاواوې دي چې مستفتيانو ته ورکول شوې دي او يو يو نقل ( کاپي ) يې په مرکزي دارالافتاء کې پاتې شوې وه، البته يو شمير داسې مسائل هم ول چې مستفتيانو ته ورکول شوي خو نقل يې نه دی اخيستل شوی ځکه يو خو په ابتداء کې تر يو وخته د دغه کار بندوبست نه ؤ او بيا چې شروع شوی هم ؤ کله به داسې ؤ چې د ځينو مستفتيانو به تلوار او عجله وه نو چې فتوئ به تياره شوه عاجل به يې يوړله او دا موقع به برابره نشوه چې نقل يې واخيستل شي، او ځينې مستفتيان به داسې ول چې دارالافتاء ته به راغلل او لنډې شفاهي پوښتنې به يې وکړې او شفاهي جواب به يې ورکول شو.

نو که د ټولو مسائلو نقل موجود وای بيا به دغه فتاوی د پنځو (۵) جلدونو څخه زياته وای.


(۳) په اصل فتاوئ کې اِستفتاءات او د هغو جوابونه ټول بالاِستيعاب ذکر شوي ول چې بعضې پکې مکررات ول بيا چې دغه فتاوئ ته د چاپ لپاره ترتيب ورکول کېده ځينې مکرر مسائل ترينه حذف او وايستل شول نو که ټول مسائل بالاستيعاب راوړل شوي وای بيا به دغه فتاوئ نوره هم غټه وای.

(۴) زمونږ په مرکزي دارالافتاء کې به چې د هرې استفتاء جواب او فتوىٰ وليکل شوه نو (لکه دمخه يې چې ذکر وشو) په هغې به د بنده په شمول ټولو علماؤ او مفتيانو دستخط او امضاء وکړه او مهر به پرې ولګول شو، دا چې په دغه موجوده فتاوىٰ کې په ځينو مسائلو د بنده يا د ځينو نورو امضاء نه وي او مهر نه وي لګيدلى ددې وجه داده چې دغه خو دهغه اصل مسائلو چې مستفتيانو ته ورکول شوي دي ثبت او نقلونه دي چې د دارالافتاء په رجسټرونو کې را نقل او ليکل شوي ول نو په ځينو دغو به کله کله امضاء او مُهر پاتې شوی ؤ ورنه په اصل مسائلو به مهر او ټول اِمضاءات موجود ول.

(۵) اوس به زمونږ دمرکزي دارالافتاء داصل فتاوى (دقلمي نسخې) يو څو مخونه د نمونې په توګه راوړو، چې پکې به زمونږ د مرکزي دارالافتاء د مختلفو مرحلو او وختونو د مهر او ټاپې نمونې او د بنده د مختلفو وختونو د دستخط او د مسئوليت د عنوان نمونې او د دارالافتاء د مختلفو وختونو د ځينو علماؤ او مفتيانو د دستخطونو نمونې څرګندې شي.

او دا به واضحه شي چې اصل کار په دغه ډول جريان درلود، چې مونږ سره ټول ريکارډ په همدغه طريقه موجود ده.

## نمونې په لاندې ډول دي :


وحريم العين خمسمائة ذراع من كل جانب كما في الحديث والذراع هو المكسرة وهو ست
قبضات وكان ذراع الملك اي ملك الاكاسرة سبع قبضات فكسر منه قبضة (الدر المختار)
(قوله وهو ست قبضات) كل قبضة اربع اصابع قهستاني وهذه تسمى ذراع العامة وذراع
الكرباس لانها انقص من ذراع الملك وهي ذراع المساحة كما في غاية البيان وفسر الذراع في الحاوي
القدسي هنا بذراع العرب فقال والذراع من المرفق الى الانامل ذراع العرب اهـ
رد المحتار ج ۵ ص ۳۰۹ همدغه بيان په البحر الرائق ج ۸ ص ۲۱۱ وتبيين الحقائق ج ۶ ص ۳۶ کښې راغلی دی
حريم دكاريز امام محمد رحمة الله تعالى وائي چه اوبه ئې په کوم ځای کښې ښکاره شي په منزله دڅاه
دی امام ابوحنيفة رحمة الله تعالى وائي چه حريم نلري ځکه چه قنات په حقيقت کښې واله ده
هر وخت چه اوبه ئې په کوم ځای کښې ښکاره شي نو په منزله دچښمې دی حريم ئې پنځه سوه ګز دی
وللقناة حريم بقدر ما يصلحه القناة مجرى الماء تحت الارض ولم يقدر حريمه بشيء يمكن ضبطه
وعن محمد رحمة الله تعالى انه بمنزلة البئر في استحقاق الحريم وقيل هذا عندهما وعند ابي حنيفة رحمه الله
لا حريم له ما لم يظهر على وجه الارض لانه نهر في الحقيقة فيعتبر بالنهر قالوا عند ظهور الماء
بمنزلة عين فوارة فيقدر حريمها بخمسمائة ذراع اهـ تبيين الحقائق ج ۶ ص ۴۷ البحر الرائق ج ۸ ص ۲۰۲ ۱۲
والقناة عند خروج الماء كالعين وقبله قيل هو مفوض الى راى الامام
لانه لابد للقناة من الحريم لملقى طينه
عبد الصبور المشهور بحطه
مالم يظهر فاذا ظهر فهو كالعين الفوارة قيل هو قولهما اما
على قول ابي حنيفة لا حريم للقناة ما لم يظهر الماء لانه نهر مطوي
فيعتبر بالنهر الظاهر ۱۲ الاختيار ص ۶۸ الجزء ۳
عبد الحکيم عفى الله عنه
تحريک اسلامی طالبان افغانستان
شورای مرکزی علماء افغانستان
مولوی نور محمد ثاقب
سرپرست دار الافتاء مرکزی
تحریک اسلامی طالبان افغانستان

د قلمي نسخې د لومړي رجسټر ( ۳۰ ) مخ

۶۸

والحاصل ان المفهوم من عبارات المتون كالهداية ان عسكرنا لوغاصوا اهل البغي والعسكر داخل المصر من ديار الاسلام لم نيتهم للاقامة والمفهوم من اطلاق المبسوط والسراج والذخيرة وهومقتضى التعليل انها لاتصح وظاهر كلام العناية والمعراج اختياره وبه جزم الشرنبلالي في نور الايضاح والله اعلم -

۳۲۹ باقی

مولوی نور محمد (ثاقب)
سرپرست دار الافتاء مرکزی
دولت اسلامی افغانستان -

تحریک اسلامی طلباء افغانستان
ریاست دار الافتاء مرکزی
شورای مرکزی علماء افغانستان

استفتاء آته دیرشمه

① علماء دین مقدس اسلام درین مسئله چه میفرمایند که مادر اولاد خود را زیر بغل خطاء وشهوا بمیراند بینوا توجروا ② چه میفرمایند که موتروان بدون قصد موترشان چپه شود و سواریان - کشته شوند. بینوا توجروا ③ چه میفرمایند که موتروان انسان و یا حیوان بدون قصد بر کشند بینوا توجروا

المستفتی مولوی باری داد

د قلمي نسخې د لومړي رجسټر ( ۶۸ ) مخ

٩٨

اوپه هدایه *الفتاوی المهدیة* ص$\frac{٤٩٥}{٢٩٠}$ کښی هم لیکلي دي : (سئل ) فی دکان موقوفة
آلت الی السقوط فجاء رجل واخذها من ناظر الوقف وبناها واصلحها وکتب له الناظر
حجةً بان البانی صار له فی الدکان خلو وانتفاع وهو البناء الذی بناه وبقیت ارض
الدکان وحیطانها القدیمة وقفا - علیها الحکر کل سنة یؤخذ من البانی ثم باع -
الرجل ذالک الخلو لرجل آخر وصار ناظر الوقف یأخذ الحکر من المشتری الخ ثم -
هدمت تلک الدکان هی وغیرها فی طریقٍ اَمَرَ الحاکم بتوسعتها وتلف من ارضها
مقدار الثلثین فی توسعة الطریق المأمور بها واخذ ذلک الرجل المشتری للخلو بدل
ما کان یملکه من الحاکم الهادم للدکان فیما کان هدمه من الدکان وامره ناظر الوقف
بعدم البناء فیما بقی من ارض الدکان ثم ان الناظر توجّه للحج ورجع فوجده بانیاً فی تلک
محلا فهل یکون متعدیا ببنائه لزوال معظم ما کان یملکه واخذ بدله وهل له قیمة
ما بناه منقوضا لتعدیه ویرجع المحل وقفا خالصا لا شائبة ملک فیه
(اجاب ) للمحتکر حق الاعادة فیما بقی من الارض اللتی کانت بیده مادام یدفع اجرة
مثل الارض خالیة عن بنائه ولیس لناظر الارض معارضته ولا تکلیفه القلع والحال
هذه - والله تعالی اَعلم -

٣٢٩
ثاقب
مولوی نور محمد "ثاقب"
رئیس دار الافتاء مرکزی
دولت اسلامی افغانستان

زمان شاه

تحریک اسلامی طلباء افغانستان
ریاست دار الافتاء مرکزی
شورای مرکزی علماء افغانستان

مولوی محمد اخلاص برکتی

د قلمي نسخې د لومړي رجسټر ( ۹۸ ) مخ

۳۶۹

مقتضاه انه لوادعى ارادة الاستقبال والوعد لايصدق بعد تمام العقد بالقبول ويأتي قريبا ما يؤيده - رجل له ابنة واحدة فزوجها من رجل فقال زوجتک ابنتي و لم يذكر اسمها فقال الزوج قبلت جاز فتاوى قاضيخان بهامش الفتاوى الهندية كتاب النكاح ص ۳۲۴/۱ وقال في المحيط لو قال زوجت بنتي منك ولم يزد على هذا وله بنت واحدة جاز - خلاصة الفتاوى ص ۵/۲ -

والله تعالىٰ أعلم بالصواب -

۳۲۹

مولوی مفتی نور محمد ثاقب
رئیس عمومی دارالافتاء مرکزی
ومعین قضائی ستره محکمه
دولت اسلامی افغانستان

العبد الاحقر ند احمد

مولوی محمد میوند وال

۱۴۱

—( استفتاء بوسل لو ځلولینت )—

محترم رئیس صاحب دار الافتاء عرض میدارم که برایم از مسایل آینده جواب اعطاء نمائید

(۱) محترم هنه بوسه او چرگ چه حلقوم ئی نمول کښنسته ولاړسی لو ځوراک ئی حرام ده او که مکروه ده جواب غواړم (۲) بعضی ملایان قروی إمامت دی اهل اخیه و په مغازات کښن کوی د اصحت لري او کنه او مغازات کوم جای ته ویل کیږی کوم حد لري کیا -

( مستفتي ملا شاه ولی - ولایت هلمند )

د قلمي نسخې د لومړي رجسټر ( ۲۲۹ ) مخ




د مرکزي دارالافتاء د مُهرنو د لړۍ یوه نمونه

الفتــوی

بسم الله الرحمن الرحــيم

الجواب بعون ملهم الصـــواب

په شفع کی طلب مواثبة شرط دی طلب مواثبه دا دی چه شفیع په بیع د دغه زمکی چه دی لئ شفیع د
خبر شی په دغه مجلس کی دعلم طلب د شفع وکی حتی که دغه شفیع په دغه زمکه کی دعوه د رقبی او د شفعی
د دواړو کول دواړی دعوی به په یوه کلام کوی او که لئ اول دعوه د ملکیت د رقبی وکړه وروسته لئ دعوه
د شفع وکړه نو لئ دعوه د شفعی نه صحیح کیږی او س نو حکم دا دی چه دغه بی بی روزی گله په هغه
وقت کی چه په بیع د باغ خبره شوه دعوه د ضیلی حصی او د شفعی په دغه نور باغ کی کړی وی نو لئ دعوه
د شفعی صحیح کیږی او که لئ محض خپل د حصی دعوه کړی وه نو لئ شفع ساقط ده - یلزم الشفیع
ان یقول کلاما یدل علی طلب الشفعة فی المجلس الذی سمع فیه عقد البیع فی الحال کقوله انا شفیع
المبیع او اطلبه بالشفعة ویقال لهذ الطلب طلب المواثبة مجلة الاحکام المـ ۱۰۲۹ ولو بیعت دار
بجنب دار رجل هو شفیعها وهو یزعم ان رقبة الدار المبیعة له وهو یخاف انه اذا ادعی رقبتها
تبطل شفعته وان ادعی فیها تبطل دعواه فی الرقبة فیقول هذه الدار داری و انا ادعی رقبتها
فان وصلت الیها و الا انا علی شفعتی لان الجملة کلام واحد فلا یتحقق السکوت عن طلب الشفعة
غمز عیون البصائر شرح الاشباه و النظائر ص ۱۹۱/۳۹۰ و هکذا فی طحطاوی علی الدر المختار ص ۱۳۱/۳۹۰ والله اعلم وعلمه اتم و احکم

۳۲۹
باقی ۹

مولوی مفتی نور محمد ثاقب
رئیس عمومی دار الافتاء مرکزی
امارت اسلامی افغانستان

تحریک اسلامی طلباء افغانستان
ریاست عمومی دار الافتاء مرکزی
امارت اسلامی افغانستان

عبد الحکیم عفی الله عنه

احمد نوری عفی عنه

دا وو مختصر معلومات او څو لنډې مقدماتي خبرې چې ستاسو درنو لوستونکو په خدمت کې عرض شوې ، امید ده چې تاسو لپاره د فائدې وړ او د خوښۍ باعث ګرځیدلې وي.

الله جَلَّجَلَالُهُ دې زموږ د مرکزي دارالافتاء دغه خدمت په قبولِ حسن سره قبول کړي.

او ربّ کریم دې دغه فتاوی د خاصو او عامو لپاره د معلوماتو یوه بهترینه ذریعه او ذخیره ثابته کړي. آمین

د دعاء محتاج

**نورمحمد (ثاقب)**

د افغانستان د مرکزي دارالافتاء پخوانی رئیس

او د افغانستان د سترې محکمې پخوانی رئیس او قاضی القضات

حالاً: د افغانستان د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو د کمیسیون رئیس

# مقدمه

## د مرتب لخوا

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله وكفىٰ وسلام علىٰ عباده الذين اصطفىٰ.

اما بعد! د فقه ارزښت او اړتيا د روښانه ورځې په څير له چاپېږ نه ده ځکه هرانسان د يوه مسلمان په حيث د خپل ژوند په هره شيبه کې د فقه او شريعت په رڼا کې خپله تګلاره ټاکي، دا ځکه چې د ضلالت او ګمراهۍ دتوري او ورکې لارې لاروي پکې سرګردانه نشي، که داسې وشي نو پايله به يې د دنيا او اخرة خسران وي، رحيم او کريم خداى جَلَّجَلَالُهُ د سمې اوسيده لارې د ټاکلو او روښودلو لپاره په دنيا کې د انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام لړۍ پيل کړې ده ، ترڅو پربندګانو خپل حجت بشپړ کړي، دانبياء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَامُ لړۍ پر خاتم الانبياء والرُسل حضرت محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ باندې پاى ته ورسيده، خودانبياء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَامُ دسلسلې دپاى ته رسيدو مطلب دانه دى چې راتلونکي نسلونه وسمې تګلارى ته اړنه دې بلکه ددې کارذمه واري په ميراث کې دامت وعلماء کراموته ور په برخه شوه چې د قرآن اوحديث په رڼاکې دوى د امت علمي تنده ورماته کړي ځکه د امام ابوحنيفة رَضِيَ اللَّهُ عَنۡهُ او دده د ګرانو شاګردانو رَحِمَهُمُ اللَّهُ په هڅو د اُمّت لپاره يوه داسې ذخيره تياره شوه چې ترقيامته به راتلونکي نسلونه ورځېنې مستفيد وي او دي. او بل لوري اُمّت هم و دې ته وهڅول شو:

چې تاسودخپلې لارې ټاکل علماؤ ته وسپارئ په قرآن کريم کې ارشاد دى

{ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ۝ } النحل ۴۳

او بل ځای ارشاد دي.

{ وَاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ○ } لقمان ۱۵

علامه بيضاوي رحمه الله فرمايي: وفى الآية دلالة على وجوب المراجعة الى العلماء فيما لايعلم (بيضاوي) ځکه په ديني ترړون کې دهرامتي ذمه واري جوړېږي چې خپله فريضه ترسره کړي، هسې نه چې د (فان الجحيم هى المأوى) مصداق وګرزو (العياذبالله)

د همدې ذمه وارۍ په اساس و اُمّت مسلمه ته د الله ربّ العزت له لوري ورکول شوی ستر نعمت ((د افغانستان إمارت اسلامي)) مسئولينو د مسلمانانو د ګټې، دنيوي او اُخروي فلاح اوکامرانۍ لپاره د (دارالإفتاء) وجود لازمي او ضروري و بولئ، ځکه په ډېره لنډه موده کې د قندهارپه ښارکې (مرکزي دارالإفتاء) وجود و مومئ چې پکې جيّدو علماء کرامو برخه درلوده

د طالبانو د اسلامي دورې په اوږدوکې.(په مرکزي دارالافتاء کې د مولانا مفتي نورمحمد (ثاقب) صاحب د امت برکاتهم العالية) تر مشرۍ لاندې په ډيره لنډه اواضطراري موده کې د اُمّت د رهنمائې لپاره د صادر شوېو مسائلو دا مجموعه ده.

چې په خپله ددوی لخوا د ۱۴۳۳هـ ق کال دشعبان المعظم د مياشتې په ۲۲ نېټه ماته د ترتيب او تبويب لپاره را وسپارل شوه ، اګر چې زه د خپلې پوهې له مخې هيڅ کله ددې وړ نه يم چې دومره ستر کار پر خپلو ناتوانو اوږو واخلم خو بيا هم دالله تعالىٰ ښخه د توفيق په غوښتلو او دعلماؤ او بزرګانو ددعاء په هيله مې دې کار ته غاړه کېښوده ، ددې فتاوىٰ ترتيب او تبويب مې وکړ، او چېرته چې د اردو فتاواؤ لکه فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند ، کفايت المفتي،

امدادالفتاویٰ او نورو عبارات را نقل شوي ول د هغو مې پښتو ترجمه وکړه خود ( اوّل ناسٍ اوّل الناس) په اساس په مذکوره ترتیب او تبویب کې د خطاء رامنځته کېدل هم څه بعیده نه ده نو ځکه له محترمو لوستونکیونه هیله ده چې د تنقید او اعتراض پرځای د إصلاح لاره خپله کړي.

{ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ } آل عمران ۱۳۴

په پای کې د إلٰه العٰالمین ذات نه دا دعاء ده چې په دې فتاویٰ کې هر ډول سعې کوونکي پخپل مغفرت ونازوي. او د ټول امت د خلاصون ذریعه یې وګرځوي آمین.

**اوس به د فقهې او فتاویٰ په اړه یو څو خبرې ذکر کړو.**

فقه د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نزد:

امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د فقهې داسې تعریف کړی دی:

((هومعرفة النفس مالها وماعليها))

(البحرالرائق، خطبة الكتاب: ۱۲/۱ ط رشیدیه کوئټه)

یعنی فقه دهغوکارونودبصیرت نوم دې چې دبنده لپاره روایاناروادی.

داتعریف داحکام شرعیه ودرې واړه قسمونو (عقائد، فقه او تصوف) ته شامل دی ځکه امام اعظم رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې په عقائدوکې کوم کتاب ولیکه د هغه نوم یې (الفقه الاکبر) کښېښود.

**ترتیب اوتدوین**: کله چې له اسلامي فتوحاتونه پس داسلام حلقه پراخه شوه نوي نوي حالات اونظریات رامنځته شول ځکه ضرورت ددې خبرې پیښ شو چې د ټولو دیني احکامو او د هغو په اړه د بحثونو ترتیب اوتدوین وشي ترڅو دراتلونکي نسلونولپاره یې زده کړه او درس آسان شي ځکه

متأخرینوعلماؤ د آسانتیا رامختـه کولـو لپـاره دغـه درې واړه قسمونه لـه یوبل نه بیل بیل مرتب کړ.

ځینو محققینود عقائدو په اړه کتابونه ولیکل او دې فن ته یې د (علم کلام) نوم وضع کړ ځینودظاهري اعمالو په اړه کتابونه ولیکل اودې فن ته یې د (علم فقه) نوم وضع کړ اوځینو د باطني اعمالو په تحقیق کې خپل صلاحیتونه و کارول او دې فن ته یې د (تصوف، سلوک او طریقت) نوم خوښ کړ.

**د فقهی جدید تعریف**: کله چې فقه ځانته جداله خپلودواړو قسیمینونه وجود وموند نوځکه متأخرینود یومستقل فن په حیث دفقهی داسې تعریف وکړ.

((هوالعلم بالأحکام الشرعیة العملیة المکتسب من ادلتها التفصیلیة)) (توضیح/ ص: ۱۹)

د متأخرینو د اصطلاح په رڼاکې ګو د فقهی تعریف داسې کیدلای شي.

(دانسان په ظاهري اعضاؤ سره کیدونکې هرکار په اړه د قرآن، سنت، اجماع یا قیاس د تفصیلي دلائلو په وسیله دې معلومولو ته (فقه) ویل کیږي چې دا کار فرض دی که واجب که مُستحب یا مباح یاحرام اویامکروه)

**د فقهې موضوع**: په کوم علم کې چې د شئ له حالاتو او صفاتو بحث کیږي هم هغه شئ د هغه علم موضوع وي د طب په علم کې د انسان دبدن له هغوحالاتونه بحث کیږي چې دهغو اړینه دده دروغیتا اوناروغتیا سره وي، په همدې وجه دطب دعلم موضوع دانسان بدن دی.

دغه راز په فقه کې خودانسان دظاهري افعالودڅه صفاتو بحث کیږي ځکه نودفقه موضوع دانسان ظاهري افعال دي. لکه چې علامه شامي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی:

((موضوع کل علم مایبحث فیه عن عوارضه الذاتیة قال فی (البحر) وأما موضوعه ففعل المکلف من حیث انه مکلف، لأنه یبحث فیه عما یعرض

لفعله من حل وحرمة ووجوب وندب (شامي، مقدمه) ۲۹/۱ ط رشیدیه کوئټه)

**د فقهې غرض و غاية:** له غرض اوغاية نه څه مراد دی؟ غرض وهغه اراده ته ویل کیږي چې دهغه لپاره کوم کار وکړی شي، اوغایه هغه نتیجه ده چې پردې باندی مرتبه وي مثلاً دکتاب اوقلم رانیولولپاره بازارته تلل خوغرض دي اوکتاب اوقلم رانیول غاية نوغرض اوغاية من وجه دمصداق په اعتبار دواړه یودي صرف دابتداء اوانتهاء فرق دې.

دفقهې غرض اوغاية «الفوزبسعادة الدارين» یعنی د دواړو جهانوپه نیک بختی حاصلولوبامراده کیدل.

**فضیلت د علم فقه:** له قرآن اوحدیثونه پس په ټولوعلوموکې فضیلت وفقه ته حاصل دی. الله رب العزت ارشاد فرمائی: (( وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا )) البقرة۲۶۹

یعنی چاته چې حکمت ورکول شوهغه ته خیرکثیر ورکول شو.

دمفسرینویوې ډلی دحکمت تفسیرپه علم شرائع سره کړی دې اوله علم شرائع نه خومراد فقه ده.

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک ارشاد دی.

«من یرد الله به خیراً یفقهه فی الدین وانما اناقاسم والله یعطي متفق علیه»

(مشكوة المصابيح، كتاب العلم، الفصل الاول: ۳۲/۱ ط مکتبة الحرمین کوئټه)

په چاسره چې الله رب العزت دخیر اراده وکړي هغه ته په دین کې پوهنه ورکوي اوزه خوصرف تقسیم کوونکی یم په حقیقت کی ورکول دالله کاردې.

په دې حدیث کې دې ته اشاره ده چې په فقاهت، استنباط اواستخراج کې دبصیرت اړه دالله رب العزت له ورکړی سره ده د قدرت له لوري ځینی بندګان په دې نازول کیږي.

دغه رازد مبارک عَلَيْهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ ارشاد دی.

((فقيه واحد اشد على الشيطان من ألف عابد)) (مشكوة المصابيح، كتاب العلم، الفصل الثاني: ۳۴/۱، ط مكتبة الحرمين كوئته)

يو فقيه پرشيطان ترزرو عابدانو زيات درونـد دی. دعابد عبادت بيله بصيرته وي. ځکه دشيطان لپاره ډيرآسان وي چې دئ ګمراه کړي مګرفقيه دمسائلو دمعلوماتو په وجه زياتره له ګمراهۍ نه بچ شي.

**د فتوئ اهميت**: دانساني اړتياؤسره سم دوخت په تيرېدوچې کوم مسائل دسائلينو دځواب په توګه بيان شول ياپه داسې ساده انداز مرتب شول هغه دفتاوی په نوم ونومول شول، دې لړۍ قدم پرقدم دانسان ملګري وکړه له کتاب، سنت او فقهي نه را ايستل شوي دغه مفيد اوجديد شکل عام مسلمانان له ډيرو کړاونواو ستونزو وژغورل ، د فتاوی دغه ميدان دانساني اړتياؤ اوسوالونوسره پراخ شو دانسان دژوند دبيلابيلو اړخونوپه اړه چې څرنګه مسائل رامنځته کيدل دکتاب ، سنت اوفقهي نه را ايستل شويو مسئلو په ذخيره کې هم زياتوب راته ، ځکه نو نن دانسان د ژوندپه اړه داسې پوښتنه نشته چې دهغه ځواب مفتي تاسوته نشي درکولای فقه او فتاوی داسې فن دی چې هيڅوک له دې نه دتيښتې لاره نشي خپلولای ځکه چې په انساني ژوندګۍ کې چې څومره واسطه ددې فن اود دې داصولو اوجزئياتوسره راځي اوڅومره چې هره ورځ دمسائلو ځواب دلته ترلاسه کيږي چيرته بل ځای امکان نلري.

**د فتوئ تاريخ**: د(فتاوی) تاريخ ډيرزوړ اوددې نسبت ډير اوچت دې محترمو صحابه ؤ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ ډيرې پوښتنې د نبي عَلَيْهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ په خدمت کې وړاندې کړې چې هغو پوښتنو ته ځوابونه په قرآن اوسنت کې بيان شوي دي. داهم

افتاء ده له دي نه سیوا په قرآن مجید کې دوه ځایه دصحابه ؤ رضي الله عنهم وطرفته داستفتاء او د الله رب العزت وطرفته دافتاء نسبت شوی دی.

۱- ﴿وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ﴾ النساء: ۱۲۷

ترجمه: اوپوښتنه کوي دوی ستانه دښځوپه اړه او وایه الله رب العزت ددوی په اړه تاسوته فتوی درکوي.

۲- ﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ﴾ النساء: ۱۷۶

ترجمه: پوښتنه کوي دوی ستانه، او وایه: الله رب العزت حکم درکوي تاسوته دکلالـه پـه اړه ، د عليه الصلاة والسلام پـه واسطه د صحابه ؤ رضي الله عنهم داستفتاء ځواب ورکول شو ګو دالله رب العزت له لوری لومړی دغه عظیم منصب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وسپارل شو ځکه صحابه کرام رضي الله عنهم اونورخلک به دمبارک عليه الصلاة والسلام په خدمت کې حاضریدل اودخپلو وړپیښو مسئلوپه اړه به یې پوښتنې کولې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ځوابونه ورکول.

## د پوښتنې او ځواب په هکله د جبریل امین راتګ:

له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ځینې داسې پوښتنې هم شوی دي چې دهغو ځواب به ده سره نه ؤ اودجبریل امین دحاضرۍ په انتظاربه شو.

لکـه حضـرت امامـه رضي الله عنه بیـان کـوی چـې یوځـل یویهـودي عـالم نبـي عليه الصلاة والسلام ته راغلی اوپوښتنه یې ځینی وکړه ایُّ البقاع خیر؟ دځکمی کومه برخه غور ه ده؟ نبي عليه الصلاة والسلام خاموش شو او وې فرمایل چې زه به دجبریـل امـین تـر راتلوخـاموش یـم جبریـل امـین سمدسـتي حاضرشـو عليه الصلاة والسلام له جبریل امین نه پوښتنه وکړه جبریل امین په ځواب کې ورته

ويل ((ما المسئول عنها بأعلم من السائل ولكن اسأل ربي تبارک وتعالی))
(مشکوة، باب المساجد: الفصل الثاني: ۷۱/۱ ط مكتبة الحرمين)

پوښتل شوی په دې مسئله کې له پوښتونکی نه زيات هيڅ علم نلري ليکن زه له الله رب العزت نه پوښتنه کوم.

جبريل امين روان شو لږ وخت پس راغلی او وې ويل: نن زه الله رب العزت ته دومره نژدی شوم څومره چې هيڅکله نه وم نژدې شوی.

نبي عَلَيۡهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ پوښتنه څينی وکړه چې څومره اندازه؟ وی ويل چې زما او د الله رب العزت ترمنځ اويازره د نور پردې پرتې وې بيا يې وويل چې الله رب العزت د پوښتنې په ځواب کې داسې راته وفرمايل: (( دځمکې بدترينه برخه دهغې بازارونه دی اوغوره برخه مسجدونه دي))

## د صحابه ؤ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ په زمانه کې فتویٰ:

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ له دنيانه د پرده کولو نه پس د فتوی کار او دا ذمه واري صحابه کرامو پرغاړه واخيسته او په ډيره ښه اوغوره طريقه باندې دا ذمه واري ترسره کړه کوموصحابه ؤچې دفتوی ورکولوکارکاوو د هغوئ شمېرتريوسل ديرش زيات ؤ چې پکې نارينه هم وو او ښځينه هم اما اوه صحابه کرام زيات فتوی ورکوونکي وو چې د هغوئ نومونه لاندې ليکل کيږي.

۱-حضرت عمربن الخطاب. ۲- حضرت علی بن ابي طالب. ۳- حضرت عبدالله بن مسعود. ۴-حضرت عائشه. ۵- حضرت زيدبن ثابت. ۶- حضرت عبدالله بن عباس. ۷- حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهم اجمعين.

اوهغه صحابه کرام چې دهغوی تعلق دفتوی ورکولوسره ؤ مګرکم ؤ هغوې ډيری دي لکه حضرت ابوبکرصديق، حضرت ام سلمه، حضرت انس بن مالک ، حضرت ابوسعيد خدري، حضرت عثمان بن عفان، حضرت

ابــوهريرة، حضــرت عبــدالله بــن عمــروبن العــاص، حضــرت عبــدالله بــن زبير،حضـرت ابوموسـى اشـعري، حضـرت سـعدبن ابـي وقـاص، حضـرت سلمان فارسي، حضرت جابربن عبدالله ، حضرت معاذبن جبل، حضرت طلحه،حضرت زبير، حضرت عبدالرحمان بن عوف، حضرت عمران بن حصين، حضرت ابوبكره، حضرت عباده بن صامت اوحضرت معاويه بن ابي سفيان رضى الله عنهم اجمعين.

(اصول الإفتاء ، الفتوى فى عهدالصحابة، ص: ۵ ، ۲)

## د تابعينو په زمانه کې فتوىٰ:

دفتوى لړۍ لکه څرنګه چې په نن زمانه کې وجود لري همداسې په تيره زمانه کې داچيرته شليدلى نه ده له صحابه ؤنه پس ددوې شاګردانو داذمه واري په ډيره غوره اواحسنه طريقه په لاس کې واخيسته اوتر راتلونکيو نسلونو يې راورسوله.

دصحابه ؤ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په مبارکه زمانه کې دالله رب العزت په فضل ډيرې فتحې وشوې. په همدې وجه تابعينو رَحِمَهُمُ اللَّهُ په بيلا بيلو اسلامي ښارونوکې ددين خدمتونه ترسره کول په ز ياتره اسلامي ښارونوکې داسې کسان تاکل شوي ؤ چې دخلکو راهنمائي يې کوله، په مدينه منوره کې حضرت سعيدبن المسيب، حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف ، حضرت عروة بن الزبير،حضرت عبيدالله، حضرت قاسم بن محمد ، حضرت سليمان بن يسار اوحضرت خارجه بن زيد رَحِمَهُمُ اللَّهُ وهمدوى ته (سبعه فقهاء) هم ويل کيږي ځينودابوسلمة بن عبدالرحمان پرځاى ابوبكر بن الحارث بن هشام ښودلى دى.

ألا كل من لا يقتدي بأئمة فقسمته ضيزى عن الحق خارجة
فخذهم عبيد الله عروة قاسم سعيد أبوبكر سليمان خارجة
( اصول الافتاء ، الفتویٰ في عهد التابعين، ص : ۷ )

په مکه مکرمه کې عطاء بن ابي رباح، على بن ابي طلحه اوعبدالمالک بن جريج داکارکاوو، په کوفه کې ابراهيم نخعي ابن ابي سليمان ، عامربن شراحيل، علقمه، شعبي، سعيد اومره همداني.

په بصره کې حضرت حسن بصري، په يمن کې طاؤس بن کيسان اوپه شام کې حضرت مکحول، ابو ادريس الخولاني، شراحبيل بن السمط عبدالله بن ابى زكريا الخزاعى،قبيصه بن ابى ذؤيب الخزاعى، عبدابن اميه، سليمان بن الحبيب المحاربي، حارث بن عميرالزبيدى،خالدبن معدان، عبدالرحمن بن غنم الشعري، جبيربن نفير، عبدالرحمن بن جبيربن نفير، عمربن عبدالعزيز اورجاء بن حيوة په دې کاربوخت ؤ د دوې زياتره فتواوى په موطاءات، سنن اومسندات او نوروکې موجودې دي.

**امام ابوحنيفة** رَحِمَهُ ٱللَّهُ :

امام ابوحنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم له تابعينوڅخه دې دده دپيدائش پرمهال څه صحابه کرام کوفه کې موجود وو او د هغه صحابه کرامو نومونه داسې دي:
حضرت ابن نفيل، حضرت واثله، حضرت عبدالله بن عامر، حضرت ابن ابي اوفى، حضرت عقبه ،حضرت مقداد ، حضرت ابن بسر،حضرت سهل بن سعد ، حضرت انس ، حضرت عبدالرحمن بن يزيد ، حضرت محمودبن لبيد ، حضرت محمودبن الربيع، حضرت ابوامامه، حضرت ابوالطفيل، حضرت عمروبن حريث،حضرت عمروبن سلمه، حضرت ابن عباس، حضرت سهل بن حنيف رضى الله عنهم وعنا اجمعين.
(ردالمحتارمقدمه: ۴۸/۱ ط: رشيديه کوئته)

له اتوصحابه ؤنه امام اعظم رَحِمَهُ ٱللَّهُ روایتونه نقل کړي دي چې د هغوی نومونه داسی دي: حضرت انس، حضرت جابر، حضرت ابن ابي اوفی ، حضرت عامر، حضرت ابن انیس ، حضرت واثله، حضرت ابن جزء ، حضرت عائشه بنت عجرد ، رضی الله تعالی عنها وعنهم اجمعین. علامه شمس الدین محمد ابوالنصر بن عرب شاه الانصاري الحنفي پخپل کتاب (جواهر العقائد ودُرر القلائد) کې د دغه صحابه کرامو رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ نومونه په شعر کې داسې بیان کړي دي.

| | |
|---|---|
| معتقداً مذهب عظيم الشان | أبي حنيفة الفتى النعمان |
| التابعي سابق الأئمة | بالعلم والدین سراج الأمة |
| جمعاً من أصحاب النبي أدركا | أثرهم قد اقتفى و سلكا |
| طريقة واضحة المنهاج | سالمة من الضلال الداجي |
| وقد روى عن أنس وجابر | وابن ابى اوفى كذا عن عامر |
| أعنى أبا الطفيل ذا ابن واثله | وابن انيس الفتى و واثله |
| عن ابن جزء قد روى الإمام | و بنت عجرد هي التمام |
| رضى الله الكريم دائمًا | عنهم وعن كل الصحاب العظما |

(الدر المختار مع رد المحتار، مقدمه: ۴۸/۱ ط رشیدیه کوئته)

څه نور صحابه هم دي چې امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ ورځینی روایت نقل کړی دی. هغوې دا کسان دي: حضرت سهل بن سعد ، حضرت سائب بن یزید بن سعید ، حضرت عبدالله بن بسر ، حضرت محمود بن الربیع رَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ.

کذا فی رد المحتار ، مقدمه: ۴۹/۱ ط رشیدیه کوئته)

## د مسائلو په استنباط کې د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ طرز.

امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مسائلوپه استنباط کې ډیر زیات احتیاط کاوی ده به د خپلې زمانې د علماء کرامو یوه ستره ډله راغونډه کړه په دې غونډه کې به د هر فن ماهرینو برخه اخیسته چې پخپل فن او علم کې د بشپړ مهارت درلودلو سره سره به د الله رب العزت نه ویره، د خپلې ذمه وارۍ احساس او نوروسپیڅلوصفتونوخاوندان وو، پخپله امام اعظم رَحِمَهُ ٱللَّهُ به ددغه ډلی د صدرحیثیت درلودی، چې کومه مشکله مسئله به پېښه شوه نو ټولو به په ګډه بحث مباحثه او غوراوفکر وربانديې کاوی، کله چې به ټولو علماؤ پرکومه مسئله اتفاق وکړې نوامام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ به وامام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته فرمایل چې داپه فلانئ باب کې داخله کړه (کذافی رد المحتار،مقدمه: ۴۹/۱ ، ۵۰ ، ط رشیدیه کوئته)

## د امام صاحب شاګردان.

الله رب العزت وامام صاحب ته داسې شاګردان ورکړي ؤ چې دشاګردۍ حق یې اداکړې اودامام صاحب علوم یې ددنیا څلورکونجه ته ورسول په دغوسیموکې د امام صاحب نه پرته دکوم بل چامسلک خلکونه پیژاندی.

((حسبک من مناقبه إشتهارمذهبه))

(قوله: اشتهار مذهبه: أی فی عامة بلادالإسلام، بل فی کثیرمن الأقالیم والبلادلایعرف إلامذهبه کبلاد الروم والهند والسند وماوراء النهروسمرقند)

(ردالمحتار،مقدمه: ۴۲/۱، ط رشیدیه کوئته)

دعلامه شامي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دتحقیق سره سم دده څلور زره شاګردان دي.

((وروی أنه نقل مذهبه نحومن أربعة آلاف نفر))

## حنفي فقه د قانون په توګه:

دعباسي خلفاؤ له دورې نه دتیری صدۍ ترپیل کیدوپورې په زیاتره اسلامي هیوادونوکې حنفي فقه دقانون په شکل نافذه اورائجه وه.

علامه شامي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمائی:

«فالدولة العباسية وإن كان مذهبهم مذهب جدهم ، فأكثر قضاتها و مشايخ إسلامها حنفية ، يظهر ذلک لمن تصفح كتب التواريخ، وكان مدةملكهم خمسمائة سنة تقريبا ، وأما الملوک السلجوقيون وبعدهم الخوارزميون فكلهم حنفيون وقضاة ممالكهم غالبها حنفية ، واما ملوک زماننا سلاطين آل عثمان-أيدالله تعالى دولتهم ماكرالجديدان فمن تاريخ تسعمائة الى يومناهذالايولون القضاء وسائرمناصبهم إلاللحَنفية» (ردالمحتار، مقدمه: ۴۲/۱ ط رشیدیه)

## د مفتي درجه:

امام شاطبي رَحِمَهُ اللَّهُ دمفتي پررتبه اوږد اوتفصیلي بحث کړې دې اوددې خبرې ثابتولو هڅه یې کړې ده چې مفتي په اُمت کې دإفتاء، تعلیم اوتبلیغ په اعتباردنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ځای ناستی دې.

لکه چې دی فرمائي: المفتي قائم فى الامة مقام النبى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، والدليل على ذلک امور أحدها: النقل الشرعي فى الحديث: أن العلماء ورثة الانبياء) وبعث النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نذيراً بقوله تعالى :

{فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ} التوبة ۱۲۲

والثاني أنه نائب فى تبليغ الأحكام . والثالث: أن المفتي شارع من وجه لأن مايبلغه من الشريعة إما منقول عن صاحبها ، وإما مستنبط من المنقول،

فالأول يكون فيه مبلغا ، والثانی يكون فيه شارعا من وجه، فهومن هذالوجه واجب اتباعه والعمل علی وفق ماقاله، وهذه فی الخلافة علی التحقيق، وقد جاء فی الحديث: (أن من قرأ القرآن فقد استدرجت النبوة بين جنبيه) وعلی الجملة فالمفتي مخبرعن الله تعالی كالنبی ، ونأخذأمره فی الأمة بمنشور الخلافة كالنبي، ولذاسمّوا (أولی الأمر) وقرنت طاعتهم طاعة الله وطاعة الرسول فی قوله تعالی: { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ } النساء: ۵۹ (الموافقات للشاطبي: ۲۴۴/۴)

## د مفتي ذمه واري

کله چې مفتي دالله رب العزت داحکاموترجمان او دالله رب العزت او د مخلوق ترمنځ واسطه دی، ځکه پرده لازمه ده چې دفتوی ورکولوپرمهال له پوره بصيرت نه کار واخلي دخپلې ذمه واری ورسره احساس وي په ښه فکر اوپوهه ځواب ورکړي مسئله که ورته معلومه نه وي نوصرف له اندازې نه په ځواب ورکولودې خپل آخرت نه خرابوي.

علامه نووي رَحِمَهُ اللَّهُ په المجموع شرح المهذب کې فرمائی:

(اعلم أن الإفتاء عظيم الخطر، كبيرالموقع، كثيرالفضل، لأن المفتي وارث الانبياء صلوات الله وسلامه عليهم، وقائم بفرض الكفاية، لكنه معرض لخطاء ولهذا قالوا: المفتي موقع عن الله تعالی وروينا عن ابن المنكدر قال: العالم بين الله تعالی وخلقه، فلينظر كيف يدخل بينهم .

(المجموع شرح المهذب ، باب آداب الفتویٰ والمفتي والمستفتي: ۲۸/۱ ، ط دارالفكر، بيروت)

**حضرت عبدالله بن مسعود** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **فرمایی:**

«ځوک چې دکوم شئ علم لري هغه دې بیان کړي اوچا سره چې علم نه وي باید هغه ووائی چې الله رب العزت ښه په خبر دې ځکه چې داهم علم دې چې په کومه خبره علم نلري دهغه په اړه ووائی چې الله رب العزت ښه په خبردې، الله رب العزت وخپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ارشاد فرمائی چې: «تاسو وویاست چې زه له تاسونه اجرت غوښتونکې نه یم اونه له تکلف کوونکونه یم»

«یاایها الناس! من علم شیئًا فلیقل به، ومن لم یعلم فلیقل: ألله أعلم، فإن من العلم أن تقول لما لاتعلم: ألله اعلم. قال الله تعالٰی لنبیه: «قل مااسئلکم علیه من أجر و ماأنا من المتکلفین» متفق علیه» (مشکوة المصابیح، کتاب العلم، الفصل الثالث، ص ۳۷، قدیمي)

داغه راز مفتي باید دځواب ورکولو پرمهال دالله رب العزت اودآخرت ویره په زړه کې وساتي په پوره تحقیق سره ځواب ورکړي.

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمائی چې مفتي کله د چا وپوښتنې ته ځواب وائي نودی باید له ځواب ورکولومخکی خپل ځان پرجنت اودوزخ پیش کړي اودافکردې وکړي چې په آخرت کې به دده خلاصون څنګه وي؟ بیا دې ځواب ورکړي «وکان مالک یقول: من أحبّ أن یجیب من مسئلة، فلیعرض نفسه قبل أن یجیبه علی الجنة والنار، وکیف یکون خلاصه فی الاخرة، ثم یجیب» (المجموع شرح المهذب، باب آداب الفتوی والمفتي والمستفتي: ۲۹/۱ ط دارالفکر، بیروت)

## مفتي به څومره احتياط کوي؟

دفتویٰ ورکولوکار ډیرستر اودلوی اجر اوثواب باعث کیدلو سره سره ډیر نازک هم دي، ځکه چې مفتي دالله تعالى اوبندګانوترمينځ واسطه دی، که مسئله يې صحيح وښودله نوخپلې غاړې خلاصې او داجر اوثواب حقدارشو اوکه خدای مه کړه مسئله يې غلطه وښودله نودمستفتي دعمل وبال به هم پرده وي، نو ځکه په فتوی ورکولو کې احتياط ډيرزيات ضروري دي.

دحضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کوم څوک چې بې له علمه فتویٰ ورکوي دهغه عملي کوونکې ګناه هم پرداسې مفتي وي.

((عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ((من افتى بغير علمٍ كان إثمه على من أفتاه)) (مشكوٰة المصابيح، كتاب العلم، الفصل الثاني، ص ۳۵، ط قديمي كتب خانه كراتشى)

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ((چې الله تعالى علم داسی نه اوچتوي چې له خلکو نه يې را اوباسی بلکه علم به داسی اوچتوي چې علماء به اوچتوي تردې چې څوک عالم به پاتې نه شي نوخلک به جاهلان پيشوايان جوړکړي.

له هغوی نه به مسئلې پوښتي او هغوی به بې علمه فتواوی ورکوي، نو دوی به پخپله هم ګمراه وي اوخلک به هم ګمراه کوي)).

((عن عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: (إن الله لايقبض العلم انتزاعاً ينتزعه من الناس، ولكن يقبض العلم

بقبض العلماء حتى إذا لم يبق عالم، اتخذ الناس رؤساً جهالاً ، فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلّوا واضلّوا»

(صحيح البخاري، كتاب العلم، باب كيف يقبض العلم: ۲۰/۱ ط قديمي كتب خانه )

له حضرت عبدالله بن مسعود اوحضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ نه روايت دى چې دوى فرمايلى دي: «څوک چې هرى پوښتل شوې خبرې ته ځواب وائى هغه ليونۍ دى»

«إن من أفتى الناس فى كل ما يسئلونه عنه لمجنون»

(المجموع شرح المهذب، باب آداب الفتوى الخ: ۲۹/۱ ط دارالفكر، بيروت)

ابن القيم دابوالفرج په حواله مرفوع اثر نقل کړې دې چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: کوم څوک چې بې له علمه فتوىٰ ورکوي نوپرده باندې دځمکى اوآسمانونوفرشتې لعنت کوي.

«من أفتى الناس بغيرعلم ، لعنته ملائكة السماء وملائكة الارض »

(اعلام الموقّعين: ۲۵۶/۲)

له امام شعبي، حسن بصري او ابوحسين تابعي رَحِمَهُمُ اللَّهُ نه نقل شوې دي دوې به خلکوته ويل چې تاسوکله ناکله داسى فتوى ورکوي چې که دا ډول مسئله دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مختـه راغلـي واى نـوده بـه ددې ځـواب معلومولولپاره ټول بدروال راغونډ کړى واى اويوائې پرخپله رايه به يې اعتماد نه واى کړى.

(كذا فى المجموع شرح المهذب باب آداب الفتوى الخ: ۲۹/۱، ط دارالفكر، بيروت)

امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ به فرمایل چې: ((که د علم ضائع کیدو ویره اوپردی باندې د الله رب العزت له لوری دګرفت اندیښنه نه وای نو مابه هیڅکله فتوی نه وای ورکړې چې دئ خلاص شي او بوج پر ما راځي))

(( وقال أبوحنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالى: لولا الفرق من الله تعالى أن يضيع العلم، ما أفتيت يكون لهم المهناء وعليّ الوزر)) (المجموع شرح المهذب: ۲۹/۱)

حضرت سفیان بن عیینه اوحضرت سحنون رَحِمَهُمَا ٱللَّهُ فرمائی:

(ترټولو زیات پرفتوی ورکولو زړورتیا کوونکي هغه سړي وي چې ترټولو کم علم لري)

((وعن سفيان بن عيينة وسحنون رَحِمَهُمَا ٱللَّهُ : أجسرُ الناس على الفتيا أقلهم علماً)) (المجموع شرح المهذب : ۲۹/۱)

## په اوسنۍ زمانه کې د فتویٰ کار

په اوسنۍ زمانه کې دافتاء دمنصب خاوندان درې ډوله کارکوي.

۱- تخریج: یعنی د کومو مسئلوپه اړه چې د فقهاؤ رایه نه وي نقل شوې لکه داوسني زمانې مسائل، دفقهاؤ دمقررکړېو اصولواوقواعدو په رڼاکې رایه قائمول، ځکه چې په هره زمانه کې نوې نوې مسئلې پیداکیږي دهغه حکم معلومول دعلماؤ ذمه واري ده.

۲- ترجیح: داغسي خوفقهاء کرامو د متقدمینو د اختلافي رأیوپه اړه ترجیحات متعین کړي دي، لیکن دترجیح اساس یې دکومې رایې په اړه پرکوم نص نه دې ایښې دخپلې زمانې دعرف اومصلحتونوله امله، دداسې مسائلوپه اړه دخپلې زمانې عرف اومصلحت په مخته ایښودلو فیصله کول.

۳-فتوی نقلول: دریم کار دادی چې دکومې فقهې مقلد دی د هغه فقهې سره سم ځوابونه رانقل کړي.

په اوسنۍ زمانه کې مفتیان کرام دغه درې واړه کارونه کوې لیکن ښه دادي چې اولني دوه کارونه په انفرادي توګه دکولو پرځای په اجتماعي توګه وشي.

## د فتویٰ ورکولو شرعي حکم

پوښتنه داده چې دفتویٰ ورکولو شرعي حکم څه دي؟ دفقهاؤ څرګندونوته په کتلودفتوی ورکولوداسې بیلابیل حکمونه معلومیږي.

۱- په ځینې صورتونوکې پرمفتي فتوی ورکول فرض عین وي، یعنې که مفتي له فتوی ورکولونه انکار وکړي نوګنهګاردی داپه هغه

صـورت کـې دی چـې دئ پـه حکـم خبـروي، يـالږ ترلـږه دحکـم معلومولـو صلاحيت لري، له ده نه پرته بل څوک نه وي چې ددې مسئلې ځواب ورکړي، او داچې ومستفتي تـه دغـه مسـئله ورپيښـه شـوې وي، فرضـي اوبې فائـدې پوښتنه نه وي.

امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائی: (فإذا استفتی ولیس فی الناحیة غیره تعین علیه الجواب...ولوسـأل عـامي عمـا لـم يقـع لـم يجـب جوابـه) (المجمـوع شـرح المهذب: ۱/ ۴۵، مقدمه)

اوس که پوښتنه داسی وي چې پکې په تـاخير سره هم دعمـل کولوګنجـائش وي نوپـه ځـواب کـې تـاخيرهم کـولای شـي اوکـه پکـې تاخيرنـه ځـايږي نـو سمدستي د هغه ځواب ورکول یادهغـه ځـواب لټونـه کول واجب دي ګوکلـه دفتویٰ ځواب ورکول واجب علی الفور وي اوکله واجب علی التراخي.

۲- په دغـه سيمه کې زيات مفتيان موجود وي اومسئله دومره عـاجله نـه وي چـې کـه دې ځـواب ورنکړی نوسـائل بـه لـه عمـل کولونـه محـروم شـي نوفتوی ورکول فرض کفايه دي

۳- کـومې مسـئلې چـې اوس پيښـې شـوې نـه وي د هغـو پـه اړه د پوښتنې ځواب ورکول واجب نه ، بلکه مستحب دي.

۴- کـوم څـوک چـې پـه مسـئله خبرنـه وي يـاخبرخو وي لـيکن دقـرآن اوحديث دنصوصو اواجمـاع پـه مقابـل خپلـه رايـه لـري نودهغـه لپـاره فتـویٰ ورکول حرام دي.

**۵**- کومې مسئلې چې پیښې شوې نه وي اوپه ظاهره دهغو دپېښېدوهیله هم نه وي د داسې بې ګټې خبرو پوښتنه کول اوځواب ورکول مکروه دي.

(کذا فی قاموس الفقه: ۱۸۹/۲-۱۹۰، ط زمزم پبلشرز)

**محمد ابراهیم (خلیل)**
**ولد حاجي ملا عبدالحق مرحوم.**
**فاضل ومتخصص جامعه فاروقیه**
**شاه فیصل کالونی کراچی.**

# كتـــــابُ
# الايـمــــان
# والعقـائد

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين .

# کتاب الایمان والعقائد

## د طالبانو مخالفینو ته د کفرنسبت کول ؟

**سوال** : محترم رئیس صاحب د دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دیوسړي له خولې داخبره اظهار شوه چې څوک دطالبانوسره جنګیږي هغه کافردی یعنې رباني کافردی اونوموړی په دې خپله خبره ندامت وکړي آیامسئله څنګه ده کافرکیږي اوکه نه؟

المستفتي: ملاولي محمد دهراود- کراجوی.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :

که دغه ویونکي دطالبانوپه مخالفینوکې صراحةً اعمال دکفر پخپله لیدلي وي او بیا یې نسبت کړی وي نو دا صحیح ده ندامت پرې نشته خودا نسبت به عام تولوته نه کوي بلکه د هغه چا په حق کې به کوي چې مشاهده کړی وي او که داسې شئ چې موجب دکفر وي نه وي مشاهده کړی نو بیا اجتناب

ورځنې پکار دی او ندامت يې حتمي او ضروري دی اوداسې نسبت کول مسلمان ته که څه هم فاسق وي ، که موجب دکفرنه دی نوموجب دفسق خوضروردی ځکه چې دکلمې طيبې ډيرلوی شان اوعظيم حُرمت دی هغه څوک چې مسلمان ته په کافرخطاب کوي شتماً نو فاسق دی او دا نسبت که قلبًا اوعقيدةً وي نوعلماؤ پرکفرفتوىٰ ورکړې ده.

ولوقال لمسلم أجنبی یاکافرُ اولأجنبیة یاکافرةُ ولم یقل المخاطب شیئاً...کان الفقیه ابوبکرالاعمش البلخي يقول يكفر هذا القائل وقال غيره من مشائخ بلخ رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ لايكفر والمختار للفتوى فى جنس هذه المسائل ان القائل بمثل هذه المقالات ان كان اراد الشتم ولايعتقده كافراً لايكفر وان كان يعتقده كافراً فخاطبه بهذا بناء على اعتقاده انه كافريكفر كذا في الذخيرة (الفتاوى الهندية ۲/۲۷۸)

شهدواعلى مسلم بالردة و هومنكر لايتعرض له لالتكذيب الشهود العدول بل لأن إنكاره توبة ورجوع (الدرالمختار بهامش ردالمحتار۳/۳۲۷)

## انبياء عليهم الصلوة والسلام يا اولياء كرامو ته نداء كول

**سوال** : حضور ته د محترمو! مشائخو اوعلماء كرامو ددارالافتاء ولايت قندهار . السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

امابعد: محترمو! زمونږ په وطن كې داسې رواج اوعقيده شته چې دمشكلاتو او تكليفو نو په وخت بعضې كسان نداء اونعره كوي پرمړو او اولياء كرامو اوغائب پيرانو اوهغه ننګوي اومدد ورڅخه غواړي ، اوس بعضې علماء وايې چې دا جائز او روا دي او نورعلماء وايي چې دغه نداء او ننګول حرام اوشرک دی، اوهرطرف قرآني اوكتابي دلائل وائي.

لهذا ستاسو محترمو څخه صحيح شرعي د اهل السنة و الجماعة عقيده او د حنفي مذهب سره موافق جواب غواړو.

والسلام

المستفتي عبدالحكيم.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :

محترم مستفتي صاحب ستاسو دسوال جواب په دې ډول دی مدد غوښتل، ننګول اونداء کول مړو، اولياؤ اوغائب پیرانوته په مشکلاتو اوتکالیفوکې په نیت د قضاء حاجت سره بالذات اوبالاستقلال شرک دی اوبغیر له دغه نیته هم ښه نه دی ولې چې موهم دشرک دی اوکه چېرې دعاء پر طریقه د توسل سره وي یاندا پرطریقه دشوق او استلذاذ وي په داسې صورت کې جائز دی او ممانعت یې نشته.

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال كنت خلف رسول الله صلى الله عليه وسلم يوماً فقال: ياغلام احفظ الله يحفظك احفظ الله تجده تجاهک واذا سئلت فاسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله واعلم أن الامة لواجتمعت على أن ينفعوک بشئ لم ينفعوک إلا بشئ قد كتبه الله لک ولو اجتمعوا على أن يضروک بشئ لم يضروک إلا بشئ قدكتبه الله عليک رفعت الأقلام وجفت الصحف رواه احمدوالترمذي (مشكوٰة المصابيح: ۴۷۵/۲ باب التوكل والصبر)

(وإذا سئلت فاسئل الله) وحده فإن خزائن العطايا عنده ومفاتيح المواهب و المزايا بيده وكل نعمة أونقمة دنيوية أواخروية فإنها تصل إلى العبد أو تندفع عنه برحمته من غيرشائبة غرض ولاضميمة علة لأنه الجواد المطلق والغنى الذي لايفتقر فينبغي أن لايرجى الارحمته ولايخشى إلانقمته ويلتجئ فى عظائم المهام إليه ويعتمد فى جمهورالامور عليه ولايسئل غيره لأن غيره غيرقادرعلى العطاء والمنع ودفع الضرر وجلب النفع فإنهم لايملكون

**لأنفسهم نفعًا ولاضراً ... (ان الامة) أی جمیع الخلق من الخاصة والعامة والانبیاء والاولیاء وسائرالامّة (لو اجتمت) اي اتفقت فرضًا وتقدیراً (علی ان ینفعوک بشئ) ای فی امردینک اودنیاک (لم ینفعوک) ای لم یقدروا أن ینفعوک الخ) (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: ۱۰ / ۵۴ ط مکتبه حقانیه ملتان)**

یا غوث کہنا بہر حال ناجائز ہے کیونکہ غوث نہ خود سن سکتے ہیں اور نہ ان تک ان الفاظ کو پہنچانے کیلئے کسی ذریعہ کا شرعاً ثبوت ہے (۱) (کفایت المفتی : ۱/ ۱۵۹)

مدد صرف خدا سے مانگنی چاہیئے اولیاء اللہ بھی خدا کی مدد کے محتاج ہیں) (۲) (کفایت المفتی: ۱/۱۷۸)

سوال: ہر وقت یا رسول اللہ کہنا جائز ہے یا نہیں اگر ناجائز ہے تو کیا شرک کے درجہ پر پہنچتا ہے؟ اور یا علی اور یا خواجہ بھی کہہ سکتے ہیں یا نہیں؟

الجواب: ایسا کہنا درست نہیں ہے جیسا کہ اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ خاص اس طرف مشیر ہے کہ سوائے حق تعالیٰ کے کسی سے استعانت نہ چاہیئے۔۔۔اور جب تو مدد چاہے تو اللہ سے چاہ الغرض غیر اللہ سے اعانت طلب کرنا اور ان کو قضائے حاجت کے لئے پکارنا ناجائز اور شرک ہے اور بلا اس نیت کے بھی خوب نہیں ہے (۳) (عزیز الفتاوی ص: ۸۷)

---

(۱) ژباړه: یا غوث ویل په هر صورت ناجائز دي ځکه چې غوث یې نه پخپله اوریدلای شي او نه تر ده پورې ددغو الفاظو د رسولو شرعاً کومه ذریعه ثابته ده.

(۲) مدد یوائې له الله جَلَّجَلَالُهُ څخه غوښتل پکاردي اولیاء الله هم دالله مدد ته اړدي.

(۳) پوښتنه هروخت یارسول الله ویل جائز دي او کنه؟ که ناجائزدي نوآیا دشرک تردرجې رسي او (یاعلي یاخواجه) هم ویلای شو او کنه؟

الجواب: داسې ویل صحیح نه دي لکه چې اِیَّاکَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاکَ نَسْتَعِیْنُ خاص دې طرفته اشاره کوونکی دی چې له الله رب العزت پرته له بل چا مرسته مه غواړئ ...اوکله چې ته مددغواړې نوله الله څخه غواړه،لنډه دا چې له غیرالله څخه مددغوښتل اودمرادونوترسره کولوکې دهغوی راننګول ناجائزاوشرک دی او بې له دې نیته هم ښه کارنه دی.

**السوال الثالث والرابع- هل للرجل أن يتوسل فی دعواته بالنبیّ ﷺ بعد الوفات أم لا؟ أیجوز التوسل عندکم بالسلف الصالحین من الانبیاء والصدیقین والشهداء وأولیاء رب العالمین أم لا؟**

**الجواب: عندنا وعند مشائخنا یجوز التوسل فی الدعوات بالانبیاء والصالحین من الاولیاء والشهداء والصدیقین فی حیاتهم وبعد وفاتهم)**

الغرض جوازِ توسّل کا مسئلہ تمام علماءِ دیوبند کے نزدیک متفق علیہ ہے کہ ایک کا بھی اس میں اختلاف نہیں۔ (۱) (خیر الفتاوی: ۱/۱۹۶-۱۹۷) وهکذا فی (فتاوی عزیزی ج ۲ ص ۱۰۴) وهکذا فی (امداد الفتاوی : ۶/۳۲۷)

سوال: خلاصہ سوال یہ ہے کہ یارسول اللہ کہنا جائز ہے یا نہیں؟

الجواب: ... اگر محض تخیل کے طور پر شاعرانہ وعاشقانہ خطاب کرتا ہے تو جائز ہے الخ (۲)

(امداد المفتین: ۱/۲۱۲)

سوال: یارسول اللہ کہنا جائز ہے یا نہیں؟

الجواب: بارادہ استعانت واستغاثہ یا باعتقاد حاضر وناظر ہونے کے منہی عنہ ہے۔ اور بدون اس اعتقاد کے محض شوقاً واستلذاذاً ماذون فیہ ہے۔ (۳) (امداد الفتاوی: ۵/۳۸۵)

**{وَ اِیَّاکَ نَسۡتَعِیۡنُ }الفاتحة ۵ بې دالله تعالی له پاک ذات نه له بل چا څخه حقیقي مرسته غوښتل بیخي روانه دي مګرکه څوک کوم ښه اومقبول بنده محض**

---

(۱) لنډه دا چې دوسیلې دجوازمسئله دټول علماء دیوبندپه اند اتفاقي ده چې دیوه هم په دې کې اختلاف نشته.

(۲) لنډیز د پوښتنې دا دی چې یا رسول الله ویل جائز دي او کنه؟

الجواب ... که صرف د خیال په توګه شاعرانه او عاشقانه خطاب کوي نو جائز دی الخ

(۳) سوال : یا رسول الله ویل جائز دي او کنه؟

الجواب : د مرستې او مدد غوښتلو په اراده یا د حاضر او ناظر په عقیده منع دی او بې له دغه عقیدې صرف دشوق او استلذاذ په توګه اجازه شته.

دالله تعالی درحمت وسیله اوغیرمستقل وګڼي اویوازې په ظاهري اوغیر حقیقي ډول سره ورڅخه مرسته وغواړي نوباک نلري ځکه چې دغه ډول مرسته غوښتل هم په حقیقت کې دالله تعالی څخه مرسته غوښتل دي.
(تفسیرکابلی: ۳/۱) وهکذافی معارف القرآن: ۲۲/۱)

# نبي ته بد و رد ويونكى او د قران توهين كوونكى مرتد او نكاح يې ماته ده

**سوال:** إمارت اسلامي افغانستان ولایت غور ولسوالی تیوره بمقام محترم ریاست دارالافتاء ولایت کندهارالسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
وبعد: عرض اینکه ازتاریخ (۱۳۶۳/۲/۱۰هـ ش)
شوریٰ قضاة علمای تیوره فیصله صادرنموده بودند فعلاً دربعضی اوقات درباره فیصله ایشان زمزمهائی صورت میگیرد تشویشات درمحیط پیدا وذهنیت مردم رامشوش ساخته فیصله قُضاة مذکوربمقام محترم تقدیم واستفتاء میگردد تا ازین مورد هرچه شریعت حکم میکندمورد تائید یا رد فیصله هدایت فرمایند.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شوری قضات علماء ولسوالي تیوره ولایت غورفیصله مورخ ۱۳۶۳/۲/۱۰
بي بي زلیخا نامه بنت غلام غوث قریه کج چهار دورې بحضور ریاست شوری عارض گردیده
که شوهرم کافر شده مدت چند سال میشود که به صف کمونست خدمت میکند بنام محمدامیر ولد محمدشریف مسکونه آنه میباشد که از قبل

مرتد و زندیق و بدارحرب ملحق گردیده و من تفریق شدیم در حالیکه پدر محمدامیر که بنام محمدشریف است طبق مواجهة الخصمین حاضر بوده.

علماء مؤظف راجع به ارتداد محمدامیر از مدعی طالب شهود شدند بطور تواتر شهود به عدد کثیر اداء شهادت نموده اندکه محمدامیر ولد محمدشریف بالای قرآن عظیم الشان پای خودرا گذاشت اهانت کرده وسب نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ نموده صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و در صفوف روسها محارب با مسلمین بوده ویک مرتبه خفیه به خانه خود امده احوال مجاهدین را کشف نموده به کمونستها میرسانیده و رئیس به صف روسها بوده وعضو اصلي حزب لینن ومن حیث رتبه کمونستی در صف شان قرار دارد و خدمت میکند.

وهمچنین به اساس مؤرخ (۱۳۵۹/۱۲/۲) محتوای ریاست شوری علماء مرکزي تیوره درخواست شده پدر ان رفته ویک مرتبه کاکا یی آن رفته اند دعوت به اسلام و تسلیم مجاهدین نموده اند قبول نکرده حاضر نشده لهذا پدر و کاکا یی آن اقرار نموده اند که به صف کمونست بوده آن را دعوت نمودیم قبول نکرده و حاضر نمیشود بدین ملحوظ شوری قضات به عبارت معتمد صفحه ۳۳۲ و ۳۲۷ جلد ۳ ردالمحتار: لو شهدوا علی مسلم بالردة وهو منکر لا یتعرض له لالتکذیب الشهود العدول بل لان انکاره توبة و رجوع یعنی یمتنع القتل فقط و تثبت بقیة احکام المرتد کحبط العمل و بطلان وقف و بینونة زوجة اخبرت بارتداد زوجها فلها تزوج باخر بعدالعدة وقال في الاختیار (۲۵۲) و من رضی و دخل في شوکتهم فهو مرتد و حکم بلحاقه بدارالحرب.

بناًء علیه شورای قضات حکم خود را بلفظ قَضَیْنَا و حَکَمْنَا به ارتداد و به لحاق محمدامیر بدارالحرب صادر نموده و زوجه اش از آن تفریق است وبعد از شمردن عدة برضایت خود حق شوهر گرفتن را دارد هیچ حقوق از محمدامیر مرتد برعلیها بي بي زلیخا نامه نمانده و نیست . فقط

( قضات علماء ولسوالي تیوره )

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

محترم مستفتي صاحب بايد ووايو چې په دغه مذکورصورت کې چې پردغه شخص د تواترشاهدانوشاهدي په إرتداد اداکړې چې دغه شخص سبّ النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی اودقرآن کریم توهین يې هم کړی په دغه شاهدی سره شرعاً دغه شخص مرتد بلل کېږي اودمرتد احکام وربانديز جاري کېږي چې دهغودجملې څخه يوفرقت دزوجې دده دی ځکه چې په ارتداد منکوحه دمرتد دنکاح څخه خارج کېږي اوتر عدة وروسته کولای شي چې پخپله خوښه نکاح وکړي.

وتقبل الشهادة بالردة من عدلين ولايعلم مخالف إلاالحسن رَحِمَهُ ٱللَّهُ قال لا يقبل في القتل إلاأربعة قياسا على الزنا وإذا شهدوا على مسلم بالردة وهومنكر لايتعرض له لالتكذيب الشهود العدول بل لانّ انكاره توبة ورجوع (فتح القدير:٣٣٢/٥) و (الفتاوى الانقروية ٢٥/١)

اَخْبَرَتْ بارتداد زوجها فلها التزوج باخر بعد العدة استحساناً كما في الاخبارمن ثقة بموته أوتطليقه قوله: (اخبرت بارتداد زوجها) اى من رجلين او

رجل وامرأتين على رواية السير وعلى رواية كتاب الاستحسان يكفي خبرالواحد العدل لأن حل التزوج وحرمته امرديني كما لواخبر بموته والفرق على الرواية الأولى ان ردة الرجل يتعلق بها استحقاق القتل كمافي شرح السير الكبير للسرخسي ونقل المصنف عنه أن الأصح رواية الاستحسان (ردالمحتار: ۳/۳۳۲)

لايقتل المرتد إلاإذا كان بالغاً عاقلاً لم يتب من ردته وتثبت ردته بإقرار أوشهادة (الفقه الاسلامي و ادلته: ۷ / ۱۷۵ ط دارالفكر دمشق)

**كل من أبغض رسول الله** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **بقلبه كان مرتداً فالسباب بطريق أولى** (فتح القدير: ۵/۳۳۲)

(**سوال**) ماقولكم من سب وشتم الانبياء عليهم السلام كلهم عامداً صريحاً وسب كتابا فيه ذكرهم سبابا قبيحا فی جماعة من المسلمين وایّ الاحكام جارية عليه مع كونه مسلماً.

**الجواب**: لاريب فی كفرمن تفوه بهذا الكلام (فتاوی دارالعلوم ديوبند: ۳۶۲/۱۲ط مكتبه امداديه ملتان)

*(الجواب) قرآن شریف کی توہین اور استخفاف کرنا کفر وارتداد ہے اورکفر و ارتداد احد الزوجین موجب فسخ نکاح ہے*(۱) كما فی ردالمحتارقال في المسايرة وبالجملة فقد ضم إلى التصديق بالقلب أوبالقلب واللسان في تحقيق الايمان امورٌ الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقاً كسجود الصنم وقتل نبي والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۳۶۳/۱۲)

---

(۱) ترجمه: ځواب: دقرآن شريف توهين اوسپكاوى يې كفر او ارتداد دى اوداحدالزوجين كفر او ارتداد نكاح ماتوي.

(سوال) ایک شخص نے اپنی اہلیہ کو مارا عورت نے شوہر سے کہا کہ خدا اور رسول کے واسطے مجھ کو نہ مار، اس پر اس کے خاوند نے خدا اور رسول کی شان میں سخت گالیاں دی وہ کافر ہوا یا نہیں اواس کی عورت اس کے نکاح سے باہر ہوئی اور دوسرا نکاح کر سکتی ہے یا نہیں اور اولاد کی پرورش کا حق کس کو ہے؟

(الجواب) وہ شخص کافر ہو گیا اوراس کی زوجہ اس کے نکاح سے خارج ہو گئی عدت گزار کر دوسرے مرد سے نکاح کر سکتی ہے اور اولاد کی پرورش بھی وہی کرے گی۔ (۱)

(فتاویٰ دار العلوم دیوبند: ۳۵۸/۱۲ و ۳۵۹)

---

(۱) (پوښتنه) یوسړي خپله ښځه ووهله ښځې خاوند ته وویل چې دخدای اورسول واسطه درکوم ما مه وهه، پردې ددې خاوند خدای اورسول ته سخت ښکنځل وکړل داسړی کافرشو اوکنه؟ اودده ښځه دده له نکاح ووته اوبله نکاح کولای شي اوکنه؟ اودبچیانودروزنی حق دچا دی؟
(ځواب) داسړی کافرشو او دده ښځه دده له نکاح ووته له عدة تیرولو وروسته دبل چاسره نکاح کولای شي اودبچیانو روزنه به هم دا کوي.

## باب ما يتعلق بالقرآن

# له راديو نه د قرآن كريم سماع واجب ده اوكنه؟

**پوښتنه** : ازطريق راديوقرآن خوانده ميشود سماع واجب هست يانی؟

بينوا توجروا (المستفتي برادر شماعبدالواحد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب والله الموفق للصواب** :

دريډيوپه ذريعه قرآن اوريدل جائزدي او كنه اوكه جائز دي نوآيا د دې لپاره هم هغه آداب اوشرائط دي كوم چې بالمواجه د قاري څخه داوريدو په وخت كې لازميږي .

خلاصة الجواب : جواب ظاهر دی دكوم شئ ويل چې جائز وي دهغه شئ اوريدل هم جائز دي لكن څنګه چې په قاري باندې لازم دي چې مجلس د قراء ت كې به د آداب قرآني پوره پابندي كوي همدارنګه په اوريدونكي باندې هم لازم دي چې په داسې مجلس كې ريډيونه چلوي چې هغه ځاې كې عام خلك په لهو و لعب يا شور وشغب ياخپل كاروبار كې مشغول وي اودقرآن اوريدلوطرف ته متوجه نه وي هركله چې ريډيو څخه قرآن اوريدل مقصود دي نوپه ادب سره دې ناست وي اوقرآن دې اوري اودهغو تمامو آدابو رعايت دې كوي چې دقرآن كريم د تلاوت دمجلس لپاره لازم دي.

(آلات جديده كے شرعي احكام) ص ۱۷۲ ط ادارة المعارف .

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د اسلامي دولت
د مركزي دارالافتاء رئيس

مولوي ندامحمد الحقاني

# په اوچت آواز تلاوت ته د غوږ نه نیولو مسئولیت پر چا دی؟

**پوښتنه** : که یو سړی په لوړ صوت قرآن کریم وایي یا یې پرلوړ مقام وایې اوسامعین یې سمع نه کوي مسئولیت لري او کنه؟
که مسئولیت لري د سامع دی او که د قاري؟

المستفتي: مولوي رفیع الله مخلص

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

که یو سړی قرآن کریم په زوره وایي او نور خلک په خپلو کارونو اخته وي نو دغه قاري ګنهګار دی او دغو خلکو که خپل کار تر مخه د قراءت شروع کړی وو نو دا جائزه چې سمع یې ونکړي او که قراءت تر مخه شروع شوی وو نو بیا دا جائز نه ده چې خپل کار شروع کړي البته د هیڅ قاري لپاره نه ده پکار چې خلک په تکلیف کړي او داسې ځای قراءت جهراً ووایي چې خلک سمعې ته اماده نه وي.

لایقرء جهراً عند المشتغلین بالاعمال...صبی یقرء فی البیت واهله مشغولون بالعمل یعذرون فی ترک الاستماع ان افتتحوا العمل قبل القراءة والا فلا انتهی.

رجل یکتب الفقه وبجنبه رجل یقرء القرآن ولایمکنه استماع القرآن کان الاثم علی القاری ولاشیئ علی الکاتب وعلی هذا لو قرأ علی السطح فی اللیل جهراً یأثم (الفتاوی الهندیة ج ۵، ص ۳۱۲- الی ص ۳۱۸)

والله تعالی اعلم

# پر دیوالونو، کاغذونو او د موټرانو پر بیرغونو د قرآن کریم آیتونه لیکل

**پوښتنه** : آیتونه پردیوال یاپررسمي کاغذانو یا پر جنډیو دموټرانولیکل په شریعت کې څه ډول ممنوع دي؟

المستفتي: مولوي شاکري معاون ریاست امربالمعروف .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الله الوهاب** :

دقرآني آیاتویا بسم الله یا اسماء الله تعالی لیکل پردیوالو باندې غیرمستحسن کاردی یعنی مکروه دی اودغه رنګه لیکل پرمحرابونو باندې په (البحرالرائق ج ۲ ص ۳۷) کې راغلي :

وفي النهاية وليس بمستحسن كتابة القرآن على المحارب والجدران لمايخاف من سقوط الكتابة وان توطأ...آه

وهكذاپه (حاشية الطحطاوي على الدرالمختارج ۱ ص ۲۷۸ ) کې لیکلي دي : قرآني آیاتونه یا اسماء الله تعالی یانفس حرفونه که څه هم جلا جلا وي پربساط یامصلی دلمانځه مکروه دي.

او په (فتاوى خانية على هامش الهندية ج ۳ ص ۴۲۵ ) کې راغلي دي :

بساط اومصلى كتب عليه في النسج الملك لله يكره استعماله وبسطه والقعود عليه ولو قطع الحرف من الحروف اوخيط على بعض الحروف حتى لاتبقى الكلمة متصلة لاتزول الكراهة لان للحرف المفرد حرمة...آه

لیکل دآیاتونو یابسم الله یا اسم دنبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرجنډې یا اخبارونو کې غیرمناسب کاردی باید بغیر دډیرضرورت یې ونه لیکي ځکه په غیرمناسب ځایونوکې غورځول کیږي.

په ( نفع المفتي والسائل بجمع متفرقات المسائل ص ۱۰۱ ) کې راغلي دي :

وبالجملة کل مافیه التخلل فی تعظیم اسم العظیم او اسم النبي ذی الخلق العظیم لاشک انه یکره والله اعلم.

هغه اخبارونه یا جنډې چې معظم شیان پکې لیکلي وي وروسته تر استغناء به یې په پاکه مځکه کې پټوي او یابه یې محوکوي او بیا به یې په ډیرو اوبو کې اچوي او په کوڅو او لاروکې به یې نه غورځوي .

په ( نفع المفتي والسائل ص ۱۰۱ ) کې راغلي دي :

و علیه یتفرع ان الرسائل التي یستغنی عنها وفیها اسم الله تمحیٰ ثم تلقی في الماء الکثیراوتدفن فی ارض طیّبة کذا في نصاب الاحتساب والناس عنه غافلون فانهم عند ما یستغنون من الرسائل یخرقونها وینشرونها في الطروق والنجاسات ولایبالون في ذلک.

مولوي محمداخلاص (برکتي)

مولوي ندامحمدالحقـــاني

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب) رئیس دارالافتاء مرکزي

دولت اسلامي افغانستان

# د قرآن شريف په ختم کې پارې ويشل

**پوښتنه** : دکندهار ولايت د دارالافتاء رياست و محترم مقام ته

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

محترمه ! هيله ده چې د دې مسئلې چې مونږ سره يې حل مبهم دی دشرعي امورو مطابق په مستند ډول معلومات راکړئ.

مسئله دا‌ده چې دقرآن شريف ختم د سيپارو د ويشلوپه طريقه دشريعت له نګاه څخه څنګه دی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب** :

د قرآن کريم د پارو د ويشلو په طريقه کې دفقهاء کرامو څه منع نه ده ذکر شوې او نه يې کراهيت چا ذکر کړی دی. والله تعالی اعلم

## باب التقلید

# له یومذهب نه بل ته اوښتل

**پوښتنه** : د افغانستان اسلامي امارت دمرکزي دار الافتاء ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله برکاته

امابعد : محترمه! لطفًا دلاندې پوښتنې جواب په تفصیل سره راکړئ چې دیومذهب مذهبي وبل مذهب ته از روی عقیده اوعمل وراوړي اعني پیروي یې کوي په دغه کارسره دئ شرعًا ماخوذ دی که نه؟

اود ده په بابت کې دا نوی مذهب داینده لپاره کافي دی که څنګه؟

په شریعت مقدسه کې څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الله الوهاب** :

انتقال له یو مذهب څخه بل مذهب ته که چېرې یو مجتهد سړی وکړي په یوه مسئله کې او یا په ډېرومسئلوکې او دغه مذهب ده ته حق معلوم شي په دلیل شرعي سره نودغه انتقال روا دی بلکه په دې کې اجر دی

اوکه چېرې یوسړی مجتهد نه وي او د یو دلیل شرعي له وجهې نقل بل مذهب ته نه کوي بلکه دغرض ددنیا له وجهې څخه نقل کوي .

نودغه انتقال دده ګناه او بد کار دی اودغه سړی د تعزیر وړدی ځکه چې ده ارتکاب د مُنۡکَر في الدین او استخفاف د دین او د مذهب وکړ.

وقال في جواهرالفتاوی لوأن رجلا من أهل الاجتهاد برئ من مذهبه في مسئلة اوأکثرمنها باجتهاد لماوضح له من دلیل الکتاب أوالسنة أوغیرهما

من الحجج لم يكن ملوما ولامذموماً بل كان مأجوراً محموداً وفي سعة منه و هكذا أفعال الائمة المتقدمين فأما الذي لم يكن من أهل الاجتهاد فانتقل من قول إلى قول من غير دليل لكن لمايرغب من غرض الدنيا وشهوتها فهو مذموم آثم مستوجب للتأديب والتعزير لارتكابه المنكر فى الدين واستخفافه بدينه ومذهبه آه (الفتاوى تنقيح الحامدية: ٣٢٧/٢)

# كتــاب

# السّلوک

# کتاب السّلوک

## طریقت او د صحیح او واقعي پیرانو شرطونه او آداب

**پوښتنه** : محترم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

وبعد: قدرمنه! د افغانستان د اسلامي إمارت په بعضوسیموکې په نامه دخلیفه ګانوداسې خلک پیداشوي دي چې هغوی عوام دي ، په حلقوکې یې ډیرمنکرات موجود وي لکه دلغړزنو ورتګ اورقص کیدل. نو اوس مونږ اجراءات وکړو؟

( دامربالمعروف او نهی عن المنکر وزیر مولوي محمد ولي )

دکندهار تمیز، دارالافتاء اوشورئ دعلماء کراموته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د امربالمعروف وزارت پیشنهاد تاسوته راجع شو تاسې په ګډه یوه داسې شرعي طریقه ورته جوړه کړئ چې په اینده کې یې دوی خپله لائحه هم وګرځوي.

( امیرالمؤمنین ملا محمدعمرمجاهد )

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

په دې مسئله کې څوخبرې ډېرې ضروري دي.

( **اوله خبره دا ده** ) دصحيح او واقعي شيخ لپاره لاندې پنځه شرطونه ضروري دي :

(**اول**) عالم به وي دعالم څخه مطلب دا نه دی چې مدرس ملا او په ټولو فنونو به خبروي بلکه مطلب دادی چې هغه ضروريات دعقائدو اود ديني مسائلوبه ورته معلوم وي که يې دکتاب نه زده کړي وي اوکه يې دنوروعلماؤ په صحبت کې زده کړي وي.

(**دوهم**) پرهيزګار به وي يعنی دخپل طاقت سره سم به کوشش کوي چې کبيره ګناه ونکړي اوپرصغيره ګناه باندې اصرار اودوام ونکړي.

(**دريم**) کوم عبادات اوسنن مؤکده چې ثابت دي په شريعت کې پرهغوبه مواظبة کوي دخپل طاقت سره سم اوتارک الدنيا به وي ، دتارک الدنيا مطلب دانه دی چې کار اوکسب به نه کوي بلکه دنفقي پيداکول په خپل کسب لوی عبادت اود ضرورياتوڅخه دي دتارک الدنيا مطلب دا دی چې داسې به نه وي چې دنياجمع کوي دټولوضرورياتوڅخه زائده ، يا داچې شرعي حقوق ددنيا څخه نه ادا کوي لکه زکوة وغيره ، يا داچې په غيرجائزه طريقه دنيا جمع کوي.

(**څلورم**) خپلومريدانواومتعلقينوته به د شريعت دإتباع أمرکوي يعنی د واجباتو اوسنن مؤکدة د اداکولوامر به کوي او د محرماتوڅخه به يې منع کوي.

( **پنځم** ) دغه شیخ به د یو بل واقعي شیخ سره وخت تیر کړی وي دهغه څخه به يې باطني نور حاصل کړی وي او اجازه دخلافت به يې ورته کړې وي.

( **د دې خبرې دلائل اوحوالې** ) مرید شدن ازآن کس درست است که درآن پنج شرط متحقق باشد.

**شرط اول** : علم کتاب وسنت رسول داشته باشد خواه خوانده باشدخواه ازعالم یاد داشته باشد.

**شرط دوم** : آنکه موصوف بعدالت وتقویٰ باشد واجتناب ازکبائر و عدم اصرار بر صغائر نماید.

**شرط سوم** : آنکه بی رغبت از دنیا و راغب درآخرت باشد و برطاعات مؤکده واذکار منقوله که دراحادیث صحیحه آمده اند مداومت نماید.

**شرط چهارم** انکه امر به معروف و نهی ازمنکر کرده باشد.

**شرط پنجم** : آنکه ازمشایخ این امرگرفته باشد وصحبت معتدبها ایشان نموده باشدالخ

( فتاوی عزیزي ج ۲ ص ۱۰۳ ) وهکذا في ( احکام القرآن للتهانوي ج **۵** ص **۵۵** ) و ( خیرالفتاوی ج ۱ ص ۳۲۱ ) و ( فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۱۳۱ ) و ( قطب الارشادص **۵۲۷** )

اعلم ان شرط من یأخذالبیعة أمورأحدها علم الکتاب والسنة ولاارید المرتبة القصوی...ولایکلف بحفظ القرآن ولاالفحص عن حال الاسانید...ولا بعلم الاصول والکلام وجزئیات الفقه والفتاوی الخ (احکام القرآن للتهانوي ج **۵** ص **۵۵** ) واختلفوا في حدالاصرارعلی الصغیرة فالجمهورعلی انه غلبة المعاصي علی الطاعات وهو المعتمد( قطب الارشاد ص ۱۱۷)

كل ما فيه حظ عاجل و لاثمرة له فى الآخرة اصلاً كالتلذّذ بالمعاصي كلها و التنعّم بالمباحات الزائدة على قدرالحاجة ... فحظ العبد من هذا كله هى الدنيا المذمومة (احياء علوم الدين ج ۳ ص ۲۱۹)

(**دوهمه خبره دا ده**) دغه څلور طريقې لکه (نقشبنديه) (چشتيه) (قادريه) (سهرورديه) او همدا راز نورې طريقې لکه (شاذليه) (كبرويه) (غزاليه) وغيره دا هغه طريقې دي چې په هره يوه کې ډيرلوی مشايخ او مستند علماء او اکابر د دين اسلام تير شوي دي او هره طريقه ځان ته خپل اصول او آداب لري .

(**دريمه خبره داده**) لغړزنو ته بيعت ورکول، ذکر ورکول اودمشايخو په مجالسوکې کښينستل جائز دي په دې شرط چې د شريعت لار ښوونې او اصول په نظر کې نيول شوي او رعايت شوي وي .

او که يوڅوک ناجائز تعلق ورسره ساتي او يا لغړزني هلته ناجائز حرکات کوي نوهغه بالکل ناروا دي او هغه بيا يوازې په پيرانو پورې اړه نلري بلکه يو ملا چې سبقان وايي او يا يو رياست او اداره وي ، يا داسې نور د دې ټولو په مجالسوکې دغه کار حرام دی.

(**څلورمه خبره داده**) مستفتي بايد دا واضحه کړي چې د رقاصي څخه يې څه مطلب دی اوکوم کيفيت او حرکت يې مراد دی مونږ دومره ويلای شو چې وجد او جذب د مشايخوڅخه ثابت دی چې دې ته سکر وايي د مشايخو په اصطلاح کې خو جذب هغه ته وايي چې يوڅوک يوفعل يا يوحرکت وکړي لکن دی پکې بې اختياره وي اوهغه فعل اوحرکت په غير اختياري ډول ورڅخه صادر شي اوکه په خپل اختيار يې داسې حرکتونه يا داسې افعال کول چې دشريعت څخه مخالف وي نو داسې خلک بايد اصلاح شي .

اونفس جهري ذكر اوحلقه كول د شرعي اصولو مطابق هم جائز دي كه يې لمونځ كوونكي ياخوب كوونكي د لمانځه او د خوب څخه نه ايستل ، د دې څخه دا هم معلومه شوه چې دغه حلقې او ذكرونه په ګويا ( لاوډ سپيكر ) كې كول جواز نلري ولې چې سبب د ازار د مسلمانانو ګرځي .

او دا هم بايد ووايو چې د طريقو ټول بيان دلته نشي كېدلای نو د موقع او د پېښې په وخت كې بايد هغه جزئيه علماء كرامو ته پيش كړل شي او بيا مناسب إقدام وشي.

( **د دې خبرې دلا ئل او حوالې** ) واعلم ايضًا ان الوجد ينقسم الى هاجم والى متكلف ويسمى التواجد وهذا التواجد المتكلف فمنه مذموم وهوالذى يقصد به الرياء واظهار الاحوال الشريفة مع الافلاس منها ومنه ماهومحمود وهوالتوصل الى استدعاء الاحوال الشريفة واكتسابها واجتلا بها بالحيلة (احياء علوم الدين ج ۲ ص **۲۹۵**)

الرخصة فيما ذكر من الاوضاع عندالذكر والسماع للعارفين الصارفين اوقاتهم الى احسن الاعمال...اذا غلب عليهم الوجد بغلباته ... فمنهم من طرقته طوارق الهيبة فخروذاب ومنهم من برقت له بوارق اللطف فتحرك وظاب ومنهم من طلع عليه الحب من مطلع القرب فسكروغاب ، هذا ما عنّ لي في الجواب ( ردالمحتارج ۳ ص **۳۳۷** ط رشيديه )

حقيقت ذكرجهر- وحق آنست كه انكارآن سفاهت واضح است...وبناء طريقه (چشتيه ) و( اويسيه ) و( قادريه ) كه همه پيران ما اند برذكر جهر است حكم بآنكه فعل حرا م است موجب قرب الهى نميشود باطل است بلكه ذكر جهر موجب جمعيتى است كه بالاتر ازان جمعيتى نيست.

( فتاوى عزيزي لمولانا شاه عبدالعزيز قدس سره ج ۱ ص ۱۷۰ )

ذکر جھر ہر طور سے جائز ہے کسی کو کسی طور سے منع نہیں کرنا چاہیے ذکر کسی ہیئت کے ساتھ نہیں خاص بلکہ بوجہ اطلاق ادلہ مطلق ہے خواہ منفرد ہو یا مجتمع حلقہ باندھ کر یا صف باندھ کر یا کسی اور صورت سے کھڑی ہو کر یا بیٹھ کر غرضیکہ کوئی ہیئت ہو جائز ہے۔۔۔البتہ اس میں اس بات کا خیال ضرور ہے کہ یہ جواز اس شرط کے ساتھ ہے کہ کسی نائم یا نمازی کو اذیت نہ ہو ( خیر الفتاوی ج ۱ ص ۳۴۹ ) پس ثابت ہوا کہ ذکر جھر ہر طور سے جائز ہے کسی کو کسی طور سے منع نہ کریں۔

(امداد الفتاوی ج ۵ ص ۱۵۴)

سپیکر پر ذکر جائز نہیں۔( خیر الفتاویٰ ج ۱ ص ۳۵۰ )

( **پنځمه خبره دا ده** ) زمونږ په عصر کې واقعًا دپیرانو په نامه خلک شته چې ډیر اتباع هم لري او په هغوی کې هغه شروط نه دي برابر یا نور منکرات پکې دي نو د هغو اصلاح ضروري ده لکن د اصلاح لپاره دا پکار دي چې په شرعي طریقه وشي هغه داسې چې اول شرعي مسائل ورته پیش کړل شي بیاکه دفعه نشول نو په ډیر حسن خُلق دې توصیه ورته وشي بیاکه نه وشوه یولږ تهدید د حبس دې ورکول شي بیاکه نه وشوه نو بندي دې شي ، ډیر احتیاط باید وشي چې ښه او واقعي خلک ازار او زهیر نه شي او یا دغه اصلاح او امر بالمعروف او نهې عن المنکر په غیر شرعي طریقه ونه شي .

( **د دې خبرې دلائل او حوالې** ) فعلى الوعاظ والمفتين معرفة احوال الناس وعاداتهم فى القبول والرد والسعى والكسل ونحوها فيتكلمون بالاصلح والاوفق لهم حتى لايكون كلامهم فتنةً للناس وكذا الامربالمعروف والنهى عن المنكر اذ قديكون سببا لزيادة المنكر اواصابة مكروه لغيره فيكون اثماً ( طريقة محمدية ج ۲ص ۸۵ )

قوله او اصابة مکروه لغیره بان یغضب المامور والمنهی فیضرب اویشتم احدا من الناس غیظا من الآمر والناهی فیکون ذلک الامر بالمعروف والنهی عن المنکراثما ای موجبًا لاثم ای ذنب فیکون حراما علی فاعله لانه یؤدی الی ارتکاب فعل حرام (حدیقة بهامش طریقة محمدیة ج ۲ ص **۸۵**)

الاحتساب وله درجات واداب اما الدرجات فاولها التعرف ثم التعریف ثم النهی ثم الوعظ والنصح ثم السب والعنف ثم التغییر بالید ثم التهدید بالضرب ثم ایقاع الضرب وتحقیقه ثم شهر السلاح ثم الاستظهار فیه بالاعوان وجمع الجنود (احیاء علوم الدین ج ۲ ص **۳۲۹**)

ویجب ان یکون فیه (ای فیمن یأمروینهی) ثلاث خصال رفق فیما یأمربه وینهی عنه فان الغلظة لاتزید الا فسادا وحلم فی ذلک عما یقال له وفقه کیلا یصیر امره منکرا (متن شرح شرعة الاسلام ص **۵۰۲**)

لان الحسبة ربما کانت ایضًا منکرة لمجاوزة حدالشرع فیها وماذکر المصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ معنی قوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لایأمربالمعروف ولاینهی عن المنکر الارفیق فیما یأمربه ورفیق فیما ینهی عنه وحلیم فیما یأمربه وحلیم فیماینهی عنه وفقیه فیما یأمربه وفقیه فیما ینهی عنه.

(شرح شرعة الاسلام ص **۵۰۳**)

قال رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان الله تعالی رفیق یحب الرفق ویعطی علی الرفق مالا یعطی علی العنف وما لایعطی علی ماسواه رواه مسلم وفی روایة له قال لعائشة علیک بالرفق وایاک والعنف والفحش ان الرفق لایکون فی شئ الازانه ولاینزع من شئ الا شانه.

(مشکوة المصابیح ج ۲ ص **۴۵۳**)

ينبغي لكل ذي عقل ودين ان لايقع فی ورطة الانكار على هؤلاء القوم فانه السم القاتل كما شوهد ذلک قديما وحديثا...قال بعض العارفين من رأيتموه يؤذي الاولياء وينكر مواهب الاصفياء فاعلموا انه محارب لله مبعد مطرود عن حقيقة قرب الله ...ويكفي فی عقوبة المنكر على الاولياء قوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الحديث الصحيح من آذى لی وليًا فقد آذنته بالحرب ای اعلمته اني محارب له ومن حارب الله لايفلح ابدا الخ

(الفتاوی الحديثية ص ۳۳۱)

والله تعالى اعلم.

# كتابُ الطّهارة

# کتابُ الطّهارة

## باب الغُسل

### د مصنوعي غاښونو سره د غُسل حکم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : دمرکزي دار الافتاء علماء کراموحضورته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد : په موجوده وخت کې دمصنوعي غاښونو یوه طریقه داسې راوتلې ده چې دکوم چاغاښ نه وي نو ډاکټر د غاښ پراندازه ووری ورپرې کړي او لاندې یالوړ هډوکي برمه کړي بیانوی مصنوعي غاښ په هغه ځای دپیچ یادواپه واسطه فیټ کړي نوپه دغه مذکور صورت کې بیاغُسل صحت لري کیا ؟

المستفتي : الحاج مولوي عبدالودودصاحب

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب** :

دغسې غاښ اېښودل لکه په استفتاء کې چې ذکرشوي دي مانع دغسل نه ګرځي .

مصنوعی دانت دوطرح کے ہوتے ہیں ایک وہ جو مستقل طور پر لگادیے جائیں اور پھر انکو آسانی سے نکالانہ جاسکے دوسرے وہ جو بنائے ہی اس طرح جاتے ہیں کہ حسب ضرورت ان کا استعمال کیا جائے اور حسب ضرورت نکال لیا جائے پہلی صورت میں یہ مصنوعی دانت اصل دانت کادرجہ رکھتے ہیں اسلئے ان کا حکم اصل دانتوں ہی کا ہوگا وضوء میں ان دانتوں تک پانی پہنچانا مسنون ہوگا اور غسل میں فرض ، دانت نکالنے اور تہہ تک پانی پہنچانے کی ضرورت نہیں یہی وجہ ہے کہ فقہاء نے اس طرح کے دانت لگانے یادانتوں کوسونے چاندی کے تاروں سے کسنے کی اجازت دی ہے اب ظاہر ہے اس اجازت کامطلب یہی ہوگا کہ ان کے اندرونی حصوں میں پانی پہنچانا ضروری نہیں ہے ورنہ اجازت بڑی پریشان کن بھی ہوگی اوبے معنی بھی الخ (۱)

( جدید فقہی مسائل :۱/۲۳) وہکذا فی ( احسن الفتاویٰ: ۳۲/۲ ) و ( فتاویٰ دارالعلوم دیوبند: ۱/۱۴۵) و (فتاویٰ رحیمیہ: ۹/۳ ) و ( امداد الفتاوی: ۱/۱۸)

---

(۱) ترجمه: مصنوعي غاښونه دوه ډوله وي يوهغه چې مستقل لګول کيږي بیاهغه په آسانۍ سره نه شي راکښل کیدلا ی دوهم هغه چې بس جوړ يې همداډول وي چې کله ضرورت وي استعمال يې کړی اوکله دکښلوضرورت وي ويې کاږي په لومړي صورت کې دامصنوعي غاښونه داصل غاښونودرجه لري ځکه ددې حکم به هم داصل غاښونوپه رنګه وي په اوداسه کې به دغه غاښونوته اوبه رسول سنت وي اوپه غسل کې فرض د غاښونوراکښلواوبيخ ته اوبه رسولوضرورت نشته دا وجه ده چې فقهاؤد داډول غاښونو اېښودلو يا د سرو زرو اوسپينوزروپه تارونودغاښونو ټينګولواجازه ورکړی ده اوس ښکاره ده د دې اجازې مطلب به همداوي چې ددوی دننه برخوته اوبه رسول ضروري نه دي که نه يې دا اجازه به ډيره پريشانه کوونکې هم وي اوبې معنی هم الخ

والتراب والطين في الظفر لايمنع والصرام والصباغ ما في ظفرهما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلک يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا في الظهيرية

(الفتاوی الهندية : ١٣/١)

والله تعالی اعلم

## باب المِیاه

# جُنب که د حمام په حوض کې لاس و وهي

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : محترمو علماء کرامو د دارالافتاء ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

مسئله داده چې دحمام حوض چې عشراً في عشرٍهم نه دی جنب خلک لاسونه په چخي آیا اوبه یې حلالې دي کنه؟ والسلام

له طرفه د مسئولینو د امربالمعروف او نهی عن المنکر

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه الصدق و الصواب** :

مسئله داده جنب خلک چې لاسونه په حوض چخي اوپه نجاست نه وي اوبه پاکې دي.

۱- ځکه چې محدث اوجنب چې لاس داخل کړي لوښي ته لپاره داغتراف او پرلاس نجاست نه وي نودغه اوبه نه دي فاسدې.

۲- ځکه چې کوزه واقع په خوم کې شي اوبیا لاس دمرافق پورې ورداخل کړي لپاره د إخراج دکوزې نو دغه اوبه نه دي مستعملې .

۳- ځکه جُنب چې خپل لاس څاه ته داخل کړي لپاره دطلب دسولاغې نو هم اوبه مستعملې نه دي.

لکـه پـه ( فتـاوی قاضـي خـان بهـامش الفتـاوی الهندیـه : ۱۳/۱-۱۵ ) کـې لیکلي دي :

المحدث اوالجنب إذا ادخل یده فی الاناء للاغتراف ولیس علیها نجاسة لا یفسد الماء وکذا اذا وقع الکوز فی الجب وأدخل یده فی الجب إلی المرافق لإخراج الکوزلایصیر الماء مستعملاً وکذا الجنب إذا أدخل یده فی البئر لطلب الدلو لایصیر الماء مستعملاً لمکان الضرورة ماء حوض الحمام طاهر عندهم مالم یعلم بوقوع النجاسة فیه .

( الفتاوی الهندیة : ۱۳/۱ ) اوهم په ( الدرالمختاراو ردالمحتار : ۸۳/۱ ) کې لیکلي دي :

ولوأدخل الکف ان اراد الغسل صار الماء مستعملاً وان أراد الاغتراف لا (قوله لا) أی لایصیر مستعملاً ومثله إذا وقع الکوز فی الجب فأدخل یده إلی المرافق بحر وذلک للحاجة وان وجدت علة الاستعمال وهی رفع الحدث کما افاده ح وهکذا في ( تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۱ ص ۸۲ الی ص ۸۹ ط ایج - ایم - سعید ) و( الفتاوی التاتارخانیة : ۲۱۳/۱ ) و ( خلاصة الفتاوی : ۲/۱ )

که چېرې یو سړی لاس خپل داخل کړي حوض ته او پرلاس یې نجاست هم ؤ اوبه د حوض هم ولاړې وي اونه داخلیدې له أُنْبوب ( پایپ ) څخه یوشئ او نه یې هم اعتراف خلکو په کاسه سره کاوو نو دا اوبه نجسې دي اوکه چېرې خلکو اعتراف کاوو د حوض څخه په کاسو او نه داخلیدې اوبه له انبوب څخه او یا بالعکس نو اکثر پر دغه دي چې اوبه د حوض نجسې دي اوکه چېرې خلکو اغتراف کاوو په کاسو سره او اوبه هم داخلیدې له انبوب څخه نو اکثر پردې دي چې دغه اوبه نجسې نه دي .

فإن أدخل رجل يده فى الحوض وعليها نجاسة إن كان الماء ساكنا لايدخل فيه شئ من الانبوب ولا يغترف الناس بالقصعة يتنجّس ماء الحوض وإن كان الناس يغترفون من الحوض بقصاعهم ولا يدخل من الانبوب ماء أوعلى العكس اختلفوا فيه وأكثرهم على أنه ينجس ماء الحوض وإن كان الناس يغترفون بقصاعهم ويدخل الماء من الانبوب اختلفوا فيه وأكثرهم على أنه لايتنجس الخ

(فتاوى قاضيخان بهامش الفتاوى الهندية: ١٤/١) و هكذا فى (الفتاوى التاتارخانية : ٢٠٥/١)

والله تعالى اعلم وعلمه اتم واحكم

مـــولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د اسلامي امارت
د مركزي دارالافتاء رئيس

مولوي محمود ميوندوال
٢٤/عقرب/١٣٧٢

## باب المعذورين

# معذور كه پراستنجاء وهلوقدرت ونلري

**پوښتنه** : مونږ معيوبين يو استنجاء نه شو وهلای نوشرعًا زمونږ لپاره څه حکم دی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

كـه چېـرى پـه لوټـه ياكاغـذ استنجاء وهـل شـوې وي او د هغـه مخـرج څخـه دباندې حصه د درهم په اندازه نه وي نجسه نوبياكه د دغسې معيوبينوڅخه د اوبواستنجاء پاته شي نو اودس اولمونځ يې صحيح دی اوكه چېرى د يو درهم په اندازه هغه ځای نجس شوی ؤيايې پـه لوټه اوكاغذاستنجاء نه وه وهلې نوكه په يوقسم داقساموده پخپله استنجاء وهلای شوای نواستنجاء نه ساقطيږي مثلاً جاري اوبوته يې ځان رسولای شوای اوكه په هيڅ ډول امكان نه ؤنواستنجاء ساقطه ده اوپه استنجاء كې دې داسې كومک دخلكوڅخه نه غواړي چې كشف دعورت پكې راشي سيوا له خپلې كوروالاڅخه يعنی كه يې خپلې ښځې په خپله رضا كومک ورسره كاوه نو پروا نلري كه څه هم كشف دعورت راشي .

ولوشلت يده اليُسرىٰ ولا يقدران يستنجي بها ان لم يجد من يصبّ الماء لايستنجي وان قدر على الماء الجاري يستنجي بيمينه كذا فى الخلاصة ، الرجل المريض إذا لم يكن له امرء ة ولا امة وله ابن اواخ وهو لايقدر على الوضوء فانّه يوضيه ابنه اواخوه غيرالاستنجاء فإنه لايمس فرجه وسقط عنه

الاستنجاء كذا فى المحيط ، المرأة المريضة إذا لم يكن لها زوج وعجزت عن الوضوء ولها ابنة أو اخت توضيها ويسقط عنها الاستنجاء كذا فى فتاوى قاضيخان.

( الفتاوى الهندية : ۴۹/۱ ) و هكذا فى ( رد المحتار: ۱/ ۲۵۰ )

والغسل بالماء... ( بعده ) أي الحجر ( بلا كشف عورة ) عندأحد امامعه فيتركه كما مر فلو كشف له صارفاسقًالالوكشف لاغتسال او تغوط كما بحثه ابن الشحنة (سنة مطلقابه يفتي (ويجب) اى يفرض غسله ان جاوزالمَخْرج نجس مائع ويعتبر القدر المانع لصلاة فيما وراء موضع الاستنجاء لان ما على المخرج ساقط شرعًا .

(الدرالمختاربهامش ردالمحتار ج ۱ص ۲۴۸ )

قوله فيتركه اى الاستنجاء بالماء وان تجاوزت المَخْرج وزادت على قدرالدرهم ولم يجد ساترا اولم يكفوا بَصَرَهم عنه بعد طلبه منهم (ردالمحتار ج ۱ ص ۲۴۸ ) قال نوح افندي لان كشف العورة حرام ومرتكب الحرام فاسق سواء تجاوز النجس المخرج اولاوسواء كان المجاوز اكثرمن الدرهم او اقل ومن فهم غير هذا فقد سها لمافى شرح المنية عن البزازية ان النهى راجح على الامر ( ردالمحتارج ۱ ص ۲۴۸) و هكذا فى ( حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح ص ۳۸ )

**نوټ** : كچيرې داسې څوک پيداكېده چې د اوبو اچولو كومک وكړي او عورة ته ونه ګوري اونه عورة مس كړي يعنى كشف العورة ونشي نو بيا دې استنجاء نه ترک كوي .

اما لو وجد صابًا كخادم و زوجة لايترک كمافى الامداد (ردالمحتارج ۱ ص ۲۵۰ )

# د معذور لپاره د اودس او تیمم حکم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه** : مونږ معیوبین یو پخپله اودس نه شوکولای بې له معونت څخه د روغ سړي اومونږ روغ سړی پیدا کولای شو چې مونږ استعانت د اودس لپاره ځینې و غواړو اوس مونږ تیمم و وهوکه اودس په کومک دغیر وکړو حال دادي چې لاسونه لرو خوکمزوري دي شئ نه شوپه را اخستلا ی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

هغه وخت چې تاسوڅوک داسې پیدا کولای شئ چې ستاسې سره کومک د اوداسه وکړي یا تاسود یو میل څخه په کمه مسافه کې جاري اوبه پیدا کولای شی یادمسجد په نلکو اودس کولای شئ او تاسوته تلل دغه جاري اوبو یانلکوته ممکن وي اوهلته پخپله اودس کولای شئ نو ستاسې لپاره تیمم جواز نلري حاصل دا چې ترڅو پورې د اوداسه امکان وي تیمم جواز نلري حتیٰ که دغه مریض دغه قدرت درلود چې یو خادم خپل ځان ته په مناسبه تنخواه مقرر کړي د اودس لپاره اوده هم دتنخواه ورکولوطاقت درلود هم تیمم جائز نه دی.

لم یجدمن توضئه فان وجد ولو بأجرة مثل وله ذلک لایتیمم في ظاهر المذهب کما في البحر وفیه لایجب علی أحد الزوجین توضئ صاحبه وتعهده وفي مملوکه یجب. (الدرالمحتار بهامش رد المحتار ج ۱ ص ۱۷۱)

حاصل مافیه انه ان وجد خادما ای من تلزمه طاعته کعبده وولده واجیره لایتیمم اتفاقاً (ردالمحتار ج ۱ ص ۱۷۱) وفی البحر وظاهر مافی التجنیس انه لوله مال یستأجربه أجیرا لایتیمم قل الاجر اوکثر وفی المبتغي خلافه والظاهر عدم الجواز لوقلیلا آه والمراد بالقلیل اجرة المثل کما بحثه فی النهر والحلیة وبه جزم الشارح.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۱۷۱) وهکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۸) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱ ص ۲۴۴) و (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۵۲)

والاصل انه متی امکنه استعمال الماء من غیر لحوق ضرر فی نفسه اوماله وجب استعماله ومازاد علی ثمن المثل ضرر فلایلزمه بخلاف ثمن المثل کذافی البحر الرائق (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۹) قوله لایقدر معه المراد بعدم القدرة عدم القدرة المتوسطة الخالیة عن الحرج لاعدم القدرة بالکلیة (السعایة فی کشف مافي شرح الوقایة ج ۱ ص ۴۹۵)

# معذورکه د ذکر په سوري کې پنبه (مالوچ) کښېږدي

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه** : که چېرې یومعذور وي په سبب دجریان دنطفې اوجریان دنطفی هم مسلسل وي نواودس به کوي دهروخت لپاره اوس نوکه چېرې دئ استعمال دپنبه وکړي یعنی الحیاء پنبه د ذکرپه منفذ داخل کړي اونطفه بنده کړي اوس هم معذور بلل کیږي اوکه څنګه ؟

المستفتي: احمدالله جان فداء

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون المستعان** :

محترم مستفتي صاحب: ستاسې له پوښتنې څخه چې تاسې کړې ده یعنې الحیاء د ذکر په مَنْفذ پنبه داخل کړي اونطفه بنده کړي اوس معذور بلل کېږي که څنګه؟

جواب: کتابونه د فتاویٰ حکم کوي چې معذور نه بلل کېږي یجب رد عذره أو تقلیله بقدر قدرته ولو بصلاته مؤمیا و برده لایبقی ذاعذر بخلاف الحائض لأن الشرع اعتبر دم الحیض کالخارج حیث جعله حائضا وکان القیاس خلافه لانعدام دم الحیض حسا حلیه وهذا إذا منعته بعد نزوله إلی الفرج الخارج کما أفاده البرکوي لما مر انه لایثبت الحیض الابالبروز لابالا حساس به خلا فا لمحمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ فلو أحست به فوضعت الکرسف فی الفرج الداخل ومنعته من الخروج فهی طاهرة کما لوحبس المني فی القصبة .

(ردالمحتار: ۱/۲۲۵)

متى قدر المعذور على رد السيلان برباط أوحشو أوكان لو جلس لايسيل ولوقام سال وجب رده ويخرج برده ان يكون صاحب عذر بخلاف الحائض (الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية : ۴۱/۱) وإن قدر المعذورعلى منع السيلان بالربط ونحوه يلزمه ويخرج من العذربخلاف الحائض كماسبق (مجموعة رسائل ابن عابدين : ۱۱۸/۱)
دا ډول عبارت د مجمع الانهر: ۷۵/۱، او مراقی الفلاح: ۹۹/۱هم دی.
والله تعالىٰ اعلم

## د معذور په غوږ کې ايښی پنبه که يو اړخ لوند وي

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : وحضورته دمحترم دئیس صاحب دارالافتاء ! عرض دا دی که چېرې مثلاً يو سړی معذور وي په غوږ سره مثلاً ترغوږو يې حياء دې وي نو بهيږي نوپه غوږ کې پنبه کښيږدي نوپه ۳-۴ شباروزه ترپنبه شئ نه را اوزي پنبه چې د غوږ طرفته وي هغه لنده وي اوخارج طرفته وچه وي نو دغه سړی په حکم کې دمعذور دی اوکيا په دغه حالت کې؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون ملهم الصواب** :

که په غوږکې زخم معلوميده ښکاره ؤ او ده پنبه پرهغه زخم ايښی وه يعنی پنبه اوزخم تماس درلوده نو د دې حکم په دې ډول دی چې ترڅودپنبې ښکاره

طرف لوندنه شي نو اودس لاهم نه ماتيږي معذور كيږي خوبالكل نه اوكه په غوږ كې زخم نه معلوميده او اوبه راتلې نوكه ددغه اوبو راتلوسره درد ؤنوكله چې دېنبې باطن طرف لوند شي اودس ماتيږي نوكه دومره وخت دغه لوندوالى ځنډيده چې اودس او لمونځ پكې ځايږي نومعذور نه دې اوكه دومره وخت ده نه شواى پيداكولاى بيا نومعذور بلل كيږي اوكه ددغه اوبو راتلو سره درد نه ؤ نوبيا اودس نه ماتيږي كه باطني طرف لوند شي اوكه ظاهري طرف اوكه په غوږونوكې زخم نه معلوميده او وينه يا زيړې اوبه يا نور فاسد مواد خارجيدل بيا نو عام علماء اوكتابونه وايي حكم يې د اوبو راوتلو دى او بعضې وايي كه درد وي كه نه وي چې دېنبې باطني طرف لوند شي اودس ماتيږي.

وإن احتشى أحليله بقطنة خوفا من خروج البول فلابأس به ولا ينتقض وضوئه ما لم يظهر البول على ظاهر القطنة لعدم الخروج
(كبيري شرح منية المصلي: ص ۱۲۷) و هكذا فى (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۰)

وكذا إذا وضع عليه قطنة أوشيئًا آخر حتى ينشف ثم وضعه ثانيًا وثالثًا فإنه يجمع جميع مانشف فان كان بحيث لوتركه سال نقض وانمايعرف هذا بالاجتهاد وغالب الظن (ردالمحتار: ۱/ ۱۰۰)

كما لاينقض لوخرج من اذنه ونحوها كعينه وثديه قيح ونحوه كصديد وماء سرة وعين لابوجع وأن خرج به اى بوجع نقض لانه دليل الجرح (الدرالمختار) وعدم النقض هو ما مشى عليه الدرر والجوهرة والزيلعي معزيا للحلواني قال فى البحروفيه نظر بل الظاهرإذاكان الخارج قيحا اوصديداً النقض سواء كان مع وجع أو بدونه لأنهما لايخرجان إلاعن علة نعم

هـذا التفصيل حسن فيما إذا كان الخارج ماء ليس غيرآه واقره فى الشرنبلالية وايده بعبارة الفتح الجرح والنفطة وماء الثدى والسرة والاذن اذا كان لعلة سواء على الأصح اهـ (ردالمحتار: ۱۰۹/۱)

وقدمنافى نواقض الوضوء عن البحر وغيره أن التقييد بالعلة ظاهر فيما إذا كان الخارج من هذه المواضع ماء فقط بخلاف مااذا كان قيحا أو صديدا وقدمنا هناک ايضاً بقية المباحث المتعلقة بالدمع فراجعها.

(ردالمحتار: ۲۲۳/۱)

وإذا خرج من أذنه قيح أو صديد ينظر ان خرج بدون الوجع لا ينقض وضوئه وان خرج مع الوجع ينقض وضوئه لأنه إذا خرج مع الوجع فالظاهر أنه خرج من الجرح هكذا حكى فتوى شمس الائمة الحلواني كذا فى المحيط وهكذا فى الذخيرة والتبيين والسراج الوهاج (الفتاوى الهندية: ۱۱/۱)

وصاحب عذرمن به سلسل...ان استوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بأن لايجد فى جميع وقتها زمنا يتوضأ ويصلي فيه خاليا عن الحدث ولوحكما لأن الانقطاع اليسيرملحق بالعدم (الجوهرة النيرة: ۱۰/۱) والله اعلم بالصواب.

مولوي احمد (نوري)

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د اسلامي مارت
د مركزي دارالافتاء رئيس

مولوي محمود (ميوندوال)

# كتاب الصلٰوة

# كتـــاب الصلوٰة

## باب الاذان

په مسجد کې اذان اوپه لوډ سپیکر کې خطبه څه حکم لري؟

**پوښتنه** : ماحکم الاذان سوی الاذان فی وقت الخطبة فی داخل المسجد هل له کراهية ام لا؟ وماحکم الخطبة فی لاوډسپیکر (مکبرالصوت) هل لها کراهية ام لا؟ بینوا توجروا.

المستفتي: (الحاج مولوي محمد نورخطيب جامع مسجد محمد افضل خان)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب** : په مسجد کې دننه اذان کول څه پروا نه لري اودا چې دفقهې دځینوکتابونوله عباراتوڅخه کراهیت معلومېږي هغه په اعتبار دنه پوره والي د مقصود داذان دی چې هغه تبلیغ او رَسَوَلْ دآواز دي غیرحاضرینو ته لکه دبیان څخه چې ددغولاندې عباراتو معلومېږي اوکه مقصود داذان پوره کېده په داخل د مسجدکې هم لکه اذان په لاوډ سپیکرسره بیاکراهیت نشته، او هر چې خطبه په لوډسپیکرکې ده هغه جائزده مکروه نه ده او د علماؤ اتفاق ده پرجواز د لمانځه اوامامت اواذان په لوډسپیکرکې نو چې لمونځ او امامت جائز دی خطبه په طریقه اولیٰ سره جائزده ، په اعلاء السّنن ج ۸ ص ۸۲-۸۷ ) کې یې لیکلي دي:

واعلم ان الاذان لايكره في المسجد مطلقًا كما فهم بعضهم من بعض العبارات الفقهية وعمّموه هذا الاذان (الاذان بين يدى الخطيب) بل مقيداً بما اذا كان المقصود اعلام ناس غيرحاضرين (الٰى قوله) فى الجلابي انّه يؤذن فى المسجداوما في حكمه لافى البعيدمنه . قال الشيخ : فقوله فى المسجد صريح فى عدم كراهة الاذان فى داخل المسجد وانّما هوخلاف الاولٰى اذامسّت الحاجة الٰى الاعلان البالغ وهوالمرادبالكراهة المنقولة فى بعض الكتب.

او په جديدفقهي مسائل جلد: ۱ ص ۹۱ کې ليکلي دي:

لاوڈا سپیکر کے ذریعہ نماز درست ہے یا نہیں' ابتداء میں ہنداور بیرون ہند علماء کے درمیان اس مسئلہ میں اختلاف تھا بعض حضرات کی رائے تھی کہ لاوڈا سپیکر کی آواز بعینہ امام کی آواز نہیں بلکہ اس آواز کی بازگشت ہے اس طرح اس آواز پر مقتدیوں کی نقل وحرکت گویاامام کی بجائے ایک دوسری آواز کی بناء پر ہوگی اور یہ بات جائز نہیں ہے کہ مقتدی امام کی بجائے کسی اور کی آواز پر نقل وحرکت شروع کرے اس کے مقابلے میں کچھ لوگوں کاخیال تھاکہ اس کے باوجود نماز کیلئے لاوڈا سپیکر کا استعمال صحیح ہے اور شریعت میں اس کی نظیر موجود ہے کہ نماز کے باہر ایک شخص کی تلقین پر نمازیوں نے نقل حرکت کی چنانچہ جب بیت المقدس کی بجائے خانہ کعبہ کو قبلہ بنایاگیااور مدینہ کے مضافات کی بعض مساجد میں جہاں بیت المقدس ہی کی طرف رخ کر کے لوگ نماز ادا کر رہے تھے قبلہ کی تبدیلی کی ایک شخص نے اطلاع دی توسبھوں نے اپنارخ بدل لیاظاہر ہے یہ نقل وحرکت ایک ایسے شخص کی آواز پر عمل میں آئی جو نماز سے باہر تھا۔

اب یہ بات پایہ تحقیق کو پہنچ چکی ہے کہ لاوڈ اسپیکر کی آواز امام کی نقل اور اس کا چربہ نہیں ہے بلکہ بعینہٖ امام کی وہی آواز ہے جو اس کی زبان سے نکلتی ہے اس طرح اب لاوڈ اسپیکر سے نماز وامامت کے جواز پر علماء کا اتفاق ہو چکا ہے۔ (۱)

والله اعلم وعلمه اتم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
دافغانستان داسلامي امارت
د مرکزي دارالافتاء رئيس

مولوي محمود ميوندوال

---

(۱) ژباړه: د سپيکرپه ذريعه لمونځ صحيح دی او کنه؟ په پيل کی دهنداوله هنده بهرعلماؤ ترمنځ په دې مسئله کی اختلاف ؤدځينونباغليورأيه داوه چې دسپيکر آوازبعينه دامام آوازنه دی، بلکه دده دآواز ازانګه ده په دې ډول به دمقتديانونقل اوحرکت ګواکې دامام پرځای ديوبل اوازپه وجه وي اوداخبره جائزنه ده چې مقتدي دامام پرځای دکوم بل چاپه آوازنقل اوحرکت وکړي ، د دوی په مقابل کې دځينوخلکوخيال داوو: چې سره له دې دلمانځه لپاره د سپيکر کارول صحيح دي اوپه شريعت کې ددې نظير وجود لري چې له لمانځه دباندې ديوه سړي په تلقين لمونځ کوونکونقل اوحرکت وکړ، ځکه کله چې دبيت المقدس پرځای بيت الله شريف قبله وګرځول شوه اودمدينې په شاوخوا کې په ځينو مسجدونو کې چېرې چې دبيت المقدس پرلورپه مخ کولوخلکولمونځ کاوو دقبلې دبدليدوديوه سړي خبر ورکړ او ټولوخپل مخونه واړول ښکاره خبره ده دغه نقل اوحرکت ديوداسی سړي په آوازپه عمل کې راغی کوم چې له لمانځه دباندې ؤ، اوس داخبره په تحقيق رسيدلی ده چې دسپيکر آوازدامام نقل اودهغه عکس نه دی بلکه بعينه دامام هم هغه آوازدی کوم چې دده ترخوله راوزي، په دې ډول اوس په سپيکر سره د لمانځه اوامامت پرجواز د علماؤ اتفاق راغلی دی.

## باب صفة الصلوة

### قومه او جلسه واجب دي که سنت؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : د مرکزي دارالافتاء رئیس صاحب حضورته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په قومه او جلسه کې علماء څه فرمايي چې واجب ده که سنت او مقدار اواندازه لري کیا؟

المستفتي : عبدالقادر ساکن خاکریز

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :

قومه او جلسه کې اختلاف دی ځوک يې سنت بولي ، ځوک يې واجب بولي ، ليکن ډېرو علماء کرامو وجوب ته ترجيح ورکړې ده ، او اندازه يې مقدار ديو تسبيح ده.

نولهذا علماء کرام وائی که چېرې قومه يا جلسه پاته شي سهواً سجده سهوه به کوي.

قوله وكذا فى الرفع منها أى يجب التعديل ايضًا فى القومة من الركوع والجلسة بين السجدتين وتضمن كلامه وجوب نفس القومة والجلسة ايضاً لأنه يلزم من وجوب التعديل فيها وجوبهما ( ردالمحتار : ۱/ ۳۴۲ )

فالمشهورفى المذهب السنية وروى وجوبها ( أى القومة والجلسة والتعديل فيهما ) وهو الموافق للأدلة وعليه الكمال ومن بعده من المتأخرين وقدعلمت قول تلميذه أنه الصواب...وللعلامة البركلى رسالة سماها معدن الصلاة أوضح المسئلة فيها غاية الايضاح بسط فيها ادلة الوجوب وذكر ما يترتب على ترك ذلك من الآفات وأوصلها إلى ثلاثين آفة. (ردالمحتار: ١/٣٤٣) واختار الوجوب فى البحرالرائق: ١/ ٣٠٠ والكبيري ص : ٢٩٥ و حاشية مراقى الفلاح : ص ١٢٧ واعلاء السنن : ٣/ ١١/ والفقه الاسلامي: ١/ ٧١٥/ ط دارالفكر و احسن الفتاوى : ٣/ ٢١ وفتاوى ديوبند: ٢/ ١٥٥) حتى لو تركها أو شيئا منها ساهيا يلزمه السهو (اعلاء السنن: ١١/٣و ايضاً المراجع السابقة ) ( وتعديل الاركان ) أى تسكين الجوارح قدر تسبيحة فى الركوع والسجود وكذا فى الرفع منهما على مااختاره الكمال (الدرالمختار بهامش ردالمحتار: ١/ ٣٤٢)

مولوي نورمحمد ( ثاقب )
دافغانستان داسلامي امارت
د مركزي دارالافتاء رئيس

مولوي احمد ( نوري )

# د تکبیرات انتقالاتو ویلو طریقه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : د مرکزي دارالافتاء رئیس صاحب حضورته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

څه فرمایي علماء کرام چې تکبیرات انتقالات خپل مخصوص ځایونه د اداء لري کیا؟

یوشخص وایي چې زه له قومې څخه چې سجدې ته حرکت کوم تکبیرشروع کوم چې تندی می ځمکې ته رسیږي ختم یې کړم یوملا راته وایي چې په دې کافرکیږي.

المستفتي عبدالقادرساکن خاکریز.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الفتویٰ بعون ملهم الصواب** :

تکبیرات انتقالات خپل خاص ځایونه لري.

چې هغه دغه د انتقال ځایونه او حالونه دي مثلاً چې شروع په انتقال کوي نو تکبیر به شروع کوي او کله چې انتقال خلاصیږي نو تکبیر هم باید خلاص شي اوکه په وخت د انتقال کې پاته شي وروسته تر انتقال به راتګ نه پرې کوي او کله چې د قومې څخه سجدې ته انتقال کوي نو د اسم ذات شریف دلام مد دې اوږد کړي او کفر هلته لازمیږي که چیرې همزه داسم ذات شریف اوږد کړي قصداً اوعمداً تر څو چې همزه داستفهام ځنې پیداشي عام حکم کول په کفرغلطي ده. اوهمدارنګه به داکبرد (با) دزور څخه مدنه جوړي.

فیکون ابتداء. تکبیره عند اول الخرور والفراغ عندالاستواء للرکوع کذا فی المحیط (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۴)

سئل یوسف بن محمدعمن رفع رأسه من الرکوع ولم یقل عندالرفع سمع الله لمن حمده قال لایأتي به بعد ما استوی قائمًا وکذا کل ذکر یؤتي به في حال الانتقال لایؤتي به فی غیر محله کالتکبیر الذی یؤتي به عندالانحطاط من القیام الی الرکوع اومن الرکوع الی السجود (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۴) و هکذا فی الکبیري ص۳۱۴ ورد المحتار ج ۱ ص ۳۲۴

فی المبسوط لومدالف (الله) لایصیرشارعًا... ومدلام الله صواب وجزم الهاء خطأ کذا فی فتح القدیر(الهندیة ج ۱ ص ۷۳)

مولوي احمد (نوري)

مولوي محمود (میوندوال)

مولوي نورمحمد (ثاقب)

دافغانستان داسلامي امارت

د مرکزي دارالافتاء رئیس

# په لمانځه کې له سورة مخکې بسم الله او د تراويحو په هر رکعت کې بسم الله ويل

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : وحضورته دمحترم دارالافتاء رئيس صاحب

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: زما استفتاء په لاندې توګه دجواب په خاطر ستاسوعالي مقام ته وړاندې کيږي څرنګه چې دروژې مبارکه مياشت رانزدې شوی ده يوطالب جامع مسجدکې دتراويحو دلمانځه د اداء کولولپاره مؤظف شوی دی ، دئ دهرسورة په پای اودبل سورة په شروع کې دلمانځه د اداء په وخت کې بسم الله په جهرسره وائی آيا په داسی وخت دبسم الله ويل په جهرسره سنت دی اوجوازشته کنه؟ هيله ده چې په دې باب دشرعي مسئلوپربنامعلومات راکړئ. ډيره مننه به مو وي؟

(المستفتي: الحاج مولوي خدائيداد رئيس ديوان امنيت عامه مقام عالي تميز)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

د فاتحه اوسورة ترمابين بسم الله ويل که جهراً وي که سراً نه سنت دي نه مکروه بلکه يوجائزعمل دی البته که ويل يې نه تکليف کيده پر قوم باندی نو درجه د حسن اواستحباب لري اودهر سورة په شروع کې بسم الله ويل جهراً مکروه دي اوپټ ويل يې جائز دي اوکه سبب دتطويل نه ؤ نومستحب

ده خوکله چې په تراویحوکې یوځوک ختم دقرآن شریف کوي نو یو وار به یې د یوسورة په سرکې په جهر سره وایي هرسورة چې وي په نوروسورتونوکې دې ویلواونه ویلواختیار لري اوکه چا دفاتحه څخه وروسته سورة له مابین څخه شروع کاوه بسم الله ویل اتفاقاً نه ده سنت.

لاتسن بین الفاتحة والسورة مطلقاً ولوسرية ولاتكره اتفاقاً (الدرالمختار) (قوله: ولاتكره اتفاقًا) ولهذا صرح فى الذخيرة والمجتبى بانه إن سمى بين الفاتحة والسورة المقروئة سراً اوجهراً كان حسنًا عندابي حنيفة ورجحه المحقق ابن الهمام وتلميذه الحلبى رحمهما الله لشبهة الاختلاف فى كونها آية من كل سورة بحر (ردالمحتار: ۳۲۲/۱) و هكذا فى حاشية الطحطاوي على الدرالمختار: ۲۱۹/۱)

(قوله: ولاتكره اتفاقاً) بل لاخلاف فى انه لوسمى لكان حسنا ( حاشية الطحطاوي على الدرالمختار: ۲۱۹/۱) و هكذافى السعاية شرح شرح الوقاية: ۱۷۰/۲)

وفرعواعليه ان من لم يقرء البسملة فى صلوة التراويح فى تمام القرآن مرة واحدة ايضًا لاتتأدى سنته وهذا هوالأصح (السعاية: ۱۷۰/۲)

(پس ہرایک سورة کے ساتھ جھرنہ کرنا چاہئے صرف تمام قرآن شریف میں ایک دفعہ کسی سورة میں جھرسے پڑھ دیوے والتفصيل في كتب الفقه [1] (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۲۶۸/۴) وہکذافی ۲۶۲-۲۶۴-۲۷۸-واحسن الفتاوی: ۵۱۹/۳، وامدادالفتاوی: ۳۲۸/۱ وامدادالاحکام : ۶۳۰/۱)

---

(۱) ژباړه: نودهرسورة سره په زوره ویل نه دي پکار صرف په ټول قرآن شریف کې دی یوځل دیوصورت سره په زوره ووائی.

باقی سب سورتوں کے اول میں بسم اللہ کو جہر سے پڑھنا امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ کے نزدیک مکروہ ہے اور ہر سورت کے اول میں سراً پڑھنا جائز ہے بلکہ اگر مقتدیوں پر تطویل کا خوف نہ ہو تو مستحب ہے) (۱) (امدادالاحکام: ۱/۶۳۰)

وافاد بذكر السورة انه إذا قرء آيات من سورة لاتسن اتفاقاً.

(حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ۲۱۹/۱) والله تعالى اعلم

## د قنوت نازله دعاء

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه:** ولوړحضورته دعلوموخزانه دارالافتاء بزرگوارو مفتیانوزما دمینی ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې دقنوت نازله چې کوم عبارات وي هغه راته ولیکئ یایې پرکتاب حواله راکړئ که دواړې وي مهرباني به مووي.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب:**

دعاء دقنوت مخصوص هم راغلې ده اوهمدارنگه هرهغه دعاء چې د مسلمانانو دنفع او دکفارو دضرر وي چې منقول وي هم صحیح ده.

(۱) ترجمه: نور دټولوسورتونوپه سرکې بسم الله په زوره ویل دامام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نزد مکروه دي اودهرسورت په سرکې پټ ویل جائز دي بلکه که پرمقتدیانوداوږ دیدو اوبوج کید ویره نه وه نو مستحب دي.

ويدعوبنحوما روى عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه وروى عن عمرأنه كان يقول في القنوت اللهم اغفر للمؤمنين والمؤمنات، والمسلمين والمسلمات، وألف بين قلوبهم، وأصلح ذات بينهم، وانصرهم على عدوك وعدوهم، اللهم العن كفرة أهل الكتاب الذين يكذبون رسلك، ويقاتلون أوليائک اللهم خالف بين كلمتهم، وزلزل أقدامهم، وأنزل بهم بأسک الذي لايرد عن القوم المجرمين، بسم الله الرحمن الرحيم، اللهم إنا نستعينک.
(الفقه الاسلامي و ادلته ج ۱ ص ۸۳۸ ط دارالفكر)

## قنوت نازله سنت ده که مستحب؟

**پوښتنه**: ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزرگوارو مفتيانو زما دميني ډک صميمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې دقنوت نازله ادا كول په لمانځه کې څه حيثيت لري يعنى سنت ده که مستحب؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب**:

د قنوت نازله ويل سنت د عَلَيْهِ السَّلَامُ اوداصحابو کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دی.
وهى قدر شهر كمافى الروايات عن انس انه قنت شهراً ثم ترک فاحفظه فهذا غاية اتباع السنة النبوية (اعلاء السنن: ۱۱۸/۲)
والنازلة أن ينزل بالمسلمين خوف أوقحط أو وباء او جراد او نحوها، اتباعا للسّنة آهـ (الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۸۳۸)

ویؤیده مافی شرح المنیة حیث قال بعد کلام فتکون شرعیته أی شرعیة القنوت فی النوازل مستمرة وهومحمل قنوت من قنت من الصحابة بعدوفاته عَلَيْهِ السَّلَامُ وهومذهبنا وعلیه الجمهور (رد المحتار: ۱/۴۹۲)

## د قنوت نازله لپاره جماعت شرط دې که څنګه؟

**پوښتنه**: ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزګوارو مفتیانوزما دمینې ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې قنوت نازله به په جماعت سره خامخا کیږي اوکه یوازی هم کیږي؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً**:

دجماعت په لمانځه کې ویل کیږي منفرد سړی چې لمونځ کوي نه دې وائي.
واما الرابع فقال فی رد المحتار وظاهر تقییدهم بالامام أنه لایقنت المنفرد (اعلاء السّنن: ۲/ ۱۲۰) و هکذا في (رد المحتار: ۱/۴۹۲)

## په قنوت نازله کې به لاسونه څنګه نیسي؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه**: دقنوت نازله دویلوپه وخت کې به سړی لاسونه ایله نیسي اوکه ترنامه لاندې؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

په وخت کې دقنوت نازله دویلوبه لاسونه ایله نسی .

اما الثامن فحکمه آهـ فجری محمد علي الاصل و هوالارسال لأن الوضع عمل حادث يحتاج إلی الدلیل واخذ الشیخان بالقیاس (اعلاء السنن: ۲/۱۲۲-۱۲۳)

(سوال: ۲- ۱۲۲۲) درقنوت مذکوره امام ومقتدي دست ارسال بکنند یابندند چنانچه دروتری بندند وآمین. بجهرگویند یاخفیه؟

الجواب :...۲- امام وجماعت بظاهر درین موقعه ارسال کنند چراکه این قنوت بعد الرکوع است کما صرّح به فی الشامي... وانّه یقنت بعدالرکوع لا قبله الخ وظاهراست که قومه محل ارسال است نه محل قبض یدین)

(فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۴/ ۱۹۰ )

## قنوت نازله د لمانځه په کوم رکعت کې ویل کیږي؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزرګوارو مفتیانو زما دمینی ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې قنوت نازله دلمانځه په اول رکعت کې کیږي که په دوهم رکعت کې اوکه په نورلمانځه کې؟

والسلام

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

له رکوع څخه وروسته په دوهم رکعت کې ویل کیږي.

وانه یقنت بعد الرکوع لا قبله آه ثم رأیت الشرنبلالي فی مراقی الفلاح صرح بأنه بعده (ردالمحتار: ۴۹۲/۱)

## قنوت نازله په کومو لمونځونوکې ویل کیږي

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزرګوارو مفتیانو زما د مینی ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دي لړکې خواهش کوم چې قنوت نازله په کومو لمونځونوکې ویل کیږي؟

والسلام

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

قنوت نازله دسهار په لمانځه کې ویل کیږي.

إذا نزل بالمسلمین نازلة قنت فی صلاة الفجر (مراقی الفلاح ، ص: ۲۵۲)

لکن فی الاشباه عن الغایة قنت فی صلاة الفجر

(ردالمحتار: ۴۹۲/۱) و هکذا فی (اعلاء السنن: ۱۲۱/۲)

## قنوت نازله دلمانځه په نیت ویل کیږي که خپل نیت غواړي؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دارالافتاء بزرګوارو مفتیانو زما د مینې ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې قنوت نازله د لمانځه په نیت کیږي اوکه نه؟

والسلام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

د لمانځه په نیت کې نیت د قنوت نازله نه غواړي .

## قنوت نازله جهراً ویل کیږي که سراً؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزرګوارو مفتیانو زما دمینې ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې قنوت نازله په جهرویل معتبردي که خفیه؟

والسلام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

قنوت نازله په جهرويل كيږي.

والمختار أن يجهر به لثبوت جهر النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعمر به .

(اعلاء السنن: ١٢٠/٢)

## چې امام قنوت نازله وايي نو مقتديان به څه کوي؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دار الافتاء بزرگوارو مفتيانو زما دميني ډک صميمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې امام به مقتديانوته قنوت نازله په څه طريقه وايي يعنى په زوره به يې وايي اوكه به يې سوكه وائى اومقتديان به يې څنګه وايي يعنى هغه د دعاء الفاظ به وايي كه به آمين وايي كه چيرى آمين وايي نوهغه به په زوره وايي اوكه سوكه ؟ والسلام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

مقتديان به آمين په خفيه سره وايي قنوت دى نه وايي.

وهل المقتدي مثله أم لا..والذي يظهر لى أن المقتدي يتابع امامه إلاإذا جهر فيؤمن . ( ردالمحتار: ۴۹۲/۱ )

وآمين بجهر بگويند ياباخفاء والثاني اولى لأنه دعاء والاخفاء بالدعاء اولىٰ فقط . (فتاوى دارالعلوم ديوبند: ۱۹۰/۴ ) و هكذا فى ( اعلاء السنن: ١٢٠/٢ )

## باب الامامة والجماعة

### په زورامامت کول

**پوښتنه** : د دارالافتاء ولوړمقام ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.
اما بعد زه محمدعثمان د محمدانور زوي احترامانه عرض وړاندې کوم چې پر يو مسجد باندې په زور امامت کول څنګه دي؟
والسلام

المستفتي: محمدعثمان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

که چېرې يوقوم يا دکلي خلک له ملا امام څخه په ناراضی او تفرت کې وي له جهته دفساد په امام کې ياخوفساد په امام کې نه وي بلکه دکلي خلک زيات حقداره وي په امامت کې ترملا امام په دغه صورت کې امامت کول د ملا امام مکروه دی اوکه ملا امام ترقوم زيات حقدار ؤ په امامت کې اوفساد پکې موجودنه ؤ په دغه صورت کې امامت کول دملا امام صحيح اوبلا کراهيته دی .

رجل أم قوما وهم له کارهون ان کان الکراهية لفسادفيه أولأنهم احق بالا مامة منه يکره له ذلک وإن کان هوأحق بالامامة لايکره

(خلاصة الفتاوی: ۱۴۵/۱) و هکذا فی (الهندية: ۷۸/۱)

عن عبدالله بن عمرو أن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يقول ثلا ثة لايقبل الله منهم صلوة من تقدم قوما وهم له كارهون (الحديث)

(نيل الاوطار: ۲۱۵/۳)

أن يؤم قوما هم له كارهون والكراهة تحريمية عندالحنفية لحديث لا يقبل الله صلاة من تقدم قوما وهم له كارهون

(الفقه الاسلامي: ۱۷۴/۲ ط دارالفكر)

## په مخکنيو حکومتونوکې وظيفه اجراء کوونکي امامت

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه**: داسې بعضې امامان شته چې په پخوانيو حکومتونوکې يعنې له (۱۳۵۷ هـ ش) څخه بيا د (۱۳۷۰ هـ ش) کال پورې دمشر اويا داجيرپه توګه وظيفه اجراء کړې وي آيا د دوی امامت څرنګه دی؟ يعنې امامان به وي اوکه معزول کيږي؟

المستفتي: الحاج ملاطالب آغامسئول حج واوقاف ولايت هلمند.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب :**

د امام عزل په دريو وجوهو کیدلای شي.

١-فسق دامام یعنی چې په ښکاره ډول یوفاسق اوفاجر سړی وي.

٢- عدم اهلیة یعنی چې دغه دامامت یعنی لمونځ ورکولووظیفه په صحیح اوشرعي طريقه سره سرته نشی رسولای.

٣- داچې دمحل خلک ترده ډیرحق داره وي په دغه وظیفه دامامت سره، حق داری نه په معنی دکثرة فقر اواحتیاج ده بلکه په معنی دښه علم اوتقوی اوداسی نورو فضائلوده.

که چېرې دغه درې وجهې په یو چا کې نه وي نو هغه د امامت څخه نشي معزول کېدلای او که چېرې د محل خلک د امام څخه ناراضه وي نوکه دغه ناراضي د امام د فسق یا عدم اهلیة یا یو بل شرعي عذر په وجه وي نو د امام امامت مکروه تحریمي دی او که شرعي عذر نه وي نو بیا پروا نلري که څه هم ډیر خلک ناراضه وي.

مطلب لا يصح عزل صاحب وظيفة بلا جنحة وعدم أهلية .

( ردالمحتار:٣/ ٣٤٢ )

رجل أم قوما وهم له كارهون فان كان الكراهة لفساد فيه لانّهم أحق بالامامة منه كره له ذلك وان كان هوأحق بالامامة لا يكره لأن الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح .

( فتاوى قاضيخان بهامش الفتاوى الهندية: ٩٢/١ ) و هكذا في ( حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ص: ٢٤٤)

قال الحلبي وينبغي ان تكون الكراهة تحريمية لخبر ابي داؤد ثلاثة لايقبل الله تعالى منهم صلاة وعد منهم من تقدم قوما وهم له كارهون .
(حاشية الطحطاوي على مراقی الفلاح ص: ۲۴۴)

قال في شرح المشكوة لعله محمول على الأكثر من العلماء إذا وجدوا وإلا فلا عبرة لكثرة الجاهلين . (حاشية الطحطاوي على مراقی الفلاح: ص: ۲۴۴)

وفی البحر تحت قوله وكرة امامة الاعرابي والعبد والفاسق والمبتدع الخ...قال الرملي ذكر الحلبي فی شرح منية المصلي أن كراهة تقديم الفاسق والمبتدع كراهة التحريم . (خيرالفتاوی: ۳۲۲/۲)

## د کنز او قُدوري د مُلا امامت چې خلک ورځخه خوشحاله وي؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه** : د دارالإفتاء محترموعلماؤ ددې مسئلې په هکله شرعي فتوی راکړئ چې بعضې داسې امامان چې د کنز او قدوري امامان دي او اکثر خلک چې بياخلقيان وي ددوی په امامت خوښ وي او دامیرالمؤمنين هم داغسی امردی چې امامت بايد دخلکوپه خوښه وي په دې حصه کې مونږته معلومات راکړئ؟

(المستفتي: الحاج ملا طالب آغا مسئول حج واوقاف ولايت هلمند)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً:**

دامام عزل په دريو وجهو کيدلای شي:

۱- فسق دامام يعنی چې په ښکاره ډول يوفاسق اوفاجر سړی وي.

۲- عدم اهلية يعنی چې دغه دامامت يعنی لمونځ ورکولووظيفه په صحيح اوشرعي طريقه سره سرته نشي رسولای.

۳- دا چې د محل خلک تر ده ډير حقداره وي په دغه وظيفه د امامت سره حق داري نه په معنی دکثرة فقر او احتياج ده بلکه په معنی د ښه علم او تقویٰ او داسی نورو فضائلو ده.

که چېرې دغه درې وجهې په يو چا کې نه وي نو هغه د امامت څخه نشي معزول کېدلای او که چېرې د محل خلک دامام څخه ناراضه وي نوکه دغه ناراضي دامام د فسق يا عدم اهلية يا يو بل شرعي عذر په وجه وي نو د امام امامت مکروه تحريمي دی اوکه شرعي عذر نه وي نو بيا پروا نلري که څه هم ډير خلک ناراضه وي.

مطلب لايصح عزل صاحب وظيفة بلا جنحة و عدم أهلية.

(ردالمحتار: ۳/ ۴۲۳)

رجل أم قوما وهم له كارهون فان كان الكراهة لفساد فيه أو لأنهم أحق بالامامة منه كره له ذلک و ان كان هو أحق بالامامة لايكره لأن الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح

(فتاوی قاضيخان بهامش الفتاوی الهندية: ۹۲/۱) و هكذا فی (حاشية الطحطاوي علی مراقی الفلاح: ص ۲۴۴)

قال الحلبي و ينبغي ان تكون الكراهة تحريمية لخبر ابي داؤد ثلاثة لايقبل الله تعالىٰ منهم صلاة وعد منهم من تقدم قوما و هم له كارهون
(حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح:ص: ۲۴۴)

قال في شرح المشكوة لعله محمول على الأكثر من العلماء اذا وجدوا وإلا فلا عبرة لكثرة الجاهلين (حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح:ص ۲۴۴)
وفى البحر تحت قوله وكره امامة الاعرابي والعبدوالفاسق والمبتدع الخ...قال الرملي ذكرالحلبي فى شرح منية المصلي ان كراهة تقديم الفاسق والمبتدع كراهة التحريم.
(خيرالفتاوى: ۳۲۲/۲)

## حاکم که هغه امام اوباسي چې خلک ورڅخه خوشحاله وي؟

**پوښتنه** : د دارالافتاء و لوړ مقام ته السلام عليكم ورحمة الله و بركاته
امابعد: زه محمدعثمان د محمدانور زوی احترامانه عرض وړاندې کوم چې که يو امام په مسجدکې امامت کوي د قوم څخه يې يو فرد نه وي ځينې ناراضه او د هغې علاقې مسؤل يا حاکم يې د امامت څخه برطرفه کړي او په عوض کې خپل همکار او يا ملګري منتخب کړي دا څه حکم لري؟

والسلام

المستفتي: محمدعثمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب :**

که چېرې دمقتدیانو اختلاف راغی په نصب اودرولو دملا امام کې معتبر داکثرو یعنی د ډیرومقتدیانوملا امام دې یو نفر نشي کولای چې په خپله خوښه امام ودروي.

والخيار إلى القوم فإن اختلفوا اعتبر أكثرهم (الدرالمختار)

(قوله اعتبراكثرهم) لايظهر هذا إلا في النصب وإلا فكل يصلي خلف من يختاره. (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار: ۲۴۳/۱)

ولواختاربعض القوم رجلا والبعض الاخرالعبرة لاجتماع الاكثر .

(خلاصة الفتاوى: ۱۴۵/۱)

والله اعلم بالصواب

## د امام ټاکلو او ایستلو حق د چا دی؟

**پوښتنه** : د دارالافتاء ولوړمقام ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امابعد: زه محمدعثمان دمحمدانور زوی احترامانه عرض وړاندی کوم چې دامام ایستل او راوستل دامامت لپاره په هغه چا اړه لري چې باني دمسجد وي اوپه کلي اوملک کې هم کُلي وي اوکه په هرفرد دافرادو ددغه کاریز اړه لري که لږوي که ډیروي؟

والسلام

المستفتي: محمدعثمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

باني د مسجداولی او حقداره دی په درولو سره د امام او که چیری د نوروکلي والو امام اولیٰ او اصلح ؤ تر امام د باني د مسجد په دغه صورت کې امام د کلي والو معتبر او حقداره دی او که چیری د باني دمسجداو د کلي والو امامان سره برابرؤ یعنې سره مساوي ؤپه تقوی کې په دغه صورت کې دباني دمسجد امام اولی اومعتبردی.

الباني للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارإلاإذا عین القوم أصلح ممن عینه الباني آهـ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۴۵۴/۳) (قوله إلاإذا عین القوم أصلح ممن عینه لأن منفعة ذلک ترجع إلیهم . ( ردالمحتار:۴۵۴/۳ ) و هکذافی حاشیة الطحطاوي: ۵۵۸/۲ )

الباني أولی بنصب الامام والمؤذن...بنی مسجداً فی محلة فنازعه بعض أهل المحلة فی العمارة فالباني أولی مطلقاوإن تنازعوا فی نصب الامام والمؤذن مع أهل المحلة إن کان مااختاره أهل المحلة أولی من الذي اختاره ألباني فما اختاره أهل المحلة أولی وإن کانا سواء فمنصوب الباني أولی .

(الاشباه والنظائر:ص: ۱۰۴)

والله اعلم بالصواب

## د مسجد امام باید کوم وخت څواب شي؟

**پوښتنه** : دمسجد امام په کوم وخت کې دامامت څخه جواب کیدای شي چې د مقتدي اقتداء ورپسې څرنګه وي؟ (دارشاد او اوقافوریاست)

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب :**

کوم امام چې دامامت قابل وي که په یومسجد کې امام شي هغه وخت ځواب کیدای شي چې یوخیانت، فسق اوفساد ځینی ښکاره شي اوکه داشیان نه وي پکې نوبیائی عزل صحت نه لري اوکه دکلي خلکوله ده څخه کراهة کاوو نوداکراهة که په یوشرعي وجه ؤ هم دده عزل کیدای شي. اوکه له شرعي وجې پرته ؤ نوبیاصحت نه لري.

مطلب: لایصح عزل صاحب وظیفة بلاجنحة اوعدم اهلیة ( ردالمحتار ج ۳ص۴۲۳ط رشیدیه ) رجل امّ قوما وهم له کارهون فان کان الکراهة لفساد فیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذلک وان کان هواحق بالامامة لایکره لان الجاهل والفاسق یکره العالم والصالح ( فتاوی قاضیخان بهامش الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۹۲ ) و هکذا فی ( الفتاوی الهندیة ج ۱ ص۸۷ )
و ( ردّالمحتار ج ۱ ص ۴۱۳ ط رشیدیه )

مولوي احمد نوري
مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي محمود میوندوال

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان داسلامي دولت
د مرکزي دارالافتاء رئیس

## له مسجدڅخه د ملا امام عزل په کوم وخت کې کيږي؟

**پوښتنه** : جناب محترم فضيلت مآب د مرکزي شوری رئيس صاحب !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! محترمه !

ماپه ۲۱/۴/۱۱ دخپل محلی په موافقه ليکلی تصديق او د وخت د محکمې د قاضي په استيذان او بر علاوه د طالبانو کرامو د تحريک د لومړي قاضي الحاج مولوي پاسني په حکم اوتائيد يوه، جامع اومدرسه مي په دولتي مځکه کې چې مخکې دغه مځکه خرڅول کيده ماوګرزوله اوپه لووالـه کې واقع ده جوړه کړه اوپه شخصي تلاش اوسعی مي غير ددغه محلې دهمکارۍ دمختلفو منطقو دخلکوپه مرسته دخدای جَلَّجَلَالُهُ په فضل پرېښو ودرولـه اوفعلاً په هغه جامع کې په سلګونو مصليان فرض لمونځ اداکوي او هم پکې (۱۵۰) تنه طالبان اوهلکان درس وايي دزياتو خلکو د سهولت سبب وګرزيدی الحمد لله ليکن اوس دځينو خود غرضو خلکو اومعاندو لخوا چې په محلی کې محدود دي اومخکې هم ليکلي اسناد لرم ځينی مشکلات رامنځته کوي اوغواړي چې زماتصرف او وظيفه ته خنډ واقع کړي اوماله دغه ځايه څخه ليری کړي ، څنګه چې زه يوملا امام عالم يم اودتحريک غړی يم نه غواړم چې غيرشرعي اقدام وکړم نوپه همدغه لحاظ ستاسومحترم اومدبرانه حضورته عارض اواحترامانه توقع لرم چې په دې باب ماته شرعي فتوی راکړئ او زما دغه درخواست ومحترم رئيس صاحب ته د دارالافتاء تقديم او راجع کړئ چې ددغه اسنادو او اوصافوپه لرلو سره زه د نومړي حقيّت لرم کنه؟ په دې باب کې زما سره همکاري وکړئ. (ومن الله التوفيق)

(قاري عبدالباقي دهيئت دخريدارۍ د شعبی عضو)

ملاحظه شد
جناب فضلیت مآب رئیس صاحب دارالافتاء السلام علیکم!
درمورد موضوع مذکور ابراز نظرشرعي فرمائید والسلام
الحاج مولوي عبدالودود اخند رئیس شوریٰ مرکزي علماء ۲۲/۳/۱۳۷۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الحمدلاهله والصلاة علی اهلها :**

امابعد : فنقول ومن الله التوفیق محترمو څرنګه چې امامت اوجوړول دمدرسې او تدریس په امرد قاضي صاحب دوخت وو نو داماموره ‌هیڅ وخت له خپلې وظیفې څخه څوک نشي معزولولای تر هغه وخته چې په ده کې کوم خیانت، فسق او فساد نه وي پیداشوی اوکه خیانت فسق او فساد پکې پیداشونودی مستحق دعزل دی که څه هم امیرمقرر کړی وي او امام دمحلې چې عالم باعمله وي فاسق او بي دینه نه وي اهل د محلې یې نشي معزول کولای او امام چې فاسق فاجر نا اهل وي بیانوحق دعزل لري ځکه چې امامت یې مکروه تحریمي دی، په سبب دلاندینۍ مسئلې:

**تنبیه**: قال في البحر واستفید من عدم صحة عزل الناظر بلاجنحة عدمها لصاحب وظیفة في وقف بغیر جنحة وعدم اهلیة الخ وفي آخر الفن الثالث من الاشباه اذا ولی السلطان مدرسا لیس باهل لم تصح تولیته لان فعله مقید بالمصلحة خصوصًا ان کان المقررعن مدرس اهل فان الاهل لم ینعزل وصرح البزازي فی الصلح بان السلطان اذا اعطی غیرالمستحق فقدظلم مرتین بمنع المستحق واعطائه غیرالمستحق (ردالمحتار- ج ۳ ص ۴۲۳ ط رشیدیه ، کتاب الوقف مطلب لایصح عزل صاحب وظیفة بلاجنحة

اوعدم اهلية ) وان اختار بعض القوم لهذا والبعض لهذا فالعبرة لاجتماع الاكثر رجل امّ قوماً وهم له كارهون فان كان الكراهة لفساد فيه او لانهم احق بالامامة منه كره له ذلک وان كان هواحق بالامامة لايكره لان الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح (فتاوى قاضيخان بهامش الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۹۲ كتاب الصلوة ) وكذا في ( الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۸۷ كتاب الصلوة ) وكذا في ( ردالمحتار ج ۱ ص ۴۱۳ ط رشيديه كتاب الصلاة )

فان اختلفوا فالعبرة بما اختاره الاكثر. قال فى شرح المشكوة لعله محمول على الاكثر من العلماء اذا وجدوا والافلا عبرة لكثرة الجاهلين قال تعالى: ولكن اكثرهم لايعلمون وان قدموا غير الاولى فقد أساؤا ولكن لايأثمون كذا فى التجنيس وفيه لو ام قوماً وهم له كارهون فهو على ثلاثة اوجه ان كانت الكراهة لفساد فيه اوكانوا احق بالامامة منه يكره قال الحلبي: وينبغي ان تكون الكراهة تحريمية لخبر ابي داؤد: ثلاثة لايقبل الله منهم صلوة وعد منهم من تقدم قوماً وهم له كارهون وان كان هواحق بها منهم ولافساد فيه و مع هذا يكرهونه لايكره له التقدم لأن الجاهل والفاسق يكره العالم والصالح .

وقال صلى الله عليه وسلم : ان سركم ان تقبل صلوتكم فليؤمكم علمائكم فانهم و فد فيما بينكم وبين ربكم وفى رواية: فليؤمكم خياركم (حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح شرح نورالايضاح ، فصل في بيان الاحق بالامامة: ص ۲۴۴ ط انصاري كتب خانه افغانستان) والله اعلم

مولوي ندامحمد الحقاني

مولوي احمدنوري عفى عنه

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس دارالافتاء مركزي امارت
اسلامي افغانستان

## د څلورو واړه مذاهبو کسانو په یو بل پسې لمونځ څنګه دی؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه**: دافغانستان داسلامي امارت دمرکزي دارالافتاء وریاست ته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

امابعد: محترمه لطفاً دلاندې پوښتنې جواب په تفصیل سره راکړئ په دغه څلورو مذهبوکې (داهل السنة والجماعة) چې دیوه مذهب سړی د بل مذهب په امام پسې په جماعة لمونځ کوي روا ښت لري کنه؟ که لري په څه طریقه به یې کوي؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب**:

لمونځ دیومذهبي امام پسې چې د بل مذهب وي صحیح دی ، که چېرې دمقتدي علم ؤ چې دغه امام احتیاط نه کوي په دغو ځایوکې بیا لمونځ پسې فاسد دی او که چېرې د امام حال مقتدي ته معلوم نه ؤ بیا لمونځ پسې مکروه دی مثلاً هغه ځایونه چې اختلاف پکې دی لکه فصداویاقئ وهل دی په مذهب کې دحنفیه اودس په ماتیږي اوس امام ، شافعي مذهب ؤ او فصد او یا یې قئ وه وهي اومقتدی ولیدی اوامام اودس هم تازه نکی نو لمونځ د دغه مقتدي په دغه امام پسې فاسد دی اوکه چېرې امام حنفي مذهب ؤ او لمس په لاس سره د ښځې وکي او مقتدي چې شافعي مذهب ؤ ویې لیدی اوامام اودس تازه نکي نولمونځ د دغه مقتدي په دغه امام پسې فاسد دی ، اوس په هغه صورت کې چې لمونځ دیومذهبي په بل مذهبي پسی روا شي بیا نو که چیری امام داسی یو فعل وکی په لمانځه کې چې دمقتدي په مذهب کې نه ؤ نوکه هغه فعل مختلف فیه ؤ لکه سجده دسهوې قبل السلام او یا زیادت

پر درو الله اکبر باندی په لمانځه کې داختر مثلاً نو به دغه مقتدي اتباع کوي ددغه امام او که چیری امام ددغه مقتدي داسې فعل وکی په لمانځه کی چې هغه منسوخ ؤ لکه قنوت د سهار په لمانځه کې او یا لکه پنځم الله اکبر د جنازې په لمانځه کې نو بیا اتباع د امام نده واجبه.

لکن فی وترالبحران تیقن المراعاة لم یکره اوعدمها لم یصح وان شک کره قوله ان تیقن المراعاة لم یکره الخ ای المراعاة فی الفرائض من شروط و ارکان آه...و اما الاقتداء بالمخالف فی الفروع کالشافعي فیجوز مالم یعلم منه ما یفسد الصلاة علی اعتقاد المقتدي علیه الاجماع آه

وبحث المحشي انه ان علم انه راعی فی الفروض والواجبات والسنن فلاکراهة وأن علم ترکها فی الثلاثة لم یصح وأن لم یدرشیئا کره .

(الدرالمختارمع ردالمحتار-ج ۱ ص۴۱۲)

الحاصل انه أن علم الاحتیاط منه فی مذهبنا فلا کراهة فی الاقتداء به وأن علم عدمه فلاصحة وان لم یعلم شیئا کره ثم قال ظاهر الهدایة ان الاعتبار لاعتقاد المقتدي (رد المحتار-ج ۱ص ۴۹۴) وقال کثیرمن المشائخ ان کان عادته مراعاة مواضع الخلاف جاز والافلا (ردالمحتار-ج ۱ص ۴۱۲)

ویأتي الماموم بقنوت الوتر ولوبشافعي یقنت بعدالرکوع لانه مجتهد فیه قوله لانه مجتهد فیه قدمنا معنی هذا عندقوله فی اخر واجبات الصلاة ومتابعة الامام یعنی فی المجتهد فیه لافی المقطوع بنسخه اوبعدم سنیته کقنوت فجراهـ وقدمنا هناک من امثله المجتهدفیه سجدتا السهو قبل السلام و ما زاد علی الثلاث فی تکبیرات العید و قنوت الوتر بعد الرکوع.

(ردالمحتار- ج ۱ ص۴۹۵) و هکذا فی (ردالمحتار-ج ۱ ص ۳۴۸ و ص ۳۴۹)

والله اعلم بالصواب

## لمونځ په لوډ سپیکرکې څنګه دی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : دکندهار ولایت د دارالافتاء دریاست ومحترم مقام ته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه! هیله ده د دې مسئلې چې زمونږ سره یې حل مبهم دی د شرعي امورو مطابق په مستند ډول معلومات راکړئ چې که چېرې بې له ضرورته په لوړو لوډ سپیکرونو کې ملا امام د جماعت لمونځ ادا کوي روایت یې څنګه دی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

لمونځ ورکول په لوډ سپیکر کې بغیر له ضرورته د لاندې اسبابو په وجه باید منع شي.

۱- مخالفت راځي له دې آیت کریمه څخه.

{ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَابۡتَغِ بَيۡنَ ذٰلِكَ سَبِيۡلًا } الإسراء۱۱۰

۲- فقهاء وائی چې جهرکول زائدترحاجت دجماعت اساءة دی اواساءة ترمکروه تنزیهي پورته او تر مکروه تحریمي کښته درجه ده

۳- نورخلق چې په نورو مساجدو یا کورونوکې په لمونځ یا ذکر یا خوب یا نورو اشغالو مصروف وي د هغو د ضرر باعث ګرځي.

۴- دا هم یو نوعه توهین دی چې ډیرخلق قرآن کریم اوري اوسمع یې نشي کولای یا یې نه کوي.

۵- په لوډ سپيکر کې د علماؤ اختلاف دی بعضی علماء لمونځ پکې ناجائز بولي نو لمونځ باید په داسی طریقه وشي چې د اختلاف څخه خارج وي. نو لمونځ باید په ګویا کې ونشي او که په بعضې مساجدو کې ضرورت وي او خلق ډېر وي او د مکبّرینو انتظام نکېږي نو بیا دی د داخلي لوډسپیکرڅخه استفاده وکي چې اوآز یې تر صفوفو ډېر نه خارجیږي.

(فصل ويجهر الامام وجوبا بحسب الجماعة فان زاد عليه اساء (الدر المختار بهامش رد المحتار ج ۱ ص ۳۹۳)

لايقرء جهرا عند المشتغلين بالاعمال ومن حرمة القرآن ان لايقرء فى الاسواق وفى موضع اللغو (الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۱۶)

رجل يكتب الفقه وبجنبه رجل يقرء القرآن ولايمكنه استماع القرآن كان الاثم على القارئ ولاشئ على الكاتب وعلى هذا لوقرء على السطح فى الليل جهراً يأثم. (الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۱۸)

لكن قدمنا فى اول بحث سنن الصلاة اختلاف عباراتهم فى ان الاساءة دون الكراهة او افحش منها ووفقنا بينها بانها دون كراهة التحريم وافحش من كراهة التنزيه فراجعه (ردالمحتار ج ۱ ص ۴۱۹ ط رشيديه)

(البتہ جہر میں تکلف کرنا یااتنا جہر کہ نماز میں تشویش کا باعث بنے یا کسی کیلئے باعث ایذاء ہو ناجائز ہے ([1]) (احسن الفتاوی ۷۸/۳) وکذافی (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۱۷۹/۲)

(نماز میں آلہ مکبّر الصوت کے استعمال میں بہت سے مفاسد ہیں اس لئے اس سے اجتناب کیاجائے اور سنت کے سادے طریقے پرآواز کو دورتک پہنچانے کیلئے مکبّرین کا انتظام کیاجائے لیکن اگرکسی

---

(۱) ترجمه: اما په جهرکې تکلف کول یا دومره جهر چې په لمانځه کې د تشویش باعث وګرځي یاد یو چالپاره د ایذا باعث وي ناجائزدي.

جگہ آلہ مکبّر الصوت پر نماز ادا کر لی گئی تو نماز فاسد واجب الاعادہ نہیں ہے او راستعمال کرنے والوں کو کم از کم یہ لازم ہے کہ مکبّرین کا پورا انتظام رکھیں کیونکہ علماء کی ایک جماعت اس کو مفسد قرار دیتی ہے اُن کے خلاف سے خروج کی فکر کرنا چاہئے ) (١) (آلات جدیدہ: ٣٣) واللہ تعالیٰ اعلم

## لمونځ په لوډ سپيکر(ګويا) کې څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه**: آيا په ګويا کې لمونځ ورکول شرعًا جوازلري کنه؟
بينوا توجروا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً**:

لمونځ ورکول په ګويا کې په داسې طريقه لکه نن چې مروجه ده چې دامام آوازپه ټوله محله يابنارکې اوريدل کيږي ناجائز او بد عمل دي او مفضي دی حرام ته که څه هم د لمانځه اعاده ضروري نه ده په لاندې وجوهو سره .

١ - جهرکول زائدترحاجت دجماعت اساءة دی اواساءة ترمکروه تنزيهي پورته او تر مکروه تحريمي لاندې درجه ده.

(١) ترجمه: په لمانځه کې د آله مکبرالصوت په استعمالولوکې ډير مفاسد دي ځکه بايد له دې څخه پرهيز وکړل شي او د سنت په ساده طريقه باندې د آواز ترليری رسولو لپاره دې د مکبّرينو بندو بست وشي خوکه يوځای د مکبّرالصوت په آله لمونځ ادا کړل شوی وي نو لمونځ فاسد واجب الا عاده نه دی او استعمالونکيو باندی لږ تر لږه لازم دي چې د مکبرينو پوره انتظام وکړي ځکه چې دعلماؤ يوه ډله دا فاسد بولي د هغوی له اختلاف څخه د وتلو فکر کول پکار دي.

۲-لمونځ په ګوياکې که څه هم دبعضی علماؤ په نزد جائزدي ليکن څه علماء يې ناجائزبولي.

۳- نورخلک چې په نورومسجدونويا کورونوکې په لمونځ ياذکر يانورو اشغالو مصروف وي دهغو دتشويش اوايذاء باعث ګرځي.

۴- په دې کې يونوع توهين دقرآن کريم ده ځکه چې ډيرخلک يې اوري اوسمع يې نه کوي ياېې نشي کولای.

۵- مخالفت دی ددې آية کريمه سره ولاتجهربصلاتک ولاتخافت بها وابتغ بين ذلک سبيلاً

فصل و يجهرالامام وجوبا بحسب الجماعة فان زاد عليه اساء (الدرالمختار)

وفى الزاهدي عن ابي جعفر لو زاد على الحاجة فهو افضل الا اذا اجهد نفسه او آذى غيره قهستاني (ردالمحتار- ج ۱ ص ۳۹۳)

البتہ جھر میں تکلف کرنا یا اتنا جھر کہ نماز میں تشویش کا باعث بنے یا کسی کے لئے باعث ایذاء ہو ناجائز ہے ([1])

(احسن الفتاوی ج ۳ ص ۸۷) وہکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۱۷۹)

نماز میں آلہ مکبّر الصوت کے استعمال میں بہت سے مفاسد ہیں اس لئے اس سے اجتناب کیا جائے اور سنت کے سیدھے سادے طریقے پر آواز کو دور تک پہنچانے کیلئے مکبّرین کا انتظام کیا جائے لیکن اگر کسی جگہ آلہ مکبّر الصوت پر نماز ادا کرلی گئی تو نماز فاسد واجب الا عادہ نہیں ہے اور استعمال

---

([1]) ترجمه: اما په جهرکې تکلف کول يا دومره جهر چې په لمانځه کې دتشويش باعث وګرځي يا ديوچالپاره دايذاء باعث وي ناجائزدی.

*کرنیوالوں کو کم از کم یہ لازم ہے کہ مکبّرین کا پورا انتظام رکھیں کیونکہ علماء کی ایک جماعت اس کو مفسد قرار دیتی ہے ان کی خلاف سے خروج کی فکر کرنا چاہئے* (۱) ( آلات جدیدہ: ص ۳۳)

لایقرء جهراً عندالمشتغلین بالاعمال ومن حرمة القرآن ان لایقرء فی الاسواق وفی موضع اللغو (الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۱۲) رجل یکتب الفقه وبجنبه رجل یقرء القرآن ولایمکنه استماع القرآن کان الاثم علی القاري ولاشئ علی الکاتب وعلی هذا لوقرء علی السطح فی اللیل جهراً یأثم کذا فی الغرائب (الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۱۸)

لکن قدمنافی اول بحث سنن الصلاة اختلاف عباراتهم فی ان الاساءة دون الکراهة او افحش منها ووفقنا بینها بانها دون کراهة التحریم وافحش من کراهة التنزیه فراجعه (ردالمحتار- ج ۱ ص ۴۲۰ و ج ۱ ص ۳۵۰ ط مکتبه رشیدیه کوئته)

البته که پورتني وجوه اوموانع نه وو او د ګویا اواز یوازې د جماعت په اندازه ؤ د مسجد څخه د باندې نه اوریدل کېده او ضرورت دغه ګویاته موجود ؤ نو بیاځه پروانلري ، په لمانځه کې ډیر زیات احتیاط ضروري دی زیات کوشش باید وشي چې پرطریقه مسنونه ادا شي او داخبره خو ډېره واضحه ده چې بې د ضرورت شدیده په ګویاکې لمونځ کول د ذکر شوي دلائلو سره سره غالبًا پر ریاء او نفساني خواهشاتوبناء وي اوهغه تضرع اوخلوص د دین خاص الله تعالیٰ لره پکې فوت شوی وي فلهذا اجتناب ځنې لازم دي او پر مسئولینو لازمه ده چې د مخنیوي لپاره یې مناسب او مؤثر اقدامات وکړي. والله تعالی اعلم

---

(۱) ترجمه: په لمانځه کې د آله مکبّرالصوت په استعمالولوکې ډیرمفاسددي ځکه باید له دې څخه پرهیز وکړل شي اودسنت په نیغه اوساده طریقه باندی دآوازترلیری رسولولپاره دی د مکبرینوبندوبست وشي خو که یوځای دمکبرالصوت په آله لمونځ ادا کړل شوی وي نو لمونځ فاسد واجب الا عاده نه دی او استعمالونکیوباندی لږ ترلږه لازم دي چې د مکبرینو پوره انتظام وکړي ځکه چې د علماء یوه ډله دا فاسد بولي د هغوی له اختلاف څخه د وتلو فکر کول پکاردي.

## که امام قومه او جلسه نه کوي نو مقتدي به څه کوي؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : د مرکزي دارالافتاء رئیس صاحب حضور ته
السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.

څه فرمائی علماء چې امام که جلسه اوقومه نه کوي مقتدي به یې کوي که یا؟

المستفتي: عبدالقادرساکن خاکریز.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً**:

څرنګه چې د قومې او جلسې په باره کې راجح قول د وجوب دی نو لهذا باید وویل شي چې که امام قومه اوجلسه نه وکړي مقتدي دې وکړي ولې پدې سره متابعت بالکل نه پاتېږي بلکه مؤخرکېږي. او مؤخر کیده د متابعت اولی دی تر ترک د واجبو.

والحاصل ان متابعة الامام فی الفرائض والواجبات من غیرتأخیرواجبة فان عارضها واجب لاینبغي ان یفوته بل یأتي به ثم یتابع کما لوقام الامام قبل ان یتم المقتدي التشهدفانه یتمه ثم یقوم لان الاتیان به لایفوت المتابعة بالکلیة وانمایؤخرها والمتابعة مع قطعه تفوته بالکلیة.

(ردالمحتار- ج ۱ص ۳۴۷)

والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

لکن دغه امام چې قومه اوجلسه ونکړه باید دلمانځه اعاده وکړي قال فی البحرفعلی القولین لاوجوب بعدالوقت فالحاصل ان من ترک واجباً من واجباتها اوارتکب مکروهاً تحریما لزمه وجوبا ان یعید فی الوقت. فان خرج اَثم-

( ردالمحتار- ج ۱ ص **۵۳۵** )

مولوي محمود میوندوال

مولوي نورمحمد (ثاقب)
دافغانستان د اسلامي امارت
د مرکزي دارالافتاء رئیس

# تکرار د جماعت په مسجد کې

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه**: آيا دوهم جماعت کول په مسجد کې صحت لري اوکيا؟

(فرخي استفتاء)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب**:

ددوهم جماعت په باره کې علماء داسې وايي چې دهغه محلې مسجدچې امام او مؤذن ولري هلته دوهم جماعت مطلقا يعنې که اذان اواقامت وي او که نه وي که تغيير د هيئت سابقه وي که نه وي مکروه دي.

(تکرار جماعت در مسجد محله که امام و مؤذن اش معين باشند اگر چې بلا اذان واقامت و بتغير هيئت باشد مکروه است کمافى الشامي الخ)

(عزيزالفتاوى ص: ۱۹۰) و هكذا فى (فتاوى دارالعلوم ديوبند: ۳۵/۳)

او په (فتاوى دارالعلوم ديوبند ۳۹/۳) کې يې په ډيرو دلائلو کراهت ثابت کړى دى مولانا مفتي رشيداحمد صاحب په خپله رساله (الوصية الاخوانية في حكم الجماعة الثانية) کې لاندې توضيحات کړي دي.

اول: جماعت ثانيه اووه صورته لري.

۱- د لارې مسجد يعنى چې معين مقتدي يا امام نلري.

۲- هغه مسجدچې خپل امام او مؤذن نلري.

۳- هغه د محلې مسجد چې بيګانه خلکو تر مخه جماعت پکې کړى وي.

۴- هغـه مسـجدچې د محلې خلکـو بې اذانـه یـا بې اعلانـه د اذان جماعت کړی وي.

۵- هغه مسجدچې د محلې خلکو جماعت سره د اعلانه د اذان کړی وي او جماعت ثانیه سره داذانه ادا کړی شي.

۶- چې جمات ثانیه بی داذانه اداکړل شي اماپرهیئت داول جماعت وي.

۷- چې جماعت ثانیه بې له اذانه ادا کړل شي سره دتغیره په هیئت کې داول جماعت ، په اولو څلورو صورتونو کې دوهم جماعت جائز څه چې افضل دی اتفاقاً او په پنځم او شپږم صورت کې مکروه تحریمي دی اتفاقاً او په اووم صورت کې اختلاف دی امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ یې مکروه بولي او امام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ یې جائز بولي.

دوهم: مراد د تغییرڅخه د هیئت اولی ایسته کېدل دی د محاذاة څخه دمحراب صرف لیری کیدل دمحراب څخه اوبیرته دریدل پرمحاذاة دمحراب کفایت نه کوي.

دریم: تطبیق په مابین کې د قول د امام صاحب او امام ابویوسف رحمهماالله دا دی چې مراد د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اثبات دکراهت څخه، کراهت تنزیهي دی او د امام ابویوسف صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د نفی دکراهت څخه نفې دکراهت تحریمي دی نو د دواړو شیخینو مراد یو دی چې ثبوت د کراهت تنزیهیه دی.

(من الوصیة الاخوانیة في حکم الجماعة الثانیة، المطبوعة فی احسن الفتاویٰ: ۳۲۱/۳) والله تعالیٰ اعلم

## دوهم جماعت او جَمْعه څه حکم لري؟

**پوښتنه** : د دوهم جماعت اودوهمې جمعې په هکله مفتیان صاحبان څه حکم کوي، جوازیاثواب لري؟ که چېرې ئې لري په کوم صورت کې ئې لري؟
(ریاست ارشاد و اوقاف)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب**: **بعون ملهم الصدق والصواب** :

د یوه ښارپه څو مسجدونو کې د جَمعې د لمانځه تعدد جائز او صحیح دی، اوپه یوه مسجدکې تکرار د جمعې د لمانځه مکروه دی.

*تعدد جمعہ ایک شہر میں دو مسجدوں میں یا زیادہ میں عندالحنفیہ درست ہے کمافی الدر المختار الخ لیکن ایک مسجد میں تعدد جماعت مکروہ ہے پس دوسری جماعت جمعہ کی اس صورت میں مکروہ ہے جیسا کہ تمام نمازوں کی جماعت ثانیہ کواس مسجد میں جس میں امام ومؤذن مقرر ہوں فقہاء نے مکروہ لکھاہے اور خصوصًا جمعہ پڑھنے کے بعد جامع مسجد کوبند کردینے کاحکم دیاہے (شامی) میں ہے:* ([1])

والظاهر انه یغلق ایضًا بعد اقامة الجمعة لئلا یجتمع فیه احد بعدها.
(فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۸۱ وج ۳ ص ۳۹)

اود دوهم جماعت په باره کې علماء داسې وایې چې هغه دمحلې مسجد چې خپل امام او مؤذن ولري هلته دوهم جماعت مطلقًا یعنې که اذان او اقامت

---

([1]) تعدد د جُمْعې په یوه ښارکې په دوو یا زیاتومسجدونوکې عندالحنفیه صحیح دی کمافي الدرالمختار خوپه یوه مسجدکې تعدد دجماعت مکروه دی نودجُمعی دوهم جماعت په دی صورت کې مکروه دی لکه چې د ټولولمونځونودوهم جماعت په هغه مسجدکې چې پکې امام اومؤذن مقرروي فقهاؤ مکروه لیکلي دي اوپه تیره بیاچې ترجمعی کولو وروسته دجامع مسجد دبندولو حکم کړی دی، په شامي کې دي: دمحلي په مسجدکې دجماعت تکرار چې ټاکلي امام اومؤذن لري که څه هم بیله اذان اواقامته اودهیئت له بدلولوسره وي مکروه دي-

وي اوکه نه که تغییر د هیئت سابقه وي که نه وي مکروه دی ، تکرار جماعت در مسجد محله که امام ومؤذنش معین باشند ، اگرچی بلا اذان واقامت وبتغیرهیئت باشد مکروه است کمافی الشامي الخ (عزیزالفتاوی ص ۱۹۰) و هکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۳ ص ۳۵)

او په فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۳ ص ۳۹ کې یې په ډیرو دلائلوکراهت ثابت کړی دی ، مولانا مفتي رشید احمد صاحب دامت برکاتهم په خپله رساله (الوصیة الاخوانیة فی حکم الجماعة الثانیة) کې لاندې توضیحات کړي دي.

اول: دوهم جماعت (۷) صورته لري.

(۱) دلارې مسجد یعنی چې ټاکلی امام یامقتدي ونه لري.

(۲) هغه مسجدچې خپل امام اومؤذن نه لري.

(۳) هغه دمحلې مسجدچې بیگانه خلکوترمخه جماعت پکې کړی وي.

(۴) هغه مسجد چې د محلې خلکو بې اذانه یا بې اعلانه د اذان جماعت کړی وي.

(۵) هغه مسجد چې د محلې خلکو جماعت سره له اعلانه داذان کړی وي او دوهم جماعت له اذانه سره ادا کړل شي.

(۶) چې دوهم جماعت بیله اذانه اداکړل شي اما پرهیئت داول جماعت وي.

(۷) چې دوهم جماعت بیله اذانه اداکړل شي سره له تغییره په هیئت کې داول جماعت ، په اولو څلورو صورتو کې دوهم جماعت جائز څه چې افضل دی اتفاقاً او په پنځم او شپږم صورت کې مکروه تحریمي دی

اتفاقاً او په اووم صورت کې اختلاف دی امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ يې مکروه بولي او امام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ئې جائزبولي.

دوهم: مراد د تغیر څخه د هیئت اولی لېرې کېدل دي له محاذات څخه د محراب صرف لېرې کېدل له محراب څخه او بیرته دربدل پر محاذات د محراب کفایت نه کوي.

دریم: دامام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ او امام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دقولونوپه منځ کې تطبیق دادی چې دامام صاحب دکراهت له اثبات څخه مراد کراهت تنزیهي او د امام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ له قول څخه نفی دکراهت مراد ده د کراهت تحریمي نو ددواړو شیخینو مراد یودی چې ثبوت دکراهت تنزیهیه دي.
(من الوصیة الاخوانیة فی حکم الجماعة الثانیة المطبوعة فی احسن الفتاوی ج ۳ ص ۳۲۱)

والله اعلم وعلمه اتم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئیس دا رالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

مولوي احمدنوري
مولوي محمود میوندوال
مولوي ندامحمدالحقاني

## باب الحدث في الصلاة

## که په قنوت نازله کې د امام اودس مات شي

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دارالافتـاء بزرګوارومفتيانوزما دمينې ډک صميمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې که په قنوت نازله کې دامام اودس مات شي څه به کوي؟

والســـلام

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

دامام اودس چې مات شي حکم يې عين دمـاتوالي داوداسـه دی لکـه چې پـه نورلمانځه کې مات شي.

## باب المُفسدات والمَكروهات

# ړوند په لمانځه کې په اشاره پوهه کول

**پوښتنه**: محترم رئیس صاحب د دارالافتاء مرکزي

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

یوشخص چې په سترګو ړوند دی او په لمانځه کې یې بل شخص پرڅنګ ولاړ وي اوکوم وخت چې له ده څه خطا وشي دغه بل شخص یې په څنګ ووهي دی بیرته ولاړ شي مثلاً کله چې امام درې رکعته لمونځ پوره کړي څلورم رکعت ته ولاړ شي ددغه ړوندسړي دا خیال شي چې دغه قعده اخیره ده کښیني هغه دڅنګ سړی اشاره ورته وکړي دی وروسته له هغه ولاړشي.

**پوښتنه**: داده چې آیا د دواړو لمونځ صحیح دی اوکه د دواړو لمونځ فاسد دی او که د یوه صحیح د بل فاسد دی؟

که د فقهې حنفي له رویه جواب راکړئ زیاته مهرباني به مو وي.

والسلام

المستفتي: محمدابراهیم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب**:

دسوال مذکورجواب دادې چې نابینا ته دلاس په اشاره کولوسره نه دنابینا لمونځ او نه د اشاره کوونکې لمونځ فاسدیږي.

ولواشار يريد به رد السلام او طلب من المصلي شيئًا فاشار بيده او برأسه بنعم او بلا لاتفسد صلوته هكذا فى التبيين (الفتاوى الهندية: ۹۸/۱) و (البحر الرائق: ۸/۲)

وفى الخلاصة سلّم على المصلي فأشاربردالسلام برأسه أويده اواخبر بشئ فحرک رأسه بلا اونعم اوسئل كم صليت فأشاربأصبعه ثلاثًا اونحوه لاتفسد (فتح القدير: ۳۵۸/۱)

مقتدی کے بیٹھے رہ جانے سے اس کواشارہ سے متنبہ کرنے میں شامی وغیرہ کی تحقیق سے عدم فساد صلوۃ ظاہر ہوتا ہے... درمختار میں ہے: لا بأس بتكلم المصلي واجابته برأسه كما لوطلب منه شئ او أرئ درهما وقيل ا جيد فأومأ بنعم او لا[1] الخ (فتاوى دارالعلوم ديوبند: ۱۱۲/۴، ط امداديه ملتان)

سوال: زید وعمر نے ظہر میں بکر کی اقتداء کی، زید چونکہ نابینا ہے رکعت سوم کو چہارم سمجھ کر بیٹھ گیا، عمر نے زید کو اشارہ کیا تو زید اور عمر کی نماز میں کچھ نقصان تو نہیں ہوا؟ ([2])

الجواب: کچھ نقصان نہیں آیا (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۱۱۵/۴ ط امدادیہ ملتان)

---

([1]) ترجمه: دمقتدي په کښېنستلو دده په اشاره خبرولو کې د شامي او نورو له تحقيق څخه د لمونځ نه فاسدېدل ظاهرېږي ... په درمختار کې راغلي دي: لابأس بتكلم المصلي الخ

([2]) ترجمه: زيد اوعمرپه ماسپښين کې د بکر اقتداء وکړه خو زيد په سترګو ړوند دی دریېم رکعت په خيال کې څلورم ورغلی کښېنستی، عمروزيدته اشاره وکړه نودعمر اودزيدپه لمانځه کې څه نقصان خونه دی راغلی؟ ځواب: هيڅ نقصان نه دی راغلی.

# په دولتي ځمکو کې بې اجازته ودان کړیو مسجدونو کې لمونځ څنګه دی؟

**پوښتنه**: محترمو علماء کرامو د مرکزي دارالافتاء

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

بعداً: سوال دادی چې بې زمینه خلکو پر دولتي ځمکه مسجد جوړ کړی وي دخلکو لمونځونه پرې جواز لري او که نه؟ (المستفتي: حاجي میر افضل)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الله تعالی**:

په دغه مذکور مسجد کې لمونځونه جواز لري.

(قوله او للغیر) لاحاجة الیه بعد قوله اومغصوبة اذا الغصب یستلزمه اللهم الاان یکون المراد الصلاة بغیر الاذن وان کان غیر غاصب افاده ابوالسعود (قوله لو مزروعة او مکروبة) ای محروثة ومفهومه انه عند انتفاء ذلک لایکره اذا لم تکن مغصوبة (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۱ ص ۱۸۳)

(اور جو مساجد بلا حصول اجازت بنائی گئی ہیں ان کے مسجد شرعی بننے کی شرط اب بھی یہی ہے کہ حکومت سے اجازت حاصل کرلی جائے اس سے پہلے وہ مسجد شرعی نہیں ہیں اگرچہ نماز ان میں ہو جاتی ہے ([1])

(امداد المفتین ص ۷۹۸)

---

(۱) ترجمه: اوکوم مسجدونه چې بیله اجازې حاصلولو ودان کړل شوې وي دهغوې دشرعي مسجد جوړېدو شرط اوس هم دغه دی چې له حکوت څخه دی اجازه واخیستله شي له دې څخه مخکې هغه مسجد نه دی که څه هم لمونځ پکی صحیح کیږي.

## باب السُنن والنوافل

## د جماعت لپاره د سهار سنت قطعه کول

**پوښتنه** : مايقول جهابذة العلماء وخيرالخلائق بعد الانبياء فی رجل ينوي ركعتی الفجرحين قامت الصلاة ويخاف ان اتمهما فوت الجماعة منه يفسد هما بعدمالزمهما على نفسه ويقضهما فی وقت آخر هل يجوز له هذالفعل ام لابينوها ببيانات واضحة وزينوها بدلائل كاملة- وفقكم الله وايانا فی حلها وعملها- والسلام

(المستفتي عبدالعلی كان الله تعالى له)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :

نقول فی جواب الأخ الصالح ان اذاخاف فوت جماعة الصبح فقد اجازله الشرع الشريف ترک سنة الفجر وان شرعها بقصد القطع فقد فعل مانهی الشرع الشريف عنه وان كان قصده اللزوم والقضاء والثواب لان قطع الصلاة لغيرالعذر الشرعي حرام .

واذا خاف فوت ركعتی الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والابان رجا ادراک ركعة فی ظاهرالمذهب وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعاً للبحر لكن ضعفه فی النهر لايتركها بل يصليها عندباب المسجد ان وجد مكاناً والاتركها لان ترک المكروه مقدم على فعل السنة ثم

ماقیل یشرع فیها ثم یکبر للفریضۃ او ثم یقطعها ویقضیها مردود بأن درالمفسدۃ مقدم علی جلب المصلحۃ- (الدرالمختار)

(لکن ضعفہ فی النهر) ... وکذا لوادرک التشهد یکون مدرکًا لفضیلتها علی قولهم - قال ای صاحب فتح القدیر- وهذا یعکرعلی ما قیل انہ لو رجا ادراک التشهدلایأتي بسنۃ الفجر علی قول محمد والحق خلافہ لنص محمد علی مایناقضہ آہ ای لان المدار هنا علی ادراک فضل الجماعۃ وقداتفقوا علی ادراکہ بادراک التشهدفیأتي بالسنۃ اتفاقًا۔

(ردالمحتار- ج ۱ ص ۵۲۹)

و ما روی عن الفقیہ اسماعیل الزاهد انہ ینبغی ان یشرع فی رکعتی الفجر ثم یقطعهما لیجب القضاء فیقضیهما بعد الفرض دفعہ شمس الائمۃ السرخسي بأن ما وجب بالشروع لیس اقوی مما وجب بالنذر و قد نص محمد ان المنذور لایؤدی بعد صلاۃ الفجر قبل الطلوع وایضًا هذا شروع العبادۃ بقصد ان یقطعها و هو امیر غیر مستحسن في الشرع کذا ذکرہ الامام التمرتاشي و قاضي خان و قال فی المحیط والاحسن ان یقال یشرع فی السنۃ ویکبر لها ثم یکبراخری للفریضۃ فیخرج بهذہ التکبیرۃ من السنۃ ویصیرشارعًا فی الفریضۃ ولایصیر مفسدا بل یصیر مجاوزا من عمل الی عمل انتهٰی و فیہ ایضاً نظر لأن المجاوزۃ من عمل الی اخر لاتنافی فساد الاول و یدل علیہ قول صاحب الکنز فی باب ما یفسد افتتاح العصر او التطوع بعد رکعۃ من الظهر فإنہ صریح فی ان الظهر یفسد بالشروع فی غیرہ ولیت شعری ای ضرورۃ تدعوالی هذا التکلف وقداباح الشرع ترکها لإحراز فضیلۃ الجماعۃ وایّ فائدۃ فیہ فانہ لایباح قضاؤها علی هذا

التقديرايضًا قبل طلوع الشمس واما بعدطلوعها فان اراد النافلة فلاحاجة فى جوازالنفل فيه الى هذا التكليف وكذا ان اراد ان يوقع النافلة واجبًا من الابتداء امكنه ذلک بالنذر من غير احتياج الى التكلف المذكور وان اراد انها تقع سنة الفجر فلا دليل على ذلک من حديث ولاقول صحابى ولاتابعى ولارواية عن احد الأئمة الثلاثة ولاغيرهم من المجتهدين والله الموفِّق.
(غنية المستملي في شرح منية المصلي (كبيري) ص ۳۸۰)
فان قيل ليؤديها مرة أُخرى قلنا ابطال العمل منهى و درء المفسدة مقدم على جلب المصلحة (ردالمحتار ج ۱ ص ۵۳۰)

مولوي محمود

مولوي نورمحمد (ثاقب)
دافغانستان داسلامي امارت
د مركزي دارالافتاء رئيس

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# په سفرکې د سنتو نه کولو حکم

**پوښتنه**: کوم ۱۲ رکعته سنت چې په شباروز کې دفرضي لمانځه سره اداکيږي آيا دغه سنت په حال دسفرکي هم اداکيږي اوکه ترک کيږي اومشکوة شريف چې داحديث راوړی دی چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفرکې تردوه رکعته زيادت نه دی کړې نوهم دلته مرقات شرح دمشکوة ليکی چې سنت په سفرکې رخصت دي په حال دنزول کې به يې کوي اوپه حال دسيرکې يې ترک کول افضل دي نوآيا دازمونږ مذهب دی که نه دي اوله نزول څخه څنګه نزول اوله سيرڅخه څنګه سيرمراد دی اوڅه مقصود ځينی راوزي اوڅه غرض يې دی؟ والسلام

المستفتي: محمد يونس

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون المستعان**:

محترم مستفتي صاحب سنت رواتب په حال د سفر کې د سنت مؤکد والی څخه مطلق سنت ته راګرځي عزيمة او رخصة پکې راغلی دی چې په حالت دامن او قرار چې يوځای وخت تيروي کوي به يې اوپه حال د بيړې اوفرار چې رفتار کوي نه به يې کوي مګر په سنتو د سهار او ماښام کې کول راغلي دي ځکه چې ډير باعث په احاديثوکې راغلی دي او مراد له نزول څخه کښته کيدل دي لپاره د وخت تيريدلواو مراد له سيرڅخه تګ دی چې قطع د مسافې وکړي اودمشکوة اومرقاة حواله دامام هندواني رَحِمَهُ اللَّهُ قول دی اوزمونږ دمذهب قول دی او اعدل د اقوالو هم ورته ويل شوی دی.

عن ابن عمر قال سافرت مع النّبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وابي بكر و عمر وعثمان فكانوا يصلون الظهر والعصر ركعتين ركعتين لايصلون قبلها ولابعدها ....فهول محمول على حال العجلة والسيروحديث الباب عن ابن عمر محمول على حال القيام والاطمئنان اوالفعل محمول على العزيمة والترک على الرخصة ... لكن التاكيد لايبقى في السفر للراتبة مطلقًا غير سنة الفجر... فتبتقي الرواتب فى السفر سنة غيرمؤكدةولاتلحق بالتطوع المطلق كما زعمه ابن القيم (اعلاء السنن: ۳۲۹/۷)

ويأتي المسافربالسّنن ان كان فى حال امن وقرار وإلابان كان فى خوف و فرار لايأتي بها و هوالمختار (الدرالمختار) (قوله و هوالمختار) وقيل الافضل الترک ترخيصا وقيل الفعل تقربا وقال الهندواني الفعل حال النزول والترک حال السيروقيل يصلي سنة الفجرخاصة وقيل المغرب ايضًا بحر قال في شرح المنية والاعدل ماقاله الهندواني آهـ قلت والظاهران ما فى المتن هوهذا وان المراد بالأمن والقرار النزول و بالخوف و الفرار السير (ردالمحتار: ۵۸۵/۱)

قال الحنفية ويأتي المسافر بالسنن الرواتب ان كان فى حال امن و قرار اى نازلًالامستقرا والابأن كان فى حال خوف وفرار اى فى السير لايأتي بها وهوالمختار.

( الفقه الاسلامي: ۳۱۱/۲ ط دارالفكر ) و كذا فى ( الفتاوى الهندية: ۱۳۹/۱ ) و كذا فى ( حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح ص: ۲۳۰ ) و كذا فى ( فتاوى محمودية ۵۱۵/۷ ط جديد ) وكذا فى ( فتاوى دارالعلوم ديوبند مدلل و مكمل: ۴۵۳/۴ ) و كذا فى ( المرقاة : ۴۳۲/۳ )

## باب صلوٰة المريض

معذورکه پر اسفنج سجده وکړي؟

**پوښتنه** : مونږ معيوبين يو بعضی زمونږځخه سجده کولای شي چې پرکټ کښيني خو پر دغه کټ باندې د اسفنج کوربچې دي سجده زمونږ جواز لري که یا؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

داسفنج پرناليوسجده کول اولمونځ کول جائزدي په دې شرط چې پرتندي زور وکړي اوتندی قرار پيدا کړي اوکچېرې تندی قرار پيدانکړي يعنې هغه سخت والی اوحجم دمځکې ياکټ محسوس نکړي نوبياجوازنلري.

وان يكون السجود على ماتستقرعليه جبهة المصلي (الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۷۰۴ ط دارالفكر)

وكذاالحكم اذاسجد على التبن اوالقطن المحلو اوالصوف ونحوه ان لم تستقر جبهته بتمام التسفل لايجوزسجوده وكذا كل محشوكالفرش والوسائد (كبيري ص ۲۸۴) وهكذا فی (احسن الفتاوی ج ۳ ص ۴۳۲) و هكذا فی (خيرالفتاوی ج ۲ ص ۲۸۳)

# څوک چې پر سجده کولو قدرت و نلري

**پوښتنه** : مونږ معیوبین یو بعضی زمونږ څخه سجده نشي کولا ی هغه اشاره کوي؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

هغه څوک چې پرسجده قدرت ونلري د هغه لپاره اشاره کافي ده.

اذا عرض العذر المانع من لزوم السجود على الجبهة اوعلى الانف يؤمي المصلي حينئذٍ بالسجود ايماءً (كبيري ص **۲۸۳**) و هكذافی (خيرالفتاوی ج ۲ ص **۲۵۵**) وكذا لوعجز عن الركوع والسجود و قدر على القيام فالمستحب ان يصلي قاعدا بايماء (الفتاوی الهندية ج ۱ ص **۱۳۲**)

دسجدې اشاره به د رکوع تر اشارې کښته کوي: يصلّي قاعداً بايماء و يجعل السجود اخفض من الركوع (الفتاوی الهندية ج ۱ ص **۱۳۲**)

## باب سجود السهو

# په قنوت نازله کې د امام یا مقتدي په خطا سجده سهوه لازمیږي او کنه؟

**پوښتنه** : ولوړحضورته دعلوموخزانه دارالافتاء بزرگوار و مفتیانو زما د مینی ډک صمیمانه سلامونه ومنئ په دې لړکې خواهش کوم چې که چیرې امام په قنوت نازله کې خطا وزي سجده سهوه به کوي اوکه یا اوکه منفرد پکې خطاوزي سجده سهوه به کوي او کنه؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

امام چې خطا شي یعنی قنوت نه ووایي سجدې ته لاړ شي سجده د سهوې نه غواړي.

ولا يسنّ السجود لترک قنوت النوازل لأنه - کما قال الشافعية - ليس من ابعاض الصلاة (الفقه الاسلامي: ۸۳۸/۱ ط دار الفكر)

# باب فی سجدة التلاوة

## له راديو څخه سماع د سجده تلاوت څه حکم لري

**پوښتنه** : بخواندن آيت سجده ازطريق راديو سجده واجب ميشود يانی بينوا توجروا (به احترام برادرشما عبدالواحد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب والله الموفق للصواب** :

که په راډيو کې قاري د سجدی آيت تلاوت کړي نو آيا پر سامعينوبه د تلاوت سجده لازميږي کنه؟ خلاصة الجواب: ظاهره ده چې دا آله په دې حال او زمانه کې ايجاد شوې ده ددې حکم په صريحو الفاظو کې د فقهی په کتابونو يا په نصوصو د کتاب او سنت کې نه پيداکيږي، قواعدو او اصولو او نظائرو څخه ددې حکم معلوميږي د فقهاؤ په کلام کې ددی يو نظيردا مذکور دی چې صوت صدی يعنی اواز بازگشت چې د څه گنبدي يا کوهي څخه اوريدل کيږي دا آواز خپله د متکلم اصلي آوازنه دی بلکه د هغه عکس دی چې د يو غير ذی شعور شئ په ذريعه انسان ته رسيږي، ځکه فقهاؤ دا تلاوت نه دې گرزولی او د وجوب د سجدې لپاره تلاوت صحيحه شرط دی ځکه چې سجده تلاوت چې د باز گشت په ذريعه واوريدل شي پر اوريدونکي يې سجده نه‌لازميږي.

ولاتجب اذا سمعها من طير هو المختار... و ان سمعها من الصدى لاتجب عليه (الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۱۳۲ ط دارالاشاعة العربيه قندهار) لكن احتياط دادی: چې سجده تلاوت وكړي.

(آلاتِ جدیده کے شرعی احکام) ص ۱۷۷ - ۱۷۹ ط ادارة المعارف کراچی ) والله اعلم

مولوي نور محمد ثاقب
رئيس دارالافتاء مركزي
دولت اسلامي افغانستان

مولوي نداء محمد الحقاني

# له لوډ سپیکر څخه د اوریدلې سجدې حکم

**پوښتنه** : كه دلوډسپيكر څخه قرآن شريف ياسجده دتلاوت واوريدل شي سجده لازميږي اوكه څنگه؟

المستفتي: مولوي رفيع الله مخلص

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب** :

كه له لاوډسپيكر څخه سجده د تلاوت واوريدل شي راجح دا ده چې حكم په وجوب د سجدې بايد وركړل شي لكه په احسن الفتاوىٰ (۲۵/۴) كې چې وايي:

اس لئے لاوڈ اسپیکر سے سننے والوں پر بھی سجدہ تلاوت واجب ہوگا (۱)

(و هكذا فى كفايت المفتي: ۲۰۳/۹) و (آلاتِ جديده ص: ۲۹ ط ادارة المعارف كراچي) والله اعلم

(۱) ترجمه: ځكه له لوډسپيكر څخه اوريدونكيوباندى هم سجده تلاوت واجبيږي .

## باب صلوة المسافر

د سفر اقله موده او د عباراتو او د علماؤ د وينا تر مينځ تعارض.

**پوښتنه** : عرض دادی چې د سفر د اقلې مودې په ارتباط معلومات راكړئ ځكه چې ظاهر د عباراتو ګورو ښكاريږي چې تر درې شباروزه سفر بايد كم نه وي لكه چې په نورالايضاح كې راغلي دي چې مسافر كه تر درې شباروزو نيت و نلري نيت د سفر يې نه صحيح كيږي (ص: ۱۰۰)
اوپه مستخلص كې وائی چې اقله موده دسفر درې شباروزه ده.

(ص: ۲۵۲كذافی الهداية)

چې ظاهرته دعباراتوګورو معلوميږي چې اقله موده دسفر درې شباروزه ده اوشهرت ته دمسئلی چې ګوروعلماء كرام فيصله كوي چې قطع دمسافی راغله احكام دسفر مغير كيږي مثلا چې يوڅوک قصد وكړي چې زه نن كوئټه ته ځم په قصد كې لري چې صبا يابل صبا راځم دغه دسفراحكام مغيركوي كه يا؟
همدارنګه يوسړی موټر سهارسنګين ته بيايي وشپې ته بيرته راځي لمونځ به سفريا نه كوي كه يا؟
والسلام

(المستفتي: عبدالقيوم طالب العلم)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب:**

محترم مستفتي صاحب اقله موده د سفر پر مذهب د احنافو قطع د مسافی د درو شباروزو ده او جواب د تعارض په مابين د ظاهر عباراتو او فيصلې د علماء کرامو دادی چې مراد د درو شباروزو څخه چې د ظاهر دعباراتو څخه معلومېږي قطع د مسافې د درو شباروزو ده نو مخالفت نه راغی په مابين د ظاهر عباراتو او د فيصلې د علماء کرامو مطلب دادی چې په سفرکې قصد غواړي چې مابين د مسافر او د هغه ځای چې ده يې قصد کړی وي.

مسافه د درو شباروزو به وي او که مسافر قطع دمسافې دسفر په يوه يا دوې ورځو کې وکړي هم به لمونځ قصر کوي او که مسافر قصد د سفر نوي کړی چې د ټوله دنيا سفر وکړي لا به هم قصر نکوي ، په سفر کې قصد د سفر او شروع په سفر دواړه غواړي .

مسئله: فقال الحنفيّة: اقل ماتقتصر فيه الصلاة مسيرة ثلاثة ايام ولياليها من اقصر ايام السنة فی البلاد المعتدله بسير الابل ومشی الاقدام ولا يشترط سفركل يوم الی الليل بل ان يسافر فی كل يوم منها من الصباح الی الزوال (الظهر) فالمعتبر هو السيرالوسط مع الاستراحات العادية فلو اسرع و قطع تلک المسافة فی اقل من ذلک كمافی وسائل المواصلات الحديثة جاز له القصر فاذا قصدالانسان موضعا بينه و بين مقصده مسيره ثلاثة ايام جازله القصر فان لم يقصد موضعا وطاف الدنيا من غير قصد الی قطع مسيرة ثلاثة ايام لايترخص بالقصر .

(الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۲۸۲ ط دارالفکر)

السفر الذی یتغیربه الاحکام ان یقصد الانسان مسیرة ثلاثة ایام ولیالیهاالخ (الهدایة ج ۱ ص ۱۴۸)

القصد و هوالارادة الحادثة لانه لوطاف جمیع الدنیا بلا قصد السفر لا یصیر مسافراً والقصد وحده غیر معتبر و الفعل وحده کذلک وانما العبرة للمجموع (الکفایة علی هامش فتح القدیر ج ۲ ص ۱)

وفی السراج الوهاج اذا کانت المسافة ثلاثة ایام بالسیرالمعتاد فسار الیها علی البرید سیراً مسرعا اوعلی الفرس جریا حثیثا فوصل فی یومین قصر آهـ (البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۹) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۳۹)

## د اول خط جنګي طالبان به قصر کوي که پوره لمونځ؟

**پوښتنه**: د دارالافتاء و محترمو علماء کرامو ته السلام علیکم و رحمة الله و برکاته وبعد: د جنګ د اول خط طلباء کرام چې په حالت د قرار او فرار کې دي که دوی نیت د اقامت وکړي آیا د دوئ دغه نیت صحت لري او کنه؟ دوې به د لمانځه اتمام کوي او که قصر موږته صحیح معلوما ت راکړئ.

(د چهارآسیاب د اول خط دمسئولینواوطالبانوله طرفه)

به مقام محترم ریاست دارالافتـاء تحریک اسلامي

د چهارآسیاب زړورو د سنګر غښتلیو طالبانو کرامو په عاجله توګه داسی فتویٰ غوښتی ده څرنګه چې موږ په سنګر کې قرار لرو نو بعضی وایې چې خپل لمونځونه په مسافرانه صورت اداء کړئ او بعضې وایي چې د مقیم په توګه ئی اداء کړئ نوموږ ته په دی باره کې شرعي فتویٰ راکړئ چې خپل لمونځونه څرنګه وکړو، دادی موضوع موتاسي ته راجع کړه چې د ګرانو طالبانو د لمونځو په باره کې ژر تر ژره فتویٰ راکړئ والسلام علیکم

(مولوي محمد اعظم عضو دیوان امنیت عامه تمیز)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب**:

هغه ځایونه چې اول خط بلل کیږي هغه ځایونه داقامت نه دی که طالبان داقامت یعنی د (۱۵) شپونیت وکړي دغه نیت ئې صحت نه لري، لمونځ به قصرکوي که په حال دجنګ کې وي اوکه په حال دمحاصرې دکلي یا قلعه کې وي دکلي له داخیلیدو وروسته اوپه مځکه دکفرکې وي اوکه په مځکه داسلام کې وي دباغیانوسره اودامحاصره په مصرکې وي اوکه په غیرمصرکې ځکه حال ددوئ مخالف ده دقصد اوعزم د دوې سره حال ددوی کله پرمختګ وي کله پرشاتګ وي او کله پرځای پاته کیدل وي دا حکم د لاندی ذکر کېدونکو کتابونو څخه معلوم دي.

حاصرقوم مدینة فی دارالحرب او اهل البغی فی دارالاسلام فی غیرمصر ونووالاقامة خمسة عشر یوماً قصروا لان حالهم متردد بین قرار و فرار فلا

تصح نيتهم و ان نزلوا فی بيوتهم كذا فی التمرتاشي (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۴۰ ط: دارالاشاعة العربية قندهار)

فنقول: انما تصح نية الاقامة اذاكان الموضع الذي نوى الاقامة فيه محلاً للاقامة حتى ان اهل العسكر اذا نوو الاقامة فی دارالحرب خمسة عشر يومًا اواكثر وهم محاصرون اهل مدينة لاتصح نيتهم وفی المضمرات : وقال زفر رَحِمَهُ ٱللَّهُ ان كانت القوة والشوكة للغزاة صحت نية الاقامة منهم والافلا وقال ابويوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ان كانوا نزلوا فی الابنية صحت وان كانوا فی الخيام لم تصح والاصح ماقلنا... اهل البغی اذا امتنعوا فی دار البغی وحاصر ناهم لا تصح منا الاقامة ... الخ

(الفتاویٰ التاتارخانيه ج ۲ص ۷ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية )

(قوله واذا دخل العسكر ارض الحرب فنووا الاقامة خمسة عشر يومًا لم يتموا) ظاهر هذا ولوكانت الشوكة لهم لان حالهم مبطل عزيمتهم لانهم بين ان يغلبوا فيقروا و بين ان يُغلبوا فيفروا فلم يكن دار اقامة كالمفازة الخ

(الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۱۰۳ ط مكتبه حقّانيه مُلتان )

اګر چې په فتاویٰ هنديه کې قيد د ( غيرمصر ) ذکر شو خو اوس به موږ هغه کتابونه ذکر کړو چې دا قيد نه معتبر وي.

په حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۱ ص ۳۳۳ ط المكتبة العربية ) کې يې ليکلي دي: قال فی الشرنبلالية معز يا للعناية التعليل يدل على ان قوله فی غير المصرليس بقيد حتی لونزلوا مدينة اهل البغی وحاصروهم فی الحصن لم تصح نيتهم ايضًا لان مدينتهم كالمفازة عندحصول المقصود لايقيمون فيها... الخ

اوپه رد المحتار ج ۱ ص ۵۸۲ ط رشيديه کوئټه) کې ليکلي دي:

ثم اعلم ان التقييد بغير المصر و قع فی الجامع الصغير والهداية والكنز و غير ها و هو يوهم صحة نية الاقامة و لو نزلوا فی المصر و حاصروا حصناً فيه قال فی المعراج لان اطلاق ما ذكر فی المبسوط يدل على انه ليس كذلك و اطال فی بيانه وكذا نص فی العناية على انه ليس بقيد كما يقتضيه التعليل الآتي و ذكر عبارته الشرنبلالي و مشى عليه فی متنه (قوله للتردد بين القرار والفرار) الاول بالقاف والثاني بالفاء ای فكانت حالتهم تنافي عزيمتهم والاطلاق شامل لما اذا كانت الشوكة لعسكرنا لاحتمال وصول المدد للعدو او وجود مكيدة كما فی الفتح الخ.

اوپه منحة الخالق على هامش البحر الرائق ج ۲ ص ۱۳۲ ط مكتبه ماجديه کوئټه) کې ليکلي دي :

(قول المصنف او حاصروا اهل البغی فی دارنا فی غيره) ای غير المصر ظاهره انه لوحاصروهم فی المصر لا يقصرون و وقع التقييد به ايضاً فی الجامع الصغير و الهداية والدرر و مواهب الرحمن و عبارة الهداية وكذلك اذا حاصروا اهل البغی فی دارالاسلام فی غير مصر او حاصروهم فی البحر لان حالهم مبطل عزيمتهم آه و قد صرح بهذا المفهوم العيني فی شرح هذا المختصر بقوله واما اذا حاصروهم فی مصر من امصار المسلمين تصح نيتهم للا قامة بلا خلاف آه و صرح فی النهر ايضاً بانهم يتمون ولم يتعرض له الزيلعي و المقدسي كالمؤلف لكن قال فی العناية : قوله لان حالهم مبطل عزيمتهم يشير الى ان المحل وان كان صالحًا لكن ثمه مانعاً اخر و هو انهم انما يقيمون لغرض فاذا حصل انزعجوا فلاتكون

نیتهم مستقرة و هذا لتعليل يدل على ان قوله فی غیرمصر وقوله فی البحر ليس بقيد حتى لونزلوا مدينة اهل البغی و حاصروهم فی الحصن لم تصح نيتهم ايضًا لان مدينتهم كالمفازة عند حصول المقصود لا يقيمون فيها آه وفی معراج الدراية ثم التقييد بقوله فی غیرمصر وفی البحر یوهم انهم لونزلوا مدينة اهل البغی و حاصروهم فی الحصن تصح نية الاقامة لكن اطلاق ما ذكر فی المبسوط يدل على انه ليس كذلک فانه قال وكذا اذا حاربوا اهل البغی فی دار الاسلام اما التعليل فيشمل المفازة و المدينة الا انه قيد فی الجامع الصغير بغير المصر و بالبحر لانه فی عدم الجواز اَبْعَدُ عن توهم الجواز فی غيرالمصر اوالبحر ثم بسط الكلام فی التوجيه فراجعه وقد اطلقه فی السراج والذخيرة والحاصل ان المفهوم من عبارات المتون كالهداية ان عسكرنا لوحاصر اهل البغی و العسكر داخل المصر من ديار الاسلام تصح نيتهم الاقامة والمفهوم من اطلاق المبسوط والسراج والذخيرة وهو مقتضی التعليل انها لاتصح وظاهر كلام العناية والمعراج اختياره وبه جزم الشرنبلالي فی نورالايضاح.

والله تعالی اعلم

مولوي محمد اخلاص (برکتي)
مولوي عبدالحکيم عفی الله عنه
مولوي عبدالله مشهوربه خطيب
ولايت اروزگان
مولوي محمدزمـــان شاه
مولوي احمــد (نوري)

مولوي نورمحمد (ثاقب)
سرپرست دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

## مجاهدين طالبان به په خپلو او طاقونو کې قصر کوي که اتمام؟

**پوښتنه** : زمونږ اوطاق په قندهارکې دي دتيري او يا د جنګ د خواڅخه چې راسو لمونځ به پوره کوو او که سفر يا نه او مونږ د ملاصاحب په نيت سره مقيم ګرځوکه يا او په سفر د امير مونږ مقيم ګرځوکه مسافراو که امير د جنګ معتبر دی نو اوس په قندهارکې يعنی په اوطاق کې زمونږ بستری سته او مونږ نيت د اقامت نوي کړی مونږ مقيم ګرځو که مسافر نو امير مقيم دی مونږ څنګه لمونځ وکړو او بستری ته اعتبارسته که يا ؟
هيله کوو چې پوره معلومات راکړئ.

والسلام

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الرحمن** :

محترم مستفتي صاحب: لشکر لره په باره د اقامت او د سفرکې اميرد جنګ معتبر دی نه بل امير نوتاسی که په تيري کې يا په اوطاق د قندهارکې او ياپه اوطاق د کابل کې ځانونه امير د جنګ ته تسليم کړي وي او امير د جنګ تاسی ته خوراکه درکوي نو اقامت او سفر د امير ترنيته پوری تعلق لري تاسی ځينی خلاص ياست او که تاسی بې له اميره جنګ ته ځي او خوراکه مو د خپله ماله وي بيا نيت د سفر او اقامت تر تاسی له کوره بيا تر کوره تعلق لري او د بِسترو د وجود سره اقامت ندی لازم بلکه د پنځلس شپو نيت که چا په ښارکې وکړ يا په کلي يا په خونه کې که بِستره وه که نه وه

مقيم دى اوكه پنځلس شپې نيت يې نه وي كړى بيا مسافردى كه څه هم بِسترى ډيرى هلته موجود وي.

وكل من كان تبعًا لغيره يلزمه طاعته يصير مقيما باقامته ومسافرا بنيته وخروجه الى السفركذافى محيط السرخسي ... الاصل ان من يمكنه الاقامة باختياره يصير مقيما بنية نفسه ومن لا يمكنه الاقامة باختياره لايصير مقيما بنية نفسه حتى ان المرأة اذا كانت مع زوجها في السفر والرقيق مع مولاه والتلميذ مع استاذه والاجير مع مستأجره والجندي مع اميره فهؤلاء لايصيرون مقيمين بنية انفسهم فى ظاهر الرواية كذا فى المحيط ... و الجندى انما يكون تبعا للامير اذا كان يرزق من الامير كذا فى التبيين اما اذا كانت ارزاقهم من اموال انفسهم فالعبرة لنيتهم كذا فى الظهيرية آهـ (الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٤١) و اصل هذا ان من كان موليًا عليه فالنية فى السفر والاقامة نية من يلى عليه كالمرأة مع زوجها والعبد مع مولاه والجندي مع الامير. (خلاصة الفتاوى ج ١ ص ٢٠٣)

ونيةالاقامة والسفر تعتبر من الاصل دون التبع كالعبد والمرأة والجندي آهـ (مجمع الانهر ج ١ ص ١٦٤) و يعتبرنية الاقامة والسفرمن الاصل دون التبع .(كشف الاستار ج ١ ص ٨١) و هكذا فى (بدائع الصنائع ج ١ ص ٩٤-١٠٠) و (تبيين الحقائق ج ١ ص ٥٢١ ط ايج - ايم - سعيد) و(رد المحتار ج ١ ص ٥٨٧) و (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ١ ص ٣٣٢)

## د قُروي امام امامت د اهل اخبیه لپاره جائز دی کنه؟

**پوښتنه** : بعضی ملایان قروي امامت داهل اخبیهؤ په مفازاتوکې کوي دا صحت لري اوکنه اومفازاة کوم ځای ته ویل کیږي کوم حدلري اوکنه؟

(المستفتي ملاشاه ولي ـ له هلمندولایته)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

د قروي امام امامت د اهل اخبیه لپاره صحیح دی ځکه صحت د امامت پر قروي او غیر قروي پوری اړه نه لري لکن که اهل اخبیه نیت د اقامت وکړي په داسې مفازاة کې چې اوبه او واښه دومره کافي کیږي چې مدة داقامت وي نومقیمین ګرزي اوقروي مسافردی که یې نیت داقامت کړی وي هم اعتبارنه لري، نودغه قروي امام به قصرکوي اواهل اخبیه مقتدیان به ئې اتمام کوي: په الدرالمختار علی هامش ردالمحتارج ۱ ص **۵۸۳** ط رشیدیه) کې راغلی دي: (بخلاف اهل الاخبیة) کعرب وترکمان (نووها) فی المفازة فانها تصح (فی الاصح) وبه یفتی اذا کان عندهم من الماء والکلاء مایکفیهم مدتها لان الاقامة اصل الااذا قصدوا موضعًا بینهما مدة السفر فیقصرون ان نووا سفراً والالاولونوی غیرهم الاقامة معهم لم یصح فی الاصح

په البحر الرائق ج ۲ ص **۱۳۴** ط ماجدیه) کې راغلی دي :

وقید باهل الاخبیة لان غیرهم من المسافرین لو نوی الاقامة معهم فعن ابي یوسف رَحِمَهُ اللَّهُ روایتان وعندابي حنیفة رَحِمَهُ اللَّهُ لایصیرون مقیمین وهوالصحیح کذا فی البدائع.

په فتح القدیرج ۲ ص ۱۲ ط مکتبه رشیدیه کویټه کې راغلي دي :
اما من ليس من اهل البادية بل هو مسافر فلايصير مقيمًا بنية الاقامة فى مرعى اوجزيرة.
مفازة هغه ځای ته ويل کيږي چې ګمان د هلاکت پکې وي يعنی له ابادی څخه دومره ليری وي چې ګمان د چولاوه کيد لوپکې کيږي.
په حاشية الطحطاوي على الدرالمختارج ۱ ص ۳۳۳ ط المكتبة العربية کې راغلي دي : (قوله فى المفازة ) هى الموضع المهلك مأخوذ من فوّزبالتشديد اذا مات لانها مظنة الموت وقيل من فاز اذا نجا وسلم سميت به تفاؤلاًبالسلامة. والله اعلم بالصواب

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي محمود (میوندوال)
مولوي ندامحمد (الحقاني)

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

## د وطني امام د اقامت نيت د کوچيانو سره صحيح کيږي کنه؟

**پوښتنه** : وحضورته دمحترم رئيس صاحب دار الافتاء اوهمکارانوته

السلام عليکم .

بعداً: دکوچيانو د اقامت نيت خو په دښت او صحراء کې هم صحيح کيږي اما که امام ئې وطني سړی وي ددغه امام وطني نيت د دغوکوچيانوسره په دښت کې صحيح کيږي کنه؟

(المستفتي ملا احمدشاه دمرکزي محکمی محرر)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک العلی الاعلیٰ** :

محترم مستفتي صاحب وطني اوقروي سړی چې امام ودريږي د کوچيانو سره په يوداسې دښت او صحرا کې چې د هغو نيت د اقامت صحيح کيږي په هغه صحرا کې ددغه قروي او وطني امام نيت د اقامت ورسره نه صحيح کيږي بلکه دی مسافربلل کيږي که په مسافه دسفرکې ؤ په الدرالمختار بهامش ردالمحتار-ج ۱ ص -۵۸۳- ط رشيديه کې راغلي دي: ( بخلاف اهل الاخبية ) کعرب وترکمان (نووها) فی المفازة فانها تصح (فی الاصح) وبه يفتی اذا کان عندهم من الماء والکلاء مايکفيهم مدتها لان الاقامة اصل الا اذاقصدوا موضعًا بينهما مدة السفر فيقصرون ان نووا سفراً والالاولونوی غيرهم الاقامة معهم لم يصح فی الاصح.

په البحرالرائق (ج ۲/ص ۱۳۴) کې راغلي دي :

وقيد باهل الاخبية لان غيرهم من المسافرين لونوى الاقامة معهم فعن ابي يوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ روايتان وعند ابي حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ لا يصيرون مقيمين وهوالصحيح كذا فی البدائع.

په فتح القدير ج ۲ ص ۱۲ ط مكتبه رشيديه كې راغلې دي:

اما من ليس من اهل البادية بل هومسافرفلايصيرمقيمًا بنية الاقامة فی مرعی اوجزيرة.

والله اعلم.

مولوي احمد نوري

مولوي محمود (ميوندوال)

مولوي نورمحمد (ثاقب)

د افغانستان داسلامي امارت

د مركزي دارالافتاء رئيس

# باب صلوة الجُمعة

## په کوم مسجدکې د جمعې لمونځ کېدای شي؟

**پوښتنه** : دجمعې لمونځ په کومومساجدوکې کیدای شي په کومو شرائطو مشروط دی اوله ښارڅخه که فاصله وي لکه هوايې میدان حکم ئی څه دي؟
(دارشاد او اوقافورياست)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :

احکام اوشرائط دجمعې عاموکتابونود فقهی ذکر کړی دی او اختلاف پکې شته اود فاصلې د مقدار لپاره ټاکلی اندازه نشته خو هوائي میدان یا نور فوجي یا غیر فوجي ځایونه چې د ښار د ضروریاتو لپاره جوړشوې وي هغه حکم د فناء د مصر لري جمعه پکې جائزه ده خصوصًا که په امر د امیرالمؤمنین یو مسجد پکې جوړ شوی وي چې دا بعینه امر دی په جمعه سره.

فناء مصر وہ مقام ہے جو شہر کی ضروریات کے لئے متعین ہو مثلاً قبرستان ' کوڑا ڈالنے یا گھوڑ دوڑ یا جنگی مشق یا فوجی اجتماع وغیرہ کیلئے میدان، ہوائی اڈہ اور ریلوے اسٹیشن وغیرہ [1]

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳)

---

[1] ژباړه: فناء دمصرهغه ځای دی کوم چې دښاردا‌ړتیاوولپاره ټاکل شوی وي مثلاً هدیره، دانبار اچولوځای یا دآسانو زغلولوځای یادجنګي مشق، یادفوجي غونډی اونورولپاره میدان، هوايي اډه او ریل ګاډي استیشن اونور.

في فتاوى الديناري: اذا بنى مسجد فى الرستاق بامر الامام فهو امر بالجمعة اتفاقاً على ماقال السرخسي آه فافهم والرستاق القرى كما في القاموس.

(ردالمحتار: ج ۱ ص ۵۹۰ ط رشيديه)          والله اعلم.

مولوي احمد نوري
مولوي محمود ميوندوال
مولوي نداء محمد الحقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس دار الافتاء مركزي
دولت اسلامي افغانستان

## په دوو نژدی جامع مسجدونو کې د جُمعې لمونځ څه حکم لري؟

**پوښتنه** : پخوانی مسجد جامع ؤ په بالا کرزکی چې د جُمعی لمونځ پکې کیدی بیا هغه جامع مسجدخراب سو، اوس هغه ته نژدی مسجد چې هغه هم پخوا خراب سوی ؤ اوس جوړ سوی دی دجُمعې لمونځ پکې شروع سویدی ایا اوس دغه د جمعې لمونځ صحت لري کنه؟

(المستفتي معلم عبدالله)

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

مسئله داده : چې دوه مسجدان چې هغه هم سره متصل وي او دواړه نژدی سره واقع وي نو د جُمعې لمونځ پکې صحیح دی.

(وتؤدی فی مصر واحد بمواضع کثیرة) مطلقًا علی المذاهب وعلیه الفتوی قوله (مطلقاً) ای سواء کان المصر کبیراً اولا وسواء فصل بین جانبیه نهر کبیر کبغداداولا وسواء قطع الجسر اوبقی متصلاً وسواء کان التعدد فی مسجدین اواکثر هکذا یُفاد من الفتح و مقتضاه انه لایلزم ان یکون التعدد بقدر الحاجة کمایدل علیه کلام السرخسي الاتي (قوله علی المذهب) فقد ذکرالامام السرخسي ان الصحیح من مذهب ابي حنیفة جواز اقامتها في مصر واحد في مسجدین و اکثر و به نأخذ لاطلاق لاجمعة الافي مصر شرط المصر فقط و بما ذکرنا اندفع ما في البدائع من ان ظاهرالروایة جوازها في

موضعين لا في اكثر وعليه الاعتماد اهـ فان المذهب الجواز مطلقًا بحر (الدرالمختار و ردالمحتار-ج ۱ص-**۵۹۵** و **۵۹۲** ط رشيديه)

وتجوز الجمعة فی موضعين فی مصر واحدفی قول ابي حنيفة وابي يوسف رَحِمَهَاٱللَّهُ (الفتاوى الخانية بهامش الفتاوى الهندية ج ۱ ص **۱۷۲**)

وهكذا فی فتاوى دارالعلوم ديوبندج **۵** ص **۵۰**)

مولوي احمد نوري عفی

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د مرکزي دارالافتاء رئيس

## له یخوا څخه جاري د جُمعې لمونځ نوې اجازه غواړي اوکنه؟

**پوښتنه** : وحضورته دکندهار ولایت د دارالافتاء ریاست محترم مقام ته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه! زمونږ دترین کوټ ولایت په مرکزکې مسجد جامع دمرحوم حاجي وکیل صالح محمد خان په نامه سته چې پیش امام ئې حاجي مولوي فیض الله صاحب دی څلویښت کاله ترمخه داخترمبارک لمونځ اودجمعې مبارکی لمونځ مو پکې اداء کوئ بیا ترنن ورځې پورې یولمونځ ندی پکې قضاء سوی نوستاسودمحترم حضورڅخه معلومات غواړوچې دغه مسجدجامع نوې اجازې ته ضرورت لري که یا په دې هکله ستاسو محترمو دمعلومات په هیله. والسلام

ومن الله التوفیق.

(المستفتي ملا محمدولي اخوند)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

محترم مستفتي صاحب ! کچېرې دغه رنګه واقعه وي چې د اول څخه بیا تراوسه پورې چې په دغه ځای کې جُمعه قائمه شوې ده سره د شرائطو خپلو جُمعه نه وي معطل شوي نو دا وس څخه نوی اجازه دامام یا د والي او یا د قاضي څخه نه غواړي هغه اول وار چې اجازه ورکړ شوي ده هغه صحیح ده او دا عتبار وړ ده.

انما يشترط الاذن لاقامتها عندبناء المسجد ثم لايشترط بعد ذلک آهـ (قوله انما يشترط الاذن الخ) حاصله ان الاذن من السلطان انما يشترط فی اول مدة فاذا اذن باقامتها لشخص كان له ان يأذن لغيره وذلک الغير له ان يأذن لاخر وهلم جراً. (الدرالمختارمع ردالمحتارج ۱ ص **۵۹۲**) و هكذا فی البحر الرائق ج ۲ ص ۱۴۴)

وهكذافی حاشية الطحطاوي على الدرالمختارج ۱ ص ۳۴۰)

## په هوائي ډګر کې د جُمعې او اخترانو لمونځ جائز دی کنه؟

**پوښتنه**: په هوايي ميدان کې د قندهار لمونځ دجمعې او اختر روا دې کنه؟ اجيبوا توجروا ، جزاکم الله تعالی خيرالجزاء.

(المستفتي ملا اختر محمد (منصور)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الفتویٰ بعون الملک العلی الاعلیٰ**:

کله چې يوشرط له شرطونو څخه د لمانځه د جمعی (مصر) يعنی ښار او يافناء د ښار ؤ يعنې شاوخوا د ښار چې جوړه کړای شوي وي د ښار د ګټولپاره نوپه همدې اساس هوائي ميدان د قندهار فناء د ښاربلل کيږي لمونځ دجمعی اواختر پکې روا دی دښار دفناء دليريوالي اونژدېوالی هيڅ فرق نه راځي، لکه په الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ج ۱ ص **۵۹۱**) کې ليکل شوي دي:

( اوفنائه ) بكسر الفاء ( وهوما ) حوله ( اتصل به ) اولاكما حرره ابن الكمال وغيره ( لاجل مصالحه ) كدفن الموتى وركض الخيل والمختار للفتوىٰ تقديره بفرسخ ذكره الولولجي.

او په باره د تقدير د فناء كې په فرسخ و يا غيره سره صاحب د ردالمحتار په همدغه صفحه كې ليكلي دي: چې خلاصه د هغه عدم اعتبار د تقدير او تحديد دی په باره د فناء كې:

اعلم ان بعض المحققين اهل الترجيح اطلق الفناء عن تقديره بمسافة وكذا محرر المذهب الامام محمد وبعضهم قدره بها وجملة اقوالهم فی تقديره ثمانية اقوال اوتسعة غلوة ميل ميلان ثلاثة فرسخ فرسخان ثلاثة سماع الصوت سماع الاذان و التعريف احسن من التحديد لانه لا يوجد ذلک في كل مصر وانما هو بحسب كبر المصر وصغره الخ

وهكذا په احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳ كې په عنوان د سوال او جواب كې ذكرشوي دي :

فناء مصر وہ مقام ہے جو شہر کی ضروریات کے لئے متعین ہو مثلاً قبرستان کوڑا اڈالنے یا گھوڑ دوڑ یا جنگی مشق یا فوجی اجتماع وغیرہ کے لئے میدان، ہوائی اڈہ اور ریلوے اسٹیشن وغیرہ۔

فناء کا شہر سے اتصال ضروری نہیں اور نہ ہی اس کی مسافت اور وسعت کی کوئی تحدید ہے بلکہ شہر کی حیثیت کے مطابق اس کی فناء مختلف ہو گی (۱)

---

(۱) ژباړه: فناء دمصر هغه ځای دی کوم چې دښار داړتیاوو لپاره ټاکل شوی وي، مثلاً هدیره، دانبار اچولو ځای ، یا د آسانو زغلولو ځای یا د جنګي مشق ، یا د فوجي غونډی او نورو لپاره میدان، هوائي اډه او ریل ګاډي استیشن او نور، د فناء اتصال له ښار سره ضروري نه دی اونه د دې د مسافې او وسعت (فراخي) کوم تحدید شته، بلکه د ښارد حیثیت سره سم به د هغه فناء مختلف وي.

اوبل علاوه پردغه ذکرشوي بیان دا خبره هم ده کوم مسجدچې میدان هوایي کې جوړدی غالباً په امر دامیرالمؤمنین سره به وي اوکله چې په امردامام سره مسجدپه یوکلي کې جوړشي دغه امردی په جمعی سره لکه په ردالمحتار-ج ۱ ص **۵۹۰ – ۵۹۱** کې لیکلي شوي دي .

وهذا اذالم یتصل به حکم فان فی فتاوی الدیناري اذا بنی مسجد فی الرستاق بامرالامام فهو امربالجمعة اتفاقًا علی ماقال السرخسي آهـ فافهم والرستاق القری کمافی القاموس. والله اعلم بالصواب

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي احمد نوري
مولوي ندا محمد الحقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئیس دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

## د دامان په ولسوالۍ کې د جُمعې لمونځ څنګه دی؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : د دامان په ولسوالۍ کی دجُمعی لمونځ جائزدی کنه په نوموړې ولسوالۍ کې یوه دیني مدرسه سته چې تقریبًا ۱۵۰ نفره طالبان درس وایی او ۲۰ دکانه لري او د نساجي فابریکې کارکوونکي هم په داغه ځای ارتباط لري؟

(حاجی مولوي غلام حبیب ریاست امربالمعروف ونهی عن المنکر)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

د ولسوالۍ په مرکز کې چې ولسوال او قاضي وجود ولري نو د جُمعی لمونځ کول پکې جائز دي ولی چې هرهغه ځای چې هلته د حکومت نائب یا قاضي وي نو هغه حکم د مصر لري.

والمصرعندابی حنیفة کل موضع ای بلد له مفتی یرجع الیه فی الحوادث وامیر... وقاضی ... فی ظاهر الروایة قاله قاضیخان وعلیه الاعتماد (مراقی الفلاح شرح نورالایضاح) قوله عندابی حنیفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ صرح به فی التحفة عنه ورواه الحسن عنه فی کتاب الصلاة کذافی غایة البیان وبه اخذ ابویُوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ وهوظاهر المذهب کمافي الهدایة واختاره الکرخي والقدوری وفی العنایة هوظاهر الروایة وعلیه اکثرالفقهاء (حاشیة

الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۴۱۹) و هکذا في (شرح الميداني علی القدوری المسمی باللباب فی شرح الکتاب ج ۱ ص ۱۱۳)
ثم اختلفوا فی تفسیر المصر اختلافا کثیرا... والحد الصحیح ما اختاره صاحب الهدایة انه الذی له امیر وقاضی ینفذ الاحکام ویقیم الحدود... وعن محمد ان کل موضع مصره الامام فهو مصر حتی انه لوبعث الی قریة نائبا لاقامة الحدود والقصاص تصیر مصرا فاذا عزله تلحق بالقریٰ.
(غنیة المستملی شرح منیة المصلی (کبیري) ص ۵۱۱ و ۵۱۲)
والله تعالی اعلم.

## د ترینکوټ د ګزاب په ولسوالۍ کې د جمعې لمونځ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**پوښتنه:** محترم ریاست د دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.
امابعد: مونږ د ترینکوټ ولایت د ګزاب په ولسوالۍ کې یو محراب مسجد جامع په امر د امیرالمؤمنین او په مصرف د هغه جوړکړی ده دغه جامع د مرکزی جامع څه تقریبًا ۲۰ دقیقې په پیاده مزل لېرې ده او په مابین کې یې کورونه مسلسل جوړ دي او د داغه جامع شاوخوا تقریبًا ۸۰کورونه پراته دي اوڅلور نورې منطقې ورته نزدې دي که هغه خلق هم ورته راجمع سي نوتقریبًا ۱۰۰۰نفره کیږي نو آیا په دغه نوې جامع کې دجمعې لمونځ صحت لري کنه؟

المستفتي (ملا سعدالله)

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

په دغه جامع کې د جمعی لمونځ بالکل صحت لري ځکه چې أمر امام په جوړولو د جامع سره امردی په جمعی سره اوبل داچې دا جامع په ولسوالۍ کې ده اوپه ولسوالۍ کې قاضی او ولسوال اونور مسئولین د حکومت موجود وي نو په حکم کې د ښار ګرځی نو که امیرالمؤمنین صراحةً امر وکړي په اقامة د جمعی نو بې شک او بې شبهې جُمعه جائزه ده.

لوصلوا فی القُریٰ لزمهم اداء الظهر وهذا اذا لم يتصل به حكم فان فی فتاویٰ الدیناری اذا بنی مسجد فی الرستاق بأمرالامام فهو امر بالجمعة اتفاقًا علی ماقال السرخسی اه فافهم والرستاق القری کما فی القاموس (ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۰)

ان مجرد امرالسلطان اوالقاضی ببناء المسجد و ادائها فیه حکم رافع للخلاف بلادعوی وحادثة وفی قضاء الاشباه امرالقاضی حکم.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۱)

قال ابوالقاسم هذا بلا خلاف اذا اذن الوالي او القاضي ببناء المسجد الجامع واداء الجُمعة لان هذا مجتهد فيه فاذا اتصل به الحكم صار مجمعاً علیه. (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۱ ص ۳۳۹)

والمصرعندابی حنیفة کل موضع ای بلدله مفتی یرجع الیه فی الحوادث وامیر..... و قاضی.....فی ظاهرالروایة قاله قاضیخان وعلیه الاعتماد.

(مراقی الفلاح شرح نورالایضاح)

قوله عند ابی حنیفة صرح به فی التحفة عنه و رواه الحسن عنه في كتاب الصلاة كذا في غاية البيان وبه اخذ ابو يوسف وهو ظاهر المذهب كما فی الهداية واختاره الكرخی والقدوری وفی العناية هوظاهر الرواية وعليه اكثر الفقهاء (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص ۴۱۹) و هكذا فی (شرح الميدانی علی القدوری المسمی باللّباب فی شرح الكتاب ج ۱ ص ۱۱۳)

ثم اختلفوا فی تفسيرالمصر اختلافا كثيرا . . . والحدالصحيح ما اختاره صاحب الهداية انه الذی له امير وقاض ينفذ الاحكام ويقيم الحدود . . . وعن محمد ان كل موضع مصره الامام فهومصر حتی انه لوبعث الی قرية نائبا لا قامة الحدود والقصاص تصير مصرا فاذا عزله تلحق بالقری (غنية المستملی شرح منية المصلی (كبيري) ص ۵۱۱ و ۵۱۲)

والله تعالی اعلم

## د هلمند په باغران کې د جمعې لمونځ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه**: د دارالافتاء محترمو علماء کراموته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترما! زه دلاندې مسئلې په هکله استفتاء کوم زمونږ ځای چې ګردی باغران دی په داسی شکل موقعیت دی چې دولسوالۍ دمرکزڅه تقریبًا ۳ساعته لیری دی اوخپل بازار لري اوپه بازار کې ټول ضروریات لکه خیاطی آهنګري اوداسی نور ټوله موجود دي اویوجامع هلته موجود ده چې مشرق اومغرب ته تقریبًا د ۱۵ دقیقوپه اندازه اوشمال اوجنوب ته ۲۵ دقیقو

په دې داخل کې تقريبًا ۷۰۰۰ نفوس موجود دی او په شمار او حساب سره ۴۰مسجده موجود دی نوايا په دغه جامع کی دجمعی لمونځ صحت لري او که څنګه؟

**جواب**: محترم مستفتي صاحب تاسوچې دګردی باغران په هکله استفتاء کړی ده او ويلي مو دي چې ۴۰مسجدونه او خپل بازار اوتقريبًا ۷۰۰۰ نفوس لري نودا غټ کلی بلل کيږي نوکه تاسوته حکومت اجازه وکړي دجمعی دلمانځه نواتفاقًا بغير له خلافه د جمعی لمونځ صحيح کيږي اوفرض کيږي.

وفی القهستانی اذن الحاکم ببناء الجامع فی الرستاق اذن بالجمعة اتفاقا علی ماقاله السرخسی و اذا اتصل به الحکم صار مجمعا علیه فلیحفظ (الدرالمختار) وعبارة القهستانی تقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق قال ابوالقاسم هذابلا خلاف اذا أذن الوالی اوالقاضی ببناء المسجد الجامع و اداء الجمعة لان هذا مجتهد فیه فاذا اتصل به الحکم صار مجمعا علیه وفیما ذکرنا اشارة الی انه لاتجوزفی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر و خطیب کما فی المضمرات...فان فی فتاوی الدیناری اذابنی مسجدفی الرستاق بامرالامام فهو أمر بالجمعة اتفاقا علی ماقال السرخسی اهـ فافهم والرستاق القری کما فی القاموس ... قوله و اذا اتصل به الحکم الخ قد علمت ان عبارة القهستانی صریحة فی ان مجرد الامر رافع للخلاف بناء علی ان مجرد امره حکم (ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۰ و ۵۹۱)

قوله اذن الحاکم ای الوالی اوالقاضی کذا فی القهستانی... واذا لم یأذن بذلک لاتصح اقامتها فیها وعلیه یحمل مافی البحر لاتصح فی قریة ولا مفازة لقول علیّ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاجمعة ولاتشریق ولاصلاة فطر و لااضحی الافی

مصر جامع اومدينة عظيمة ثم قال فلا تجب على غير اهل المصر (حاشية الطحطاوى على الدرالمحتار ج ۱ ص ۳۳۹)

والخلاصة: لابد لاقامة الجمعة عندالجمهورمن كونها فى مدينة او قرية و لابدان تكون القرية كبيرة عندالحنفية فلا تجب على سكان القرى الصغيرة اى لابد من المصر عندهم اما عند غيرهم فلا يشترط المصر، والقرية والبلد سواء (الفقه الاسلامى ج ۲ ص ۲۴۷ ط دارالفكر)

ولاشک فى جوازالجمعة فى البلاد والقصبات (کبیری ص ۵۱۲)

واذا اذن الامام لاهل القرى بذلک بعد تأمير الامر عليهم صحت الجمعة بها عندنا كما مر ... فان قيل كيف قالت الحنفية بجواز اقامة الجمعة فى القرى اذا كان عليها اميرمن الامام مأذون باقامة الجمعة بها فهل تصير القرية بذكل مصرا ...قلنا تصيرالقرية بذلک فى حكم المصر ...اونقول ان امرالامام وإذنه قاطع لنزاع فى المسائل المجتهد فيها عندنا واشتراط المصر للجمعة مجتهد فيه الصحابة والائمة (اعلاء السنن ج ۸ ص ۱۵)

سوال: ایک قریہ عظیمہ بڑا جس میں تین ہزار دوسو آدمی آباد ہیں اور چند دکانیں بھی وہاں موجود ہیں، پس موافق مذہب حنفیہ کے اور فقہ کی کتابوں کے وہاں جمعہ ہوتا ہے یا نہیں؟

الجواب: ایسے قریہ میں جمعہ عندالحنفیہ صحیح ہے اور واجب اداہوتا ہے کیونکہ وہ قریہ کبیرہ ہے اور قریہ کبیرہ میں موافق تصریح شامی کے جمعہ صحیح ہوتا ہے۔ کذا فی الدرالمختار وتقع فرضاً فی القصبات والقری الکبیرۃ التی فیہا اسواق الخ (۱) (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۷۷/۵ ط مکتبہ امدادیہ ملتان) وکذا فی احسن الفتاوی: ٤/ ١٦٥ واللہ تعالی اعلم.

---

(۱) سوال: يوه عظيمه لويه قريه چې پکې درې زره دوه سوه كسان آباد دی اوځه دکانونه هم هلته موجود دی نو دحنفی مذهب اودفقهی دکتابونو سره سم هلته جمعه کیږي اوکنه؟

ځواب: په داسی کلی کې داحنافوپه نيز دجمعه صحيح ده او واجب ادا کیږي ځکه چې دا کبيره قريه ده اوپه کبيره قريه کې دشامی دڅرګندونی سره سم جمعه صحيح کیږي كذا فى الدرالمختار: وتقع فرضا الخ

## د جُمعې په خطبه کې په لاس کې امساء (لکړه) نیول

**پوښتنه**: دجمعې په خطبه کې لکړه په لاس کې نیول سنت دي کیا؟
والسلام
(المستفتي شاه محمد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون المستعان**:
محترم مستفتي صاحب د خطبې په وقت کې لکړه په لاس کې نیول سنت ده.لکه ولاړه چې د خطبې لپاره سنت ده اخیستل دلکړې دپاره داستراحت دی دغسې استعمال مستحب دی که حاجت ؤ ورته . اودوام یې ثابت ندی قول په تاکید سره ندی صحیح اوکراهت ثابتیږي په وقت دالتزام کې.
قوله عن الحکم الخ قلت فی الدر المختار: فی الخلاصة ویکره ان یتکئ علی قوس اوعصا وفی ردالمحتار(۱-۸۲۲) ونقل القهستانی عن عبدالمحیط ان اخذ العصا سنة کالقیام قلت اخذ العصاء للاستراحة ونحوها مستحب اذا احتاج الیها ولم یثبت علیه دوامه صلی الله علیه وسلم فالقول بتاکده لایصح واما الکراهة فهی تتحقق عندالالتزام کما افاده شیخي وهذا غیر خفيّ علی عالم منصف (اعلاء السنن ج ۸ ص ۷۲) وکذا فی امداد الاحکام ج ۱ ص ۷۳۲ وکذا فی ردالمحتار ج ۱ ص ۲۰۹ و کذا فی فتاوی دارالعلوم دیوبند مدلّل ومُکمّل ج ۵ ص ۸۸ و ص ۲۵ و ص ۱۷۸ و کذا فی الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۲۲۳ ط دارالفکر.

# باب الجنائز

## فصل فی الصلوة علی المیّت

د جنازې او عامو لمونځونو وروسته دعاء

**پوښتنه**: و محترم رئیس صاحب د دارالافتاء مرکزي ته!

السّلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! مونږ علماء دخاک افغان د ولسوالۍ ددې مسئلې استفتاء کوو که مطابق د فقهې حنفي جواب راکړئ لویه مهرباني به مو وي، پوښتنه داده چې پس له لمانځه د جنازې دعا په هیئت اجتماعي له مخه ترکسر د صفوفو اود غه رنګه پس له فرضي لمانځه او سنت څخه دعا کول جائز ده که نه؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب**:

د جنازی دلمانځه وروسته د مخه ترکسر د صفوفو دعا کول مکروه ده او په پنځو لمونځو کې د هغه لمونځو وروسته چې سنت نه وي دعا کول سنت دي او که وروسته سنت ؤ نو بیا د سنتو وروسته دعا کول جائز او صحیح دی اما التزام د دغه دعا (یعنی چې څوک ترک د دغه دعا کوي هغه ته نسبت داساءة کول) صحیح نه دي.

و قید بقوله بعد الثالثة لانه لایدعو بعد التسلیم کما فی الخلاصة (البحرالرائق ج ۲ ص ۱۸۳)

اذا فرغ من الصلوة ای صلوة الجنازة لایقوم بالدعاء.

(الفتاوی السراجیة ص ۲۳)

وفی خلاصة الفتاوی لایقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة وفی البزازیة لایقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة وفی شرح المشکوة و لایدعو للمیت بعد صلوة الجنازة لانه یشبه الزیادة فی صلوة الجنازة (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج **۵** ص **۳۳۹** ط امدادیه ملتان ) و هکذافی (احسن الفتاوی ج ۱ ص **۳۳۲**) و (امدادالاحکام ج ۱ ص ۱۹۴)

والاحادیث التی یستدل بها علیها (ای علی الدعاء بعد المکتوبات) الاولی ما رواه ابوداؤد والنسائی عن معاذبن جبل ان النبی صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال له یا معاذ انی والله لاحبک فلا تدع دبرکل صلوة ان تقول اللّٰهُم اعنی علی ذکرک وشکرک الحدیث والثانیة عن ابی بکرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ قال کان النبی صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یدعو بهن (اللهم انی اعوذبک من الکفر والفقر وعذاب القبر) دبرکل صلوة آه (احمد والترمذی والنسائی) الثالثة عن الفضل بن عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ الصلوة مثنی مثنی تشهد فی رکعتین وتخشع وتضرع وتمسکن وتقنع یدیک یقول ترفعهما الی ربک مستقبلاً ببطونهما وجهک وتقول یا رب یارب و من لم یفعل فهو کذا وکذا وفی روایة فهو خداج اخرجه الترمذی والروایات فی هذا الباب کثیرة .

الدعاء بعد المکتوبات برفع الایدی ثابت بالاحادیث المرفوعة جمعها العلامة المفتي محمدکفایت الله الدهلوی فی رسالة مستقلة فی هذا الباب تُسمّی بالنفائس المرغوبة فارجع الیها واغتنمها - خیرمحمد الجالندهری.

(خیرالفتاوی ج ۱ ص **۳۵۸**)

عن الاسود العامری عن ابیه قال صلیت مع رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم الفجر فلما سلم انحرف ورفع یدیه ودعا (الحدیث اخرجه ابن ابی شیبة فی مصنفه (خیر الفتاوی ج ۱ ص ۳۵۲)

قیل یا رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم ای الدعاء اسمع فقال رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم جوف اللیل الاخر ودبر الصلوات المکتوبات رواه الترمذی

(خیر الفتاوی ج ۱ ص ۳۵۴)

و یکره تأخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ (الدر المختار) قوله الا بقدر اللهم الخ لما رواه مسلم والترمذی عن عائشة رضی اللہ عنہا قالت کان رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم لا یقعد الا بمقدار ما یقول اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام واما ما ورد من الاحادیث فی الاذکار عقیب الصلوة فلا دلالة فیه علی الاتیان بها قبل السنة بل یحمل علی الاتیان بها بعدها (رد المحتار ج ۱ ص ۳۹۱)

## د جنازې له لمانځه وروسته په ناسته دعاء کول

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**پوښتنه** : محترمو علماؤ! وروسته د لمانځه د جنازې په ناسته دعا کول و مُرده ته او نورو مردګانو ته جائز دی کنه؟

**الجواب ومنه الصدق والصواب** :

دعاء کول پس له لمانځه څخه د جنازې ترمخه د کسر د صفوفو مکروه او بدعت دی فقهاؤ منعه ورڅخه کړې ده او پس له کسر د صفوفو او ترمخه د دفن جائز ده چې منع هم نه ده راغلې او سنت والی یې هم ثابت نه دی او پس له دفن څخه مستحب ده.

اذا فرغ من الصلاة لايقوم بالدعاء (الفتاوى السراجية ص **۲۳**) و هكذا فى (البحر الرائق ج ۲ ص **۱۸۳**) و (احسن الفتاوى ج ۱ ص **۳۳۲**) و (الفتاوى التاتارخانية ج ۲ ص ۱۸۰) و (فتاوى دارالعلوم ديوبند ج **۵** ص **۳۰۵** و ص **۳۴۱**)

واكثرهم لم يذكروا دليل المنع والبعض عللوا المنع بالزيادة على الجنازة والبعض الاخر عللوه بتكرار الجنازة وكلتا القبيحتين انما تلزمان اذا دعا قائما فى الصف دون بعد كسر الصف وكذا اكثر الفقهاء يعبرون بلفظ طويل اى لايقوم بالدعاء و لايعبرون بلفظ مختصر اى لايدعو فيكون الدعاء بعدكسرالصف عفواً ومباحا لحديث ماسكت عنه فهو عفو.

رواه ابوداود.

نعم كم من مباح يصير ممنوعا لعارض مثل الالتزام وغيره (منهاج السنن شرح جامع السنن للامام الترمذی تأليف شيخنا العلامة مولانا مفتي محمد فريد مدّ ظله العالي - ج ۴ ص ۲۱۲)

ويستحب اذا دفن الميت ان يجلسوا ساعة عند القبر بعد الفراغ بقدر ماينحر جزور ويقسم لحمها يتلون القرآن ويدعون للميت كذا فی الجوهرة النيرة (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۶۲) و هكذا فی (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۳ و ص ۲۳۴)

والله تعالٰی اعلم.

## د جنازې له لمانځه وروسته دعاء څنګه ده؟

**پوښتنه**: د دارالافتاء وعالي مقام ته اولاً.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

وبعد: زمونږ په وطن کې د علماء کرامو په مابين کې ډير شديد اختلاف واقع شوی دی د دې مسئلې په هکله چې بعضی وايي چې د مُرده لمونځ وشي بيا نه دعاء شته او نه سورة شته ژر به مُرده دفن کوي او بعضی وايې چې يا اثبات د دعاء شوی دی دعاء شته نو مسئله تاسې ته وړاندې شوه خدای جَلَّجَلَالُهُ دې وکړي چې راته حل يې کړئ.

والسلام.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الفتوى باسم ملهم الصدق والصواب :**

په خيرالقرون يعني په زمانه د پاک پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. او صحابه كرامو. او تابعين عظامو كى ددغه دُعاء نه اثبات شته او نه نفي لكن د عباراتو څخه د ډيرو فقهاء عظامو منع او كراهت معلوميږي نو اوس د دوى دغه منع اوكراهت محمول دى پر هغه صورت چې دغه دعاء په هيئت اجتماعي سره وي او مخكې تركسر او ماتوالي د صفوفو د جنازې وي او متصل د لمانځه د جنازې سره وي اوكه داسې نه وي نو بيا كه مخكې د تدفين څخه وي مباح ده. بغيرد لازم بللوڅخه او كه د تدفين د مرده څخه وروسته وي نو د دې دُعاء اثبات په شريعت كې شته او مستحب ده.

سوال : نماز جنازہ کے بعد دعا مانگنا کیسا ہے؟ بینوا بالدلیل.

الجــواب ومنه الصــدق والصــواب : نماز جنازہ کے بعد دعا مانگنا چونکہ حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اور صحابہ وتابعین سے ثابت نہیں اس لئے فقہاء اسے ناجائز اورمکروہ فرماتے ہیں چنانچہ تیسرے صدی ہجری کے فقیہ امام ابوبکر بن حامد فرماتے ہیں۔ ([1])

أنّ الدّعاء بعد صلوة الجنازة مكروه (فوايدبهية-ج-١ص١٥٢)

---

([1]) پوښتنه: د جنازې له لمانځه وروسته دعا غوښتل څنګه دي؟
جواب: د جنازې له لمانځه وروسته دعاغوښتل چونكه له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، صحابه اوتابعينو څخه ثابت نه ده ځكه فقهاء دې ته ناروا او مكروه وائي لكه چې د دريمى صدى، هجري فقيه امام ابوبكربن حامد فرمائى: ان الدعاء الخ (فوائد بهيه) شمس الا ئمه حلواني اوشيخ الاسلام علامه سغدى فرمائى:
لايقوم الرجل بالدعاءالخ (قنيه).....

شمس الآئمۃ حلوانی متوفی سنہ ۔۴۵۴ھ اور شیخ الاسلام علامہ سغدی متوفی سنہ ۴۶۱ھ فرماتے ہیں

لایقوم الرجل بالدعاء بعد صلوة الجنازة (قنیه ج ۱ ص ۵۶)

اذا فرغ من الصلوة لایقوم بالدعاء (الفتاوی السراجية ص ۲۳) ولایقوم داعیًا له (جامع الرموز-ج ۱-ص ۱۷۴) لایدعوا بعد التسليم.

(البحر الرائق-ج ۲ص ۱۸۳)

ولایدعوا للميت بعد الجنازة لانه يشبه الزيادة في صلوة الجنازة (مرقاة شرح المشكوة-ج ۴ ص ۶۴ ط مكتبه حقانيه ملتان)

ولا يقوم بالدعاء بعد صلوة الجنازة لانه دعا مرّة لانّ اكثرها دعاء

(الفتاوی البزازية بهامش المجلد الرابع من الفتاوی الهندية ص ۸۰)

کتب مذکورہ کے علاوہ خلاصۃ الفتاوی- ج ۱ ص ۲۲۵، فتاوی برجندی ج ۱ص۱۸۰، فتاوی برہنہ ص۳۶، مظاہر الحق شرح مشکوۃ ج ۲ص۵۷ ونفع المفتی والسائل-ص ۴۳۴اوغیرہ میں بھی اس کی ممانعت اور کراہت منقول ہے۔

(احسن الفتاویٰ ج ۱ ص ۳۳۲) و هكذا فی فتاوی دارالعلوم دیوبند مدلل ج ۵ ص ۳۰۵و ص ۳۴۱) وهكذا فی الفتاوی التاتارخانية ج ۲ص ۱۸۰

سوال: نماز جنازہ کے سلام کے بعد متصل ہاتھ اُٹھا کر دعا مانگنا شریعت میں کوئی اصل رکھتا ہے یانہیں؟

جواب: نماز جنازہ کے بعد متصل ہاتھ اٹھا کر دعا مانگنے کا شریعت میں کوئی ثبوت نہیں ہے اور نماز جنازہ خود ہی دعا ہے، ہا لوگ اپنے اپنے دل میں بغیر ہاتھ اٹھائے دعائے مغفرت کرتے رہیں تو یہ جائز ہے اجتماعی دعا ہاتھ اٹھا کر کرنا بدعت ہے۔ (1)

---

(1) ترجمه: پوښتنه: د جنازې دلمانځه له سلام وروسته متصلاً په لاس پورته كولو دعا غوښتل په شريعت كې څه اصل لري كنه؟

محمد کفایت الله کان الله له ﴿کفایت المفتي ج ۴ ص **۸۵**﴾ و هکذا فی هذا المجلد ص **۱۵۷**و**۱۵۸**

﴿فائده﴾ قد ثبت الدعاء بعد صلاة الجنازة ممن فاتته الجنازة مثل ابن عمر وعبد الله بن سلام وأما الدعاء ممن صلى عليها فذخيرة الاحاديث ساكتة عنه فمن ادعى انه علیه الصلاة والسلام دعا بعدها اوادعى انه لم يدع بعدها فدخل فی حديث من كذب علىّ متعمداً فليتبوء مقعده من النار ولو قال الخصم لو دعا بعدها لبلغ الينا لجاز لنا أن نقول لولم يدع لبلغ الينا كما بلغ الينا انه ما اذن وما اقام لصلاة العيد وبالجملة انه لابد من الفرق بين عدم الرواية وبين رواية العدم نعم منع عنه الفقهاء واكثرهم لم يذكروا دليل المنع والبعض عللوا المنع بالزيادة على الجنازة والبعض الاخر عللوه بتكرار الجنازة وكلتا القبيحتين انما تلزمان اذا دعا قائما فی الصف دون بعد كسر الصف وكذا اكثر الفقهاء يعبرون بلفظ طويل ای لايقوم بالدعاء ولايعبرون بلفظ مختصر ای لايدعو فيكون الدعاء بعد كسر الصف عفواًومباحًا لحديث ماسكت عنه فهو عفو رواه ابوداؤد نعم كم من مباح يصيرممنوعًا لعارض مثل الالتزام وغيره واعلم أن الفقهاء الحنفية يعللوا هذا المنع بانه لم يوجد فی خير القرون فانه دليل سلفی منقوض جمعاً ومنعاً

بقیه صفحه نمبر﴿۱۸۴﴾

جواب: دجنازې له لمانځه وروسته متصلاً په لاس پورته کولو دعاغوښتلو په شریعت کې هیڅ ثبوت نشته اودجنازې لمونځ پخپله دعاده، هو خلک دی بیله لاسونه پورته کولو په زړه زړه کې د مغفرت دعا کوي نو دا جائزدی، په اجتماعی توګه لاسونه او چتولوسره دعا کول بدعت دی.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للامام الترمذی تألیف شیخنا العلامة مولانا مفتي محمدفرید مدظّله العالي - ج ۴ ص ۲۱۲)

ویستحب اذا دفن المیت أن یجلسوا ساعةً عند القبر بعد الفراغ بقدر ماینحر جزور ویقسم لحمها یتلون القرآن ویدعون للمیت کذا فی الجوهره النیرة.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۱۶۶) وهکذا فی احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۳۳ و ۲۳۴

مولوي محمود میوندوال

مولوي احمد نوري

مـــولوي نورمحمد (ثاقب)
دافغانستان داسلامي امارت
د مرکزي دارالافتاء رئیس

## فصل فی حمل الجنازة

## د تلاوت او دعاء لپاره د مړي معطلول

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه**: چې لمونځ د جنازې وسی او قبر وغیره هرڅه خلاص وي او بیا هنوز هم دا میت د دعا و سورة د ویلو دپاره **معطل** وي دا څه حکم لري آیا جنازه پورته سی او که معطله سی؟

**الجواب و منه الصدق والصواب**:

هرکله چې مړی دفن ته اماده شي او قبر جوړ وي او نور ټوله کارخلاص وي یوازې د قرآن کریم د تلاوة او د دعاء دپاره مړی ځنډول د سنت طریقې څخه مخالف دي بلکه مړی دې دفن کړي بیا دې د قرآن کریم تلاوة وکړي هم به دتلاوة ثواب ور ورسیږي هم به سنت طریقه عملي شي.

وعن عبدالله بن عمرقال سمعت رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول اذا مات احدكم فلا تحبسوه واسرعوا به الى قبره وليقرء عند رأسه فاتحة البقرة وعندرجليه بخاتمة البقره رواه البيهقي فى شعب الايمان و قال والصحيح انه موقوف عليه (مشكوة ص ۱۴۹)

قوله (فاتحة البقرة) وباید که خوانده شود نزد سروی یعنی بعد ازدفن اول سوره بقرة الخ (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۷۴۳)

قوله فلا تحبسوه ای لاتؤخروا دفنه من غير عذر قال ابن الهمام يستحب الاسراع بتجهيزه كله من حين يموت واسرعوا به الى قبره وهو تاكيد واشارة

الی سنة الاسراع فی الجنازة (المرقاة شرح المشکوة ج ۴ ص ۸۱) و ھکذا فی (مظاھر الحق ج ۲ ص ۱۳۸)

ان طلحة بن البراء مرض فاتاه النبی صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يعوده فقال انی لا اری طلحة الا وقد حدث به الموت فآذنونی به وعجلوا فانه لاینبغی لجیفة مسلم ان تحبس بین ظھرانی اھله رواه ابوداود.

(عمدة القاری شرح صحیح البخاری - ج ۸ ص ۱۱۳)

وکره تاخیر صلاته ودفنه لیصلی علیه جمع عظیم بعد صلاة الجمعة.

(الدرالمختار بهامش حاشیة الطحطاوی ج ۱ ص ۳۸۰)

قوله وکره تاخیر صلا ته الخ فالا فضل ان یعجل بتجهیزه بتمامه من حین یموت بحر وظاھره ان الکراھة تنزیهیة قوله ودفنه-ولو بعد الصلاة.

(حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار ج ۱ ص ۳۸۰)

واللہ تعالی اعلم

## فصل فی الدفن

پرکانې (ډبره) د مړي لپاره کلمه ليکل

**پوښتنه**: د ميت لپاره خلق پر ډبره باندې کلمه نوشته کوي د ميت و مختـه هغه ډبره و دروي که چا دا عمل ونه کی پر هغه ډيره ملامتيا کېږي آيا دغـه عمل په شريعت مقدسه کې اصل لري کنه؟

(المستفتي عبدالله)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب**:

پر ډبره يا د مړي پرتندي کلمه شريفه نوشته کول بغير له رنګه جائز کار دی اوکه يې څوک نه نوشته کوي پروا نلري او څوک چې ملا متيا ور باندې وايي هغه پخپله ملامت دی.

کتب على جبهة الميت اوعمامته اوكفنه (عهدنامه) يرجى ان يغفرالله للميت (الدرالمختار) مفاده الاباحة أوالندب.....نقل بعضهم عن نوادرالاصول للترمذی مايقتضی ان هذا الدعاء له اصل وان الفقيه ابن عجيل كان يأمربه ثم افتى بجواز كتابته.....وفيه نظروقدافتی ابن الصلاح بانه لايجوز ان يكتب على الكفن (سورة يس والكهف) ونحوهما خوفا من صديد الميت.....نعم نقل بعض المحشين عن فوائد الشرجی ان ممايكتب على جبهة الميت بغير مداد بالاصبع المسبحة بسم الله الرحمن الرحيم وعلى الصدر لااله الاالله محمدرسول الله وذلک بعد الغُسل قبل التكفين اهـ (ردالمحتار ج ۱ ص ۲۲۸و ۲۲۹)

میت کے پیشانی پر صرف انگلی کے اشارے سے بسم اللہ الرحمٰن الرحیم لکھ دینا جائز ہے کسی ایسی چیز سے نہ لکھی جائے جس سے پیشانی پر نقش بنے [1] (کفایت المفتی ج ٤ ص ٤٨)

بغیر سیاہی وغیرہ کے اگر صرف انگلی سے اشارہ کردے اس طرح کہ نشان دیواروں پر حروف کا نہ ہو تو کچھ حرج نہیں ہے اور شامی میں ہے نقلا عن فواید السروجی الخ [2]

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ٥ ص ٣٩٩) واللہ اعلم

## اسقاط گرځول

**پوښتنه**: ومحترم رئیس صاحب د دارالافتاء مرکزي ته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! مونږ علماء د خاک افغان اولسوالۍ د یوې مسئلې استفتاء کوو که مطابق د فقهې حنفي جواب راکړئ لویه مهرباني به مو وي.

که یومُرده وصیت کړی وي چې زما دمال له ثلث څخه دومره مقدار اسقاط وګرځوئ وصي او قریبان هغه مقدار اسقاط وکړي اویا مُرده وصیت نه وي کړی یا مسکین وي قریبان یې له خپله طرفه یعنی له خپل مال څخه اسقاط وکړي دا قسم اسقاط جائز دی کنه؟

(١) ترجمه: دمړي پرتندي باندې صرف دګوتې په اشاره بسم الله الرحمن الرحیم لیکل جائز دي په کوم داسی شئ دی نه لیکل کیږي چې ورڅخه پرتندي باندې نقش جوړشي (کفایت المفتي)

(٢) بیله رنګ اونورو که صرف په ګوته اشاره وکړله دا راز چې نښان پردیوالونو حروفونه وي نوڅه پروانلري اوپه شامي کې راغلی دي: نقلاً عن فوائد السروجی الخ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

د اسقاط کرځولو په هکله متأخرينوعلماؤ فتوئ داده چې دغه اسقاط کرځول جائز بلکه خدای تعالی ته ډیرامید دی چې د میت په حق کې ډیر انفع وګرځي البته څه شرائط لري چې د هغو لحاظ باید وشی چې هغه شرائط په ډیرو کتابونو کې مفصل ذکر شوي دي او دلائل د جواز یې هم په ډیرو کتابونوکې په تفصیل راغلی دي خو بعضی یې دا دي :

فی الدرالمنتقی انهم اذا ارادوا الاخراج عنه یحسب عمره بحسب غلبة الظن ویخرج منه مدة الصباوهی اثنا عشر فی الغلام وتسعة فی الجاریة ویخرج عنه بقدرها ان کان عندهم مایکفی والاتدفع مراراً آه.

وفي نورالایضاح ص ۱۰۴ : وان لم یف ما اوصی به عما علیه یدفع ذلک المقدار للفقیر فیسقط عن المیت بقدره ثم یهبه الفقیر للولی ویقبضه ثم یدفعه للفقیر فیسقط بقدره ثم یهبه الفقیرللولی ویقبضه ثم یدفعه الولی للفقیر وهکذا... و في مراقي الفلاح ص ۳۵۷ ضمن قول الماتن : ... فحیلته لابراء ذمة المیت عن جمیع ماعلیه ان یدفع ذلک المقدار الیسیربعد تقریره بشئ من صیام اوصلوة اونحوه و یعطیه للفقیر بقصد اسقاط مایرد عن المیت فیسقط عن المیت بقدره ثم بعد قبضه یهبه الفقیر للولی اوللا جنبی ویقبضه لتتم الهبة وتملک ثم یدفعه الموهوب له للفقیربجهة الاسقاط متبرعابه عن المیت الخ و هکذا في (جامع الرموز ج ۱ ص ۱۲۱)

ولو لم یترک مالا یستقرض وارثه نصف صاع مثلا ویدفعه لفقیرثم یدفعه الفقیر للوارث ثم وثم حتی یتم.(۱) (الدرالمختار و کذا ردالمحتار ج ۱ ص ۵۴۲)

---

حاشیه صفحه (۱۹۱)

(۱) داسقاط ګرځونی عمل چونکه ډیرعام اوپه دې هکله بیلا بیلی خبرې اوربدل کیږي ځکه دنوری زیاتی فائدې په خاطردلته د((فتاوی حقانیه)) داسقاط په اړه یوسوال اودهغه جواب رانقل کوو(مرتب)

**سوال**: نن سباپه زیاتره سیموکې دا رواج دی چې دمړي سره قرآن مجید قبرستان ته وړي اوپرقرآن یوڅه نغدی روپۍ کښیږدي څوکسان یې پخپل مینځ کې سره ګرځوي راګرځوي اودې طریقه ته اسقاط ویل کیږي اوددې دجواز په هکله دقرآن کریم آیت {وَابْتَغُوٓا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ} (الایة) المائدة**۳۵** پیشوي مهرباني وکړئ ددغه مسئلې دجوازیاعدم جوازپه هکله پوره وضاحت وکړئ؟

**الجواب**: داخبره دی څرګنده وي چې له کوم مکلف (عاقل بالغ مسلمان) څخه لمونځ اوروژه عمداً یاغیرعمد قضاء شوي وي نوپرده فرض دي چې سمه قضاء د دغه عبادتونوراوړي اودقضاء نه راوړلو په صورت به داشخص مجرم وي اوله ژوندڅخه دناهیله کیدوپرده وصیت کول لازم دي یعنی دئ به وصیت کوي چې دده له منقوله اوغیرمنقوله جائداد له درییمی څخه به دهرلمانځه اوهرې روژې په بدله دوه دوه سیره (انګریزي) غنم یادهغه قیمت مسکینانوته ورکړل شي اودداسې وصیت نه کولو په صورت به داسړی مجرم اوګنهګارمري، اماکه ددې سړي مال نه وي یادمال یوه دریمه دذمې فارغولولپاره ناکافي وي یاده دجهالت، فسق یاسستۍ له امله دفدیوپه اړه وصیت نه وکړی نو وارث اونور ددغه مړي له طرفه باقاعده حیله داسقاط کولای شي.

(ردالمحتار: ۴۹۱/۱، ۴۹۲ باب صلوة الجنائز، مطلب فی اسقاط الصلوة عن المیت)

**دحیلې تشریح**: حیله یا مخرج هغه مباح کار اوګفتارته ویل کیږي چې دهغه په وسیله کوم مقصود ته په پټه رسیدل وي.

کمافی المفردات: ص: ۱۳۸ ((الحیلة ما یتوصل به الی حالة مّاخفیة)) وفي فتح الباري: ۱۲/ ۲۷۴ ((هي ما یتوصل به الیٰ مقصود بطریق خفي.

**دحیلې قسمونه**: دحیلې ډیرقسمونه دي له هغو څخه ځینی دلته بیانیږي:

(الف) هغه حیله چې دحراموحلالولولپاره وي اودشریعت باطلولولپاره وي لکه چې اصحاب السبت دتحلیل صید لپاره کړې وه اوبعضی یهودیانودتحلیل شحم (وازګو) لپاره کړې وه. (رواه البخاري)

داسې حیله بیله شک اوشبهې حرامه اوناروا ده.

(ب) هغه حیله چې له حرام څخه دبچ کیدو، دغاړې خلاصولواود واجب د اسقاط لپاره وي، لکه چې حضرت ایوب علیه الصلاة والسلام کړې وه او لکه چې رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دهغه مریض چې واده یې نه ؤ کړی لپاره کړې وه (رواه ابوداؤد)

---

«قالوا مارأينا بأحدمن الناس من الضر مثل الذی هو به لوحملنااليک لتفسّخت عظامه ما هو إلا جلد على عظم فامر رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان يأخذوا له مائة سمّراخ فيضربوه بها ضربة واحدة»

(ابوداؤد: ۲۵۸/۲، کتاب الحدود، باب فی اقامة الحدعلی المریض)

لنډه دا چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د هغه سړي (چې زناځینی شوې وه او هغه واده نه ؤکړی) په اړه نبي علیه الصلاة والسلام ته عرض وکړو چې ددې سړي په رنګه په تکلیف اخته مونږ څوک نه دی لیدلی، که دئ مونږ دلته راولو نودده هډونه به ریزه ریزه شي دده پرهډونوصرف څرمن پاتی ده نورسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې دئ د خرماپه یوتهال (چې پکې سل ښاخونه وي) یوځل ووهی، اوداحیله جائزده، نه منسوخه ده اونه مخصوصه اوهم دغه مروي شوې ده له عطاء اوامام شعبي رحمهماالله نه، او همدغه احنافو، شوافعواو حنابله ؤ مختاره کړې ده په خلاف د مالکیانو او سلفیانو چې د دوی په نیزد دا حیله مشروع نه ده.

فلیراجع الی تفسیر القرطبي: ۲۱۳/۱، وشرح الاشباه للحموی، ص: ۴۱۸ وفتح الباري: ۲۷۵/۱۲، کتاب الحیل)

د فقهاء کرامو رایې: حیله د اسقاط لکه څنګه چې په خپل اصل ثابته ده نو دغه رنګه فقهاء کرامو (په تیره بیا هغه فقهاؤ چې ورڅخه اکابر د دیوبند فتاواوې نقل کوي) ددې پر مشروعیت څرګندونه کړې ده.

(فلیراجع الی ردالمحتار: ۲۸۷/۱ والطحاوي، ص: ۲۲۳ والشرح الکبیر، ص: ۴۹۷ وخلاصة الفتاوی: ۱۵۳/۱ والبحر: ۹۱/۲ والاشباه والنظایر، ص: ۴۱۸ وهکذا فی غیر واحد من الفتاوی)

ځکه د دې حیلې په مشروعیت کې هیڅ شبه نشي کېدلا ی.

**شرطونه**: اما ددې حیلې د مشروعیت لپاره څه شرطونه هم شته چې د هغو په پام کې نیول ډېر ضروري دي:

(الف) دا چې د وصیت نه کولو په صورت به په وارثانوکې غائب او نابالغ نه وي ځکه چې ددوی له مالونو تبرع کول ناروا دي.

(ب) دا چې په دائره کې به صرف مسکینان ناست وي، غني ته په ورکولو غاړی نه خلاصیږي.

(ج) داچې مسکین ته واقعتاً په تملیک ورکول شي، فرضي اولساني به نه وي، کنئ له دې حیلې څخه مقصد نه حاصلیږي.

«کمافی منة الجلیل (۲۲۵/۱) ویجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عنددفع الفقیر الهزل والحیلة أن یدفعها حقیقة لا تحیلا ملاحظا ان الفقیر إذا أبی عن الهبة الی الوصی کان له ذلک ولایجبرعلی الهبة انتهی»

لنډه داچې پروصی او نورو لا زمه ده چې مسکین ته د غوټی او نورو ورکولو پرمهال به د ټوکو او حیلې اراده نه وي بلکه دغه غوټه او نور به مسکین ته واقعتًا اوحقیقتًا په تملیک ورکوي (حتٰی که دا مال په ښه ډیر مقدار کې ؤ اودحیلې کولو پرمهال دحج لپاره دروپیو جمع کولو اعلان شوی ؤ نو پردغه مسکین حج فرض ګرځي، بل سړي ته په هبه کولو دغه فریضه نه ساقطیږي) او د دې خیال به ساتي چې که مسکین له بیرته ورکولو څخه منع وکړه نو دا به دده لپاره صحیح وي او دئ به نه مجبوروي.

## د فقهاء کرامو د حیله اسقاط او (د عوامو) د مروجه حیله اسقاط تر مینځ فرق

۱- فقهاء خپل اسقاط په حیله د اسقاط تعبیروي چې ورڅخه صفا معلومیږي چې د دوی په نیزد دغه اسقاط نه فرض دی نه واجب دی نه سنت او نه مستحب ځکه چې د حیلې شرعي حیثیت داسې نه وي بلکه زیات نه زیات ددې حیثیت د اباحت کیدلای شي هغه هم هغه وخت کله چې پکې شرعي حرام کارونه نه کیږي، خو د مروجه اسقاط حیثیت په عوام الناس کې تر فرضو او واجبو هم زیات دی بلکه ددې په پوره کولو کې د قطعي فرضو پریښودلو هم پروا نه کوي.

((ونص علیه فی تبیین المحارم فقال لایجب علی الولی فعل الدور وإن أوصی به المیت لأنها وصیة بالتبرع والواجب علی المیت ان یوصی بما یفي بماعلیه ان لم یضق الثلث عنه الخ

(ردالمحتار: ۴۹۲/۱، باب الفوائت، تحت مطلب فی بطلان الوصیة بالختمات والتهالیل)

۲- فقهاء کرامو رَحِمَهُمُ اللَّهُ داهم څرګندونه کړې ده چې د دورې دفعل دغه حیله داسقاط صرف دهغومړولپاره ده چې فقیران اومسکینان وي یعنی ددوی په ترکه کې دومره ګنجایش نه وي چې پکی په شرعي طریقه د قضاء شویو لمونځونو او روژو فدیه د یوه لمانځه او یوې روژې په بدل شرعی نیمه کاسه غنم یا پوره کاسه اوربشی پوره شي، د امیرانو او غنیانو لپاره دغه حیله د اسقاط نه ده ایجاد شوی، لیکن په عواموکې ددغه حیلې استعمال صرف د فقیرانو او مسکینانومړو لپاره نه بلکه د امیرانو، غنیانو او د باچاهانو لپاره لا هم په یو ډول کیږي، حال دا چې د کومو مړو له ترکې څخه پوره فدیه ادا کېدلای شی نود هغوی له ترکې څخه د قضاء شویو لمونځونو او روژو پوره فدیه را ایستل ضروري دي په دې شرط چې مړي ددې وصیت هم کړی وي او د ترکې په ثلث کې هغه پوره کیدلا ی شي نه دا چې دده لپاره هم مروجه حیله د اسقاط عملي شي.

۳- دا هم د فقهاؤ په کتابونو کې څرګندونه شته چې که مړی مالدار (غني) وي او ده وصیت هم نه وي کړی نو د مړي پر ولیانو باندی دغه حیله د اسقاط لا زمه نه ده، نه په دې کې یو وارث د نورو ټولو وارثانو بې اجازته له ترکې څخه هیڅ هم په داسی حیلو کې مصرفولای شي، ځکه چې شرعاً ده ته د داسې کولو اجازه نشته، او که کوم وارث د نورو وارثانو بې اجازته داسی وکړ نو شرعاً د نورو وارثانو

لپاره دئ ضامن دی، په فتاوی بزازیه کې ددې څرګندونه راغلې ده، خوپه مروجه حیله داسقاط کې ددې خیال یومخ نه ساتل کیږي بلکه په هرحال کې دا لا زمه اوضروري بولي تردې که په وارثانو کې څوک نابالغ یاغیرحاضر وارث هم وي یاحاضر وارثان ناراض وي نوپه داسی وخت کې هم کوم چې لوی وارث وي هغه حتمًا دا اسقاط کوي او دټولو وارثانوبې ځایه حق تلفوي اومصرف کړی مال پرټولووارثانو په مشترکه توګه اچوي، حال داچې دادشریعت یومخ خلاف کاردی.

**۴**- فقهاؤ داسقاط دمال مصرف صرف فقیران اومسکینان ګرځولی دي، کومه خاص طبقه ددې لپاره نه ده ځانګړې شوې نه ددې لپاره کوم خاص وخت ټاکل شوی دی، مګر دعواموپه اسقاط کې یوخوا مخصوصه ډله ددې لپاره مقرره ده چې کـه لـه دې طبقې پرتـه داسـقاط مـال دښـارپر نـورو فقیرانو ،مسکینانویا یتیمانو اوکونډوباندی وویشل شی نو دا اسقاط ددوی په نیزدجائزکیدلای هم نشی، نه مخته اوشاته کول دوی جائزبولی، حال داچې په شریعت کې داسې هیڅ یوقیدنه دی لګول شوی.

**۵**- فقهاؤ دا هم لیکلی دي چې ددورله فعل څخه مخکی به دمړي دقضاء شویولمونځونو او روژو حساب لګول کیږي، بیاچې څومره مال دفدیې یعنی اسقاط مقرر شوی وي دهغه اندازه به کیږي چې هغه دڅومره لمونځونولپاره فدیه کیدلای شي نوپه دې حساب سره دلمونځونولپاره هغه فدیه ګرځیدلای شي ددورفعل به ددې اندازې مطابق ترهغه وخته جاري وي چې دټول عمردقضاء شویولمونځونولپاره کفاره شي یعنی ددورفعل به دټولولمونځونو داندازې اوشمیرسره سم وي کم به نه وي، خودعوامو په اسقاط کې د دورفعل صرف درې ځله کیږي کـه څـه دغـه د دریوځلـودور دټولولمونځونولپاره بس نه وي بلکه له هغو څخه کم وي، دغه راز د مړي د لمونځونو حساب هم نه لګول کیږي اونه دفدیې اندازه معلوموي.

**۶**- فقهاؤ دا هم لیکلي دي چې په کومه حلقه کې د اسقاط د مال دورکیږي په هغه کې به غنیان اومالداران خلک هیڅکله نه وي، ځکه چې دغنیانواومالدارانولپاره دواجب فدیې دمال اخیستل هیڅکله جائز نه دي بلکه حرام دي، ځکه نو د دورپه حلقه کې به کوم غني اومالدار بالکل نه وي خودعوامو په اسقاط کې چې کوم خلک په دور کې شریکان وي، هغوی زیاتره غنیان اومالداران وي چې دهغوی لپاره دواجبو صدقو دمال اخیستل په قطعي توګه حرام دي، ځکه نودغه مروجه اسقاط دفقهاؤ اسقاط هیڅکله نه شي کیدلا ی.

**۷**- دعواموپه اسقاط کې قرآن مجیددفدیې جزء ګرځول کیږي اوبیله قرآن کریم یواسقاط کیږي هم نه، حال داچې دفقهې په معتبرو کتابونوکې چې چېرې داسقاط دمسئلې یادونه شوی ده هلته دقرآن مجید په اړه ددې خبرې نوم اونښان نه ملاویږي چې دابه هم داسقاط دمال جزء وي په ګرځولو کې،

---

پردې مهال دځينو مسجدونو امامان دقرآن مجيد سره دبيع په رنګه معامله کوي چې ډيرزيات غلط کارهم دی اوله چل او دوکې ډک هم ، ځکه که چيرې دمړي دوارث خپل قرآن شريف نه وي نودغه امامان پرده دبل چا قرآن مجيد په زر دوه زره هزلاً خرڅوي په دې کې د دوی غرض داوي چې کله په زر دوه زره مې قرآن مجيد خرڅ کړ نوبيا ددې دفديې دمال سره په ملګري کولوبه د فديې تعداد زيات شي ځکه چې دفديې سره ددوزرو قرآن مجيد هم ملګرې کړل شو ، حال دادې چې داسې بيع خو لومړی بيع نه ده نه په دې سره شئ دچا په ملک کې راځي ترڅوچې له هزل څخه اعراض ونکړي اوله نوی سره صحيح بيع ونکړي، دوهم که بالفرض دغه بيع منعقده هم وبلل شي نودفديې سره دقرآن مجيد په اينبودلودفديې تعداد تر زرو دوو زرو روپيو څنګه رسيدلای شي کله چې زر دوه زره ددې قيمت نه دی، بلکه ثمن دمشتري په ذمه مقرر شوی دی ، او په فديه کې که شامليدلای شي نو صرف د قرآن مجيداصل قيمت اوماليت شامليدلای شي کوم چې ښکاره دی چې زر دوه زره نه بلکه زيات نه زيات ترلسو دوولسو روپيو پورې دی، دفقهاء کرامو په اسقاط کې ددا ډول دوکو ډک چلونو اصلاً يادونه هم نشته، داصرف په مروجه عوامي اسقاط کې موندل کيږي،

۸- دفقهاء کرامو په نيزد اسقاط صرف هغه دورته ويل کيږي چې په حلقه کې دننه وکړل شي په دې سره ددوی په نيزداسقاط پوره کيږي له دې وروسته دمال ويشل پر وارثانوفرض ياواجب نه دي نه پردې باندې په يودرجه کې اسقاط ولاړ دی اوپخپله خوښه که صدقه کول غواړي نوکولای شي، مګر په دې کې هم داضروري نه دی چې ټول مال به صدقه کوي يابه پرهم هغه خلکو ويشي کوم چې دمړي دکټ په خواوشا راګرځيدلي ناست دي. بلکه که له دې څخه لرې صدقه وشي اوهغه له دايرې څخه پرته پر نوروفقيرانو او مسکينانوشي نوهم ثواب پرې ورکول کيږي اوپه اسقاط کې هيڅ نقص نه راځي ددې پر عکس دمروج اسقاط له دورې څخه وروسته دمال تقسيم هم ضروري دی بې ددې اسقاط کيدلای هم نه شي، يا لږ ترلږه مکمل کيدلای نشي اوداتقسيم هم پرهغوخلکو ضروري دی چاچې محنت وکړو د دورعمل يې ترسره کړو له دوی پرته پر نورو فقيرانو اومسکينانو که دا مال تقسيم شي نوبيا د خپل اسقاط تماشا وګورئ چې څه ترې جوړيږي.

۹- له دې ټولوڅيزونو څخه پرته په سل کې (۹۹) نهه نوي خلک دغه اسقاط يو رسم اورواج بولي د ريا اونامه لپاره کوي ياپې ددې لپاره کوي چې په خلکوکې دئ بدنام نه شي اوخلک په ده پورې ټوکې ونکړي، د داسې خلکونيت اصلاً دثواب نه وي که دريا ، نامه اويابدنامۍ څخه دبچ کيدولپاره په لکونو ، کروړنو روپۍ مصرف کړي پردې يوه ذره هم ثواب نه ورکول کيږي

ځکه په داسې اسقاطونو کې مړي ته هم هیڅ ګټه یاثواب نه رسي ، اما اسقاط کونکیوته په خلکوکې نیک نوم ضرور حاصلیږي او هغه خلکوته دنیوي ګټه رسي چې په اسقاط کې څو روپۍ په لاس ورشي، مړي بې چاره ته په دا ډول اسقاطونوکې هیڅ هم په لاس نه ورځي.

۱۰- له دې نه سیوا دعوامو په اسقاط کې دمال ویش هم په ډیره غلطه طریقه سره کیږي، یعنی کوم خلک چې عزتمند او ذي وجاهت وي او دکومو غټو مسجدونو امامان وي هغوې ته دوې دوې درې درې بلکه تر دې هم زیاتې روپۍ ورکوي، او مسکینان او محتاج طالبان یانور فقیران او مسکینان چې دکوم مسجد امامان نه وي هغوې ته یوه یا دوې آنې ورکوي.

اوس په انصاف سره وو ایاست چې دغه ټول شیان دعوامو په مروج اسقاط کې موندل کیږي اوکنه؟ که موندل کېږي اویقیناً موندل کېږي نو مهرباني وکړئ دا هم راته وو ایاست چې د مروجه اسقاط دفقهاء کرامو د اسقاط سره کوم مناسبت شته او کنه؟

بیاخه ډول دا دعوی کیدلای شي چې لکه څرنګه چې فقهاؤ پخپلو کتابونوکې د اسقاط یادونه کړې ده په عوامو خلکو کې د کوم اسقاط رواج دی دابه هم جائز وي ځکه چې د دې نوم هم اسقاط دی. حاشا وکلا- په دې وجه د اسقاط په اړه زمونږ رایه داده چې که چېرې دغه اسقاط د فقهاء کرامو د ښودلی اسقاط سره سم کېده او په هغه کې له پورته بیان شویو مفاسدو څخه یوهم نه ؤنوهغه جائزاوکارد ثواب دی په دې شرط چې دا فرض یا واجب ونه بولي اوکه له پورته بیان شویو مفاسدو څخه ځینی مفاسد پکې وو نو داسی اسقاط پر دغو مفاسدو د مشتمل کیدو له امله ناروا دی، اوکاردثواب نه دی،داسې کسان لومړی باید دمیراث په قانون دمړي له ترکې څخه دده قرض ادا کړي له دې وروسته د وارثانو ترمنځ دشرعي قانون سره سم پاته ترکه وویشي هر وارث ته خپله خپله برخه ورکړي، له دې وروسته که په وارثانوکې کوم یو پخپله خوښه او رضا د مړي د ایصال ثواب لپاره څومره مال و غواړي مصرف دی کړي، همدغه صحیح او شرعي طریقه ده چې له سلفو صالحینو څخه رانقل شوی ده او د قرآن او حدیث د احکاماتو سره مطابقت هم لري. والله اعلم

(فتاوی حقانیه: ۲/ ۲۰-۲۷، تحت عنوان ((حیله اسقاط کې شرعي حیثیت))

## په مړي پسی خیرات کول کار د ثواب دی

**پوښتنه**: ومحترم رئیس صاحب د دارالافتاء مرکزي ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! مونږ د خاک افغان ولسوالۍ د یوې مسئلې استفتاء کوو که مطابق د فقهې حنفي جواب راکړئ لویه مهرباني به مو وي.
که یو مُرده وصیت کړی وي چې زما دمال له ثُلث څخه دومره مقدار خیرات وکړئ او قریبان هغه مقدارخیرات وکړي ثُلث دمال یې نورلاهم پاته وي اویا مُرده وصیت نه وي کړی یامسکین وي قریبان یې له خپله طرفه یعنی له خپل مال څخه خیرات پسې وکړي داقسم خیرات جائزدی که نه؟

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب**:

دلته باید څوخبرې ښې واضحې شي (اوله خبره داده) خیرات کول په مړي پسی جائز دی بلکه موجب دثواب دی هغه د مړي په حق کې هم اودخیرات کوونکي په حق کې هم او دغه خیرات کول ډیره نفعه رسوي مړي ته چې داخبره هم په احادیثوثابته ده او هم داهل السنة والجماعة دعلماؤ په اقوالو اوکتابونوسره چې یوه نمونه ئی دلته ذکرکوو:

روی الدارقطنی قال رجل یارسول الله کیف ابرّابویّ بعدموتهما فقال ان من البربعدالموت ان تصلی لهما مع صلاتک وان تصوم لهما مع صیامک وان تصدق عنهما مع صدقتک... عن انس رضی الله عنه انه سأل رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال یارسول الله اذا نتصدق عن موتانا

ونحجّ عنهم وندعو لهم فهل يصل ذلک اليهم قال نعم ويفرحون به كما يفرح احدكم بالطبق اذا أهدى اليه (عمدة القاري شرح صحيح البخاری ج ۳ ص ۱۱۹)
الافضل لمن يتصدق نفلا ان ينوی لجميع المؤمنين والمؤمنات لانها تصل اليهم و لاينقص من اجره شئ اھ هومذهب اهل السنة والجماعة.
(ردالمحتار ج ۱ص ۲۲۲)

بدانكه دعا وصدقۂ زندگان برای مردگان نافع است.

قال التفتازاني فی شرح العقائد النسفية وفی دعاء الاحياء للاموات وصدقتهم ای صدقة الاحياء عنهم ای عن الاموات نفع لهم ای للاموات خلافا للمعتزلة...شیخ عبدالحق محدِّث دهلوي قُدس سرُّہ درجامع البركات منتخب شرح مشكوة نوشته : وبرحصول ثواب ووصول نفع اموات را بعبادات ماليه اتفاق است ودربدنيه مثل نماز گزاردن وقرآن خواندن اختلاف واصح وصول است كذا قال الشيخ ابن الهمام رَحِمَهُ ٱللَّهُ ... بلكه منقول از امام احمد رحمة الله تعالى عليه آنست كه ميرسد بميت هرچيز ازصدقه وصلوة وحج الخ... وامام رباني درمكتوب صد و چهارم جلداول ميفرمايد: مصيبت برفتن نيست برحال رونده است تا با اوچه معامله كنند بدعا واستغفار وتصدق امداد بايد نمود...عجب تماشا است كه بعضی مردمان همچومعتزله ازثواب رساني موتٰی انكارميكنندمع هذا ازدعوی سنيت دست نمی بردارند وگاهی بربطلان ايصال ثواب بعبادات بدنيه حكم مينمايند وباوجود اين اجتهاد وابطال دعوی تقليد وحنفيت نمی گذارند.

(فصل الخطاب بين الخطأ والصواب ص ۵۷)

## په مړي پسی اوله ورځ خیرات او د مړي په کور کې ضیافت څنګه دی؟

**پوښتنه** : د دارالافتاء وعالي مقام ته اولاً

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: زمونږ په وطن کې دعلماء کرامو په مابین کې ډیر شدید اختلاف واقع شوی دی ددې مسئلې په هکله چې بعضې وایي په اوله ورځ د مُرده خیرات مکروه دی او بعضې وایي چې صحیح دی.
مسئله تاسوته وړاندې شوه خدای جَلَّجَلَالُهُ دې وکړي چې راته حل یې کړئ.

والسلام.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الفتویٰ باسم ملهم الصدق والصواب** :

د مُرده په کور کې ضیافت او میلمستیا تر درو ورځو پورې بې له ضرورته شرعًا منع ده او هرچې صدقه اوخیرات دی په مرده پسې دا روادی په هروقت کې چې وي که اوله ورځ وي اوکه بله ورځ وي ، خو چې د بل چا د مال څخه وي نه د مرده د مال څخه او یا دده د مال څخه وي لکن دده په ورثه وو کې کوچنی نه وي او د ټولو ورثه وُو اجازه هم وي. او په دغه صدقه او خیرات کې به داسې د شرعې خلاف اعمال او کارونه هم نه وي.

وفی البزازیه ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث و بعدالاسبوع و نقل الطعام الی القبر فی المواسم... وفیها من کتاب الأستحسان وأن اتخذ طعامًا للفقراء کان حسنا اهـ وأطال فی ذلک فی المعراج وقال وهذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لایریدون بها وجه الله تعالی اهـ وبحث هنا فی شرح المنیة بمعارضة حدیث جریر الماربحدیث اخر فیه انه علیه الصلاة والسلام دعته امرأة رجل میت لما رجع من دفنه فجاء وجئ بالطعام اقول وفیه نظر فانه واقعة حال لاعموم لها مع احتمال سبب خاص بخلاف مافی حدیث جریر علی انه بحث فی المنقول فی مذهبنا ومذهب غیرنا کالشافعیّة والحنابلة استدلالاً بحدیث جریرالمذکور علی الکراهة ولا سیمااذا کان فی الورثة صغار او غائب مع قطع النظر عما یحصل عند ذلک غالبًا من المنکرات الکثیرة کایقاد الشموع والقنادیل التی لاتوجد فی الافراح وکدق الطبول والغناء بالاصوات الحسان واجتماع النساء والمردان واخذ الاجرة علی الذکر وقرائة القرآن وغیرذالک مماهومشاهد فی هذه الازمان وماکان کذلک فلاشک فی حرمته وبطلان الوصیة به ولاحول ولاقوة الابالله العلی العظیم. (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۲۴)

ولایباح اتخاذ الضیافة عنده ثلاثة ایام (الفتاوی التاتارخانیة ج ۲ ص ۱۸۳ )
وهکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبندمدلّل ومکمّل ج ۵ ص ۳۴۵ و ص ۳۴۲ )

وفی البحر عن الخانیة وان اتخذولي المیّت طعاما للفقراء کان حسنا اذا کانوا بالغین وان کان فی الورثة صغیر لم یتخذ ذلک من الترکة اهـ ویعلم من ذلک حکم السبح والموالد والجمع ومایصنع من نحوخشتنانک فانه

لايفعل حيث كان فى الورثة صغير ومن فعله يكون ضامنا وعن انس مرفوعا لاعقر فى الاسلام اى لاتعقر بقرة اوشاة عند القبر فانه من افعال الجاهلية (حاشية الطحطاوي على الدر المختار ج ١ ص ٣٨٢ و ص ٣٨٣ )

اما صنع اهل البيت طعامًا للناس فمكروه وبدعة لااصل لها لأن فيه زيادة على مصيبتهم و شغلاً لهم الى شغلهم وتشبهًا بصنع اهل الجاهلية وأن كان فى الورثة قاصر دون البلوغ فيحرم اعداد الطعام وتقديمه قال جرير بن عبدالله كنا نعد الاجتماع الى اهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة وأن دعت الحاجة الى ذلك جازفانه ربّما جاء هم من يحضر ميتهم من القرى والأماكن البعيدة ويبيت عندهم ولايمكنهم الاأن يضيفوه

( الفقه الاسلامي و ادلته ج ٢ ص ٤٨٣ ط دارالفكر )

# د قبرونو زیارت ، او پر قبرونو ودانۍ

**پوښتنه** : دافغانستان اسلامي امارت دامربالمعروف اونهی عن المنکر ریاست استفتاء .

ولوړمقام ته د دارالافتاء ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد : محترما ! په شرعي نګاه دمقبرې څه حکم دی. آیا سړی د مقبرې و زیارت ته تلای سي که یا ؟ اوکه تلای سي نوپه څه طریقه به ځي. که وزیارت ته تلل مسنونه طریقه ولري. اویوڅوک پرزیارت بندیز ولګوي اوکوټه یې پرجوړه کړې وي او ټولې دروازې یې په ختو بندې کړې وي . چې خپل ځوی چې هغه هم عالم وي نه یې ور پرېږدي آیا دغه په شریعت کې جواز لري یا به جُرم وي که نه. د پورته ذکر سؤو مسئلو د شرعي اصولو په رڼاکې د جواب په هیله یو.

والسلام

( مولوی عبدالرحمٰن مسئول ریاست امربالمعروف و نهی عن المنکر )

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصواب** :

زيارت كول د مړو سنت عمل دی ، خصوصاً دخپلو والدينو رسول اكرم ﷺ فرمايي ، زيارت د مړو تاسو ته مرګ او اخرت دريادوي اوتاسود مړو لپاره دُعاء او استغفار كوئ ، او كه چا د موراو پلار زيارت يا يو ددوی دووڅخه په هره جمعه كې وكړ ده ته به مغفرت وشي او دی به وليكل شي د نيكوكارانوڅخه د مور او پلار سره او په داسې صورت سره بايد زيارت وشي چې مستحب طريقه ده زيارت كوونكی به خپله شا قبلې ته كړي او مخ به ميت طرف ته كړي سلام به ورته اداء كړي او پر قبر به لاس نه تيروي اوقبربه نه مچوي او قبرته به لاس نه و روړي ځكه چې دا عادت د نصارئ وو دی او بعضې علماء كرام وايي چې د مور او پلار د قبر مچول باک نه لري او پرقبرباندې بناء كول اعني مسجد ياكوټه جوړول مكروه دي.

فصل فی زيارة القبور:

ندب زيارتها ( قوله ندب زيارتها ) لقوله ﷺ زُوْرُوا القبور تذكركم الموت و روی تذكرالاخرة... واجعلوا زيارتكم لها صلاة عليهم واستغفارا لهم وعن محمدبن نعمان يرفعه من زارقبر ابويه اواحدهما فی كل جمعة غفرله وكتب برا ـ رواه البيهقي... والمستحب فی زيارة القبور ان يقف مستدبرالقبلة مستقبلاً وجه الميت وان يسلم ولا يمسح القبر ولايقبّله ولايمسّه فان ذلک من عادة النصاری. كذا فی شرح الشرعة ( حاشية الطحطاوي علی مراقی الفلاح ص ۵۱۲-۵۱۳ )

ثم يدعوله ولا يمسحه ولايقبّله فان ذلک من عادة النصاری وقال بعض العلماء لابأس بتقبيل قبرالوالدين ( مرقاة المفاتيح شرح مشکوة المصابيح ج ۴ ص ۱۱۵ )

ويکره ان يبنی علی القبر مسجد او غيره کذا في السراج الوهاج ( الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۶۶ )

والله اعلم وعلمه اتم واحکم

کتبه عبدالستار مشهور به (حافظ)

مولوي محمود ( ميوندوال )

مولوي نورمحمد (ثاقب)

دافغانستان داسلامي امارت

د مرکزي دارالافتاء رئيس

# كتاب
# الزكوٰة

# کتاب الزکوٰة

## باب وجوب الزکوٰة

### ایا پر دکان زکوٰة شته؟

یو چا دوکان و بل چا ته ورکړی دی احساناً بې له کرایې آیا ددغه دوکان پر مالیت زکاة سته که یا؟

نوټ: دغه مذکوردوکان دخرید اوفروش دپاره یعنی دتجارة دپاره ندی.

والسلام

(المستفتي ملا شاه محمد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الفتویٰ**:

محترم مستفتي صاحب ستادسوال جواب پدی ډول دی.

صرف د دوکان پرمالیة زکوة نشته بلکه پرکرایه او پر نورو محصولاتو یعنې ګټو یې زکوة شته خو په شرط د تکمیل د نصاب او په تیریدلو د کال پر دغه نصاب باندی.

لاتجب الزکاة فی اعیان العمائر الاستغلالیة ... بل تجب فی صافی غلتها عندتوافر شرط النصاب وحولان الحول.

(الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۷۷۵ ط دارالفکر)

ولا فی ثياب البدن ... واثاث المنزل ودُور السكنٰى ونحوها (الدر المختار) قوله ونحوها كحوانيت وخانات يستغلها.

(حاشية الطحطاوي على الدر - ج ۱ ص ۳۹۲)

اتجه رأس المال فی الوقت الحاضر لتشغيله فی نواح من الاستثمارات غير الارض والبقارة وذلک عن طريق اقامة المبانی اوالعمارات بقصد الكراء والمصانع المعدة للانتاج ... و تشترک كلها فی صفة واحدة هی انها لاتجب الزكاة فی عينها وانما فی ربعها وغلتها اوارباحها (الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۷۷۴ ط دار الفكر)

**سوال**: (۳۳) چہ می فرمایند علماء دین اندرین مسئلہ کہ بر مکانات و دکانات کہ زائد از سکونت ہست وبرآن کرایہ گرفتہ میشود آیا زکوۃ واجب است یانہ۔ بینوا توجروا.

**الجواب**: زکوۃ براینہا واجب نیست زیراکہ نامی شدن نصاب از شرائط زکوۃ است ومکانات نامی نیستند۔ ومنها كون النصاب ناميًا ۔ عالمگیری جلد اول ص ۱۷۱ (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۱۷)

سوال: ایک شخص کے پاس تین مکانات ہیں بعض کرایہ پر ہیں بعض خالی ہیں ان مکانات میں زکوۃ واجب ہے یا نہیں؟

الجواب: زکوۃ ان مکانات میں لازم نہیں ہے ([1])

(عزیز الفتاوی ص ۳۶۴) وہکذا فی خیر الفتاوی ج ۳ ص ۳۷۶

([1]): پوښتنه: يوسړی درې مکانه (سرايونه) لري ځينی په کرايه ورکړي دي ځينی خالي دي په دغه مکانونوکې زکوة واجب دی او کنه؟
جواب: زکوة په دغه مکانونوکې لازم نه دی.

سوال (۲۰) زید کے پاس جائداد مالیت ایک لاکھ کی ہے جس کے آمدنی کرایہ چارسو روپے ماہوار ہے زکوۃ مالیت پر دیوے یا آمدنی پر۔

الجواب: مالیت زمین وجائداد پر زکوۃ نہیں ہے بلکہ کرایہ وغیرہ کی آمدنی جو جمع ہو اور خرچ وغیرہ کے بعد سال پورا ہونے پر باقی رہے اس پر زکوۃ واجب ہوگی ([1])

( فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ٦ ص ۴۹-۵۰)

## په موټر او ټکټر کې زکوٰة شته او کنه؟

**پوښتنه** : مسئله داده چې آیا دموټرانو، ټکټرانو، ژرندو اونورو داسې اسبابو د ګټې په ذات کې زکوة شته اوکه په ګټه کې شته؟
عام کتابونه څه وايي او صاحب د الفقه الاسلامي څه وايي؟

والسلام

---

([1]) ترجمه: پوښتنه (۲۰) د زید سره دیولکوروپیوجائداد دی چې دمیاشتې څلورسوه روپۍ کرایه راځي، زکوة يې پرقيمت دی که پرآمدني؟
جواب: دځمکې اوجائدادپرقيمت زکوة نه دی بلکه دکرایې اونوروآمدنی چې جمع شي اوله مصرفولو او نورو وروسته دکال په پوره کیدوڅه باقي وي پرهغه زکوة واجبيږي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الله تعالیٰ :**

مذكوره شيان دوه قسمه دي ، يو هغه چې تجارت دپاره يې را نيولي وي دوهم هغه دي چې مزدوري پرې كوي ، په اول قسم كې چې كال پرې تير شي مالک يې اختيارلري په زكاة وركولوكې كه يې د عين څخه زكاة باسي اوكه يې د قيمت څخه او د دوهم قسم شيانو زكاة يوازې پر ګټه باندې دی، په دی شرط چې نصاب ته ورسيږي اوكال پرې تيرشي پر دغه ګټه باندې.

واما على قول ابي حنيفة فالواجب فيها احد شيئين اما العين او القيمة (بدائع الصنائع ج ٢ ص٢١)

هل يجوز اخراج الزكاة من عروض التجارة اختلف الفقهاء على رأيين فقال الحنفيّة يخبر التاجر بين العين اوالقيمة .

(الفقه الاسلامي ج ٢ ص ٧١٣ ط دار الفكر)

الزكاة واجبة فى عروض التجارة... اذا كان له مأئتا قفيز حنطة للتجارة تساوى مائتى درهم فتم الحول ثم زاد السعر او انتقص فأن ادى من عينها ادى خمسة اقفزة وأن ادى القيمة تعتبر قيمتها يوم الوجوب لان الواجب احدهما . (الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٧٩)

وفى مجموع النوازل رجل اشترى جوالقا بعشرة آلاف درهم ليواجر من الناس فحال عليها الحول لا زكوة عليه وان كان من رايه ان يبيعه احدا لا عبرة له وكذا الجواب فى ابل المكارين وحمر المكارين (خلاصة الفتاوى ج ١ ص ٢٤٠) و هكذا فى (التاتارخانية ج ٢ ص ٢٤١)

(سوال) (۸۷) آلات تجارت مثل کشتیاں وجہازات اور بیل گاڑیاں اور اونٹ گاڑیاں نقل اموال تجارت کے واسطے اور دوکاندار کے گھر وغیرہ اموال کی بیع کے واسطے یہ سب آلات عروض تجارت میں شامل ہوں گے یا آلات محترفہ میں.

(الجواب) یہ اشیاء آلات محترفہ میں داخل ہیں ان میں زکوٰۃ نہیں ہے (۱)

وکذلک آلات المحترفین الخ ای لازکوة فیها -الدرالمختار علی هامش ردالمحتار - ج ۲ ص ۱۱ (فتاوی دارالعلوم دیوبند - ج ۲ ص ۷۸)

مولوي محمود (میوندوال)

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د مرکزي دارالافتاء رئیس

(۱) ترجمه: سوال (۸۷) دتجارت آلات لکه کښتیانې، جهازونه، دغوایو او اوښانو ګاډي دتجارت دمالونو نقلولو لپاره او ددوکاندار کور او نور اموال دبیع لپاره دغه ټول آلات د تجارت په عروضو کې شاملیږي که په آلات محترفه کې؟
ځواب: دا شیان په آلات محترفه کې شامل دی په دوی کې زکوة نشته.

## د کور د نفقې پر ټکتر یا موټر باندې زکوة شته او کنه؟

**پوښتنه** : که څوک ټکتریا موټردکور دنفقې (خواری) لپاره واخلي اومزدوري په کوي آیا په دغه ټکتر کې یا موټر کې زکاة شته کنه؟

(مولوي احمدالله نانی)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب حامداً ومصلّیاً** :

په ټکتر یا موټرکې چې مزدوري پرې کوي د فروش لپاره نه وي اګر که په نیت کې یې فروش وي په اخیرکې ، زکوة نشته .

اذا اشترى جوالق بعشرة آلاف درهم ليؤاجرها من الناس فحال عليها الحول فلا زكوة فيهالانه اشتراها للغلة لالتجارة فان كان فى نيته انه يبيعها آخراً فلا عبرة لهذا وكذلك الجواب فى ابل الحمالين وحمرالمكارين (التاتارخانية ج ٢ ص٢٤١ ط ادارة القرآن و العلوم الاسلامية كراچي) و (خلاصة الفتاوى ج ١ص ٢٤٠) والله اعلم

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي احمد (نوري)
مولوي محمداخلاص (برکتي)

مولوي نورمحمد (ثاقب)
دافغانستان د اسلامي دولت
د مرکزي دارالافتاء رئیس

## د گرو پر سرای ورکړیو روپیو باندی زکوٰة

**پوښتنه**: محترموعلماء کرامو د دارالافتاء

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

عزتمنو! موږ دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) پاکستانۍ کلداري درلودې او موږ یو سرای رانیوئ په درې لکه کلدارې (۳۰۰۰۰۰) نو د درې لکو کلدارو په پور مو عُرفي قباله نوشته کړه وروسته شُفعه والا راپورته سو او زموږ پیسې یې بیرته راکړې نو که اوس موږ ته سرای پیداسی موږیې رانیسواوفعلاً داپیسی موږ دګروی پرسرای ورکړي نو اوس په دغه سرای کې پراته یو اوس په قطعي سرای پسې ګرزو آیا پر دغه پیسو زکاة سته اوکه نسته.

والسلام مع الاحترام

(المستفتي: ملا امیرمحمد اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الفتویٰ بعون الملک العلی الاعلیٰ**:

محترم مستفتي صاحب ستاسو پدغه پیسوکې چې په ګروې د سرای کې مو ورکړي دي پس له اخستلو څخه د مالک د سرای نه د ټولو هغو کلو چې تیر شوي دي پر دغه پیسو زکاة واجب او لازم ګرزي او مخکې ترحصول د پیسو لازم نه ګرځي، که څه هم تاسو په دغه پیسو سرای رانیسی ځکه چې زکاة به هله ورځینې ساقط کېده چې تاسو هغه وخت سرای پرې رانیولی وی.

قوله ولا فی مرهون.....قلت لكن ارجع شيخ مشايخنا السائحانی الضمير فی قول الشارح بعد قبضه الی المرتهن كما رأيته بخطه فی هامش نسخه ويؤيده أن عبارة البحر هكذا ومن موانع الوجوب الرهن اذا كان فی يد المرتهن لعدم ملك اليد اهـ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۸/۷) و هكذا فی (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۷۲)

سوال: (۱۹۰) جو روپیہ رہن آراضی میں مالکان آراضی کو دیا ہے اس کی زکوٰۃ ہر سال ادا کرنی ہوگی یا بعد وصول ہونے کے اور برتقدیر ثانی پچھلے تمام سالوں کی زکوٰۃ واجب ہوگی یا نہیں۔

الجواب: اس روپے کی زکوۃ بعد وصول ہونے کے لازم ہے اور پچھلے سالوں کی زکوۃ بھی دینی ہوگی (۱) کذا فی الدر المختار فقط (فتاوی دار العلوم دیوبند مکمل و مدلل ج ٦ ص ۱۲۹)

و ظاهر قوله فاذا كان له دراهم الخ أن المراد من قوله وفارغ عن حاجته الاصلية ما كان نصابا من النقدين أو احدهما فارغا عن الصرف الی تلك الحوائج لكن كلام الهداية مشعر بان المراد به نفس الحوائج فانه قال وليس فی دور السكنی وثياب البدن وأثاث المنازل وداوب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكاة لانها مشغولة بحاجته الاصلية وليست بنامية: ايضاً اهـ وبه يشعر كلام المصنف الاتی ايضًا اهـ

(ردالمحتار ۲ ص ۲- ۷) و هكذا فی (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۰۱)

كتبه مولوي محمد اخلاص (بركتي)

---

(۱) ترجمه: سوال: (۱۹۰) كومی روپۍ چې دځمكو په ګروكې دځمكو ومالكانو ته وركړي دي د هغو زكوة به هركال ادا كوو كه له وصولولو څخه وروسته اوپه دوهم صورت كې به دتيرو ټولو كلونو زكوة واجبيږي كه نه؟

جواب: له وصولولو څخه وروسته په دغه روپيو كې زكوة لازم دی اودتيرو كلونو زكاة به هم وركوي.

## ایا پر کتابونو زکوٰة واجبیږي؟

**پوښتنه**: محترمو استاذانو علماء کرامو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد که کتابونه په میراث کې پاته شي پس له دورانه څخه دکال، پر وارثانو زکوة شته کنه؟

المستفتي: نظام الدین

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک المُستعان**:

په دغه کتابوکې زکاة نشته اونه واجبیږي ځکه چې په دغه کتابوکې نما نشته بغیر دعمل دتجارت نه.

وعلى هذا كتب العلم لأهلها اى وعلى ما ذكرنا من عدم وجوب الزكاة حكم كتب العلم لأهلهاقال الاترازى رَحِمَهُ اللَّهُ إنما قيد بقوله لأهلها لأنها إذا كانت للبيع تكون فيها الزكاة لوجود النماء بالتجارة وقال السكاكى رَحِمَهُ اللَّهُ قوله لأهلها قيد غير مفيد لما أنه لولم يكن من أهلها وليست هى للتجارة لا تجب فيها الزكاة ايضاً وإن كثرت لعدم النماء وإنما يفيد ذكر الأهل فى حق مصرف الزكاة فإنه إذاكانت له كتب تبلغ النصاب وهو محتاج إليها للتدريس وغيره يجوز له أخذ الزكاة أما إذابلغت النصاب ولم يكن محتاجاً إليها لايجوز صرف الزكاة إليه كذا فى النهاية (البناية فى شرح الهداية:۳۵۹/۳) و هكذا فى (فتح القدير: ۱۲۰/۲) و هكذا فى (الفتاوى العالمگيرية: ۱۷۲/۱-۱۷۳) و هكذا فى (البحر الرائق: ۲۰۲/۲)

(قوله: غیرأن الأهل الخ) استدراک علی التعمیم المأخوذ من قوله وإن لم تکن لأهلها ای ان الکتب لازکاة فیها علی الأهل وغیرهم من ای علم کانت لکونها غیرنامیة وانما الفرق بین الأهل وغیرهم فی جواز اخذ الزکاة والمنع عنه فمن کان من أهلها اذا کان محتاجًا إلیها للتدریس والحفظ والتصحیح فإنه لایخرج بها عن الفقر فله اخذ الزکاة ان کانت فقهاً أو حدیثاً أوتفسیراً ولم یفضل عن حاجته نسخ تساوی نصابا کان یکون عنده من کل تصنیف نسختان وقیل ثلاث لأن النسختین یحتاج إلیهما لتصحیح کل من الاخری والمختار الأول أی کون الزائد علی الواحد فاضلاً عن الحاجة وأما غیرالأهل فإنهم یحرمون بالکتب من أخذ الزکاة لتعلق الحرمان بملک قدر النصاب غیرمحتاج إلیه و إن لم یکن نامیًاالخ

(ردالمحتار: ۹/۲) و هکذا فی (الفقه الاسلامي: ۷۵۱/۲ط دارالفکر)

والله اعلم بالصواب

## ایا پر نوټ زکوة واجبیږي؟

**پوښتنه**: محترمو علماء کرامو د دارالافتاء مرکزي

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ستاسې حضورته داپوښتنه وړاندې کوم الله تعالیٰ دې وکړي چې په جواب کې مؤفق شئ.

بانکي لوټونه لکه افغانۍ، کالداری، ډالر وغیره چې یوچاته په کورکې پراته وي مقدار دزکوة ته رسیدلي وي کال پرتیرشي زکوة پرشته اوکنه؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب :**

دبانکي نوټ په باره کې دمتقدمینوعلماؤ څخه له دې وجهې څه ندي رانقل شوي چې په هغه وخت کې بانکي نوټ نه وجود درلود او نه مروّج ؤ بلکه دراهم او دنانیر استعمالېدل او اوسني علماء کرامو خصوصًا د دیوبند علماء کرامو په بانکي نوټونو کې خپلې رأې اوفتواګانې صادرې کړې دي چې مشهورې پکې درې۳رأیې دي.

**اوله رایه** : بانکي نوټونه سندونه دي ددین یعنې دغه بانکي نوټ سند دی د هغه چا لپاره چې دغه نوټ ورسره وي پرحکومت باندې نوحکومت مدیون دی اودغه سړی دائن دی د دغې رأې په بناء دغه نوټونه حکم د حوالې لري نه د ثمن ۔ واما اوراق العملة وهی التي تسمی (نوت) فقد اختلف فیه انظار علماء عصرنا فاکثر العلماء یعتبرونها سندات دَیْن کالبون والکمبیالة فانها تصرح بوجوب دفع مبلغه عندالطلب (تکملة فتح الملهم - ج۱- ص ۵۱۲)

سو حقیقت نوٹ کی یہ ہے کہ جس وقت اوّل میں روپیہ دے کر گورنمنٹ سے نوٹ لیا تھا گورنمنٹ اس روپیہ کی مقروض ہو گی اور نوٹ اس قرض کی سند ہے (۱)

(امدادالفتاوی ج ۲ ص ۴ و ص ۲ و ص۵ وہکذا ج ۳ ص ۱۷۴) وعزیزالفتاوی ص ۳۴۸ وامدادالمفتین ص ۴۵۱۔

(۱) ترجمه: ګوحقیقت د نوټ دا دی چې کله اول د روپۍ په ورکولو له حکومت څخه نوټ اخیستی ؤ حکومت د هغه روپۍ پوروړی شو او نوټ د هغه پور او قرض سند دی.

وکفایت المفتی ج۸ ص ۱۱۲ او همدارنګه پرنوټونو چې کومه نوشته اولیک شته دهغه څخه په ډیر واضح ډول معلومیږي چې دا سندونه دي مثلاً دافغانی پرنوټ نوشته دی (دافغانستان بانک ددې سندلرونکي ته وعده ورکوي چې د غوښتنې په وخت کې ...افغانی ورکړي) او دکالدارې پرنوټ لیکلي دي (حامل ہذا کو مطالبہ پرادا کریگا) بقی ان المعاملة بهذه الاوراق انما تتخرج على قاعدة الحوالة لمن يجيز المعاملة بالمعاطاة وذلک هومذهب السادة الحنفيّة .....ومن هذه الناحية قد افتى معظم علماء الهند وباكستان بان اوراق العملة هذه ليست اثماناً وانماهى سندات ديون (تكملة فتح الملهم- ج۱ ص ۵۱۲)

**دویمه رایه** : بانکي نوټونه که څه هم د اصلي وضعې څخه وثائق او سندونه د دَیْن دي لکن فعلاً حکم داثمان عرفیه یافلوس نافقه لري اوحکم یی هم د اثمان عرفیه دي. ولكن من العلماء من جعل أوراق العملة فى حكم الاثمان العرفية (تكملة فتح الملهم ج ۱ ص ۵۱۷)

*لیکن اسی زمانہ میں علماء اور فقہاء کی ایک بڑی جماعت ایسی بھی تھی جوان کاغذی نوٹوں کو ثمن عُرفی کے طورپرمال قرار دیتی تھی چنانچہ اس مسئلہ پر مسنداحمد کے مرتب اورشارح علامہ احمد ساعاتی رَحِمَهُ ٱللَّهُ نے سیر حاصل بحث فرمائی ہے' وہ فرماتے ہیں* [1]

فالذي أراه حقا وادين الله عليه أن حكم الورق المالى كحكم النقدين فى الزكوة سواء بسواء (شرح الفتح الربانى للساعاتى اخر باب زكاة الذهب

(۱) لیکن په هغه زمانه کې د علماء او فقهاء یوه ستره ډله داسی هم وه چې دغه کاغذي لوټونه یې دثمن عرفی په توګه مال بلل، څکه پر دې مسئله باندې د مسنداحمد مرتب اوشارح علامه احمد ساعاتي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ښه کلک بحث کړی دی هغه فرمایي: فالذی أراه حقاً الخ

والفضة ۸: ۲۵۱) (احسن الفتاوی - ج ۷ ص ۲۳) وحینئذٍ نجري علیها احکام الفلوس النافقة سواء بسواء (تکمله فتح الملهم-ج۱ ص ۵۹۰)

دوسرے حضرات فقہاء کی رائے یہ ہے کہ اب یہ نوٹ بذات خود ثمن عرفی بن گئے ہیں اس لئے جو شخص یہ نوٹ ادا کرے تو یہ سمجھا جائے گا کہ اس نے مال اور ثمن ادا کیا ہے ان نوٹوں کی ادائیگی سے دین کا حوالہ نہیں سمجھا جائے گا (کاغذی نوٹ اور کرنسی کا حکم ص ۷) ([1])

**ددویمې رایې دلائل**: که د نوټونو اصل تاریخ او کیفیت ته د وضع او رواج د هغو او اختلاف ته د حیثیت د هغو په مختلفو زمانوکې وګورو دا به راته ثابته شي چې دغه نوټونه فی الحال حکم د اثمان عرفي لري د مثال په طور لاندې نمونې ذکر کوو-

**اول**: د ۱۷۰۰عیسوي کال په اوائلوکې د سویډن بانک دغه کاغذي نوټونو ته قانوني شکل ورکړ او په بازارونو کې یې رواج کړل او دا یې پرځان لازمه کړه چې ددغه نوټونو په عوض کې به هلته زرموجود وي په هغونه مقدار سره هرڅوک کولای شي چې دغه نوټونه بانک ته راوړي اوزرترلاسه کي.

**دوهم**: په ۱۸۳۳ عیسوي کال کې نوټونو دونه رواج پیدا کړی ؤ. چې حکومت ورته د (زرقانوني) اعتبار ورکړ او هر قرض اخیستونکي باندې یې دا لازمه کړه چې خپل د قرض په بدل کې دغه نوټونه قبول کړي اویوازې حکومتي بانکو ته اجازه ورکول شوه چې دغه نوټونه را وباسي او جوړیې کړي.

---

([1]) ترجمه: د نورو فقهاؤ رایه داده چې اوس دانوټ پخپله ثمن عرفي ګرځیدلي دي ځکه څوک چې دانوټ اداکړي نوموړ به دا وایو چې ده مال اوثمن ادا کړ ددغه نوټونو ادا ینه ته به ددین حواله نه و ایو. (دکاغذي نوټ اوکرنسۍ حکم)

**دریم**: بعضی حکومتونو د اقتصادي مشکلاتو په وجه د زرو د مقدار څخه زائد نوټونه چاپ او هغه یې مروج کړل چې حکم د «زراعتباري» لري او کله چې دانګلینډ حکومت د ۱۹۱۴ع د جنګ څخه فارغ شو او د خلکو مطالبې یې په باره د تبدیلۍ نوټ کې به زرو نشوای پوره کولای اعلان یې وکړ چې تبدیلی دپاره یې دونه لوی مقدار پیسی شرط او تعین کړي چې حتّی په اوس زمانه کې د ډیرو اغنیاؤ تر قدرت لوړه خبره ده چې له یوې خوا د خلکو اطمینان په وجود داصلي زرو حاصل شي او د بلی خوا د خلکو د مطالبو فشار کم شي.

**څلورم**: ۱۹۳۱ ع کې بریطانوي حکومت اعلان وکړ چې د نوټونو تبادله په زرو د عوامو او رعیت سره بالکل بنده ده لکن د نورو حکومتونو سره به دا تبادله وي او خلک یې پدې مجبورکړل چې یوازې په دغه نوټونو اکتفا وکړي او په ټولو معاملاتو کې یې استعمال کړي.

**پنځم**: کله چې د امریکا حکومت په ۱۹۷۱ع کې د زرو د لړ والي د بُحران سره مخ شو نو یې نه یوازی د رعیت بلکه د نورو حکومتونو سره هم دغه تبادله بنده کړه او پر ځای یې په نوټونو اکتفاء وکړه او لاندې قانون یې وضع کړ هغه دا چې د زرو لپاره یې یو مقدار وټاکه او اعلان یې وکړ چې هرحکومت که وغواړي چې دخپلونوټونو اعتبار وساتي نو باید هغومره نوټونه واخلي چې پورتني مقدار زر پرې رانیول کیدلای شي که څه هم په هغو نوټو د زرو خریداري و نشي خو په بین المللي سطحه به یې د نوټو اعتبار هم باقي پاته وي او دا قانون تراوسه هم جاري دی او همداسې نور تغیرات په مختلفو اوقاتو کې راغلي دي چې د دی تغیراتو څخه وروسته موږ ته دا

متیقنه شوه چې په ابتداء کې دا نوټونه یقیناً سندونه وو د زرو لکن اوس نه د دوې په عوض کې زرشته او نه ددغه نوټو تعلق د زرو سره پاته شوی دی او نه دا نوټونه د زرو نمایندګي کولای شي او دا چې پر نوټونو د ضمانت د ورکولو او عوض ورکولو د وعدو لیک لیکل شوی دی صرف ددې لپاره دی چې دخلکو اعتماد وربادې حاصل شي او دا تجربه شوې ده چې بعضې کسان ورغلي دي عوض یې غوښتی دی بانک ندی ورکړی.

(حاصل وانتخاب از رساله کاغذی نوٹ اور کرنسی کا حکم، از ص ۸ تا ۲۵)

ہندوستان کے بعض دوسرے علماء کی بھی یہی رائے تھی چنانچہ حضرت مولانا عبدالحیٔ لکھنوی رَحِمَهُ ٱللَّهُ کے خصوصی شاگرد عطر ہدایہ اور خلاصۃ التفاسیر کے مصنف حضرت مولانا فتح محمد صاحب لکھنوی کے بھی نوٹ کے بارے میں یہی رائے تھی اوران کے بیٹے مولانا مفتی سعید احمد لکھنوی... نے اپنی والد ماجد کی یہ رائے ان کی کتاب عطر ہدایۃ کے آخر میں نقل کی ہے اور یہ بھی تحریر فرمایاہے کہ علامہ عبدالحیٔ لکھنوی رَحِمَهُ ٱللَّهُ بھی اس مسئلہ میں ان کے موافق تھے [1]

(رسالہ کاغذی نوٹ ص ۲۲)

---

[1] ترجمه: دهندوستان دځینو نورعلماؤ هم دا رایه وه لکه څرګه چې دحضرت مولانا عبدالحی لکهنوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دخصوصي شاګرد دعطرهدایه اوخلاصة التفاسیرمصنف حضرت مولانا فتح محمدصاحب لکهنوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم دنوټ په اړه همدغه رایه وه اودده زوي مولانا مفتي سعید احمد لکهنوي... دخپل پلار محترم دغه رایه دده دکتاب عطرهدایه په پای کې رانقل کړې ده او دایې هم لیکلي دي چې علّامه عبدالحی لکهنوی رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم په دې مسئله کې دده سره اتفاق درلود.

د نوټونو او نورو اسنادو فرق :

(**اول**) د نوټونو پر قبلیدو باندې خلک مجبور دي اود اسنادو قبلولوته ندي مجبور.

(**دوهم**) په اوس عصرکې که مدیون دائن ته نوټونه ورکوي هغه هیڅکله انکار نکوي بلکه حتمًا یې قبلوي اوکه د قرض سند ورکوي نوغالبًا چې دائن به انکارکوي.

(**دریم**) نوټونه یوازې حکومت جاري کولای شي او سندونه عام خلق جاري کولای شي.

(**څلورم**) هرڅوک چې نوټونه قبلوي نو بې له څه تشویشه یې قبلوي او دا فکر کوي چې عینِ مال ماته ورسید نه دا چې سند د قرض راته ورسید پخلاف د سند څخه .

(**پنځم**) د نوټونو په عوض کې زر موجود نه دي او نه یې تبادله په زرو کیدلای شي پخلاف د سند څخه

(حاصل و انتخاب از رساله کاغذي نوټ ص ۲۷ الی ص ۳۱ )

الاوراق النقدية والنقود المعدنية هى التي يتم التبادل بها بدلاعن الذهب والفضة و تعد بمثابة حوالة مصرفية على المصرف المركزي للدولة بما يعادلها ذهبًا من الرصيد الذهبي المخزون الذى يغطى العملة المتداولة الا ان اغلب الدول حرمت التعامل بالذهب فلم تعد تسمع بسحب الرصيد المقابل لكل ورقة نقدية او نقد معدنى مصنوع من خلائط معدنية معينة كالبرونز والنحاس وغيرهما حفاظًا على الرصيدالذهبي فى خزانة الدولة وبما أن هذا النظام ظهر حديثًا بعد الحرب العالمية الأُولى فلم يتكلم فيه

فقهاء نا القدامي وقد بحث فقهاء العصر حكم زكاة هذه النقود الورقية فقرروا وجوب الزكاة فيها عند جمهور الفقهاء الحنفية والمالكية والشافعية.....والحق وجوب الزكاة فيها لانها اصبحت هى اثمان الاشياء وامتنع التعامل بالذهب ولم تسمع ايّ دولة بأخذ الرصيد المقابل لاى فئة من اوراق التعامل ولايصح قياس هذه النقود على الدين الخ .

(الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۲۸۰ و ۲۸۱ ط دار الفكر )

واما هذه الاوراق فليست اموالا فى انفسها وانما جاء فيها التقوم من قبل الحكومة ولو ابطلت الحكومة ثمنيتها بطل تقومها...ولهذا التزمت الحكومة بأداء بدلها عند هلاكها او ضياعها لالأنها لم تكن اثمانًا عرفية فى نظر الحكومة بل لتحوز هذه الأثمان ثقة العامة ويتعامل بها الناس دون خطر فليست جهة كونها وثيقة مما يبطل ثمنيتها فانها تنبئ عن وعد الحكومة باداء بدلها وليس لهذا الوعد اى أثر فى تعامل الناس فيما بينهم ولو كانت الحكومة لاتريد أن تجعلها اثماناً عرفية لما جبرت الناس على قبولها عند اقتضاء حقهم بل إن هذه الجهة قد منحت هذه الأوراق من الثقة ما هو فوق ثقة الاثمان الاخرى فانها تهلك وتضيع بلابدل وهذه يمكن ابدالها من الحكومة- ( تكمله فتح الملهم- ج ۱ ص ۵۱۸ )

**دریمه رایه** : په پاکستانۍ کالداروکې دیوې روپۍ معدني سکې یا کاغذي نوټونه حکم د فلوس نافقه لري یعنې متعارف دي لکه دوهمه رأیه کې چې یې دلائل تیر شول ، لکن د یوې روپۍ څخه زیات نوټونه لکه ۲ روپۍ ۵ روپۍ ۱۰-۵۰-۱۰۰-۵۰۰-۱۰۰۰- روپۍ نوټونه ټول سندونه دي لکن نه پدې معنٰی چې د زرو سندونه دي بلکه دیوه مقدار معین روپیو سندونه دي، مثلاً د (۱۰۰)

نوټ د سلو معدني سکو یا کاغذي روپیو سند دی چې هر کله دغه نوټ بینک ته وروړل شي نو حکومت به (۱۰۰) روپۍ ورکوي

**د دریمې راې دلائل:**

**اول**: موږ د پاکستان اسټیټ بینک څخه معلومات کړی دی هغوی دغه مذکور بیان راته کړی دی.

**دوهم**: د یوې روپۍ پر نوټ د مطالبې ضمانت ندی لیکلی لکن د (۲) روپیو څخه وروسته تر (۱۰۰۰) روپو پوری د مطالبی ضمانت پر هر نوټ لیکل شوی دی.

**دریم**: غټ نوټونه که چیرې شي یا ضائع صرف د هغه نوټ نمبر چې بینک ته وروړل شي بینک یې بدل ورکوي نو که ثمن عرفي وای ولی به حکومت بدل ورکولای او حکومت که څه هم د یوې روپۍ نوټ هم بدلوي لکن هغه نه په دې وجه چې ثمن عرفي ندی بلکه هغه کاغذي او ضعیف نوټ دی ژر ژر ضائع کیږي که بینک بدل ورنکړي اِبقاء یې نا ممکنه ده.

**څلورم**: نقود مالیه که فرضاً ناچله شي خپل قیمت نه بایلي یعنې هغه معدني سکې که څه هم د رواجه ولویږي او ثمنیة یې ختم شي لکن بیا یې هم خلق رانیسي او نوره استفاده ورځنې کوي او دغه نوټونه چې د دوی سندیت ختم شي بیا بالکل د قیمت څخه لویږي.

حاصل و ترجمه از (احسن الفتاوی-ج۷ ص ۸۲)

او همداسې د افغانۍ پر هر نوټ لیکلي دي (د دې سند لرونکي ته وعده ورکوي چې د غوښتنې په وخت کې (.....) افغانۍ ورکړي) چې هم صراحةً د سند توري لیکل شوي دي او هم یې وعده د افغانیو د ورکولو کړې ده نه د زرو د ورکولو.

**جواب د اولې رایې پر بناء** : نوټونه چونکه سندونه دي دزرو لهذا په دوې کې هم زکوة واجب دی که کال وربانديې تیر شي او دونه قدر وي چې د قدر نصاب د زرو لپاره سند ګرځیدلای شي البته که دغه نوټونه فقیر ته په زکاة کې ورکول شي نو هغه وقت د ورکونکي غاړې خلاصیږي چې هغه فقیر یا د بینک څخه زر واخلي یا نور شیان پرې رانیسي چې قبض یې کامل شي.

کیانوٹوں پر زکوة واجب ہے؟

سوال: **هل تجب فیه الزکوة اذا بلغ نصابًا و حال علیه الحول ام لا؟**

الجواب: زکوة اس میں واجب ہے بلاقید تجارت کے جب کہ وہ مقدار روپیہ بقدر نصاب ہو اور حولان حول ہو جاوے (1) (عزیز الفتاوی ص ۳۴۹)

اسی طرح نوٹ دینے سے زکوة اس وقت تک اداء نہ ہو گی جب تک وہ فقیر اس نوٹ کا نقد روپیہ یا کوئی چیز نہ خریدلے (2) (امداد المفتین ص ۴۵۱)

اور اگر استعمال کرنے سے پہلی یہ نوٹ فقیر کے پاس سے برباد یا ضائع ہو جائیں تو وہ مالدار شخص صرف نوٹوں کو فقیر کو دیدینے سے زکوة کی ادائیگی سے بری الذمہ نہیں ہوگا اب اس کو دوبارہ زکوة ادا کرنی پڑے گی. (3) (احسن الفتاوی ج ۷ ص ۵۴)

**جواب د دوهمې رایې پربناء** : حکم د نوټونو حکم د عین زرو دی او د زرو حکم پرې جاري کیږي، فالذي أراه حقا وادین الله علیه أن حکم الورق

(1) ترجمه: سوال: آیا پر نوټونو زکوة واجب دی؟ سوال: هل تجب فیه الزکاة الخ
الجواب: زکاة په دې کې واجب دی بې د تجارت له قیده کله چې دغه مقدار دروپیو دنصاب په مقدار وي او کال پرې تیرشي. (عزیزالفتاوی)

(2) دغه راز د نوټ په ورکولو زکاة ترهغه وخته نه ادا کیږي تر څو چې هغه فقیر د دغه نوټ نغدې روپۍ یا کوم شئ پرې نه رانیسي. (امدادالمفتین)

(3) او که له استعمالولو څخه مخکې دغه نوټ له فقیر څخه برباد یا ضائع شي نو دهغه مالدار سړي صرف فقیر په لوټونو ورکولو سره له زکاة څخه غاړې نه خلاصیږي اوس به دی بیا زکاة ادا کوي. (احسن الفتاوی)

المالي كحكم النقدين فى الزكاة سواء بسواء لانه يتعامل به كالنقدين تماماً ولان مالكه يمكنه صرفه وقضاء مصالحه به فى ايّ وقتٍ شاء فمن ملك النصاب من الورق المالي ومكث عنده حولاً كاملاً وجبت عليه زكاته باعتبار زكاة الفضة لان الذهب غير ميسور الآن ولايمكنه صرف ورقة بقيمتها ذهبًا (تكملة فتح الملهم ج ۱ ص ۵۱۷)

ويقدر نصابها - كما أبنت - بسعر صرف نصاب الذهب المقرر شرعًا وهو عشرون دينارا اومثقالاًالخ (الفقه الاسلامي و ادلته - ج ۲ ص ۲۸۱ ط دارالفكر) و هكذا فى احسن الفتاوى - ج ۷ ص ۲۹

**جواب د دريمې رايې پر بناء**: يوه روپۍ خپله مال دی حکم يې د نورو مالونو دی د يوې روپۍ څخه غټ نوټونه حکم د سندونو لري هغه وخت يې زکاة اداء کېږي چې بينک يې عوض فقير ته نورې روپۍ ورکړي يا دی څه سامان پرې رانيسي.

*ایک روپیہ کانوٹ خود مال ہے اس سے زکوۃ کی صحت میں کوئی اشکال نہیں، البتہ ایک روپیہ سے بڑا نوٹ مال کی رسید ہے، مگر رسیدی نوٹ جب فقیر کو دیا گیا تو یہ حکومت پر حوالہ ہوا، اگر فقیر نے حکومت سے اس نوٹ کی رقم وصول کی تو اس وقت زکوۃ اداء ہو جائے گی۔۔۔ اور اگر حکومت سے وصول کرنے کی بجائے کسی اور سے نوٹ کی رقم یا مال خریدا تو اگرچہ فقیر کا دین پر قبضہ نہیں ہوا مگر دین کے عوض پر قبض ہو چکا ہے۔*

**الجواب بعون ملهم الصواب** :

محترم مستفتي صاحب په اجاره کې عشر پر قول د امام صاحب پر مالک دمځکې دی او پر قول د یارانو عشر پراجاره داربانديې کیږي . که چیرې اجاره په مکمل اجرة سره وه فتوىٰ پر قول د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ باندې ده عشر پر مالک د مځکې دی پراجاره دار عشر نشته اوکه اجرة مکمل نه ؤ بیا فتوىٰ پر قول د یارانو باندې ده.

(قوله والعشر على المؤجر) ای لو اجر الارض العشرية فالعشر عليه من الاجرة كما فی التاتارخانيه و عندهما على المستأجر قال فی فتح القدير لهما ان العشر منوط بالخارج و هو للمستأجر وله انها كما تستنمي بالزراعة تستنمي بالاجارة فكانت الاجرة مقصودة كالثمرة فكان النماء له معنى مع ملكه فكان اولى بالايجاب عليه...فان امكن اخذ الاجرة كاملة يفتىٰ بقول الامام والاّ فبقولهما لما يلزم عليه من الضرر الواضح الذي لايقول به احد (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۰ )

ولو آجر ارضه العشرية كان العشر على رب الارض عند ابي حنيفة وعندهما على المستأجر (خلاصة الفتاوى ج ۱ ص **۲۴۵** )

و كذا فی ( الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۷ )

والله اعلم بالصواب

مولوي احمد ( نوري ) مولوي نورمحمد (ثاقب)

دافغانستان دمرکزي دارالافتاء رئیس

## كه مستاجر ډيره ګټه يا ډير تاوان وكړي نو عشر به پر چا وي؟

**پوښتنه** : د كندهار ولايت د دارالافتاء رياست و محترم مقام ته!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محترما! هيله ده چې ديوې مسئلې چې زمونږ سره يې حل مبهم دی د شرعي امورو مطابق په مستندډول معلومات راكړئ.

كه چېرې اجاره دار دځمكې په اجاره كې تاوان وكړي اوخپله اجاره پوره نكړي عشر داجاره دارله خوا وركول كيږي اوكه دځمكې د خاوند له خوا؟

يا كه چېرې عشر پر مالك د ځمكې شي او ځمكې تر خپلې اجارې اضافه حاصلات وكړل د اضافه حاصلاتو عشر به مالك وركوي او كه اجاره دار؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الله العظيم** :

د امام صاحب رحمة الله تعالى عليه په نزد عشر د ځمكې پرخاوند دې مطلقًا كه اجاره دار تاواني وي اوكنه اودصاحبانورحمهما الله تعالى په نزد عشر پراجاره داردې مطلقًا كه ګټه وي كه تاوان، فتوىٰ پر دې ده كه چېرې عقد د اجارې په اجرة كاملة شوی ؤ نو عشر پر مالك د ځمكې دی اوكه عقد پراجرة ناقصه شوی وو نوعشر پراجاره دار دې او علماؤ فرق نه دی ذكر كړی د تاوان او د ګټې د صورت لكه د مخكني سوال په جواب كې چې حوالې تېرې شوې .

## په ګُل کې خرڅ کړیو انګورو عُشر پر چا دی؟

**پوښتنه** : محترمو د دارالافتاء علماء کرامو!
چې د یوه باغ انګور په هغه وخت کې خرڅ کړي چې په ګل کې وي او هغه وخت یې د ولې اوبه پر لګولې وې او تر هغه وروسته مشتري د باوړې اوبه پر لګولې وي بائع به لسمه حصه زکاة ورکوي او که شلمه او پر مشتري باندې عشر شته که یا او که وي راته بیان یې کړئ.

بینوا توجروا والسلام

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب** :
خرڅول دانګورو یا د نورو میوو په هغه وقت کې چې په ګل کې وي او دانو یې ظهور کړی نه وي دا بیعه جواز نلري او ملکیت یې مشتري ته نه انتقالیږي او عشر یې پر دغه بائع لازم دی هرکله چې یې دانې ښکاره شوې بیا یې بیع جائزه ده او پس له خرڅیدو څخه عشر پر مشتري دی که یې په داسې حالت کې خرڅ کړې وي چې دانې یې پخې شوي نه وي او بله دا خبره چې که دا باغ ډیر وخت د باوړې په اوبو اوبه شوی ؤ نو نصف عشر دی او که ډیر وخت د باران په اوبو اوبه شوی وي نو پوره عشر به ورکوي دا اعتبار نلري چې یا بائع اوبه کړی دی یا مشتري او هرکله چې عشر پر مشتري لازم شو نو بائع خلاص دی دعشرڅخه د هغه څخه عشر نه اخیستل کیږي.

(ومن باع ثمرة بارزة) اماقبل الظهور فلايصح اتفاقًا (ظهرصلاحها اولاصح) فى الاصح (الدرالمختار) (قوله اماقبل الظهور) اشار الى ان البروز بمعنى الظهور والمراد به انفراک الزهر عنها وانعقادها ثمرة وان صغرت .
(رد المحتار ج ۴ ص۴۲)

اجمع العلماء على ان بيع الثمارقبل ان تخلق لاينعقدلانه من باب النهى عن بيع مالم يخلق الخ (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۲۵۵ ط دارالفكر)

ولوباع الارض العُشرية وفيها زرع قد ادرک مع زرعها اوباع الزرع خاصة فعشره على البائع دون المشتري لانه باعه بعد وجوب العشر وتقرره بالادراک و لو باعها والزرع بقل فان قصله المشتري للحال فعشره على البائع ايضاً لتقرر الوجوب في البقل بالقصل وان تركه حتى ادرک فعشره على المشتري الخ (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۲)

وهكذا في احسن الفتاوى مع تحقيق كثير ج ۴ ص ۳۳۸ الى ص ۳۴۲
ولوسقى سيحًا وبآلة اعتبرالغالب (الدرالمختار) (قوله اعتبرالغالب) اى اكثرالسنة (ردالمحتار ج ۲ ص ۵۵)

## په مزارعة کې عشر پر چا دی؟

**پوښتنه**: که چېرې يو مالک دځمکې خپله ځمکه په نيمې ورکړي و بل نفر ته آيا په هغه نيمې کې چې بل نفر ته ورکړې ده هم عشر شته اوکه يا؟ والسلام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون المستعان**:

عشر په مزارعة کې يعنې چې ځمکه يې په نيمه ورکړې وي په نيزد دامام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په حصوکې مطلقًا پر مالک د ځمکې دی او په نيزد ديارانوکه تخم د مالک د ځمکې ؤ عشر پرمالک دی او که تخم د عامل د خواؤ عشر پر دواړو دی د خپلې خپلې حصې او فتویٰ پر قول د يارانوده.

(*اما فتوى بر قول صاحبين است*) (احسن الفتاوى باب العشروالخراج: ۳۳۵/۴)

والحاصل أن العشرعندالامام على رب الارض مطلقًا وعندهما كذلک لوالبذر منه ولو من العامل فعليهما... وفی شرح دررالبحار عشر جميع الخارج على رب الارض عنده لأن المزارعة فاسدة عنده فالخارج له إماتحقيقاً أوتقديراً لأن البذرإن كان من قبله فجميع الخارج له وللمزارع اجرمثل عمله وإن كان من قبل المزارع فالخارج له ولرب الارض اجرمثل ارضه الذى هوبمنزلة الخارج إلاأن عشرحصته فی عين الخارج وعشر حصة المزارع فی ذمة رب الارض (ردالمحتار: ۲/۲۱)

وفی المزارعة على قولهما العشرعليها بالحصة وعلى قوله على رب الارض لكن يجب فی حصته فی عينه و فی حصة المزارع يكون دينا فی ذمته (الفتاوى الهندية: ۱/۱۸۷) و (فتح القدير: ۲/۱۹۴) والله اعلم بالصوا ب.

# عشرد مصارفو تر ایستلو وروسته وي او که مخکې

محترم د دارالافتاء مقام ته السلام علیکم.

پس له سلامه عرض دادی چې غنمو ، جواریو او نورو دانوکې حکم مفتیٰ بـه په څه شان دی یعنې لو د لوګرو اومصرف د ماشین کې هم عشر پر مالـک د مځکې دی یا اول باید ذکرشوی مصارف ترې لیرې شي او بیـا عشـر ورکړی شي په دې حصـه کې کـه رسـاله چاپ شي نو ډیرخلک بـه لـه تشـویش څخـه خلاص شي او خاص که مو وسه وي نو د شرعي حکم سره موږ پوه کړئ.

والسلام

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب ومنه الصدق و الصواب** :

مسـئله داده د حاصـلاتو د کنبـت عشـر چـې ورکـول کیـږي نـو اولاً بـه د ټـول حاصلاتو د کنبت چې مصارف یې نه ورځنې ایسـتل شـوې وي عشـر ورکـوي ثانیًا به بیامصارف ورکول کیږي (بلارفع مؤن) ای کلف (الـزرع) وبـلا اخـراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج (الدرالمختاربهامش ردالمحتار ج ۲ص ۵۲ ط رشیدیه)

(وفـي مسـقی مطـر او سـیح) ای مـاء اودیـة... ونصـفه (فـي مسـقی غـرب او دالیة بلا رفع المؤن)

ای یجب العشرفی الاول ونصفه فی الثاني بـلا رفـع اجرة العمـال ونفقـة البقـر وکری الانهار واجرة الحافظ ونحوذلک (وبلا اخراج البذر) فان شراح الهدایـة

وغیرهم صرحوا بوجوب العشرفی کل الخارج ( دررالحکام في شرح غرر الاحکام ج۱ ص ۱۸۲ و ۱۸۷ )

ولاتحسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیرذلک فیجب اخراج الواجب من جمیع مااخرجته الارض عشرا اونصفًا کذا فی البحر الرائق (الفتاوی الهندیة ج۱ ص۱۸۷ ط دارالاشاعة قندهار)

قال رَحِمَهُ ٱللَّهُ ( لاترفع المؤن ) ای فی کل ما اخرجته الارض لاتحتسب اجرة العمال ونفقة البقروکری الانهار واجرة الحافظ وغیرذلک.

( تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۲ ص ۱۰۲ط ایج - ایم - سعید )
وهکذا فی ( فتح القدیر ج۲ص ۱۹۴) والله اعلم بالصواب.

مولوي احمد (نوري) عفی عنه
مولوي ندامحمد (الحقاني)
مولوي محمود (میوندوال)

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

## عشر د مصارفو تر اخراجولو وروسته وي که مخکې ؟

د افغانستان د علماؤ د شورئ د دارالافتاء عالي مقام ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: محترمه! زه ملا جُمعه خان د قشله جديد په مجبورآباد کې مُلا يم دمحل خلک ټول دولتي کارکوونکي اوپه دولتي مځکه پراته دي اوهم کومې زراعتي مځکې چې کري هغه هم دولتي دي نوکله چې دزکاة مسئله مابين ته سي دوی لومړی ټول مصارف ځني وباسي بيا دپاته مبلغ زکاة باسي نوپوښتنه داده چې زکاة بايد دسره څخه ويستل سي اوکه دمصارفوڅخه وروسته هيله ده معلومات راته راکړئ. والسلام

(المستفتي: ملاجمعه خان)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه التوفيق على الصواب**:

هرکله چې عشر ورکول کيږي نو مصارف به نه ورځنې ايستل کيږي بلکه د ټوله کښت څخه به عشر ورکول کيږي:

(بلا رفع مؤن) کلف (الزرع) وبلا اخراج البذر لتصريحهم بالعشر فى کل الخارج (الدرالمختار بهامش ردالمحتار - ج ۲ص ۵۲ ط رشيديه)

ولاتحتسب اجرة العمال ونفقة البقروکرى الانهار واجرة الحافظ و غير ذلک فيجب اخراج الواجب من جميع ما اخرجته الارض عشراً او نصفًا کذا فى

البحر الرائق (الفتاوی الهندیةج۱ ص ۱۸۷) وهکذا فی (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۹ ط مکتبة حبیبیه کوئته)

په دولتي مځکوکې چې دولت پخپله کرلې وي اوپه اجاره يې نه وي ورکړې عشرشته اوکه يې په اجاره ورکړې وي نو په هغه کې اجرة دی چې دغه اجرة په حق کې د امام خراج دی.

وکذا ملک الارض لیس بشرط للوجوب لوجوبه فی الاراضی الموقوفة (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۵ ط دارالاشاعة قندهار)

نعم قد تقرران اراضی بیت المال یسلک بها مسالک ارض الوقف خیرية من العشر والخراج (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۲ص ۱۱۰)

واستدل علی اثبات العشر فی اراضی الدولة فی (ردالمحتار - ج ۳ ص۲۷۹ ط رشیدیه) بدلائل کثیرة .

فی التاتارخانیة السلطان اذا دفع اراضی لامالک لها وهی التي تسمی الاراضی المملکة الی قوم لیعطوا الخراج جاز وطریق الجواز احد شیئین اما اقامتهم مقام الملاک فی الزراعة واعطاء الخراج اوالاجارة بقدر الخراج ویکون الماخوذ منهم خراجًا فی حق الامام اجرة فی حقهم آه (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۰ ط رشیدیه) والله اعلم وعلمه اتم واکمل .

مولوي احمد نوري عفی عنه — مولوي نورمحمد (ثاقب)

مولوي ندا محمدالحقاني — دافغانستان دمرکزي دارالافتاء رئیس

## د موټر د کرایې تر ایستلو مخکې به عشر ورکوي که وروسته؟

**پوښتنه:** مصرف د میوې چې بازارته یې یوسي لکه دمزدور مزدوري او د موټرکرایه دغه ځینې ایستل کیږي په باقي پیسوکې یې عشرشته اوکه سره د موټردکرایې چې بازارته یې وړي وي عشر به ورکوي؟

والسلام

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون المستعان** :

عشرځای پر ځای اخیستل کیږي په ټول خارج کې عشر یا نصف عشر دی د مزدورمزدوري او د موټرکرایه نه ورځنې وزي که دا شیان و وزي بیا معنی د عشراو نصف عشر نه پاتیږي.

قوله لایحتسب فیه أجرالعمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحارس وغیرذلک یعنی لایقال بعدم وجوب العشر فی قدرالخارج الذی بمقابلة المونة بل یجب العشر فی الکل.

(فتح القدیر: ۲/ ۱۹۴) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۷) و (ردالمحتار :۲ /۵۲)

والله اعلم بالصواب

## د عسلو (شهد) په عشر کې به مؤنة ایستل کیږي کنه؟

**پوښتنه**: مقام محترم ریاست دارالافتاء!

السلام علیکم وحمة الله وبرکاته

وبعد: مونږ د یوې استفتاء په خاطر ستاسوڅخه لطفًا درخواست کوو هیله ده چې درخواست مو ومنئ.

پوښتنه داده چې د مؤنة په باره کې څه حکم دی یعنې که چا مزدورمقررکړی وي ددې لپاره، یا یې په نفس النحل (مچمچی) باندې څه مصرف راغلي که په شهدوکې عشرواجب سي هغه څه حکم لري؟

(المستفتي: مولوي عبدالباقي)

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب**:

دغه عُشر به د مخه ورکوي وروسته به د مزدور مزدوري یا نورو مصارفوته حساب کوي یعنې عشر به تر مؤنة د مخه ورکوي.

یجب العشرفی الاول ونصفه فی الثاني بلارفع أُجرة العُمّال ونفقة البقروکری الانهار و اجرة الحافظ و نحوذلک درر قال فی الفتح یعنی لایقال بعدم وجوب العشر فی قدرالخارج الذی بمقابلة المؤنة بل یجب العشرفی الکل (ردالمحتار- ج ۲ ص ۵۲)

(قبل رفع مؤن الزرع) وقبل اخراج البذرلتصریحهم بالعشرفی کل الخارج بل ذکرالتمرتاشي انه لایسعه اکل شئ حتی یؤدي عشرها (الدرالمنتقي بهامش مجمع الانهر- ج ۱ ص ۲۱۲) والله تعالی اعلم.

## که د کاریز اوبه لږ او د ماشین ډیرې یا د دې بر عکس وي نو عشر به څنګه ورکوي؟

**پوښتنه**: محترم علماء کرامو د دارالافتاء! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترموزمونږ پوښتنې دادي:

**اول**: یوقسم مځکه ده چې د لوی اختره بعد د ویالې اوبه ندي پر لګیدلي بلکه د ماشین په ذریعه اوبیږي آیا پدغه مځکه کې عشر دی که نصف عشر حالانکه د ماشین اوبه ډیرې لګیدلې دي.

**دوهم**: او بل قسم مځکه چې د ماشین او د کاریز په اوبو ټول کال اوبیږي حالانکه دکاریز اوبه ډیرې لګیدلې دي ایا پدغه مځکه کې عشردی که نصف عشر- والسلام

بینوا توجروا یوم الحساب

(المستفتي محمد عبدالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الفتویٰ بعون الله تعالی**:

جواب داستفتاء: په اول قسم کې چې ډیرې دماشین اوبه پرې لګیدلې دي په هغه کې نصف عشر یعنې شلم من دی او په دوهم قسم مځکوکې چې ډیرې په کاریز اوبه شوي دي په هغوکې عشردی یعنې لسم من دی ځکه چې په آله یعنې لکه سولاغه په هغه شي یې اوبه نه راخیژي بلکه دکاریز اوبه بې له آلې څخه راوزي اوکه مساوي اوبه پرې لګیدلې وي یعنې د ماشین

اوکاریز اوبه بالمناصفه لګیدلي وي پدغه صورت کې هم نصف عشردی یعنې شلم من دی.

(قوله ونصفه فی مسقی غرب ودالیة) ای ویجب نصف العشر فیما سقی بآلة للحدیث الخ وان سقی بعض السنة بآلة والبعض بغیرها فالمعتبر اکثرها آهـ (البحر الرائق ج ۲ ص ۲۳۸)

ولوسقی سیحا وبآلة اعتبرالغالب ولواستویا فنصفه (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار- ج ۲ ص **۵۵**)

اګر چې په احسن الفتاویٰ جلد **۴** صفحه **۳۳۲** کې یې د کاریز په اوبو کې په نصف عشر باندې قول کړی قیاساً علی الغرب والدالیة ، نظراً الی زیادة الکلفة.

## دوه ځله په ویاله او زیاته په ماشین اوبه شوې ځمکه کې عشر دی که نصف عشر؟

**پوښتنه** : محترما! زمونږ مځکه په سنځري کې ده دوه واره د ولې په اوبواوبه سوې ده اوډیره دمشین په اوبواوبه سوې ده.

اوس پر مونږ باندې پوره عشر واجب دی که نصف عشر واجب دی.

(حاجي محمد داؤد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک العلام :**

محترم مستفتي صاحب هغه مځکه چې دماشين او ولې اوبه پرې لګيدلې وي اعتبار اکثرلره دی کچيرې ډيرې دماشين اوبه پرې لګيدلې وي نصف عشر واجب دی اوکه ډيرې اوبه دولې پرې لګيدلې وي بيا عشرواجب دې اوکه دولې اومشين اوبه برابرې پرې لګيدلې وي بياهم نصف عشر واجب دې حاصل دا چې په صورت مذکوره کې پرتانصف عشرواجب دی.

وماسقی بالدولاب والدالية ففيه نصف العشروان سقی سيحاً وبدالية يعتبر اکثر السنة فان استويا يجب نصف العشرکذا فی خزانة المفتيين (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۸۶)

ويجب نصفه فی مسقی غرب ای دلوکبير ودالية ای دولاب لکثرة المونة... ولو سقی سيحا وبالة اعتبرالغالب ولواستويا فنصفه (الدرالمختار ج ۲ ص۵۵)

اماالاول فماسقی بماء السماء اوسقی سيحا ففيه عشرکامل وماسقی بغرب اودالية اوسانية ففيه نصف العشروالاصل فيه ماروی عن رسول الله صلی الله عليه وسلم إنه قال ماسقته السماء ففيه العشر و ماسقی بغرب او دالية او سانية ففيه نصف العشر وعن انس رضي الله عنه عن رسول الله صلی الله عليه وسلم انه قال فيما سقته السماء اوالعين اوکان بعلا العشروماسقی بالرشاء ففيه نصف العشر ولان العشر وجب مونة الارض فيختلف الواجب بقلة المونة وکثرتها ولوسقی الزرع فی بعض السنة سيحا وفی بعضها بآلة يعتبرفی ذلک الغالب لان للاکثر حکم الکل (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۶۲)

و يجب نصف العشر فيما سقی بالمؤن کالدوالي (النواعير) النواضح ... و ما سقی بالنضح نصف العشر وانعقد الاجماع علی ذلک ... وان سقی باحدهما اکثرمن الاخراعتبرالاکثر (الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۷۲۹ ط دارالفکر)

## د باوړۍ په اوبو کې عشر دې که نصف عشر؟

**پوښتنه** : ومحترم حضورته د رياست د دارالافتاء
هغه باغونه او ځمکې چې په فعلي شرائطوکې دکال په عمومي برخه کې د باوړۍ په ذريعه آبياري کيږي ځنې عالمانوعشرپکې لازم ګڼلی دی نصف عشرته اعتبارنه ورکوي؟

از رياست عشر و زکوة

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

هغه ځمکې چې د باوړۍ په اوبواوبيږي په هغو کې نصف عشردی.

اتفق الفقهاء على أن العشر يجب فيما سقى بغيرمؤنة (مشقة) كالذي يشرب من السماء (الامطار) و مايشرب بعروقه وهوالذي يشرب من ماء قريب منه و يجب نصف العشرفيما سقى بالمؤن كالدوالي (النواعير) النواضح والدليل لهم قول النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المتقدم (فيماسقت السماء والعيون أوكان عَثَرِيًا العشر وماسقى بالنضح نصف العشر) وانعقد الاجماع على ذلک (الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۷۲۹ ط دارالفکر)

و (ردالمحتار: ۲/۵۵) و(احسن الفتاوى: ۴/ ۳۵۵)

و لو سقى سيحا و بآلة اعتبرالغالب (الدرالمختار) قوله اعتبرالغالب أى اكثرالسنة)) (ردالمحتار: ۲/۵۵)

والله تعالى اعلم

## له ويالې او رود څخه په ماشين اوبه کونکې ځمکه کې څه راځي؟

**پوښتنه** : ومحترم حضورته درياست د دارالافتاء

ځنې اشخاص د ويالوڅخه په ماشين اوبه راپورته کوي اوکله کله يې درود څخه چې ورته نژدې وي دماشين په ذريعه اوبه راکاږي؟

از رياست عشر و زکوة

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

کچېرې دوی له دغه ويالې څخه بغيرله ماشينه استفاده نه کوله يوازې په ماشين باندې دغه مځکه اوبيده نو نصف عشرلازميږي لکه چې تير شواو که دواړه قسمه استفاده ورځنې کېدله نوکه غالبه استفاده په ماشين وه نصف عشردی اوکه غالبه بې له ماشينه وه نوعُشردی لکه چې تير شو.

والله تعالى اعلم.

## د کاریز او باوړۍ په اوبو عشرلا زمیږي که نصف عشر؟

**پوښتنه** : مځکه چې د کاریزیا باوړۍ په اوبو اوبه سي عشر واجبیږي او که نصف عشر؟

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

مځکه چې په داسی اوبو اوبه شي په اکثره موده کی چې هغه اوبه یا په قیمت رانیول کیږي یا په ډیر تکلیف مځکې ته برابریږي نو نصف عشر لازمیږي چې د دي جملی څخه د باوړی او کاریز اوبه هم دی ولی چې د باوړی اوبه یقینًا په تکلیف راخیژي او مصرف غواړي او د کاریز اوبه هم په تکلیف وي ځکه وقت په وقت یې اصلاح کولو ته ضرورت وي . حاصل دا چې مدار د عشر او نصف عشر پر محنت او قیمت دی که محنت یا قیمت موجود ؤ نصف عشر دی او کنه نو عشر دی .

اتفق الفقهاء علی ان العشر یجب فیما سقی بغیر مؤنة ( مشقة ) كالذی یشرب من السماء ( الامطار ) و ما یشرب بعروقه و هوالذی یشرب من ماء قریب منه و یجب نصف العشر فیما سقی بالمؤن كالدوالی ( النواعیر ) النواضح والدلیل لهم قول النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المتقدم ( فیما سقت السماء و العیون او كان عَثَرِيًا العشر و ما سقی بالنضح نصف العشر ) و انعقد الاجماع علی ذلك كما قال البیهقی و غیره ... و سبب التفرقة واضح و هو كثرة المؤنة فی ارض السقی و خفتها فی ارض البعل

( الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۷۲۹ ط دار الفكر )

لان العلة فی العدول عن العشر الی نصفه فی مسقی غرب و دالیة هی زیادة الکلفة کما علمت و هی موجودة فی شراء الماء (ردالمحتار ج ۲ ص ۵۵)

چه میفرمایند علماء دین و مفتیان شرع متین که در دیار مایان کاریز و قناتها هستند که از مزرعه تا منبع آب مثلاً دوازده هزار بغل فاصله دارد و هر سال کار و زحمت میخواهد که اگر کار کرده نشود آبش خشک میشود و خرج و مصرف کارش باندازه ای میباشد که نصف بلکه دو حصه محصول پیداوارش بکارکنان صرف میشود درین صورت عشر واجب شود یا نصف عشر

الجوب باسم ملهم الصواب :

درین صورت نصف عشر واجب است . قیاسًا علی الغرب والدالیة قال فی الشامیة تحت قوله و قواعدنا لا تأباه لان العلة فی العدول الخ (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۳۶)

عشری زمین اگر بارش یا دریا کے سیل یا قدرتی چشمہ کے پانی سے سیراب کی جاتی ہو تو اس کی پیداوار میں عشر (۱/۱۰) واجب ہے اور اگر پانی محنت یا قیمت سے حاصل ہوتا ہو جیسے کنواں، ٹیوب ویل اور نہری پانی تو اس میں نصف عشر (۱/۲۰) واجب ہے نہری پانی کا آبیانہ ادا کر کے اسے حکومت سے خریدا جاتا ہے (۱) (احسن الفتاوی ج ٤ ص ٣٥٥)

---

(۱) ترجمه: عشري ځمکه که دباران يا درياب په اوبو يا د قدرتي چينې په اوبو اوبيږي نو دهغه په پيداوار کې عشر واجب دی او که اوبه په محنت يا په بيه حاصليږي لکه د څاه، باوړی او د رود اوبه نو بيا په هغه کې نصف عشر واجب دی د رود اوبه له حکومت څخه ګو په بيه اخيستلی کيږي.

ٹیوب ویل نل کنواں جس سے زمین کی اندر سے پانی نکالتی ہیں (۱) (فیروز اللغات ص۔ ۴۳۶) واللہ تعالیٰ اعلم .

﴿ داپورته حکم په باره دباوړی کې صحیح ده اما په باره دکاریز کې په دې کې نظر او کلام شته لکه مخکې چې هم دا مسئله ذکر شوه﴾

## په للمي او علف چر ځمکو کې عشر دې که خراج؟

**پوښتنه** : د هرات ولایت رئیس صاحب د عشر زمونږ ریاست ته راغلی اظهار کوي چې د هرات ولایت هغه مځکې چې اوبه ور رسیږي خراجي دي د هغه ولایت د علماؤ په فتویٰ هغه مځکی چې د علف چر په نامه یادیږي للمي کارې چې جاري اوبه نلري هغه هم آبیاری مځکو ته تابع دي یعنی خراجی او املاکي دي حکومت یې په اجاره ورکوي - القصه هغه للمي کارې مځکې چې د هرات خلک خود سرانه کار وکښت پکې کوي به غیر د اجازې د دولت څخه عشر پکې راځي او که یې په حاصلو کې خراج مقرر دی او که حکومت اجاره ځنی واخلي شرعي فتویٰ ته سترگې په لاریو.

مسئول عمومي عُشر وزکوة ملاحمیدالله اخند

---

(۱) ټیوب ویل نل یعنی هغه څاه چې دلاندې ځمکې څخه اوبه ځینی را ایستلې کیږي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب :**

محترمه! ستاسو په استفتاء کې دوه ۲ قسمه مځکې ذکر شوې دي يو علف چرمځکی او بل للمي کارې مځکې د دواړو مځکو احکام مختلف دي دواړه بايد په يوه رقم حساب نشي د علَف چر مځکو حکم دا دی چې نه عشر پکې شته او نه خراج او نه په إجاره ورکول کېږي دا ځکه چې د علف چر مځکو احياء هيڅکله نده جائز نه بناء کول ور باندې جائز دي او نه يې کرل جائز دي او د للمي کارو مځکو ( يعنې هغه مځکې چې د احياء څخه تر مخه د حکومت يا رعيت شخصي مملوکې نوي او د خلکو د استفادې لپاره نوي پريښوول شوي او اوبه نه لري حکم دا دی چې که عشري مځکو ته نزدې وې عشر پکې شته او که خراجي مځکو ته نزدې وې خراج پکې شته او که يو څنګ ته يې عشر يه بل څنګ ته يې خراجيه وه نو که دغه اباددونکی يې مسلمان ؤ دا مځکه عشر يه ده او بل حکم يې دا دی چې که پخوا خلکو کرلې وي بې له اجازې د حکومت نو اوس يې حکومت ورځنې اخستلای شي او که د حکومت په اجازه يې اباده کړې وي نو د خلکو شخصي ګرځي او د حکومت اجازه دوه قسمه ده :

**اول** دا چې اجازه د ملکيت ورکړي يعنې چې آينده به يې اباددونکی شخصي مالك وي .

**دوهم** دا چې اجازه د منفعت اخستلو ورکړی فقط، پدې صورت کې يې مالك حکومت دی او بل حکم يې دا دې چې حکومت يې په دوه شکله کې په اجاره ورکولای شي اول داچې حکومت يي پخپله آباده کړی او دوهم دا چې

خلکو ته يې إجازه د منفعت کړې وي او څو عمر پس بيرته حکومت ورځنې اخستې وي او خپل په تصرف کې يې راوستلي وي .

اذا بنى او غرس فى ارض متروكة لمنافع العامة كالطريق والمرعى فانه يؤمر بالقلع فى كل حال اى و لوكان القلع مضرا بالارض او كان قدبنى او غرس بتأويل ملك اذ ليس لبعض العامة او لكلهم اذا اجتمعوا ان يحولوا هذه الارض لغيرما و ضعت له فى الاصل ( شرح المجلة لسليم باز- ص۵۰۴ )

ماكان من مرافق اهل بلدة تستعمل مرعى للموا شى و محتطبا لهم او مقبرة لموتا هم او ملعبا لصغارهم سواء كانت داخل البلدة ام خارجها فيكون حقالهم لامواتا .

( الفقه الاسلامى ج ۵ ص ۴۱۲ ط دارالفكر ) و ( الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۸ ) و ( شرح المجلة لسليم باز- ص ۲۸۸ )

ولو ان صحراء خارج البلد قريب منها جرزا انقطع ماءه او امكنة عظيمة لم يكن ملكا لاحد كان ذلك ارض موات ( الفتاوى السراجية ص۱۳۸ )

والموات هو ما لا يملكه احد و لا ينتفع به من الاراضى لانقطاع الماء عنه او لغلبة الماء عليه و ما اشبه ذلك مما يمنع الزراعة بان غلبت عليه الرمال مثلا و لا يكون مملوكا لمسلم او ذمى ( الفقه الاسلامى ج ۵ ص ۴۱۷ ط دارالفكر ) وهكذافى ( ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۲ )

و من احيا ارضا ميتة بغير اذن الامام لايملكها فى قول ابى حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ و قال صاحباه يملكها ( الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۸۲ )

من احيٰى ارضا من الاراضى الموات بالاذن السلطانى صار مالكالهاً و ان أذن السلطان او وكيله لرجل باحياء ارض على ان لايتملكها بل لمجرد

الانتفاع بها ، فذلک الرجل يتصرف بتلك الارض كما اذن له ولكنه لا يكون مالكا لها ( المجلة المـ١٢٧٢ )

قوله و لوا حياه مسلم اعتبر قربه ای قرب ما احياه ان كان الى أرض الخراج اقرب كانت خراجية او انكان الى العشر اقرب فعشرية نهر و ان كانت بينهما فعشرية مراعاة لجانب المسلم ( ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۴ ) وهكذا فی ( الفتاوی الهندية ج ۵ ص ۳۸۸ )

المحيی هو الذی يباشر الاحياء الذی هو من اسباب الاختصاص او التملك (الفقه الاسلامی ج ۵ ص ۴۳۰ ط دارالفكر )

و قال عامة الفقهاء الثابت بالاحياء هو حق الملكية المطلقة ... و بناء عليه نص الحنفية انه لو ترك المحيی الارض بعد الاحياء و زرعها غيره فالاول احق بها فی الاصح (الفقه الاسلامی ج ۵ ص ۴۳۴ ط دارالفكر )

واللہ تعالیٰ اعلم.

## خراج له مصارفو څخه مخکې وي که وروسته او د بزگر لپاره له خراج څخه پرته څه شئ شته او کنه ؟

**پوښتنه** : جناب محترم رئيس صاحب دارالافتاء !

د تحريک مقدس تر کنترول لاندې په اکثره ولاياتوکې د هندوانو مځکې باغونه جايدادونه وجود لري چې دنوموړو د حاصلاتو څخه د مقاسمې خراج اخستل کيږي هغه مځکې چې مسلمانانوپه اجاره ځنې اخيستي وي اويا بزگرانوته ورکړه سوی وي اوپه زرولکونوافغانۍ مصارف يې په روزنه کې لګيدلي وي خراج دعشر په قياس د ټولو مصارفو مقدم ياڅنګه اجراءات ترسره کړو مفصل واضح شرعي امر ته انتظار ليدل کيږي ، همدغه رنګه دبزګر دحصې په هکله معلومات غواړوچې څه شی ځنې علاوه ورڅخه اخستل کيږي که څنګه؟

(المستفتي: ملاحميدالله اخندمسئول عشروزکوة)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک العلی الاعلی** :

**د اولې پوښتنې په جواب کې** به مونږ دا ووايو په کومک د لوی او توانا خدای جَلَّجَلَالُهُ سره چې خراج مقاسمه کوم چې تاسو په استفتاء کې ذکرکړی دی دا په ټولواحکاموکې په مثل د عشر دی نو عشرخو مقدم دی تر ټولو مصارفو نوخراج مذکور په استفتاء کې هم مقدم دی تر ټولو مصارفو ليکن په يوڅواحکاموکې مخالف دی د عشرڅخه يو دا چې مصارف د خراج مغاير دي دمصارف د عشرڅخه بل داچې حصص دخراج مفوض دي رای

دامام المسلمین لره اوحصص دعشرشرعي دي تعلق په شریعت پورې لري لکه شارع یې تعین کړی دی چې هغه عشراونصف عشردی او بل دا چې امام او نائب دده لره جائزدی چې خراج معاف کړی ولی په شرط ددې خبرې چې دا معاف کړی شوی به داهل ځخه د مصرف د خراج وي او که مصرف نه وي نو بیادې خیرات کړی اوپه عشرکې هیڅ چالره دا حق نه دې حاصل چې معاف یې کړي.

قال الخير الرملى خراج المقاسمة كالموظف مصرفا وكالعشرمأخذاً لا فرق فيه بين الرطاب والزرع والكرم والنخل المتصل وغيره فيقسم الجميع على حسب ماتطيق الارض من النصف اوالثلث اوالربع اوالخمس وقد تقرر ان خراج المقاسمة كالعشرلتعلقه بالخراج ولذا يتكرر بتكررالخارج فى السنة وانّما يفارقه فى المصرف فكل شئ يؤخذ منه العشراو نصفه يوخذ منه خراج المقاسمة وتجري الاحكام التي قررت فى العشر وفاقا وخلافا.

(ردالمحتار: ۲۸۴/۳) و هكذا فى (الاختيارلتعليل المختار- ج۴ص۱۴۴) وهكذا فى (حاشية الطحطاوي ج۲ ص ۴۲۵)

وتقديره مفوض الى راى الامام (ردالمحتار-ج ۳ ص ۲۸۴)

(ترك السلطان) اونائبه (الخراج لرب الارض) بان اخذه منه ثم اعطاه اياه جاز عندالثاني وحل له لومصرفاوالاتصدق به ، به يفتى الخ (الدرالمختار و ردالمحتار- ج ۳ ص ۲۸۹ و ۲۹۰ ط رشيديه)

**د دوهمې پوښتنې په جواب کې** دا ویل کیږي چې د بزګر د حصې د خراج ځخه علاوه بل شی نه اخستل کیږي بس همدغه د خراج حصه کافي کیږي.

( ولایؤخذالعشرمن الخارج من ارض الخراج ) لانهما لایجتمعان خلافا للشافعي (الدر المختارعلی هامش ردالمحتار- ج۳ ص ۲۸۹ )

والله اعلم وعلمه اتم

مولوي احمدنوري عفی عنه

مولوي محمود (میوندوال)

مولـوي مفتـي نورمحمـد (ثاقب)

رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي

امــارت اســلامی افغانســتان

## له هندوانو څخه خراج اخیستل

**پوښتنه**: د دارالافتاء محترمو استاذانو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

وبعد: د هندوانو څخه چې دلته جایدادونه لري خراج اخیستی شي که یا اوکه اخیستلای شي څومره اندازه اخیستی شي چې په هغه اندازه شی زمونږ عاشر ځیني واخلي - والسلام

(د مستوفیت مسئول)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب**:

خراج دوه قسمه دی یو خراج مؤظف دی او بل خراج مقاسمه دی.

خراج مقاسمة دې ته وایي چې د مځکې دحاصلاتو یو څه حصه لکه څلورمه یاپنځمه اخیستل کیږي دغه خراج دمځکې د حاصلا تو تر نیمایي حصې زائد جائز نه دی نور نو د مځکې اود هغې د حاصلا تو په تناسب باندې که څلورمه وي که پنځمه وي که تر پنځمې یې هم کمه وي هغه باید حکومت واخلي پداسې طریقه چې ډیر ضرر په مالک پورې ملحق نشي بلکه یو مناسب مقدار وضعه شي اوکه مالک هغه مځکه ونه کرله د غفلت یادعذر په وجه نوخراج مقاسمة بیانه اخیستل کیږي اومځکه چې هرڅوواره کرل کیږي په هر وارې کې به خراج مقاسمة تأدیه کوي.

او خراج مؤظف دې ته وایې چې د مځکې د حاصلاتو څخه بغیر مثلاً د نقدو د قسمه څخه یو شی وضع شوی وي چې احکام یې دادي دانګورو

یاخورماهغه باغ چې درختې یې متصلې وي پر هغو باندې دحضرت عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په زمانه کې پر هر جریب لس (۱۰) درهمه وضع شوې وې (چې ۳۵ماشې سپین زر ورځنې جوړیږي) اوپالیزونه لکه ختکي بانجڼ اوداسې نور پر هغو پنځه درهمه وضعه شوې وې چې ($17\frac{2}{1}$) اوولس نیمې ماشې سپین زر کیږي او پر عامو مځکو لکه غنم، اوربشې، جواري او داسې نورو یو درهم او یو صاع وضعه شوې وي چې تقریبًا ($3\frac{2}{1}$) درې نیمې ماشې سپین زر او درې نیم کیلوغنم کېږي یادرې نیم کیلواوربشې کیږي او د هغه وقت د جریبو اندازه کڅه هم فقهاؤ بیان کړې ده لیکن د هر وخت او زمانې خپل اصطلاحې جریبونه معتبر دي او هغه مځکې چې نور شیان پرې کرل شوي وي غیر د تیرو شوو شیانو څخه لکه زعفران و غیره پر هغو باندې په تناسب د مځکې باید یو مقدار وضعه شي او که مځکه قابل د کښت وه خو د مالک د غفلت او سستۍ په وجه نه وه کرل شوې هم به خراج مؤظف تادیه کوي اوکه مځکه په کال کې څو واره کرل کیدله هم یې خراج مؤظف په کال کې یوارې تادیه کیږي.

او په هغه اجناسوکې چې دحضرت عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په وقت کې کوم مقدار متعین شوی دی ترهغه مقدار زیات اخیستل جواز نلري او تر هغه کم اخستل جائز دي او پر هغه مځکه چې پخوا خراج مقاسمه حواله شوی دی دهغه بدلول په خراج مؤظف سره جوازنلري اوبعضې علماء وایي که د زمیندار پوره خوښه او رضا موجوده وه نو د هغه په مشوره بیا اجازه د بدلیدو شته ، نو په افغانستان کې که پخوا خراج مقاسمة اخستل کیده او که مؤظف اوس هم باید هغه واخستل شي او هغه مقدارخراج چې اخستل

کېده اميرالؤمنين کولای شي چې تر هغه کم واخلي که مځکې د هغه مقدارتحمل نشوای کولای اوخراج يوازې د کفارو په مځکو کې نوي بلکه هغه کفار چې مسلمانان شي يا مسلمانان د دوې مځکې رانيسي نو هم هغه مځکه خراجي بلل کېږي او هغه خراج به تاديه کوي.

خراج الارض نوعان خراج مقاسمة وهوان يکون الواجب شيئًا من الخارج نحوالخمس والسدس وماشبه ذلک وخراج وظيفة وهوان يکون الواجب شيئافی الذمة يتعلق بالتمکن من الانتفاع بالارض کذا فی فتاوی قاضيخان ( الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۲۳۷ ) و ( ردالمحتار ج ۳ ص۲۸۴ )

قال الخير الرملي خراج المقاسمة کالمؤظف مصرفا وکالعشر ماخذاً لافرق فيه بين الرطاب والزرع والکرم والنخل المتصل وغيره فيقسم الجميع على حسب ماتطيق الارض من النصف اوالثلث اوالربع اوالخمس و قد تقرّر ان خراج المقاسمة کالعشرلتعلقه بالخارج ولذا يتکرر بتکرر الخارج فی السنة ( ردالمحتار ج ۳ ص۲۸۴ )

فان عطلها صاحبها وکان خراجها مؤظفا اواسلم صاحبها اواشتری مسلم من ذمی ارض خراج يجب الخراج ولومنعه انسان من الزراعة اوکان الخارج خراج مقاسمة لايجب شئ ( الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۸ ) و هکذا فی ( الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۲۳۷- ۲۳۸ )

قال محمد فی ارض الخراج على کل جريب يصلح للزراعة قفيز و درهم وعلى کل جريب الرطبة خمسة دراهم وعلى کل جريب الکرم وفی الهداية: المتصل-م- والنخيل المتصل عشرة دراهم وعلى کل جريب الزعفران وفی الکافی: والبستان والقطن-م-بقدرمايطيق(الفتاوی التاتارخانية ج ۵ ص ۴۱۹ و ۴۲۰ ) و( الدرالمختار بهامش رد المحتارج ۳ ص ۲۸۵ )

و (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۳۸) و اراد بالقفيز الصاع (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۴۲۱) و (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۳۸)

قال محمد رحمه الله تعالى الجريب اسم لستين زراعا فى ستين زراعا حكاية عن جريبهم وليس بتقديرلازم فى الاراضى كلها بل جريب الاراضي يختلف باختلاف البلدان فيعتبرفى كل بلدة متعارف اهلها

(الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۳۸)

ایک درہم ساڑھے تین ماشہ چاندی کا ہوتا ہے اس حساب سے دس درہم پینتیس ماشے کے ہوئے جوایک ماشہ کم تین تولے چاندی ہوتے ہے۔[۱] (جواہر الفقہ ج ۲ ص ۲۸۶)

ایک صاع یعنے ساڑہے تین سیر گندم یا جوَ ۔[۲] (جواہر الفقہ ج ۲ ص ۲۸۵)

اسی (۸۰) تولہ کے انگریزی سیر کے حساب سے تین سیر چھ چھٹانگ کا پورا صاع اورڈیڑھ سیر تین چھٹانگ کانصف صاع ہو [۳] (جواہر الفقہ ج ۱ ص ۴۲۴)

فلايزادعليه في خراج المقاسمة ولافى المؤظف على مقدار ما وظفه عمررضى الله تعالىٰ عنه وان اطاقت على الصحيح (الدرالمختار) وهذا نص صريح فى حرمة ما احدثه الظلمة على الارض من الزيادة على المؤظف (ردالمحتار ج ۳ ص۲۸۲) و هكذا في (احسن الفتاوى ج ۴ ص ۳۵۲)

فكانه قال و ينقص وجوبًا مما وظف ان لم تطق وجوازاً ان اطاقت وهذا كلام لاغبارعليه (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۲)

---

[۱] یودرهم د دریونیموماشوسپینوزرو وي په دې حساب سره لس درهمه پنځه دیرش (۳۵) ماشې شول چې یوماشه کم درې تولې سپین زرجوړیږي.

(۲) یوه صاع یعنې درې نیم سیره غنم یااوربشې.

(۳) داتیاتولودانګریزي سیرپه حساب درې سیره شپږ چټاکۍ پوره صاع اویونیم سیردرې چټاکۍ یې نیمه صاع شوه.

خراج مؤظف کو خرج مقاسمہ سے بدلنا اوراس کا عکس جائز نہیں البتہ اس کے تعلیل (لان فیہ نقض العہد وہو حرام) سے معلوم ہوتا ہے کہ زمینداروں کی رضا سے تبدیل کرنا جائز ہے۔ (۱)

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۵۷ ) و (جواہر الفقہ ج ۲ ص ۲۸۵ )

**نوټ**:خراج اوجزیه باید د سرحدونو حفاظت، دلارو حفاظت، د پُلانو جوړول، دلویو والو کنستل، د مساجدو جوړول، دقاضیانو، مفتیانو، والیانو،او نورومسئولینو تنخواګانو او نورو عامه مصالحوکې مصرف شي هکذا فـي «الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۰»

والله تعالی اعلم

## له هندوانو څخه په اجاره شویو ځمکو کې عشر دې که خراج؟

محترم مولوی صاحب السلام علیکم

**اما بعد**: زما عرض دا دی د قضایای امارت لخوا دهندو مځکه ماته په اجاره راکول سوه د هندو د مځکی پرحصول چې زما حق دی زما پر حصه زکاة سته او که نسته زه ستاسو څخه خواهش کوم چې شرعی مسئله راکړئ

«حاجی ملانورګل اخند»

---

(۱) خراج مؤظف په خراج مقاسمه بدلول اوددې عکس جائزنه دی اما ددې دتعلیل «لأن فيه نقض العهد و هوحرام» څخه معلومېږي چې دځمکودمالکانوپه خوښه يې بدلول جائزدي.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب حامداً ومصلياً** :

هغه ځمکه چې اصلي مالك يې هندو يا بل کافر وي په دې شرط چې تغلبي نه وي نو د ده پر مځکه زکات يا عشر نشته بلکه يوازی خراج دی همدارنګه که يو هندو د مسلمان څخه عشري مځکه رانيسي عشر نه پرې لازميږي بلکه هندو به خراج ورکوي .

واخذ الخراج من ذمی غير تغلبی اشتری ارضا عشرية من مسلم و قبضها منه للتنافی ( الدرالمختار ) قوله للتنافی علة لقوله و اخذ الخراج يعنی انما وجب الخراج لاالعشر لان فی العشر معنی العبادة والكفرينا فيها ، ح ( ردالمحتار ج ۲ ص۵۲ )

و كالاسلام فلا تجب على الكافر لان فيها معنى العبادة ( الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۷۲۰ ط دارالفكر ) و هكذافی (مجمع الانهر ج ۱ ص۲۱۷ )

او خراج کچېرې موظف ؤ يعنې سِوا له حصول د مځکې څخه بل شی مقرر ؤ لکه نقدې پيسې مثلاً نو هغه خراج اتفاقًا پر هندو کېږي او کچېرې خراج مقاسمه ؤ يعنې د مځکې د حصول څخه يوه اندازه غوښتل کېده ـ نو به وګورو که چېرې دغه مځکه په اجاره کامله ورکول شوې وه نو دغه خراج به اجاره دار ورکوي او که په اجاره ناقصه ورکول شوې وه نو به يې هندو يا د هغه وکيل تأديه کوي او اجاره کامله دې ته وايي چې اجاره دار ته پس له ادا کولو د خراج او نورو مصارفو پوره ګټه پاته شي او اجاره ناقصه دې ته وايي چې که اجاره دارخراج ورکړي او نور مصارف ادا کړي نو ده ته ګټه نه پاته کېږي.

والعشر علی المؤجر کخراج مؤظف و قالاعلی المستأجر (الدرالمختار) قوله کخراج مؤظف فانه علی المؤجر اتفاقا... و اما خراج المقاسمة و هوکون الواجب جزءًا شائعًا من الخارج کثلث و سدس و نحوهما فعلی الخلاف. (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۰)

فان امکن اخذ الاجرة کاملة یفتی بقول الامام والافبقولهما لما یلزم علیه من الضرر الواضح الذی لایقول به احد (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۰) و هکذا فی (تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۱ ص ۹)

والله تعالیٰ اعلم

## د اهل ذمه په املاکو کې عشر دی که خراج؟ دولتي یا غیر دولتي املاک چې په اجاره ورکول شي عشر یې پر مؤجر دې که پر مستاجر؟ او دولتي املاک چې حکومت پخپله کرلې وي عشر لري کنه؟

**پوښتنه**: جناب محترم دتمیزعالي رئیس صاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موږ دعشردټولولواداره دلاندې موضوعاتوسره مخامخ یوکه لطفًا دهغو په باب شرعي فتوی راکړئ دیرممنون به سو:

۱- هغه املاک چې د اهل ذمه وو یعنې (هندوانو) دي په هغوکې عشرسته اوکه خراج اوکه دواړه اندازه یې څومره وي.

۲- هغه شخصي املاک چې په اجاره ورکول شوي وي آيا عشر يې پر مؤجر او که پرمستاجر دی.

۳- هغه املاک چې دولتي وي او بيا په اجاره ورکول شوي وي عشريې پر چا دی، همدارنګه هغه املاک چې دولتي وي اودولت پخپله کرلي وي آيا عشرلري که نه اوڅومره وي که لطفا ددغه دروګونو موادو په باب شرعي فتوی راکړئ ډيره به ښه وي.

والسلام.

(الحاج ملا حميد الله اخندزاده دعشرمسئول)

رياست دار الافتاء درمورد فتوی شرعي بدهند والسلام

(مولوي خليل الله رئيس عالي تميز ۷۵/۵/۱)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب:**

هغه املاک چې داهل ذمه (هندوانو) دي په هغوکې خراج ده بياخراج په دوه قسمه ده يوخراج مقاسمه ده چې واجب بعض دهغه مال خارج وي لکه خمس وغيره بل خراج مؤظف ده چې واجب يوشئ وي پرذمه باندې چې واجب وي په مجرد قدرت على الانتفاع بالارض سره اګرکه خارج موجود نه وي هم حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خراج موظف کې وضع کړې وه په هرجريب چې اوبه ورته رسيږي يوه پيمانه دغنمواويودرهم اويايوه پيمانه د وربشو او يو درهم او په هرجريب د ترکارۍ وضع کړې وې پنځه روپۍ او په هرجريب د ونو د

خرما او د انګورو و غیره چې ونې یو بل ته متصلې ولاړې وي وضع کړې وې لس روپۍ (عشرة دراهم) اوپه هغواشیاؤ کې چې مقرري دحضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه وي نوپه هغوکې به مطابق دطاقت خراج وي اوغایه دطاقت نصف دخارج ده پس زیادت په نصف باندې په هغواشیاؤ کې اوهم په خراج مقاسمة کې جائز نده او همدارنګه جایز نده زیادت په مقررۍ دحضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې په هغواشیاؤ کې چې هغه مبارک مقرري کړې ده او هغه املاک چې په اجاره ورکول شي عشر بې پرمؤجرده که ده پوره اجرة اخستلواوپرمستاجرده که مؤجرکم اجرة ورځني اخستلو او هغه املاک چې دولتي وي اوپه اجاره ورکول شي په هغوکې اجرة ده چې دغه اجرة بیاپه حق دامام کې خراج ده که دراهم وي خراج مؤظف ده اوکه بعض خارج وي نوخراج مقاسمه ده ، او هغه املاک چې دولتي وي اودولت پخپله کرلي وي په هغوکې عشرشته :

(قوله وخراج ان اشترى ذميٌّ ارضًاعشرية من مسلم) اى يجب الخراج لان فى العشرمعنى العبادة والكفرينافيها ولاوجه الى التضعيف لان الكلام فى غيرالتغلبي بخلاف الخراج لانه عقوبة والاسلام لاينافيها كالرق وبه اندفع قول ابي يوسف من تضعيف العشر عليه وقول محمد ببقاء العشر.
(البحر الرائق ج ۲ ص ۲۳۸ ط مکتبه ماجدیه)

(وهو) اى الخراج (نوعان خراج مقاسمة ان كان الواجب بعض الخارج كالخمس ونحوه وخراج وظيفة ان كان الواجب شيئًا فى الذمة يتعلق بالتمكن من الانتفاع بالارض كما وضع عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ على السواد لكل جريب) هوستون ذراعًا فى ستين بذراع كسرى سبع قبضات وقيل

المعتبر فی کل بلدة عرفهم وعرف مصر التقدير بالفدان فتح وعلى الاول المعول بحر (يبلغه الماء صاعا من بر اوشعير ودرهما) عطف على صاع من اجود النقود زيلعی (ولجريب الرطبة خمسة دراهم ولجريب الكرم اوالنخل متصلة) قيد فيهما (ضعفها ولما سواء) مماليس فيه توظيف عمر (كزعفران وبستان) هو كلّ ارض يحوطها حائط وفيها اشجار متفرقة يمكن الزرع تحتها فلوملتفة ای متصلة لايمكن زراعة ارضها فهوكرم (طاقته و) غاية الطاقة (نصف الخارج) لان التنصيف عين الانصاف (فلايزاد عليه) فی خراج المقاسمة ولافی المؤظف على مقدارما وظفه عمر رضی اللہ عنہ الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج ۳ص ۲۸۴ الی ص ۲۸۲ ط رشيديه)

فان امكن اخذ الاجرة كاملة يفتى بقول الامام والا فيقولهما لما يلزم عليه من الضرر الواضح الذی لايقول به احد والله تعالى اعلم (ردالمحتار-ج۲ص ۲۰) اودغه تطبيق په مابين د قول د امام صاحب او قول د صاحبينو كې په (امدادالفتاوی ج۲ ص ۵۸) كې هم ذكرشوی دی.

قلت وهذا نوع ثالث يعنی لاعشرية ولاخراجية من الاراضی تسمى ارض المملكة واراضی الحوز وهو ما مات اربابه بلا وارث وال لبيت المال اوفتح عنوة وابقی للمسلمين الی يوم القيامة وحكمه على مافی التاتارخانيه انه يجوز للامام دفعه للزراع باحدطريقين اما باقامتهم مقام الملاک فی الزراعة واعطاء الخراج واما باجارتها لهم بقدرالخراج فيكون المأخوذ في حق الامام خراجًا ثمّ ان كان دراهم فهو خراج موظف وان كان بعض الخارج فخراج مقاسمة واما فی حق الاكرة فاجرة لاغير الخ

(ردالمحتارج ۳ص ۲۸۰ ط رشيديه)

فی التاتارخانية السلطان اذا دفع أراضی لا مالک لها وهی التي تسمی الاراضی المملكة الی قوم ليعطوا الخراج جاز وطريق الجواز احد شيئين اما اقامتهم مقام الملاک فی الزراعة واعطاء الخراج او الاجارة بقدر الخراج ويكون الماخوذ منهم خراجا فی حق الامام اجرة فی حقهم اهـ

(ردالمحتار ۲ ص ۲۰ ط رشيديه)

اودغه عبارت په (منحة الخالق علی البحرالرائق ج ۵ ص ۱۰۵ ط ماجديه) کې هم ذکرشوی ده.

په اراضی د بيت المال او اراضي د وقف کې عشرشته په (ردالمحتارج۳ ص ۲۷۹ ط رشيديه) کې په ډيرودلائلوسره عشر په اراضی دوقف کې ثابت کړې ده اوپه (الفتاوی تنقيح الحامدية ج ۲ ص ۱۱۰ ط مکتبه حبيبيه) کې ليکلي:

نعم قد تقرر ان اراضی بيت المال يسلک بها مسالک ارض الوقف خيرية من العشروالخراج الخ.

مولوي عبدالله مشهور بخطيب (ارزګاني)

مولوي عبدالحکيم عفی الله عنه

مولوي محمد مسلم (حقاني)

مولوي نورمحمد (ثاقب)

سرپرست دارالافتاء مرکزي تحريک اسلامي طلباء افغانستان

## باب مصارف الزکوة

## د زکوة د مصرف کېدو لپاره حاجات اصلیه په اعتبار د وجود ضروري دې که مألاً ؟

**پوښتنه :** محترم رئیس صاحب اوټولوعلماء کرامو حضورته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد : عرض دادی چې نن ورځ اکثر علماء کرام کار ، کسب او کوم تجارت نلري بلکه عامې وظیفې یې امامتونه دي او په امامتونو کې مقتدیان زکوة او صدقة الفطر و خپلو امامانو ته ورکوي او مونږ اوریدلي دي چې د زکوة او صدقة الفطر مصرف فقیر دی کوم شخص چې مالك د نصاب وي هغه ته یې اخذ حرام دی، خو اکثر ملایان وایي چې نصاب چې د حاجات اصلیه وو څخه زیات شي نو بیا مالك د نصاب زکوة نسی قبض کولای او که یو ملا فرضًا سرای یا موټرسایکل نلري و هغه ته یې ضرورت وي نو بیا تر هغه وخته چې دی مذکور شیان رانسی دی مالك د نصاب نه بلل کیږی.

خلاصه دا ده چې حاجات اصلیه په اعتبار د وجو د معتبر دي که په اعتبار د مأل او کوم ملا چې بې له زکوته امامت نکوي او یا مقتدیان بې له امامته څخه زکوة نه ورکوي ایا په دغه صورت کې د زکوة فرضیت اداکیږی کیا ؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

بعضې علماء او مصنّفيـن لكه صاحب د هدايه او داسې نور نفس حوايج اراده كوي او نور علماء لكه صاحب د ردالمحتار و ابـن الملك او داسې نورو ترجيح دې قول ته وركړې ده كه يو سړى نصاب و لري او غواړي چې حوائج اصليه تـه يې صرف كړي او هغـه حوائج واقعًا حوائج اصليه وي نو دغـه نصاب لكه عدم نصاب داسې دى يعنې حرمت د اخذ د زكوة نه وربانـدي مرتب كيـږي لكن كـه كـال تيـر شـو او هغـه نصـاب ورسره موجود ؤ حوائج اصليه تـه يـې نـه ؤ صرف كړى نـو پـر دغـه نصـاب بانـدي زكوة لاژميـږي او صاحب يې غني ګرځي او زكوة اخستل ورته حرام ګرځي.

فـاذا كـان لـه دراهـم مسـتحقة بصـرفها الـى تلـك الحـوايج صـارت كالمعدومة كما ان الماء المستحق بصرفه الى العطش كان كالمعدوم و جاز عنده التميم آهـ و ظاهر قوله فاذا كان له دراهم الخ ان المراد من قوله و فارغ عن حاجته الاصلية ما كان نصابا من النقدين او احدهما فارغًا عن الصرف الى تلك الحوائج لكن كلام الهداية مشعر بان المراد به نفس الحوائج...فـاذا كان معه دراهم امسكها بنية صرفها الى حاجته الاصلية لاتجب الزكوة فيها اذا حال الحول و هى عنده لكن اعترضه فى البحر بقوله و يخالفه ما فى المعراج فى فصل زكوة العروض ان الزكوة تجب فى النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة و كذافى البدائع فى بحث النماء التقديرى ...لكن حيث كان ما قاله ابن ملك موافقًا لظاهر عبارات المتون كما علمت و قال ح انه الحق فالاولى التوفيق بحمل ما فى البدائع و غيرها على ما اذا أمسكه

لینفق منه کل ما یحتاجه فحال الحول و قدبقی معه منه نصاب فانه یزکی ذلك الباقی و ان کان قصده الانفاق منه ایضًا فی المستقبل لعدم استحقاق صرفه الی حوائجه الاصلیة وقت حولان الحول ( ردالمحتار ج ۲ ص ۷ )

اما المال المحتاج الیه لنحو نفقة فعلی ما فی ابن ملك لازکاة فیه و تجب علی ما فی المعراج قال الحلبی و الحق مافی ابن ملك لانه مستحق الصرف الی حوائجه (حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار ج ۱ ص۳۹۲)

( وهو فقیر وهو من له ادنی شیٔ ) ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة ( الدرالمختار ) ( قوله مستغرق فی الحاجة ) اما اذا لم یکن محتاجا الیه فتحرم علیه الزکوة و لاتجب علیه بل تجب علیه صدقة الفطر ( حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار ج ۱ ص۴۲۳ )

ولاالی (غنی) یملك قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلیة من ایّ مالٍ کان (الدرالمختار) ( قوله فارغ الخ ) اما لوکان مستغرقا بها حلت ... ( قوله من ایّ مال کان ) نقداً او عروض تجارة او سائمة ( حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار ج ۱ص ۴۲۷ )

قوله من ای مال کان یعنی سواء کان دراهم او د نانیر او سوائم او عروضًا للتجارة او لغیر التجارة لکنه فاضل عن حاجته فی جمیع السنة آهـ زاهدي (حاشیة الشلبي علی هامش تبیین الحقائق ج ۲ ص ۱۲۴ ط ایج - ایم -سعید ) و هکذافی ( الجوهرة النیرة ج ۱ ص ۱۲۹) و ( احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۰۱ )

## آیا کتابونه لرونکی عالم مصرف د زکوة کیدلا ی شي؟

**پوښتنه** : محترمو استاذانوعلماء کرامو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته که کتابونه په میراث کې پاته شي اوپه کورکې عالم وي دغه قلمي کتابونه ده ته په حق کې ورکړي نودغه عالم ته زکوة اخیستل څنګه دي؟
چې بل شئ ونلري یعنې دې مسکین دی که یا؟

المستفتي نظام الدین

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک المستعان** :

کچیرې دغه قلمي کتابونه په حق کې ورکول شوي وي دغه عالم ته نوکه دغه عالم دغه کتابو ته احتیاج لري د مطالعې لپاره اوتکراري نسخې نه وي پکې او مستحق د زکاة وي زکاة اخیستل ورته جائز دي :

وعلى هذا كتب العلم لاهلها اى وعلى ماذكرنا من عدم وجوب الزكاة حكم كتب العلم لاهلها قال الاترازي رَحِمَهُ ٱللَّهُ انما قيد بقوله لاهلها لانها اذاكانت للبيع تكون فيها الزكاة لوجود النماء بالتجارة وقال السكاكي رَحِمَهُ ٱللَّهُ قوله لاهلها قيد غير مفيد لما انه لولم يكن من اهلها وليست هى للتجارة لاتجب فيها الزكاة ايضًا وان كثرت لعدم النمآء وانما يفيد ذكرالاهل فى حق مصرف الزكاة فانه اذا كانت له كتب تبلغ النصاب

وهومحتاج اليها للتدريس وغيره يجوز له اخذ الزكاة اما اذا بلغت النصاب ولم يكن محتاجًا اليها لايجوز صرف الزكاة اليه كذا فى النهاية (البنايه فى شرح الهداية ج ۳ ص۳۵۹) و هكذا فى (فتح القدير ج ۲ص ۱۲۰)

وهكذا فى (الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۷۲ و ۱۷۳) و هكذا فى (البحرالرائق ج ۲ ص۲۰۲)

(قوله غيران الاهل الخ) استدراک على التعميم المأخوذ من قوله وان لم تكن لاهلها اى ان الكتب لازكاة فيها على الاهل وغيرهم من اى علم كانت لكونها غيرنامية وانما الفرق بين الاهل وغيرهم فى جواز اخذالزكاة والمنع عنه فمن كان من اهلها اذا كان محتاجًا اليها للتدريس والحفظ والتصحيح فانه لايخرج بها عن الفقر فله اخذالزكاة انكانت فقهًا اوحديثًا اوتفسيراً ولم يفضل عن حاجته نسخ تساوى نصابا كأن يكون عنده من كل تصنيف نسختان وقيل ثلاث لان النسختين يحتاج اليهما لتصحيح كل من الاخرى والمختارالاول اى كون الزائد على الواحدفاضلا عن الحاجة واما غيرالاهل فانهم يحرمون بالكتب من اخذ الزكاة لتعلق الحرمان بملک قدرنصاب غيرمحتاج اليه وان لم يكن ناميا الخ (ردالمحتار ج ۲ص ۹) وهكذا فى (الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۲۵۱ ط دارالفكر)

والله اعلم بالصواب

## عالم په عامل کې داخل دی کنه؟

**پوښتنه** : عالم په عامل کې داخل دی اوکنه؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

عامل که مسکین وي اوکه غني وي ، عالم وي اوکه غیر عالم وي اخیستل ورته روا دی ځکه چې دغه اخیستل یې دعمل په مقابل کې دی :

وعامل يعم الساعي والعاشر فيعطى ولوغنيًا لاهاشميًا لانه فرغ نفسه لهذا العمل الخ ( قوله لانه فرغ نفسه ) اى فهويستحقه عمالة الخ (الدر المختار مع رد المحتار-ج۲ص ۶۴) ويحل للعامل اخذ العمالة وان كان غنيًا ( الفتاوى التاتارخانية ج ۲ ص ۲۲۸ ) وكذا ( تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق ج ۲ ص ۱۱۴ ط ايج - ايم - سعيد )

والله تعالى اعلم بالصواب

## د زكوة په روپيو مسجد ودانول

**پوښتنه:** د زكاة په مبلغ سره د مسجد جوړيدل جواز لري كيا؟

والسلام

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصدق والصواب:**

محترم مستفتي صاحب! د زكوة په مبلغ د مسجد بناء جواز نلري كه مسجدپرې جوړهم شي د زكوة فرضيت نه پرې اداء كيږي ځكه چې د زكوة د اداء كولو لپاره تمليک د فقير ضروري دی او په مذكوره صورت كې حيله داده چې د زكوة مبلغ يو فقير شخص قبض كړي په طريقه د ملكيت بيا دې هغه فقير پخپله رضاء او اختيار سره په مسجد مصرف كړي.

ولايجوز ان يبنى بالزكاة المسجد الخ (الفتاوى العالمكيرية ج ۱ ص ۱۸۸) (لا يصرف (الى بناء) نحو مسجد ولاالى كفن ميت وقضاء دينه الخ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص۲۸)

لاالى ذمي وصح غيرها وبناء مسجد وتكفين ميت وقضاء دينه الخ (كنزالدقائق بهامش البحرالرائق ج ۲ ص ۲۴۲و ۲۴۳)

وحيلة التكفين بهاالتصدق على فقير ثم هو يكفن فيكو الثواب لهما وكذا فى تعمير المسجد و تمامه فى حيل الاشباه.

(الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳)

سوال: (۳٦۵) زكوة كا روپيه تعمير مسجد ميں خرچ ہو سكتا ہے يا نہيں؟.....

الجواب: (۱-۲) دونوں جگہ زکوۃ کا روپیہ صرف کرنا درست نہیں ہے۔ کما في عامة کتب الفقه. ([1])
(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ٦ ص ۲۱۳) مال زکوۃ مسجد پر لگانا جائز نہیں ([2])
(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۹۲)

## د سکنٰی ځمکې رانیونکی مصرف د زکوٰة دی کنه؟

**پوښتنه** : که یو سړي مځکه په نیت د سُکنٰی رانیوله پدې نیت چې سرای به پرې جوړوم یا خو به یې خرڅه کړم یوڅه روپۍ به نورې ورسره جمع کړم بل ځای به مځکه د سرای پرې رانیسم ، سړی د سکون ځای نلري نه نقدي روپۍ لري او نه د زراعت لپاره ده او د مځکې قیمت ۵۰۰۰۰ کلداری کیږي ، دغه سړی زکاة اخستای سي او که یا غني بلل کیږي ؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون ملهم الصواب** :

دغه سړي چې مځکه په نیت د خپلې سُکنیٰ رانیولې ده که یې خپل سرای نه درلود او نه یې سِوا له دغه مځکې څخه او سِوا له خپلو ضروریاتو څخه بل نصاب درلود نو زکوة اخستل ورته جائز دي او که یې دغه مځکه د ګټې لپاره رانیوله یعنې دا چې په اینده کې به دغه مځکه ګټه وکړي د هغه سره به نورې پیسې یو ځای کړم سرای به را نیسم او د ده او د عیال نفقه د

---

([1]) سوال (۳۲۵) دزکوة روپۍ دمسجدپه تعمیرکې مصرفیدلای شي اوکنه؟ .....الجواب (۱-۲) دواړه ځایه دزکوة روپۍ مصرفول صحیح نه دي (فتاوی دارالعلوم دیوبند.

([2]) دزکوة مال پرمسجد لګول جائزنه دي (احسن الفتاوی)

بلې خوا څخه پوره کېدله نو بيا زكاة اخستل ورته جائز نه دي او كه يې د ګټې نيت نه ؤ خالي د خپل ځان او كور سكنى يې مطلوب وه نو بيا مانع د زكوة نه ګرځي .

و لايجوز دفع الزكوة الى من يملك نصابا ایّ مال كان دنانير اودراهم او سوائم او عروضا للتجارة او لغير التجارة فاضلا عن حاجته فى جميع السنة هكذا فى الزاهدى و الشرط أن يكون فاضلا عن حاجته الاصلية وهى مسكنه و أثاث مسكنه و ثيابه و خادمه و مركبه و سلاحه (الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالفتاوى الهندية ج ١ ص١٨٩)

(هو فقير و هو من له ادنى شئ) اى دون نصاب او قدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة (الدرالمختار) قوله مستغرق فى الحاجة اما اذالم يكن محتاجا اليه فتحرم عليه الزكوة و لاتجب عليه (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار ج ١ ص٤٢٣)

ولاالى غنى يملك قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلية من اى مال كان (الدرالمختار) (قوله فارغ عن حاجته الاصلية) اما لوكان مستغرقابها حلت ... (قوله من اى مال كان) نقداً او عروض تجارة او سائمة (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار ج ١ ص٤٢٧)

قوله من اى مال كان يعنى سواء كان دراهم او دنانير او سوائم او عروضًا للتجارة او غير التجارة لكنه فاضل عن حاجته فى جميع السنة آه

(حاشية الشلبي على هامش تبيين الحقائق ج٢ ص١٢۴ ط ايج-ايم-سعيد)
و هكذا فى (الجوهرة النيرة ج١ ص ١٢٩) و (احسن الفتاوى ج۴ ص٣٠١)

تجارت کی نیت سے خرید کردہ زمین اور مکان اور برائے فروخت تعمیر کردہ مکانات کی موجودہ مالیت پر زکوۃ فرض ہے۔ (۱) (احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۰۹ )

سوال: ایک بیوہ عورت کے پاس ۳۰ - ۴۰ بیگہ (زمین کی ایک مقدار) زمین ہے مگر گرانی و خشک سالی کی وجہ سے اسکے پاس گذارہ کے موافق آمدنی نہیں، اگر کوئی رشتہ دار اس کو زکوۃ دیدے تو ادا ہو گی یا نہیں۔

الجواب: اس صورت میں زکوۃ ادا ہو جاوے گی۔ (۲) (فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۶ ص ۲۶۰ و ۲۶۱)

## د غني پلار مسكين زوی ته زكوة وركول

**پوښتنه**: محترمو علماؤ يو سړی چې مسكين وي پلار يې غني وي او دواړه سره جلا سوي وي زكاة ورته روا دی كنه ، بيا په دغه زكاة د پلار سره كومك كولای سي كنه چې قبض يې كړي ؟

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الله تعالى**:

پلار چې غني وي نو كه يې زوی بالغ او مسكين ؤ دغه زوی ته زكاة وركول جائز دي هر كله چې يې قبض كړي دغه زكاة بيا نو د خپل پلار سره كومك كولای شي لكن په طريقه د هبې او دا ځكه چې غني ته صدقه نه وركول

(۱) ترجمه: دتجارت په نيت رانيولې ځمكه اوسرای اودخرڅولو لپاره تعميركړي سرايونو پرموجوده قيمت زكوة فرض دی. (احسن الفتاوی)

(۲) د يوې كونډې سره ۳۰-۴۰ بيگه (دځمكې يومقدار) ځمكه ده خودگرانۍ او وچ كالۍ په وجه ددې سره دگزارې سره سمه آمدني نشته كه كوم قريب دې ته زكوة وركړي نوادا كيږي اوكنه؟

الجواب: په دې صورت كې زكوة اداكيږي.

کېږي حتٰی که صدقه ورته ورکړي هم هبه ګرځي نه صدقه او که زوی صغیر ؤ بیا نو زکاة ورکول نه دي جائز .

ولایجوز دفعها الی ولد الغنی الصغیر کذافی التبیین ولوکان کبیرا فقیرا جاز (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۹) وهکذافی (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص۷۲) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۲۵۷)

اذا دفع الزکوة الی الفقیر لایتم الدفع مالم یقبضها او یقبضها للفقیر من له ولایة علیه (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص۱۹۰)

لان الصدقة علی الغنی هبة (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۴ ص۵۷۴)

(**نوټ**) پلار چې غني وي خپل مسکین زوی ته زکاة نشي ورکولای او نه یې زوی پلار ته ورکولای شي .

ولاالی من بینهما ولاد (الدرالمختار) و قید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب (ردالمحتار ج ۲ ص۶۹) و هکذافی (امدادالاحکام ج ۲ ص۴۹)

والله تعالیٰ اعلم

## په عشر او زکوة امامت کول

**پوښتنه** : محترمه ! څرنګه چې تاسو ته معلومه ده چې زمونږ د قندهارد صحراء په علاقو کې له وقته څخه داسې رواج او عادت راغلی دی چې خلک ملا امام په مسجد کې مقرر کړي بلا قید او شرط بیانو د دغه مسجد خلک د خپلې مځکې او باغونو عشر و دغه امام ته ورکوي او دغه امام بیا د دغه کلي خلکو ته جماعت ورکوي کوچنیانو ته سبقان وايي او که په یو قریه کښې مقبره یا فاتحه پیښه سي نو دغه ملا امام او مقتدیان عادةً و دغه

ځای ته په جمع واری، سره ورځي او دغه ملا امام بیاتر دا بله کاله پورې دلته اوسیږي که پر نیم کال ورځنې ولاړسي نو بیا مقتدیان یو څه عشر ځنې راګرځوي خو دغه مذکور شیان اوله ورځ د ملایي ورکولو په عقد کې منعدم وي لکن صرف یو عادت او رواج د قدیم څخه پر دغه طریقه راغلی دی او ځینې وخت داسې هم کیږي که یو مقتدي د دغه ملا څخه څه عشر منع کړي نو بیا ملا په حکومت کې عریضه کوي او هغه باقي عشر ځنې غواړي .
اوس عرض دا دی چې آیا د غه عشر پر دغه طریقه مذکوره عشر کیږي او که اجرت کیږي او هغه منع سوی عشر د دغه ملا امام حق کیږي که یا ؟ چې ډیر زیات علماء مدرسین او غیر مدرسین د قدیم القدیم څخه پدغه عمل مبتلاء دي؟

(المستفتی محمد یونس مظلوم یار)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :
دلته درې خبرې ډیرې ضروري دي

**اوله خبره دا ده** :
هر چاته چې عشر یا زکاة ورکول کیږي شرط یې دا دې چې هغه به فقیر یا مسکین وي او د نصاب قدر مال به زائد تر خپلو ضروریاتو نلري ( سِوٰا له عاشرانو څخه ) هر څوك چې وي که ملا امام وي یا قریب وي یا همسایه وي فقر یې شرط دی او که فقیر نه وي او څوك زکاة یا عشر ورکړي هغه زکاة یا عشر یې نه صحیح کیږي او غاړې یې نه خلاصیږي.

**دوهمه خبره دا ده :**

زکاة یا عشر ورکول به خاص د خدای تعالیٰ د رضاء لپاره وي نه به د امامت په مقابل کې وي نه به د کوچنیانو د سبقانو نه بل داسې کار، او که څوك زکاة یا عشر د امامت په عوض کې ورکړي غاړې یې نه خلاصېږي او هغه ترتیب چې مستفتي لیکلی دی نو عام طور په وطنو کې عشر او زکوة د امام حق بلل کېږي او امام چې امامت کوي هم یې دغه مطلب وي او هر شی چې په اصطلاح کې موجود وي هغه لکه شرط کړ شوې داسې وي نو په دې صورت کې د خلکو زکاة یا عشر د امامت په عوض کې شو ، او که یو امام ته مقتدیان علیحده اُجرة مقرر کړي سِوا له زکوة او عشر څخه او دا هم ورته و وایي چې زکاة یا عشر چې مونږ هر چاته ورکاؤ زمونږ خوښه ده یا امام پخپله مقتدیانو ته اختیار ورکړي او بیا مقتدیان خاص او خاص د امام د مسکنة په وجه ده ته زکاة یا عشر ورکړي نو دا صحیح کېږي.
حاصل دا چې زکاة یا عشر په مقابل د امامت و غیره کې قطعاً صحت نلري.

**درېمه خبره دا ده :**

امام چې پر زکاة یا عشر باندې د مقتدیانو سره دعویٰ کوي دا عمل حرام دی او دا دعویٰ او عریضه اوریدل د ټولو ریاستو او محاکمو لپاره حرامه ده ځکه چې دعویٰ خو طلب د خپل حق وي او دغه زکاة یا عشر خو دده شخصي ملک او حق نه بلل کېږي نو دعویٰ به یې څنګه مسموع شي ، دا ډیره مهمه مسئله ده امامان مکلّف دي چې پر ځای ددې چې دعویٰ وکړي خلک پدې مسائلو پوه کړي چې هم د ورکوونکي غاړې خلاصې شي او هم د اخیستونکي.

اعلم ان الفقير شرط فی جميع الاصناف الا العامل كما سيجئ (الدر المنتقي في شرح الملتقى بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۲۰) و(حاشية الطحطاوي على الدر المختار ج ۱ ص ۴۲۳) وهذا الفرع (ای قول صاحب الدر المختار ان طالب العلم يجوز له اخذ الزكاة ولو غنيًّا) مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنی ولم يعتمده احد ط قلت وهو كذلک والاوجه تقييده بالفقير ويكون طلب العلم مرخصا لجواز سؤاله من الزكاة وغيرها وان كان قادراً على الكسب اذ بدونه لايحل له السؤال كما سيأتي (ردالمحتار ج ۲ ص۲۵) ولا الى غني يملک قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلية من ایّ مال كان (الدر المختار بهامش حاشية الطحطاوي ج ۱ ص ۴۲۷)

(لله تعالى) بيان لاشتراط النية (الدر المختار) (قوله بيان لاشتراط النية) فانها شرط بالاجماع فی مقاصد العبادات كلها بحر (ردالمحتار ج ۲ ص ۴) وهكذا فی (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۷۰)

وقوله لله تعالى لان الزكاة عبادة ولابد فيها من الاخلاص لله تعالى لقوله تعالىٰ : وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ [ البينة ۵ ]

(تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۲ ص ۱۹ ط ايج - ايم - سعيد)

ولو نوی الزكاة بما يدفع المعلم الى الخليفة ولم يستأجره ان كان الخليفة بحال لو لم يدفعه يعلم الصبيان ايضًا اجزأه و الا فلا و كذا ما يدفعه الى الخدم من الرجال والنساء فی الاعياد و غيرها بنية الزكاة.

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۰)

امام کیلئے بمعاوضہ امامت زکوۃ دینا جائز نہیں ہے ولاحیلۃ لجواز ذلک اصلا ([1]) ( امداد الاحکام ج ۱ ص ۹۶) پس امام کو بعوض امامت اس میں سے دنیا اور اس کو لینا درست نہیں ہی فقط البتہ اگر یہ رقم مشاہرہ کے علاوہ الگ سے محتاج سمجھ کر دی جائے اور وہ مستحق زکوۃ ہی تو درست ہے ([2]) ( فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۶ ص ۲۱۳ و ص ۲۱۲ و ص ۲۷۵) وہکذا فی (خیر الفتاوی ج ۳ ص ۴۱۶ ) و( امداد المفتین ص ۴۶۱) و ( فتاوی محمودیہ ج ۳ ص ۴۳ ) و ( احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۶۲)

المعروف عرفا كالمشروط شرطا - المجلة (۴۳)

ای المعروف المعتاد بین الناس وان لم یذکر صریحا فهو بمنزلة الصریح لدلالة العرف علیه (شرح المجلة للاتاسي : ۱/ ۱۰۰)

الدعوی هی طلب واحد حقه من آخر فی حضور الحاکم (المجلة الماده ۱۲۱۳)

والله تعالی اعلم

(۱) امام ته دامامت په عوض کې زکوة ورکول جائزنه دی، ولاحیلة لجوازذلک اصلاً.

(۲) امام ته دامامت په عوض له دې ځخه ورکول او دده لپاره اخیستل صحیح نه دي فقط اماکه چېرې دغه روپۍ له مشاهرې (میاشتنۍ تنخواه) ځخه پرته صرف په محتاج ګڼلو ورکړي اودې مستحق دزکوة وي نوصحیح دی.

## آیا د څلویښتو کلونو نفقه لرونکی یا د سرو زرو پر ځین سپریدونکی امام زکوٰة اخیستلای شي؟

**پوښتنه** : محترم رئیس صاحب اوټولوعلماء کراموحضورته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: عرض دادی چې نن ورځ اکثر علماء کرام کار کسب او کوم تجارت نلري بلکه عامې وظیفې يې امامتونه دي او په امامتونوکې مقتديان زکاة اوصدقة الفطر و خپلو اماماتوته ورکوي اومونږ اوریدلي دي چې مُلا تر هغه وخته مستحق د زکاة او صدقة الفطر دی و لوکه د څلویښتوکلونو نفقه ولري یا د سرو زرو په ځین کې سپوروي؟

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

دا خبره چې ملا د ۴۰ کالو نفقه ولري هم زکاة ورته جائز دی یا امثال د داسې خبرو په مذهب د امام صاحب کې غیر معتمد او غیر معتبر اقوال دي او نه علماء کرامو پر داسې اقوالو فتویٰ ورکړې ده بلکه مُلا ته زکوة ورکول او عامو مسلمانانو ته زکوة ورکول هیڅ تفاوت نلري.

اعلم ان الفقير شرط فى جميع الاصناف الاالعامل كما سيجئ (الدر المنتقى فى شرح الملتقى بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۲۰) و (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار ج ۱ ص ۴۲۳) وهذالفرع (اى قول صاحب الدرالمختار ان طالب العلم يجوز له اخذالزكوة ولو غنيا) مخالف لاطلا قهم الحرمة فى الغنى و لم يعتمد ه احد (ط) قلت و هو كذلك والاوجه تقييده

بالفقير و يكون طلب العلم مرخصالجواز سؤاله من الزكوة و غيرها و انكان قادراعلى الكسب اذبدونه لايحل له السؤال كما سيأتي.

(ردالمحتار ج ۲ ص ٦٥)

عالم غنی مالک نصاب کو زکوۃ و صدقات واجبہ دینااوراس کو لینا صحیح مذہب کے موافق جائز نہیں ہے اور فی سبیل اللہ میں اگرچہ طالب علم داخل ہو سکتے ہیں لیکن محتاج ہونااس کا شرط ہے۔ (۱)

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ٦ ص ۲۵۲ وص ۲۴۴ وص ۲٦۳ وص ۲۸۰) و

(احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲٦۲)

## د عشراو زكوة عاملين چې سيدان وي د زكوة اخيستل يې څه حكم لري؟

بحضور جناب رئیس صاحب تمیز السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ!

امابعد: ریاست عشر و زکوۃ در ولایات وولسوالی های مربوط خود عاشرین وعاملین برای فراهم آوردن عشر وزکوۃ مؤظف ومقرر نموده که بعضی افراد آنان سادات میباشند که قابضین وآخذین

(۱) ترجمه: غني او د نصاب مالک عالم ته زكوة او واجب صدقې وركول او دده لپاره اخيستل د صحيح مذهب سره سم جائز نه دی اوپه «فی سبیل الله» کې که څه هم د علم طالب داخلیدلای شي لیکن محتاج کیدل د هغه شرط دی.

عشر میباشند ومایان درقبض واخذ عشر موصوفان متردد میباشیم لطفاً مطابق شریعت غرّاء تا امر اجراء کار و وظیفه شان عنایت فرمایند با احترام .

(ملاحمید الله اخند زاده رئیس عمومی عشر وزکوة ولایت کندهار)

ملاحظه شد ۱۳۷۵/۵/۱۸ ریاست محترم دارالافتاء در مورد ابراز نظر شرعی فرمایند! والسلام

(مولوي خليل الله فيروزي رئيس عالي تميز)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب** :

اگر عاشرین وعاملین سادات وبنی هاشم باشند وامام برایشان رزق مقرر نماید لکن بغیر از عشر وزکوة پس درست است وآنجاکه ذکر میشود که عاشرین وعاملین بنی هاشم وسادات نباشند۔ مراد آن اینست که گرفتن وخوردن برای خود ایشان ازان عشر وزکوة که آنها از مسلمین جمع کردند صحیح نیست زیراکه خوردن آن عشر وزکوة برای شان حلال نیست جهت تنزیه قرابت نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ از شبه چرک و مراد این نیست که مقرر کردن آها بوظیفه عاشرین و عاملین درست نیست بلکه درست است وبرای ایشان رزق ازدیگر حصه بیت المال مقرر گردد.

ثم اعلم ان هذا الشرط اعني كونه غيرهاشمى عزاه فى البحر الى الغاية ولم ار من ذكره غيره وهومخالف لماذكره فى النهاية وغيرها فى باب المصرف من انه اذا استعمل الهاشمى على الصدقة لاينبغى له الاخذمنها ولوعمل ورزق من غيرها فلابأس به آهـ ومراده بلاينبغى لايحل كماعبّربه الزيلعى هناک وهذا كالصريح فى جوازنصبه عاملاً فيحمل ماهنا على انه شرط لحل اخذه من الصدقة ويدل عليه تعليل صاحب الغاية بقوله لمافيه من شبهة الزكاة فان مفاده انه يجوز كونه هاشميًا اذا جعل له الامام شيئًا من بيت المال اوكان لايأخذشيئًا مما يأخذه من المسلمين وسنذكرفى باب المصرف تمامه. (ردالمحتار -ج۲ ص ۴۲)

فلا تحل للعامل الهاشمى تنزيهاً لقرابة النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن شبهة الوسخ وتحل للغنى لانه لايوازي الهاشمى فى استحقاق الكرامة فلا تعتبر الشبهة فى حقه زيلعي على ان منع العامل الهاشمى من الاخذ صريح فى السنة كمابسطه فى الفتح قال فى النهر وفى النهاية استعمل الهاشمي على الصدقة فأُجرى له منها رزق لاينبغى له اخذه ولوعمل ورزق من غيرها فلابأس به قال فى البحروهذا يفيد صحة توليته وان اخذه منها مكروه لا حرام آهـ والمراد كراهة التحريم لقولهم لايحلّ لكن مامرّ من ان شرائط الساعى ان لايكون هاشميًا يعارضه وهذا الذى ينبغى ان يعول عليه آهـ مافى النهر اقول الظاهر ان الاشارة فى قوله وهذ الى ماذكر هنا من صحة توليته ووجهه ان ما ذكروه هنا صريح فى عدم حل الاخذ مما جمعه من الصدقة لامن غيره فلادليل حينئذٍ على عدم صحة توليته عاملاً اذا رزق من غيرها وقدمنا ان اشتراط ان لايكون هاشميًا نقله فى البحرعن الغاية ولم اره

لغیره علی انه فی الغایة علّل ذلک بقوله لما فیه من شبهة الزکاة کما علّلوا به هنا فعلم ان ذلک شرطٌ لحل الاخذ من الصدقة لالصحة التولیة فلا یعارض ماهنا کماقدمناه هناک والله تعالی اعلم (ردالمحتار-ج۲ ص ۶۴)
فان عمل الهاشمی علیها ورزق من غیرها لابأس به هکذا فی الخلاصة (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۸)

مولوي عبدالله مشهور بخطیب
(ارزگاني)
مولوي محمدمسلم (حقاني)
مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه

مولوي نورمحمد (ثاقب)
سر پرست دارالافتاء مرکزي
تحریک اسلامي طلباء افغانستان

## د عشر د مصرف په توګه خاص کړي شخص ځخه عشر منع کول

**پوښتنه** : دارالافتاء ولوړمقام ته ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
امابعد : زه محمدعثمان د محمدانور زوی احترامانه عرض وړاندې کوم زما غوښتنه دا ده چې زما يوه مسئله ده جوابونه يې شرعًا په پښتو غواړم سره د حوالو وکتابوته هغه دا چې که چېرې يو متصرف د خپلې مځکې د حاصلاتو عشر و يو چاته معين او مشخص کړي او وروسته يې ځنې منع کړي منع يې جواز لري که ځنګه.
المستفتي: محمدعثمان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلياً :**
ترکوم وخت پورې چې مالک د مال عشر يو مستحق د عشرته نوي ورکړی اوهغه نه وي قبض کړی پدغه صورت کې مالک کولای شي چې د خپل مال عشر بل مستحق د عشر ته ورکړي صرف په وعده له يو فرد سره يا په خط ورکولو يو فرد ته دغه مذکور عشرله تصرفه د مالک نه وزي اونه يې دغه مذکور فرد چې وعده ورسره شوې ده ياخط ورکول شوی دی مالک ګرځيدلای شي :
اذا دفع الزكاة الى الفقير لايتم الدفع مالم يقبضها الخ ( الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٩٠ )
فلمالک ان يدفع الى كل واحد منهم وله ان يقتصر على صنف واحد ( الهداية ج ١ ص١٨٧ ) واذا دفع الزكاة الى الفقير لايتم الدفع مالم يقبض الفقيرآهـ
( خلاصة الفتاوى ج ١ ص ٢٤٢ )

## د عُشر د مصرف لپاره ورکړي خط باندې که مالک پښیمانه شي؟

**پوښتنه**: که یو مالک د خپلې مځکې د حاصلاتو د عشر ورکولوخط په حضور د دوو شاهدانو کې ورکړي او تر څه موده وروسته مالک پښیمانه سي د عاشر لپاره په محکمه کې دا خط د اعتبار وړ دی که څنګه؟.

والسلام

المستفتي: محمدعثمان

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب**: تر کوم وخت پورې چې مالک د مال عشر یو مستحق د عشر ته نه وي ورکړی او هغه نه وي قبض کړی پدغه صورت کې مالک کولای شي چې دخپل مال عشر بل مستحق د عشرته ورکړي صرف په وعده له یو فرد سره یاپه خط ورکولو یو فرد ته دغه مذکورعشرله تصرفه د مالک نه وزي اونه یې دغه مذکور فرد چې وعده ورسره شوې ده یا خط ورکول شوی دی مالک ګرځیدلای شي:

اذادفع الزکاة الی الفقیرلایتم الدفع مالم یقبضها الخ

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۰)

فلمالک ان یدفع الی کل واحدمنهم وله ان یقتصر علی صنفٍ واحدٍ.

(الهدایة ج ۱ ص۱۸۷)

واذا دفع الزکاة الی الفقیر لایتم الدفع مالم یقبض الفقیرآهـ

(خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۴۲)

## له مالک څخه تر اخیستلو وروسته که امام عشر بل چا ته ورکړي؟

**پوښتنه** : که یو مالک د خپلې مځکې د حاصلاتو د عشر تعین و امام ته وکړي نو دغه امام یې ویل چاته تعین کولای سي او که معلق د عشر تر مالک پورې دی.

والسلام

المستفتي محمدعثمان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

که د عشرمالک دغه معین امام چې تعین د عشر ورته شوی دی وکیل کړي لپاره د ادا کولو د عشر پدغه صورت کې دغه مذکورامام کولای شي چې دغه عشر مستحق د عشر ته ورکړي.

اتفق الفقهاء علی انه یجوز التوکیل فی اداء الزکاة بشرط النیة من الموکل اوالمؤدي الخ (الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص۷۹۸ ط دارالفکر)

والمعتبرفی الدفع نیة الآمرحتی لودفع خمسة الی رجل وأمره ان یدفعها الی الفقیر عن زکاة ماله فدفع ولم تحضره النیة عندالدفع جازالخ (بدائع الصنائع ج ۲ ص۴۰) وان دفعها الی الامام ناویا ولم ینو الامام حال دفعها الی الفقراء جاز الخ (الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۷۹۸)

## د موټرانو پر ترمیم او تیلو او نورو اړتیاؤ د عشر مصرفول څه حکم لري؟

**پوښتنه :** څه وايي علماء د دين مُبين او مُفتيان د دارالافتاء.

هغه عشرونه چې راجمع شي بيا يې عاملين او عاشرين پر هغو شيانو لکه موټران او موټرسايکلان مصرف کولای شي چې هغه په ترميم شي اوکه څنګه؟ اوخريداري د روغنياتو د موټرانو په کولای شي اوکه نه؟ او د غه عاملين د خپلو احتياجاتو په لحاظ په خپلو اوطاقو کې مصرف ځېنې کولای شي اوکه نه؟ او په دغه عشروباندې بغيرد عاملينو د حکومت نور مؤظفين موټران په رانيولای شي اوکه نه بينوا توجروا.

(ملا حميد الله مسئول عمومي عشر و زکوة)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب وهوملهم الصواب :**

مصرف د عشرعين مصرف د زکوة ده چې په مصرف کې به هم فقر وي او هم قبض او د موټرانو او موټرسايکلانو په رانيولو او يا د هغو په ترميم کولو کې او ياد روغنياتو په رانيولو کې او يا د نورو فوجي وسائلو په رانيولوکې قبض نشته لهذا عشر پدې شيانو خرچ کول درست نه دي او دا شيان مصالح د مؤمنينو دي چې په دې کې صلاح د مؤمنينوده اوپه کوموشيانوکې چې صلاح دمؤمنينو وي په هغوشيانومصرف اوخرچ دخراج اوجزية څخه کيږي نوځکه پکارده چې په دې ذکرشوو شيانو کې دبيت المال دخراج اوجزية څخه رقم خرچ شي البته که رقم دخراج اودجزيه موجود نه وي نوامام له عشرڅخه قرض ورکولاې شي چې خرچ شي په دغه شيانو خودقرض اداء ضروري دی

اوعاملین اوعاشرین که څه هم اغنیاء وي بیاهم دوی خرچ کولای شي دعشر او زکوة څخه په قدر دکفایة اودعمل (متوسط مقدار) چې کافي کیږي ددوې اوداعوانوددوي لپاره په موده دتلواوراتلو کې اوحرام ده پردوې اِتّبَاعْ د خواهشاتو په خوراکونو کې او په څښلو کې او په لباس کې ځکه دا محض اسراف ده او په امام باندې ضروري ده چې داسې اشخاص را انتخاب کوي ددې کار لپاره چې راضي کیږي په متوسط مقدار بدون داسراف او د تقتیر څخه په (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارج۳ ص۳۰۲ ط رشیدیه) کې په بیان دمصرف دخراج او د جزیه کې لیکلي دي :

(مصالحنا کسد ثغور وبناء قنطرة وجسر وکفایة العلماء) والمتعلمین تجنیس وبه یدخل طلبة العلم فتح (والقضاة والعمال) ککتبة قضاة وشهودقسمة ورقباء سواحل (ورزق المقاتلة وذراریهم) الخ

او په (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۱۹۰ ط دارالاشاعة العربیة) کې لیکلي دي :

والثالث الخراج والجزیة وماصولح علیه بنونجران من الحلل وبنوتغلب من الصدقة المضاعفة وما اخذه العاشرمن المستأمنین وتجار اهل الذمة کذا فی السراج الوهاج وتصرف تلک الی عطایا المقاتلة وسدالثغوروبناء الحصون ثمة والی مراصد الطریق فی دارالاسلام حتی یقع الأمن عن قطع اللصوص الطُرق والی اصلاح القناطر والجسور کذا فی محیط السرخسي والی کری الانهارالعظام التي لاملک لاحد فیها کالجیحون والفرات ودجلة کذا فی شرح الطحاوي والی بناء الرباطات والمساجد وسدالبثق (معناه کسر شط النهر) وتحصین مایخاف علیه البثق والی ارزاق الولاة وأعوانهم والقضاة والمفتین والمحتسبین کذا فی محیط السرخسي

والمعلمين والمتعلمين كذا فى السراج الوهاج ويصرف الى كل من تقلد شيئا من امور المسلمين والى مافيه صلاح المؤمنين كذا فى محيط السرخسي الخ.

وقال الشرنبلالى فى رسالته ذكروا انه يجب عليه ان يجعل لكل نوع منها بيتا يخصه ولايخلط بعضه ببعض وانه اذا احتاج الى مصرف خزانة وليس فيها مايفى به يستقرض من خزانة غيرها ثم اذا حصل للتى استقرض لها مال يرد الى المستقرض منها الاان يكون المصروف من الصدقات او خمس الغنائم على اهل الخراج وهم فقراء فانه لايرد شيئا لاستحقاقهم للصدقات بالفقر وكذا فى غيره اذا صرفه الى المستحق آه
(ردالمحتار - ج۲ص ۲۳ ط رشیدیه)

اودغه اخيري بيان په الفتاوى الهندية ج١ص١٩١كې اوپه البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۹) کې هم ذکرشوی ده :

(قوله والعامل) تقدم تفسيره فى باب العاشر وعبر بالعامل دون العاشر ليشمل الساعي ايضًا وقدمنا الفرق بينهما فيعطىٰ مايكفيه واعوانه بالوسط مدة ذهابهم وايابهم مادام المال باقيا الااذا ستغرقت كفايته الزكاة فلايزاد على النصف لان التنصيف عين الانصاف قيدنا بالوسط لانه لايجوزله ان يتبع شهوته فى المأكل والمشرب والملبس لانها حرام لكونها اسرافا محضا وعلى الامام ان يبعث من يرضى بالوسط من غير اسراف ولاتقتيركذا فى غاية البيان (البحرالرائق ج ۲ص ۲۴۱ )

(بقدر عمله) مایکفیه و اعوانه بالوسط لکن لایزاد علی نصف مایقبضه (قوله مایکفیه واعوانه) بیان لقوله بقدر عمله وقدمنا انه یعطی مالم یهلک المال والا بطلت عمالته ولایعطی من بیت المال شیئًا کما فی البحرالخ

(قوله بالوسط) فیحرم ان یتبع شهوته فی المأکل والمشرب لانه اسراف محض وعلی الامام ان یبعث من یرضی بالوسط بحر (قوله لکن الخ) ای لواستغرقت کفایته الزکاة لایزاد علی النصف لان التنصیف عین الانصاف بحر (الدرالمختار و ردالمحتار ج۲ ص ۲۵ ط رشیدیه)

مولوي عبدالحکیم
مولوي عبدالله مشهور بخطیب
مولوي محمد مسلم حقاني

مولوي نورمحمدثاقب
سرپرست دارالافتاء
مرکزي افغانستان

## په فقير د عشر قبض كول او بيا ورځينې اخيستل جائز دي كنه؟ او فقير كه ټينګ شي عشر ځان ته را وګرځوي نو څه حكم لري؟

**پوښتنه**: محترم رئيس صاحب دارالافتاء السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.
محترما ! موږ ديوې مدرسې لپاره عشر ټولوه په امر د لوې ملاصاحب نو د عشر ور كوونكو د غاړې خلاصيدولپاره موږ دا حيله كوله چې يونفرباندې به موقبض كړی هغه به بيا مدرسې ته ور وبخښي آيا په دغه حيله سره د هغو غاړې خلاصيږي او كه يا؟
اوكه دغه نفر پر دغه عشر ټينګ سي آيا حق دغه عامل لره سته چې جبراً يې ځنې واخلي او كه يا؟
استفتاء ازجانب منسوبين مدرسه ناحيه كرز ولايت قندهار

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب حامداً ومصلياً**:
حيله د مصرف كولو د زكاة په مسجدباندې او يا د مدرسې په جوړولو او پُل جوړولو باندې دارنګه ده چې زكوة به اول وارپه يومسكين قبض كوي بياكه مسكين په مسجداويايه مدرسه مصرف كړ صرف كيدل ئې جوازلري، په زور يې د مسكين څخه څوک نشي اخستلای او ثواب يې د مسكين كيږي اوغاړې د اصل مالک په خپل زكاة سره خلاصې دي.
فى الفتاوى الهندية ج۲ ص۳۹۲ :

وکذالک فی جمیع ابواب البر التي لايقع بها التمليک کعمارة المسجد و بناء القناطر والرباطات لايجوز صرف الزکاة الی هذه الوجوه والحيلة له ان يتصدق بمقدار زکاته علی فقيرثم يأمره بعدذلک بالصرف الی هذه الوجوه فيکون للمتصدق ثواب الصدقة ولذلک الفقيرثواب بناء المسجد والقنطرة

والله اعلم و علمه اتم

مولوي ندا محمد حقاني
مولوي احمد نوري
مولوي محمود ميوندوال

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

## باب صدقة الفطر

# آیا د بچیانو سر سایه پر مور او پلار دواړو ده؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**پوښتنه** : ( واولاده الصغار) و شمل الولد بین الاَبَوَیۡن فان علی کل واحد منهما صدقة تامة ( نور الایضاح: ص ۱۲۱ حاشیه ( ۴ ) بحربتصرف وتغیر) والولدبین الاَبَوَیۡن علی کل واحد منهما صد قة تامة کذا فی الظهیریة (الفتاوی العالمگیریة ج ۱ ص ۱۹۲) زه ملا عبد القیوم دغه اشتباه لرم چې څرنگه پر ابویَن سرسایه لازمیږي او سره له دې چې مور د ذوي الارحامو څخه ده ؟

**جواب** : د دغه ابویَن څخه چې د فتاویٰ هندیه په عبارت کې او داسې نورو کې ذکرشوي دي مور او پلار ندی مراد چې مستفتي ته د اشتباه باعث شوی دی بلکه مراد هغه دوه کسان دي چې دواړه د یو کوچني د ولدیة ادعاء کوي لکه د لاندې عبارتونو څخه چې معلومیږي :

ولوتعدد الاباء فعلی کل فطرة (الدرالمختار) قوله و لو تعدد الاباء کما لو ادعیٰ رجلان لقیطا او ولد امة مشترکة بینهما ( قوله فعلی کل فطرة ) ای کاملة عندابی یوسف لان البنوة ثابتة من کل منهما کملا وثبوت النسب لایتجزء وکذالومات احدهما کان ولدا للباقی منهما ( ردالمحتار ج ۲ ص۸۱ ) ولوکان له اباء فعلی کل فطرة کاملة عند ابی یُوسف الخ ( مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۲۷)

والله تعالیٰ اعلم

# كتـــابُ الصّـــوم

# کتابُ الصّوم

## باب رؤية الهلال

په رؤية الهلال کې راديو ته اعتبارشته اوکنه ؟

**پوښتنه** : محترم رئیس صاحب دارالافتاء واعضای شان السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترما ! برؤیت هلال رمضان ویاعید باخبار رادیواعتبارهست یانه؟ بینواتوجروا بااحترام

المستفتي برادرشما عبدالواحد

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

خلاصة الجواب د سعودي د راديو يا نورو اسلامي مملکتونو د راديوګانو په اعلان سره مونږ کولای شو چې ملت ته د روژې خبر ورکړو لکن په مراعات د څو شرائطو سره يو دا چې دغه اعلان او خبر د هغه مملکت به په فيصله دعلماؤ د هغه مملکت وي او بل دا چې نشرکونکي به ثقه او معتمد خلق وي يعنې دغه نشرکونکي به بې احتياط اوبې باکه کسان نه وي او بل دا چې د دغه مذکوره شرائطو پوره تحقيق او تفتيش به مخ کې (پخوا) تر قبول اوعمل د اعلان وي دا ځکه چې د شرائطوپوره پوره معلومات وشي

( امدادالمفتين ص۴۷۷ )

لکن داخترپه باره کې د یوې راډیو په اعلان سره اکتفاء نه کېږي تر څو پورې
چې لس شلو یعنې ډیرو راډیوګانو اعلان نه وي کړی د مختلف استیشنونو
څخه ځکه چې د ډیرو راډیوګانو اعلانونه په نزد د علماؤ د دیوبند په خبر
مستفیض کې داخل دي اوپه خبر مستفیض سره ساقطیږي شرائط دشهادت
چې هغه شرط دي په لیدلو د میاشتې د اختر کې خو په دې شرط چې د
مملکت یا شهرمفتي او قاضي دغه خبر مستفیض تسلیم کړي صرف د
عوامو فیصله نه وي ( امدادالمفتین ص ۴۷۸ )

والله اعلم

مولوي ندامحمد (حقاني)

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

# د سعودي د راديو په اعلان يا د جنترۍ په حساب روژه نيول څنګه دي؟

**پوښتنه** : د افغانستان د اسلامي دولت د دارالافتاء رياست !

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته

څرنګه چې د روژې مباركه مياشت راروانه ده موږ غواړو چې په لنډو الفاظو سره ستاسو څخه استفتاء وكړو.

۱- د سعودي د راديو په اعلان سره موږ كولاى شو چې خپل ملت ته د روژې خبروركړو.

۲- چونكه بعض خلق د جنتري د حسابه يا د احتياط له كبله روژه نيسي حكم يې څه شی دی ، هغه صحيح قوي حكم كه موږ ته لطفاً روښانه كړئ څوموږ يې هيواد والوته په لنډو الفاظو كې نشر كړو. والسلام

(مولوي سالمي رئيس حج و اوقاف ۱۳۷۵/۱۰/۱۸ هـ ش)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب** :

(۱) د سعودي د راديو يا نورو اسلامي مملكتونو د راديوګانو په اعلان سره مونږ كولاى شو چې ملت ته د روژې خبر وركړو لكن په مراعات د څو شرائطو سره يو دا چې دغه اعلان او خبر د هغه مملكت به په فيصله د علماؤ د هغه مملكت وي او بل دا چې نشر كونكي به ثقه او معتمد خلق وي يعنې دغه نشركونكي به بي احتياط او بې باكه كسان نه وي او بل دا چې د

دغه مذکوره شرائطو تحقیق او تفتیش به مخ کې (پخوا) تر قبول او عمل د اعلان وي دا ځکه چې د شرائطو پوره پوره معلومات وشي په امداد المفتین ص۴۷۷ کې لیکلي :

ہلال رمضان کے باری میں حسب تصریحات فقہاء مطلع غبار آلود ہونے کی صورت میں صرف ایک ثقہ اور معتبر صادق کی خبر ثبوت کیلئے کافی ہے باقاعدہ شہادت شرعیہ اوراُس کے جملہ شرائط ضروری نہیں، اسلئے ہلال رمضان کی عام رویت کی خبر یا کسی باقاعدہ قاضی مفتی کے سامنے شہادت گزرنے اور اس کے فیصلہ دینے کی اطلاع اگر کسی ریڈیو میں علماء کے فیصلہ کے مطابق ثقہ لوگوں کے انتظام سے نشر کی جائے جس میں مغالطہ اور بے احتیاطی کا خطرہ نہ رہے تو دوسرے شہروں میں جہاں یہ خبر سنی جائے اس کا قبول کر لینااور اس خبر ثقہ کی بناء پر اپنی بستی میں روزہ کا اعلان کر دینا جائز ہے، لیکن اس پر عمل کرنے اور قبول کرنے سے پہلے اس کی تحقیق ضروری ہے کہ جن نشر گاہوں سے یہ خبر نشر ہوئی ہے وہاں اس کا معقول انتظام ہے کہ بدون علماء کے فیصلہ کے کوئی خبر ہلال کے متعلق نشر نہیں کی جاتی اور جب تک اس کی تحقیق نہ ہو ہلال رمضان میں بھی اس کا قبول کرنادرست نہیں۔ (1)

(1) ترجمه: دروژې دمیاشتې په اړه دفقهاؤ دڅرګندونو سره سم که پرآسمان ګرز وي نو یوازې دیوه ثقه اودمعتبرصادق خبردثبوت لپاره کفایت کوي باقاعده شرعي شهادت اودهغه ټول شرطونه ضروري نه دي ځکه دروژې دمیاشتې دعام رویت خبریادکوم باقاعده قاضي مفتي مختـه دشاهدی، تیریدو او دهغه دفیصله کولوخبرتیاکه په کومه رادیوکې دعلماؤ د فیصلې سره سمه د ثقه خلکو په انتظام خپره شي چې پکې دمغالطې اودبې احتیاطی، خطرنه وي نوپه نورو ښارونوکې چېرې چې داخبر واوریدل شي ددې قبلول اوددې ثقه خبرپه وجه پخپل کلي کې دروژې اعلان کول جائزدي خوله عملي کولواوقبلولومخکې ددې تحقیق ضروري دی چې دخپرونو له کوموځایونوچې داخبرخپورشوی دی هلته ددې معقول انتظام شته چې بې دعلماؤ له فیصلې هیڅ خبر د میاشتې په اړه نه خپرېږي او ترڅوچې ددې تحقیق نه وي دروژې دمیاشتې په اړه هم ددې قبلول صحیح نه دي

(رویت ہلال میں ریڈیائی خبروں کی شرعی حیثیت) اس کے متعلق جو فتوی میرے رسالہ کشف الظنون میں چھپا ہوا ہے وہ ہی صحیح اور معمول بہ ہے ہلال رمضان کی خبر میں چونکہ شہادت شرط نہیں اس لئے جس جگہ خبر دینے والے کی آواز پہنچانی جائے اور اس کا ثقہ ہونا معلوم ہو یا کسی ریڈیو اسٹیشن کے متعلق یقینی ذرائع سے یہ معلوم ہو کہ اُس میں خبر ہلال کی اشاعت علماء کے فتوی اور شرعی ضوابط کے مطابق نشر کی جاتی ہے تو دوسرے شہروں میں اس پر عمل جائز ہے۔ ([1])

(امداد المفتین ص ۴۸۳)

(بہت سے ریڈیو) ہاں اگر عام رویت ہلال یا کسی قاضی مفتی کے سامنے شہادت گزرنے اور اس کے فیصلہ کی اطلاع مختلف شہروں اور مختلف اطراف کی دس بیس ریڈیو نشر گاہوں سے آجائے تو اصطلاح فقہاء میں یہ خبر مستفیض ہو جائے گی جس میں شرائط شہادت ساقط ہو جاتی ہیں ایسی صورت میں ہلال رمضان و ہلال عیدین دونوں میں ریڈیو کی خبر پر عمل اور اُس کے مطابق روزہ رکھنا یا افطار کرنا درست ہو گا بشر طیکہ مفتی قاضی اس چیز پر خبر مستفیض تسلیم کرلیں عوام خود اس کا فیصلہ نہ کریں۔ ([2])

---

([1]) (**د میاشتې په لیدنه کې د خبرونو شرعي حیثیت**) ددې په اړه چې کومه فتویٰ زما په رساله کشف الظنون کې چاپ شوې ده هغه صحیح او معمول به ده د روژې د میاشتې په خبر کې خو شهادت شرط نه دی ځکه کوم ځای چې د خبر ورکونکي آواز ور ورسیږي او د هغه ثقه والی معلوم وي یا د کوم رادیو استیشن په اړه په یقیني وسیلو دا معلوم وي چې په هغه کې د میاشتې د خبر خپرونه د علماؤ د فتویٰ او د شرعي د قاعدو سره سم کیږي نو په نورو ښارونو کې په دې عمل کول جائز دي.

([2]) ژباړه: (**ډیرې رادیوګانې**) هو که عام رویت د هلال یا د کوم قاضي مفتي مخته د شهادت تیریدو او د هغه د فیصلې خبر تیا له مختلفو ښارونو او د بیلا بیلو لورو لسو شلو رادیوګانو له خپرونې ځایونو څخه راشي نو د فقهاؤ په اصطلاح دا خبر مستفیض ګرځي چې پکې د شهادت شرطونه ساقطیږي په داسې صورت کې د رمضان او اخترونو په میاشتو په دواړو کې د رادیو په خبر عمل او له هغه سره سم روژه نیول او ماتول صحیح کیږي په دې شرط چې مفتي قاضي پردې شئ خبر مستفیض تسلیم کړي عوام پخپله ددې فیصله ونکړي.

قال شمس الائمة الحلواني الصحيح من مذهب اصحابنا رَحِمَهُمُ اللَّهُ تعالى ان الخبر اذا استفاض و تحقق فيما بين اهل البلدة الاخرى يلزمهم حكم هذه البلدة انتهى آهـ رسائل ابن عابدين ج ۱ ص۲۵۲ ( امدادالمفتين ص ۴۷۸)

دجنترۍ دحسابه روژه نيول اوماتول جائز او روا نه دي جنترۍ لره هيڅ اعتبارپه شرع شريف کې نشته په (الدرالمختارج۲ ص۱۰۰)کې راغلي دي :

و لاعبرة بقول المؤقتين ولو عدولاً على المذهب قال في الوهبانية وقول اولى التوقيت ليس بموجب وقيل نعم والبعض ان كان يكثر اهـ او په ( ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۰ ) کې دي :

بل فى المعراج لايعتبرقولهم بالاجماع ولايجوزللمنجم ان يعمل بحساب نفسه وفى النهر فلايلزم بقول الموقتين انه اى الهلال يكون فى السماء ليلة كذا وان كانوا عدولافى الصحيح كمافى الايضاح .

او په ( مجموعة الرسائل لابن عابدين ج۱ ص۲۵۳ ) کې ذکر دي :

وانه لايعتمدعلى مايخبربه اهل الميقات والحساب والتنجيم لمخالفته شريعة نبينا عليه افضل الصلوة والتسليم.

او په ( فتاوى دارالعلوم ديوبند كلان ج۶ ص۳۶۹ )کې ليکلي دي :

اور جنتری اور تار پر اعتبار نہ کرنا چاہیے۔ (۱)

دروژې په باره کې به دا ووايو چې دشک په ورځ روژه نيول کوم ممانعت نه لري روا ده که په قصد اونيت جزمًا د نفلو سره اوبې د تردد څخه او بې د نيت د ماسوىٰ د نفلوڅخه وي بلکه په بعض اوقاتوکې لا مستحب ګرځي روژه نيول په نيت دخالص نفلوسره چې په دغه ورځ موافق شي دده دعادت سره

---

(۱) ترجمه: په جنترۍ او تار باور نه دی کول پکار

اومراد دخواصوڅخه چې فقهاؤ رَحِمَهُمُ اللَّهُ ذکرکړي دي هغه څوک دي چې پوهيږي په کيفيت ديوم الشک باندې اوکه نه پوهيده هغه دجملې دعوامو څخه دی.

په (الفقه على المذاهب الاربعة ج١ ص **٥٥٣** ط داراحياء التراث بيروت) کې ليکلي دي:

ويندب صومه بنية التطوع ان وافق اليوم الذى اعتاد صومه ولاباس بصيامه بهذه النية وان لم يوافق عادته ويكون صومه باطلا اذا صامه مترددا بين الصوم والافطار الخ

اوپه (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار ج٢ ص ٩٥ ط رشيديه) کې ذکر دي:

(ولايصام يوم الشک) هويوم الثلاثين من شعبان وان لم يكن علة اى على القول بعدم اعتبار اختلاف المطالع لجوازتحقق الرؤية فى بلدة اخرىٰ واما على مقابله فليس بشک ولايصام اصلا. شرح المجمع للعيني عن الزاهدي (الانفلا) ويكره غيره.

اوپه (ج٢ ص٩٧) کې راغلي دي:

و (كل من علم كيفية صوم الشک فهومن الخواص والا فَمِنَ العوام والنيّة) المعتبرة هنا (ان ينوي التطوع) على سبيل الجزم الخ

او په (فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند كلاں ج ٦ص ٣٩٧) کې راغلي دي:

اور اگر محض بہ نیت نفل رکھے تو درست ہے، بھر حال اگر چاند کی خبر آگئی تو وہ روزہ رمضان شریف کا ہو جاوے گا۔ (١)

---

(١) ژباړه: اوکه صرف د نفلو په نيت ونيسي نو صحيح دی، په هرحال که د مياشتې خبر راغی نو دا روژه درمضان دمياشتې ګرځي.

اوپه ( حاشية الطحطاوي على مراقی الفلاح ص **۵۳۴** ط مکتبه انصاريه هرات ، کې ليکلي دي :

(وکره فيه) ای يوم الشک (کل صوم) من فرض و واجب وصوم ردد فيه بين نفل و واجب (الاصوم نفل جزم به بلاترديد بينه و بين صوم آخرالخ)

داچې ديومملکت اوښار رؤيت په بل مملکت او ښار کې معتبريږي نزدې وي او که لېرې وي بناء دی پرمذهب دجمهور علماؤ چې هغه مذهب مختاراومفتي به دی هغه داچې اختلاف دمطالع لره اعتبارنشته.

په ( الفقه على المذاهب الاربعة ج۱ ص **۵۵۰** داراحياء التراث بيروت ) کې راغلي دي :

اذاثبت رؤية الهلال بقُطرمن الاقطار وجب الصوم على سائرالاقطار لافرق بين القريب من جهة الثبوت والبعيد اذا بلغهم من طريق موجب للصوم ولاعبرة باختلاف مطلع الهلال مطلقاعندثلاثة من الائمة وخالف الشافعية فانظر مذهبهم تحت الخط. (۱)

اوپه ( الفقه الاسلامي و ادلته ج **۲** ص **۵۳۳** ط دارالفکر ) کې راغلي دي :

المطلب الثالث اختلاف المطالع : اختلف الفقهاء على رأيين فی وجوب الصوم وعدم وجوبه على جميع المسلمين فی المشارق والمغارب فی وقت واحد بحسب القول باتفاق مطالع القمر اواختلاف المطالع ففی رأی الجمهور يوحدالصوم بين المسلمين ولاعبرة باختلاف المطالع.

او په ( ج **۲** ص **۵۳۴** ) کې دي :

قال الحنفيّة اختلاف المطالع و رؤية الهلال نهاراً قبل الزوال وبعده غيرمعتبرعلى ظاهرالمذهب وعليه اکثر المشايخ وعليه الفتویٰ فيلزم اهل

المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت عندهم رؤية اولئک بطريق موجب كأن يتحمل اثنان الشهادة او يشهدا على حكم القاضى او يستفيض الخبر بخلاف ما اذا اخبر اهل بلدة كذا رأوه لانه حكاية.

او په (عزيزالفتاویٰ ص ۳۷۲) کې ليکلي دي:

اور یہ ہی مسلم ہے کہ صحیح اور مختار مذہب کے موافق اختلاف مطالع ہلال صوم و فطر میں معتبر نہیں، اہل مغرب کی رؤیت سے اہل مشرق پر حکم ثابت ہوجاتاہے اور جبکہ معتبر وراجح اور ظاہر الروایت ومفتٰی بہ عدم اعتبار اختلاف مطالع ہے تو پھر اس میں بحث کرنا ہم مقلدین کے لئے بے موقع ہے کیونکہ فقہاء محققین کی توضیح اس کے بارہ میں ہمارے لئے کافی حجت ہے۔(۱) الخ

اوپه (إعلاء السنن ج ۹ ص ۱۱۸ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلاميه) کې ذکر دي:

وفى الدرالمختار واختلاف المطالع ورؤيته نهارا قبل الزوال وبعده غير معتبر على ظاهر المذهب وعليه اكثر المشايخ وعليه الفتوىٰ بحر عن الخلاصة (۲ : ۱۵۴) مع ردالمحتار.

اوپه (فتاوی دارالعلوم ديوبند کلاں ج ۲ ص ۳۸۵) کې راغلي دي:

عندالحنفیہ اختلاف مطالع کا اعتبار نہیں ہے اہل مشرق کی رؤیت اہل مغرب کے لئے لازم ہو جاتی ہے وبر عکس اگر بطریق معتبر ثابت ہو جاوے۔(۲) کذا فی الشامی الخ.

---

(۱) او همدغه خبره منل شوې ده چې دصحيح اومختار مذهب سره سم اختلاف دمطالعو په صوم اوفطر کې معتبرنه دي دغرب والو په رؤيت شرق والوته حکم متوجه کيږي اوکله چې معتبر، راجح، ظاهر الرواية او مُفتٰى به عدم اعتبار د اختلاف د مطالعو دی نو بيا په دې کې بحث کول زمونږمقلدينولپاره بې ځايه دی ځکه چې دمحققينوفقهاؤڅرګندونه ددې په اړه زمونږلپاره کافي حجت دې

(۲) **ژباړه**: داحنافوپه نزد د مطالعو د اختلاف اعتبار نشته د اهل مشرق رؤيت د اهل مغرب لپاره لازميږي او ددې برعکس که په معتبره طريقه ثابت شي.

او په ( حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح ص ۵۴۰ ط مکتبه انصاریه هرات ) کې ويلې دي : ( واذاثبت ) الهلال ( فی ) بلدة و ( مطلع قطر ) ها ( لزم سائرالناس فی ظاهرالمذهب وعليه الفتویٰ ) و هو قول اکثرالمشايخ الخ

والله اعلم وعلمه اتم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

مولوي محمداخلاص (برکتي)
مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي ندامحمدالحقاني

## که د روژې خبر د ورځې په منځ کې راغی

**پوښتنه** : د روژې په اول سهار یو کس چې د روژې په اعلان خبر نه ؤ سهار یې چاوئ وښنبلې بیا یوه کوچني خبر راوړی چې روژه ده او د کوچني خبره سُخریةً چا ونه منله او وروسته هم یو ګلاس چائی نورې و خوړل سولئ چې بیا د لویانو د خولې خبر راغلی نو باره ئی روژه کړله ، اوس ځان پوه کوم چه کفاره باندي سته او کنه سته که وي نو د ښځی کفاره به څنګه وي ؟

(المستفتي حفیظ الله)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الله تعالیٰ** :

په دغه صورت کې چې مستفتي ذکر کړی دی قضاء د دغه ورځې لازمه ده او کفاره پرې نه ده لازمه، ځکه چې دلته شبهه د عدم رمضان شته او کفاره په شبهه سره ساقطیږی او بل دا چې د اوله سره نیت د روژې نه دی راغلی او کفاره هلته لازمیږی چه صائم وي او خپله روژه فاسده کړي عمداً .

و هذه الكفارة تندرئ بالشبهات لانها الحقت بالعقوبات باعتبار ان معنى العقوبة فيها اغلب بدليل عدم وجوبها على المعذور والمخطئ الخ

(البحرالرائق ج ۲ ص۲۲۵ )

بل العلة ان الكفارة لاتجب الاعلى شخص افطر بعد ان كان صائمًا و هنا لم يوجد الصيام من اصله الخ (حاشية الطحطاوی علی الدرالمختار ج ۱ ص ۴۵۴ )

يجب باتفاق الفقهاء القضاء على من افطر يوما او اكثر من رمضان بعذر...
او بغير عذر كترك النية عمداً او سهواً.

(الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۵۹۲ ط دار الفکر)

و من اصبح غيرناوٍ للصوم فاكل لاكفارة عليه. (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۱۳۲)
او په عین همدغسې واقعه کې چې مستفتي ذکر کړې ده علماء حکم کوي په وجوب د قضاء او وجوب دلته په معنٰی د فرضیت دی یعنې قضاء یې فرض ده (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۳۹۳ و ص ۴۲۱)

والله تعالٰی اعلم

## باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسده

### د روژې پر مهال پیچکارۍ او سیروم لګول څه حکم لري؟

**پوښتنه** : محترم رئیس صاحب د دارالافتاء مرکزي ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو! مونږ علماء د خاک افغان د ولسوالۍ د یوې مسئلې استفتاء کوو که مطابق د فقهې حنفي جواب راکړئ لویه مهرباني به مو وي هغه دا چې په روژه د رمضان کې چې نیت یې د روژې کړی وي پیچکاري او یا سیروم په غوښه یا په رګ کې لګول جائزدي کنه؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب باسم ملهم الصدق والصواب** :

څنګه چې د متقدمینو څخه دپیچکارۍ په هکله نقل نشته ولې چې په هغه وقت کې پیچکاري نه وه نو د متأخرینو علماؤ دلائلو او نظرونو ته به اعتبار ورکول کیږي ، په دې مسئله کې دې احتیاط وشي او څوک چې مریض وي او پیچکارۍ لګولو ته مجبور وي او دی په دې وجه روژه نه نیسي چې وایي زه پیچکاري لګوم یا یو چا ته ضرورت پیښ شي او پیچکاري ولګوي او وروسته دی بیغمه شي او خپله روژه خوري په دې چې ما پیچکاري ولګوله او روژه مې لاړه په دغو صورتونو کې فتوٰی دا ده چې په پیچکارۍ روژه نه ماتیږي او همدغه قول د ډیرو متأخرینو علماؤ مختار دی او احتیاط هم په

روژه نیولو کې دی سره د پیچکارۍ لګولو او که دغسې ضرورت نه وي نو هغه سړی دې پیچکاري د روژه ماتې وروسته ولګوي .
په پیچکارۍ سره د روژې د نه ماتیدلو د حکم بعضې کتابونو ته حوالې دا دي :

ما لا يفسد الصوم عند الحنفية... الحقن فى العضل او تحت الجلد او فى الوريد و الاولى عند الامكان تأخيرها الى المساء ( الفقه الاسلامى وادلته ج ۲ ص ۵۷۹ ط دار الفكر )

والمفطر هو الدخول من المنافذ دون المسامات كما صرح به فى البحروشرح المجمع و غيره و لذالايفطر الادهان والغسل و هذا يدل على ان الدواء الداخل فى الباطن بتوسط الحقن والابرة لايفطر سواء ادخلت الابرة فى اللحم او العرق لان هذا الدواء و ان وصل الى اللحم والعرق بالمنفذ لكنه يدخل الباطن بوساطة المسامات الخ ( منهاج السنن شرح جامع السنن للامام الترمذي تأليف شيخنا و استاذنا العلّامة مولانا مفتي محمدفريد مدّ ظلّه العالي - ج ۴ ص ۳۴ )

و هكذا فى ( فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۴۰۸ ) و ( امدادالفتاوى ج ۲ ص ۱۴۵ ) و ( احسن الفتاوى ج ۴ ص ۴۳۲ ) و ( آلات جديده کے شرعي احکام ) ص ۱۲۴ تا ۱۷۰ ط ادارة المعارف و ( جواهرالفقه ج ۱ ص ۳۷۹ ) و ( بوادرالنوادرللتهانوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ص ۳۸۹- ۳۹۱ ) و ( جديد فقهي مسائل ج ۱ ص ۱۲۲ ) و ( امدادالمفتين ص ۴۸۹ ) و ( كفايت المفتي ج ۴ ص ۲۳۹ ) والله تعالى اعلم .

## د رګ او غوښې په پیچکارۍ روژه ماتیږي او کنه ؟

**پوښتنه** : محترمینو اساتذوو د دارالافتاء ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد : ددې مسئلې پوښتنه لرم چې په ستن (پیچکارۍ) روژه ماتیږي کنه ؟ او د غوښې او د رګ تفرقه وکړئ چې پوه شو. والسلام

(المستفتي ملاحبیب الله)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب ومنه الصدق والصواب** :

روزه په ستن نه ماتیږي خواه د غوښې او که د رګ وي چونکې ستن د مجتهدینو او سابقو مصنّفینو په وقت کې نه وه نو خود په عباراتو د دوې کې صراحتًا ستن نه ده ذکر شوې لکن د عامو عباراتو څخه د دوې دا معلومیږي چې په ستن روژه نه ماتیږي لکه علماؤ د هند او نورو عامو مفتیانو چې همدغه معلومه کړې ده ، عامه قاعده او قانون په دغه باب کې چې د عباراتو د مصنفینو څخه معلومیږي هغه دا دی کچیرې یو شئ جوف د دماغ او یا د معدې ته د طرف د منافذو داخل شو نو ماتوونکی د روژې دی او که د طرف د مساماتو ور داخل شو هغه روژه نه ماتوي لکه په ردالمحتار ج ۲ ص۱۰۲ کې چې راغلي دي :

(قوله وان وجد طعمه فی حلقه) ای طعم الکحل اوالدهن کما فی السراج وکذا لوبزق فوجدلونه فی الاصح (بحر) قال فی النهر لان الموجود فی حلقه اثر داخل من المسام الذي هوخلل البدن والمفطر انماهوالداخل من

المنافذ للاتفاق علی ان من اغتسل فی ماء فوجدبرده فی باطنه انه لایفطروانماکره الامام الدخول فی الماء والتلفف بالثواب المبلول لما فیه من اظهارالضجر فی اقامة العبادة لا لانه مفطر.

او په (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج١ ص ۴۵۲ کې راغلي دي لاندې تر دغه قول د درمختار: او اقطر فی احلیله ماء او دهنا و ان وصل الی المثانة علی المذهب (قوله وان وصل الی المثانة) عندهما لانه لیس بین المثانة والجوف منفذ ووصول البول من المعدة الی المثانة بالترشح وقال ابویوسف یفطر لوجودالمنفذبینهما.

نه جوف د دماغ او نه جوف د معدې د رګ او یا بدن سره منفذ لري لکه علماؤ د دیوبند چې وروسته تر ډیر تحقیق دغه معلومه کړې ده ، کچېرې دوایي دماغ یا معدې ته داخل شوه نو هغه د طرف د مسام او پر طریقه د ترشح داخل شوې ده او دغه قسم دخول روژه نه ماتوي د دغه مسئلې تحقیق په (آلات جدیده کے شرعي احکام) نومې کتاب ص ۱۲۴ تر ۱۷۰ ط ادارة المعارف کې او داسې نورو ډیرو کتابونو کې شوی دی.

والله اعلم

| | |
|---|---|
| مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه | مولوي نورمحمد (ثاقب) د افغانستان د اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء رئیس |
| مولوي محمود (میوندوال) | |

## په روژه کې د پیچکارۍ لګولو په هکله فتویٰ

**پوښتنه**: آیا په پیچکارۍ سره روژه ماتېږي او کنه؟ بیّنوا توجروا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**الجواب**: څرنګه چې پیچکاري په پخوا زمانه کې نه وه فلهذا د متقدمینو علماؤ په کتابونو کې دا مسئله نده ذکر شوی او متأخرینو علماؤ خصوصًا د دیوبند علماؤ په دی مسئله کې زیات تحقیق کړی دی او د ماهرینو ډاکترانو سره یې معلومات کړي دي او دې نتیجې ته رسیدلي دي چې په پیچکارۍ سره روژه نه ما تیږي او نه مکروه کېږي او پر دې باندی یې ښه قوي دلائل ذکر کړي دي او پخپلو کتابونو کې یې لیکلي دي چې د نمونې په ډول به مونږ ددوی څو کتابونو ته حواله ورکړو:

و هذا یدل علی ان الدواء الداخل فی الباطن بتوسط الحقن والابرة لا یفطر سواء ادخلت الابرة فی اللحم او العرق لان هذا الدواء و ان وصل الی اللحم والعرق بالمنفذ لکنه یدخل الباطن بوساطة المسامات دون المنافذ الخ

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی تالیف شیخنا العلاّمة مولانا مفتي محمدفرید- ج ۴ ص ۳۴) و هکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۴۰۸) و (امدادالفتاویٰ ج ۲ ص ۱۴۵) و (احسن الفتاویٰ ج ۴ ص ۴۳۲) و (آلات جدیده ص ۱۲۴ تا ۱۷۰ ط ادارة المعارف) و (جواهرالفقه ج ۱ ص ۳۷۹) و (بوادرالنوادر لمولانا اشرف علی التهانوی ص ۳۸۹ - ۳۹۱) و (جدید فقهي مسائل ج ۱ ص ۱۲۲) و (امدادالمفتین ص ۴۸۹)

و ( کفایت المفتی ج ۴ ص **۲۳۹** ) و ( الفقه الاسلامی و ادلته ج **۲** ص **۵۷۹**
ط دارالفکر )

و ما يدخل من مسام البدن من الدهن لا يفطر هكذا في شرح المجمع و من اغتسل في ماء وجد برده في باطنه لايفطر هكذا في النهر الفائق
( الفتاوى الهندية ج ۱ ص **۲۰۳**)

پر زخم باندی دوا اچول فقهاؤ مطلقًا مفسد ندي بللي بلکه زخم یې په جائفه یا آمه سره مقید کړی دی ولې چې دغه دوه قسمه زخمونه د جوف البطن یا جوف الدماغ سره منفذ لری او نور قسم زخمونه یې نلري که څه هم پر نورو زخمونو باندې په دوا اچولو سره اثر معدې یا دماغ ته رسیږي لکن چونکه منفذ نلری نو فساد نه لازمیږي همدارنګه د پیچکارۍ دوا که څه هم اثر یې معدې یا دماغ ته رسیږي لکن چې منفذ نشته نو فساد نه راولي .

ولو داوىٰ جائفة او آمة بدواء فوصل الى جوفه او دماغه افطر عند ابي حنيفة و الذى يصل هو الرطب وقالا لا يفطر لعدم التيقن بالوصول الخ
( الهداية ج ۱ ص ۲۰۲ )

و هكذا فى ( الدر المختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۱ ) و فيه فوصل الدواء حقيقة الى جوفه و دماغه الخ
وهكذا فى ( الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۰۴ )

( **سوال** ) : مراد د زخم څخه یوازی جائفة یا آمه نه دي بلکه هر هغه زخم دی چې نفوذ کولای شي معدې یا دماغ ته که په لاسو کې وي دا زخم یا پښو یا

بل ځای کې لکه صاحب د (الکفایة علی الهدایة) چې زخم عام ذکر کړی او ویلې دي.

و ما وصل الی الجوف او الی الدماغ من غیرالمخارق المعتادة نحو ان یصل من جراحة فانه یفطر عند ابی حنیفة (الکفایة مع فتح القدیرج ۲ ص ۲۶۲)

(**جواب**): باید ذکر کړو چې د دغه جراحت څخه چې په الکفایة کې ذکر شوی دی مراد آمه یا جائفه ده نه مطلق زخم ځکه چې هلته بیان د مخرق غیر معتاد دی او هغه زخم چې غیر له جائفې او آمې څخه وي دا ممکنه نه ده چې مخرق ولري تر معدې یا دماغ پورې.

## سحاق د دوو ښځو روژه ماتوي په شرط د اِنزال

**پوښتنه**: محترم د دارالافتاء مرکزي رئیس صاحب ستاسې له حضور څخه استفتاء کومه دوه ښځې چې په خپل مابین کې د رجالو ناوړه اعمال ترسره کوي یعنې یوه ښځه دبلې ښځې سره ایلاج کوي اوخپل ځان په یوه ورځ شپږ کرته معذوره کوي ددې سحاق حکم په فساد د روژه اوعدم فساد کې څنګه دی؟

المستفتي: ملا بخت محمد قوماندان حوزه ۲ کندهار

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب والله الموفق للصواب**:

مساحقه ددووښځو روژه فاسدوي په شرط د اِنزال او که انزال موجود شوی نه ؤ بیا روژه نه فاسدوي، اګر چې ډیر بد کار دی:

و فعل المرأتين (السحاق) بلا انزال منهما لايفسد الصوم،لكن الفاعل يأثم الخ (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۲ ص ۵۷۷ ط دارالفكر)

او قبّل ولو قبلة فاحشة ... او استمنٰى بكفه او بمباشرة فاحشة ولو بين المراتين (فانزل) قيد للكل ... (قضى) في الصور كلها (فقط) اى بدون كفارة (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۳ - ۱۱۵ ط رشيديه)

والله تعالى اعلم

## باب العوارض المبيحة للفطر

## پيلوټانو ته د پرواز پر مهال روژه ماتول څه حکم لري؟

**پوښتنه**: جناب محترم مولوي صاحب! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

صحت مودلوې خداې جَلَّجَلَالُهُ د دربار څخه غوارم هيله کوم د لاندې موضوع شرعي مسئله راته بيان کړئ.

څرنګه چې د افغانستان د اسلامي حکومت د هوايي قواوو پيلوټان چې د جهاد په صف کې ولاړ دي د پرواز معين وخت يې نه دی معلوم هر دم امکان ددې شته چې د دولت دښمنان د مجاهدينو پر صفونو باندې حمله وکړي او هوايي فوځ بايد خپله وظيفه اجراء کړي او د شرعې اولی الامر د خوا ورته د پرواز امر کېږي او دجسماني امکاناتو او دمسلکي طبي ډاکټرانو د خوا د ورېي نس پرواز او يا د هغه پيلوټ پرواز چې د سګريټو او نسوارو عمل ولري او روژه يې وي امکانات يې ډير شته چې طياره سقوط وکړي او طياره او پيلوټ او مسافرين يې د مينځه ولاړ شي ، هيله کوم شرعي مسئله يې راته توضيح کړئ. والسلام.

(د هوايي قواوو قومندان بريد جنرال غلام جيلاني پيلوټ)

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملک الوهاب** :

اوسنی حالت جنګي حالت ده مثلاً اوس د جدي میاشت سنه **۱۳۷۵** هـ ش ده او بالفعل او یقیني جنګ او جهاد د مفسدینو سره جاري ده بالخصوص په دوه محاذونو کې چې یو محاذ د کابل شمال او بل محاذ د بادغیس او فاریاب سرحدات دي او جهاد چې بالفعل او یقیني وي د روژې پریښودل روا دي چې د جهاد لپاره قوي وي او بیا یې قضائي راوړي په بل وقت کې او بالخصوص د هوائي قُوې خو ډیر لوی رول ده په جهاد کې او هر پرواز چې کېږي د مخه د پیلوټ ځان مړولو ته او خوراک کولو ته سخت ضرورت ده او که خوراک و نکړي ډیر خطر ددې ده چې طیاره سقوط وکړي او طیاره او پیلوټ او ورسره نور له مینځه ولاړ شي او داسې شوي هم دي نو هغه پیلوټان چې هغوی وظیفه دار وي یعنې د هغوې د وظیفې نوبت وي په ورځو د رمضان کې باک نشته چې روژه پریږدي او بیا یې قضائي راوړي بل وقت خو کوشش دا پکار ده چې خوراک خُفیه (پټه) طریقه سره ورکړي.

الغازی اذا علم انه یقاتل العدو فی رمضان و هو یخاف الضعف فله ان یفطر کذا فی محیط السرخسي فان لم یتفق القتال فلا کفارة علیه لان فی القتال یحتاج الی تقدیم الافطار لیتقوی و لا کذلک المرض هکذا فی الظهیریة فی المقطعات .

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۸ ط دارالاشاعة العربیة قندهار)

وکذا الرجل اذا کان بازاء العدوّ وهو یخاف الضعف علیٰ نفسه فله ان یفطر مقیمًا کان اومسافراً (فتاویٰ قاضیخان علیٰ هامش الهندیة ج ۱ ص ۲۰۲)
فالجهاد و لو بدون سفر سبب من اسباب اباحة الفطر للتقوی علی لقاء العدو و عملا بالثابت فی السنة عام فتح مکة ( الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۵۲۷ ط دار الفکر )

او بل دوی مکلف دي د حکومت لخوا په دې کار او حال دا چې د روژې سره خشية د هلاک ده په دې کار کې:

وکذا الذی ذهب به موکل السلطان الی العمارة فی الایام الحارة اذا خشی الهلاک اونقصان العقل کذا فی فتح القدیر (الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۲۰۷) و مثله فی (البحر الرائق ج ۲ ص۲۸۱ ط ماجدیه )

او بل دا ، د چا چې د داسې تکلیف نوبت وي چې د هغه سره روژه پریښودل ورته روا وي نوکه روژه ئې پریښوده مخکې د تکلیف د ظهور څخه هم روا ده نو هغه پیلوټان چې هغوی وظیفه دار دي یعنې د هغوی د وظیفې نوبت وي په رمضان کې او د دوی ګمان وي د جهاد په بمبار و غیره سره هغوی ته روا ده پریښودل د روژې په داسې طریقه چې د سره یې نیت و نکړي نه داسې چې یو وار یې نیت وکړي او بیا یې ماته کړي او هرکله یې چې دا روژه پریښودله بیا به ئې قضائي راوړي په بل وقت کې او دا به داسې وي لکه د چا د حمی نوبت وي یا دښځې دحیض نوبت وي او روژه پریږدي مخکې د راتلو د دې تکلیف څخه.

وفی الخلاصة لوکان له نوبة حمی فاکل قبل ان تظهریعنی فی یوم النوبة لابأس به ( فتح القدیرج۲ ص ۲۷۲ )

و مـن لـه نوبـة حمـى اوعـادة حـيض لابـأس بفطـره علـى ظـن وجـوده (الفقـه الاسلامي ج٢ ص ٥٢٧ ط دار الفكر)

رجل له حمى غب فافطرعلى ظن ان يومه يوم المرض وماحم فيه كان عليه الكفارة وكذا اذا افطرت المرأة على ظن ان يومها يوم حيض فلم تحض فى ذلک اليوم كان عليها الكفارة لوجود الافطار فى يوم ليس فيه شبهة الاباحة قال مولانا رضي الله عنه هذا اذا نوى الصوم ثم افطر بعد طلوع الفجر فان لم ينوى الصوم فى ذلک اليوم كان عليه القضاء دون الكفارة ( فتاوى قاضي خان على هامش الهندية ج١ ص ٢٠٣)

وفى الخلاصة لوكان له نوبة حمى فاكل قبل ان تظهر يعنى فى يوم النوبة لابأس فان لم يحم فيه كان عليه الكفارة كما لوافطرت على ظن انه يوم حيضها فلم تحض كان عليها الكفارة لوجود الافطار فى يوم ليس فيه شبهة الاباحة وهذا اذا افطر بعدمانوى الصوم و شرع فيه اما لو لم ينو كان عليه القضاء دون الكفارة كذا فى فتاوىٰ قاضيخان ( البحر الرائق ج٢ ص ٢٨٢ ط ماجديه) والله اعلم

مولوي نورمحمد (ثاقب)

د افغانستان داسلامي دولت د مركزي دارالافتاء رئيس

مولوي احمد (نوري)

مولوي محمد اخلاص (بركتي)

## باب قضاء الصوم و كفارته و فديته

## په كفاره كې حيض مانع او قاطع گرځي او كنه؟

**پوښتنه** : د قندهار ولايت د دارالافتاء لوړمقام ته.

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

وبعد: كه يوه ښځه دكفاره روژې قضاء راوړي حيض مانع اوقاطع دوصل ګرځي كنه؟

المستفتي: رفيع ا لله مخلص.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب** :

د كفارې په روژو كې حيض مانع او قاطع د وصل نه ګرځي بلكه په كومه ورځ چې حيض قطع شي صبا دې دستي روژه و نيسي او پاته ورځې دې پوره كړي .

فلو افطر و لولعذر استانف الا لعذر الحيض ( ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۹ )

و هكذا فى ( احسن الفتاوى ج ۴ ص ۴۵۱ )

بخلاف ماإذا حاضت المرأة فى صوم كفارة الافطار او القتل حيث لاينقطع به الترتيب لانها لاتجد بدًّا منه فى شهرين ( تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق فصل في كفارة الظهار- ج ۳ ص ۲۱۴ ط ايج - ايم - سعيد )

## شيخ فاني به شپيتو مسكينانو ته د كفارې ډوډۍ څنګه وركوي؟

**پوښتنه** : كه پر يو سړي كفاره پاته وي نو دى به اوس (۲۰) مسكينانو ته ډوډۍ پرڅه ډول وركوي ، شيخ فاني دى قدرت د روژو نلري. والسلام

(المستفتي: شاه محمد)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الملك الوهاب** :

محترم مستفتي صاحب ستاسو د سوال جواب په دې ډول دى :

مذكور شخص چې د روژو نيولو قدرت نلري يعنې شيخ فاني دى بايد.

**د كفارې د ادا كولو لپاره** (۲۰) مسكينانوته د سهار او ماښام ډوډۍ وركړي ترمړتيا پورې او يا به سهار ډوډۍ وركړي اود ماښام لپاره به دغو مسكينانو ته قيمت د ډودۍ وركړي او يا به برعكس عمل وكړي يعنې دسهار د ډوډۍ قيمت به وركړي او د ماښام لپاره به دغو مسكينانو ته ډوډۍ وركړي او يا به دوه سهاره مذكورو مسكينانوته ډوډۍ وركړي اويابه دوه ماښامه ډوډۍ وركړي او دغه ضروري ده چې كومو مسكينانو ته چې د يوه وخت ډوډۍ يا قيمت وركول شي د هغه بل وخت قيمت يا ډوډۍ به هم دغو مسكينانو ته وركول كېږي او اجتماع د ټولو په يوه وار شرط نه ده او مستحب داده چې د غنمو ډوډۍ سره له كتغه وركړي او كچېرې بالفرض د اوربشو يا جوارو ډوډۍ وركوي نو كتغ لازم دى.

**دوهمه طريقه د ادا کولو د کفارې دا ده**: چې شپيته مسکينانوته نيمه نيمه کاسه غنم يايوه يوه کاسه خُرما يا اوربشې ورکړي او يا دې هر فقيرته قيمت د نيمې کاسې غنمو يا د يوې کاسې خُرما يا اوربشو ورکړي او بايد ووايو چې شرعي کاسه هغه ده چې وزن د يو زر او څلويښتو درهمو له موزوناتو څخه ځايوي چې يوه کاسه اوه نيم پاوه پوره او دريمه حصه د خورد کېږي او نيمه کاسه (**۱۵**) خورده پوره او شپږمه حصه د خورد کېږي او بايد پر مذکور مقدار يوڅه زيادت وشي احتياطاً.

**دريمه طريقه دا ده** : کچېرې يوه فقيرته **۲۰** ورځې سهار او ماښام ډوډۍ ورکړي تر مړتيا پورې په طريقه مذکوره سره هم کفاره پرې ادا کيږي.

فان لم يستطع الصوم لمرض اوكبر اطعم ستين مسكينًا او فقيراً ولا يشترط اجتماعهم والشرط ان يغديهم و يعشيهم غداءً و عشاءً مُشبعين و هذا هو الاعدل لدفع حاجة اليوم بجملته او يغديهم غدائين من يومين او يعشيهم عشائين من ليلتين...بشرط ان يكون الذين اطعمهم ثانيًا هم الذين اطعمهم اولاً حتى لوغدى ستين غيرهم لم يجز...اويعطى كل فقير نصف صاع من بُرّ ...اويعطى كل فقير صاع تمر اوصاع شعير...اوقيمته اى قيمته النصف من البر او الصاع من غيره (مراقى الفلاح شرح نورالايضاح ص **۵۵۲** ط نورمحمد- اصحّ المطابع آرام باغ)

فان عجز عن الصوم لمرض لايُرجى برؤهُ اوكبر أطعم...ستين مسكينا... كالفطرة قدراً و مصرفا او قيمة ذلک...فغداهم وعشاهم اوغداهم واعطاهم قيمة العشاء اوعكسه او اطعمهم غدائَين اوعشائَين...واشبعهم جاز بشرط ادام فى خبز شعير وذرة لا بُرّ آهـ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۳۲-۲۳۳)

و ھکذا فی ( الفتاوی الھندیة ج ۱ ص ۵۱۴ )

والمستحب ان یغدیھم ویعشیھم بخبز معه ادام ( ردالمحتار ج ۲ ص ۲۳۳ )
والمستحب ان یکون الغداء والعشاء بخبز و ادام ... و لابد من الادام فی خبز الشعیر و الذرة لیمکنه الاستیفاء الی الشبع بخلاف خبز البر الخ ( الفتاوی الھندیة ج ۱ ص ۵۱۴ )

وھو ای الصاع المعتبر مایسع الفًا واربعین درھمًا (الدرالمختار ج ۲ ص ۸۳ ) فاذا کان الصاع الفا واربعین درھما شرعیاً الخ ( مجموعة رسائل ابن عابدین ج ۱ ص ۲۱۰ )

*وباید دانست کہ مقدار صاع شرعی آنست کہ وزن یکہزار و چھل درہم ازموزون درآن می گنجاید...کہ ہفت ونیم پاووسوم خوردمیشودونصف صاع پانزدہ خوردوسدس خوردمیشودآه* ( جرأة الا ئمة ص۴۹ )

اما علی تقدیره بالحنطة اوالشعیر وھوالاحوط فیزید نصف الصاع علی ذلک الخ ( مجموعة رسائل ابن عابدین ج ۱ ص ۲۱۰ )

*بایدازمقدار مذکور احتیاطاًقدری زیادت مینمایندتاکہ تأدیہ بالیقین حاصل گردد* ( جرأة الا ئمة ص۴۹ )

و لو اطعم مسکیناً واحداً ستین یوما کل یوم اکلتین مشبعتین جاز الخ ( الفتاوی الھندیة ج ۱ ص ۵۱۴ )

ولواطعم فقیراً ستین یومًا اجزأه لانه بتجدد الحاجة بکل یوم یصیر بمنزلة فقیر اخر ( مراقی الفلاح شرح نورالایضاح ص ۵۵۲ ط نورمحمد - اصحّ المطابع آرام باغ ) و ھکذا فی ( الدرالمختار و رد المحتار ج ۲ ص ۲۳۳ )

# كتـابُ
# الـحَـجّ

# کتابُ الـحَـجّ

## باب فرضية الحَجّ

**پوښتنه** : د سر درختو او تاکانو پرحاصلا تو حج فرض دی او که پر قیمت یې؟
( ملا احمد شاه د مرکزي محکمې محرر )

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الجواب بعون الملک العلی الاعلی** :
محترم مستفتي صاحب د سر درختو او تاکانو حاصلات او پیداوار چې د سالانه اوکلني خرچ څخه د یو سړي او د کورنۍ د هغه زیات نه وي حج فرض نه دی او د جائداد پر قیمت باندې هغه وقت فرضیت دحج ثابتېږي چې د خرڅ شوې حصې څخه د زاد او راحلې کفایت کېږي او باقي دومره جائداد پاته شي چې دده او د کور د ضروریاتو پوره کفایت کوي.

و لوکان عنده طعام سنة ، ولواکثر لزمه بیع الزائدان کان فیه وفاء کمافی اللباب وشرحه (ردالمحتارج ۲ ص **۱۵۲** ط رشیدیه )
و هکذا فی ( فتاوی دارالعلوم دیوبند کلان ج۲ ص **۵۱۵** )
وهکذا فی (الفتاوی التاتارخانیة ج۲ ص۴۳۳ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة )

وان كان صاحب ضياع ان كان له من الضياع مالوباع مقدار مايكفى لزاده وراحلته ذاهبا وجائياونفقة عياله واولاده ويبقى له من الضيعة قدر ما يعيش بغلة الباقي يفترض عليه الحج والافلا( الفتاوى التاتارخانية ج ۲ ص ۴۳۲) وهكذا فى ( احسن الفتاوى ج۴ ص ۵۴۲ ) و هكذا فى ( فتاوى دارالعلوم ديوبندكلان ج ۲ ص ۵۳۷ ) و هكذا في ( امداد الفتاوى ج۲ ص ۱۹۰-۱۹۱)

والله تعالى اعلم

مولوي احمد نوري عفى عنه

مولوي محمود ميوند وال

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس دارالافتاء مركزي
امارت اسلامي افغانستان

# آیا د بیت الله شریف په دیدار حج فرضیږي؟

**پوښتنه** : څوك چې بیت الله شریف د نژدې څخه وده ته عیان سي او هغه ووینی آیا په ده باندې حج فرض ده او کنه؟ ، میاشتې د حج غواړي او که نه غواړي او هم کچېرې نوموړی شخص قدرت نکي پیدا د حج د فرضیت په هکله څنګه اجراءات وکړي؟ آیا حج اداء کړي او کنه چې توان او قدرت یې پیدا نکړ، هیله ده محترم لوړ مقام دپورته مسائلو په اړوند معلومات قانع کننده راته ارایه کړئ ؟

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب بعون الله سبحانه وتعالی** :

د حج لپاره چې کوم شرطونه فقهاؤ وضع کړي دي هغه شرطونه چې په هر چا کې موجود شي حجورباندې فرض کیږي او په چا کې چې موجود نشي نو حج نه ورباندې فرضیږي ، خو یوازې د افاقي او مکي فرق په راحله کې دی یعنې مکي چې قادر وي د پښو پر تګ راحله نه ده ورته ضرور، او هغه افاقي چې کعبه شریفه ووینی یا میقات ته ورسیږي هغه حکم د مکي لري که یې زاد درلود سره د نورو شرائطو حج ورباندې فرض دی ، کنه نو نه دی فرض او که اشهُرِ حج نه وي یا وي او بیت الله شریف یې ولیده نو که ورته ممکنه وه انتظار دې وکړي د حج تر ایامو پورې او که ممکنه نه وه نو مؤاخذه هم نشته.

فتشترط القدرة على المحارة للافاقي لا لمكي يستطيع المشى لشبهه بالسعى للجمعة ( الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۴ - ۱۵۵ )

(تنبيه ) فى اللباب الفقير الافاقى اذا وصل الى ميقات فهو كالمكى قال

شارحه ای حیث لایشترط فی حقه الاالزاد (لا) الراحلة ان لم یکن عاجزا عن المشی وینبغی ان یکون الغنی الافاقی کذلك اذا عدم الرکوب بعد وصوله الی احد المواقیت فالتقیید بالفقیر لظهورعجزه عن المرکب ولیفید انه یتعین علیه ان لاینوی نفلاً علی زعم انه لایجب علیه لفقره لانه ماکان واجبا وهو افاقی فلما صار کالمکی وجب علیه فلو نواه نفلاً لزمه الحج ثانیًا (ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۵)

و فی تکلیفه بالاقامة بمکة الی قابل لیحج عن نفسه ویترك عیاله ببلده حرج عظیم وکذافی تکلیفه بالعود وهو فقیر حرج عظیم ایضا (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۲)

(بصیر) غیر محبوس وخائف من سلطان یمنع منه (الدرالمختار بهامش ردالمحتارج ۲ ص ۱۵۴)

والله تعالی اعلم.

## باب القِرانِ

### حاجي قارِنْ چې د حج په سعۍ کې اشتباهي شي

**پوښتنه** : تیر کال حج ته تللی وم حاجی قارن وم افعال د عمرې مې وکړل ، د حج په سعۍ کې اشتباهي شوم چې ومې کړه که یا ، نو چې داسې اشتباه پیښه شي او یا څوک سعۍ نه وکړي څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

**الجواب حامداً ومصلیاً** :

په ترک د سعۍ سره دم لازمیږي او حج یې تام دی .

ومن ترك السعی بین الصفا والمروة فعلیه دم وحجه تام کذافي القدوري.

( الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۴۷ )

و هکذافی ( الفقه الاسلامي و ادلته ج ۳ ص ۲۱۹ ط دارالفکر )

تمّ الجزءُ الاوّل

و یلیه الجزءُ الثّاني و اوّله کتاب النکاح

# يادونه

د بدر الفتاوی محترم لوستونکي دې خبر وي چې زمونږ د مرکزي دارالافتاء دغه فتاوی په پنځو (۵) ټمو جلدونو کې برابره شوې ده، چې دا يې لومړی جلد ده چې د ترتيب، تبويب، کمپوز او تصحيح مراحل يې ترسره او دا دی چاپ شو.

او پاتې څلور و جلدونو ترتيب، تبويب او کمپوز شوی ده صرف د تصحيح کار يې پاتې ده، البته جريان لري، د الله جلّ جلاله په توفيق به په لنډه موده کې د دغو پاتې جلدونو د تصحيح کار هم تمام شي، چې په دې توګه به ټوله فتاوی چاپ او منظر عام ته راڅرګنده شي.

إن شاء الله

نُورمحمّد (ثاقب)